

# زوی د افغانستان

عبدالرحمان پژواک

# د کتاب پېژندنه

# "زوی د افغانستان"

**د اروابناد عبدالرحمان پژواک د خاطرو او یادښتونو ټولګه**

**"خلاصۀ فصلی از سرگذشت یک افغان مهاجر": د یوه افغان کډوال د ژوند د څېړکي لنډيز**

لیکوال: عبدالرحمان پژواک

ژباړن: عبدالودود همت عمرزوی

د کتاب د پانو او پوښ ډیزاینر: حمید عبیدی

خپرندوی: د پژواک بنسټ/بنیاد پژواک

د خپریدو نیټه: پسرلی ۱۴۰۳ هجری شمسی

د چاپ ځای: کابل، افغانستان – اړیکو دفتر/ دفتر ارتباط

ISBN ۹۷۸-۱-٤٤٥۷-٥۲۷٤-۷

د اروانښاد استاد عبدالرحمان پژواک د خاطرو او یادښتونو لنډیز

د خپل لمسي فرهاد پژواک لپاره



اروانښاد استاد پژواک او فرهاد پژواک، واشنګتن، وری ۱۳۶۷ هجری شمسی

# منځپانګې/ فهرست


په پروني جام کې د نني کړاو دارو ........................................ ۹
ولې مې دا کتاب وژباړی؟ ........................................ ۱۵
مخکینۍ یادونه........................................ ۱۹
شالید ........................................ ۳۳
کابل ته د تګ هوډ........................................ ۳۷
د کابل په هوايي ډګر کې ........................................ ۳۹
له تېرون سره خبرې ........................................ ۴۳
د ببرک کارمل پیغام ته زما د ځواب متن ........................................ ۵۱
په کابل کې وروستۍ ورځې ........................................ ۶۳
د کابل په هوايي میدان کې ........................................ ۶۹
د مهاجرت لړۍ پیل ........................................ ۷۱
پاکستان ته د مېلمه په توګه زما لومړی سفر........................................ ۸۳
د ملګرو ملتونو سازمان کې ........................................ ۸۹
د کډوال په توګه پاکستان ته زما دویم سفر ........................................ ۹۵
په اسلام اباد کې هڅې او کوښښونه ........................................ ۱۰۱
پېښور ته کډوال کېدل او پایلې یې ........................................ ۱۱۵
د څو دوستانو یاد........................................ ۱۲۳
د دوو اکا زامنو په اړوند یو څو خبرې ........................................ ۱۲۷
ضمیمې ........................................ ۱۴۳
پاکستان ته د یوه کډوال په توګه ........................................ ۱۴۵
د استاد عبدالرحمان پژواک دویم ځل سفر ........................................ ۱۴۵
پېښور ته د استاد پژواک وروستی سفر........................................ ۱۵۱
د ډاکټر نجیب الله ټیلیفوني تماس ........................................ ۱۵۷
د حق د لارې مجاهدینو او ملي مبارزینو ته عریضه ........................................ ۱۶۱
بارها گفته ام و بار دیگر میگویم........................................ ۱۷۱
د استاد پژواک سجع، طنز او تفکر........................................ ۱۸۳

خپلواکي ټاکنې...................................................... ۱۸۹
د پښتونستان ورځ.................................................... ۱۹۳
د استاد عبدالرحمان پژواک ژوندلیک ........................................ ۲۰۷
د استاد عبدالرحمان پژواک اثار ........................................... ۲۱۹
پژواک په خپل غږ کې................................................ ۲۲۷
پام کوه چې رقیبان دې ریبار نه شي ........................................ ۲۲۷
دا چې چُپ یم دلته غر او کمر نشته ........................................ ۲۲۹
د حمام لنګ........................................................ ۲۳۱
زوی د افغانستان..................................................... ۲۳۳
پژواک نه یم د پردیو د ندا............................................. ۲۳۵
د پژواک زړه د وطن په غرو ولاړ دی ...................................... ۲۳۷
نو بهار ........................................................... ۲۴۱
چاوې؟ ........................................................... ۲۴۳
نوی مضمون ....................................................... ۲۴۵
خو ګناه مې ازادي ده.................................................. ۲۴۷
اسیر ............................................................. ۲۴۹
لویه خدایه ......................................................... ۲۵۱
پای لیکونه ........................................................ ۲۵۵

# په پروني جام کې د نني کړاو دارو

دا کتاب د ارواښاد استاد عبدالرحمان پژواک ژوندپېښې دي. استاد پژواک د افغانستان په معاصر تاریخ کې په نړیوال کچ تر ټولو نوموتی دیپلومات و. په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د ځانګړي دایمي استازي په توګه د هغه په څوارلس کلنه کاري دوره کې د یوه ممتاز دیپلومات په حیث د نړۍ د خورا مهمو ماموریتونو مشر او د ۱۹۶۶-۱۹۶۷ کلونو په ترڅ کې د ملګرو ملتونو د یویشتمې عمومي اسامبلې رئیس و.

استاد پژواک په یوشمېر هېوادونو کې د افغانستان لوی سفیر او د مهمو نړیوالو ناستو پرمهال د افغاني هیئت مشرتاکل شوی دی. ارواښاد پژواک پر وطن د خونړیو جګړو د سیوري په خوربدا خپلې رسمي دندې پرېښوې او د پردیو په وړاندې یې یوې ملي مبارزې ته ملا وتړله. باید د هغه او نورو ملتپالو د مبارزې پر (ملي) ستاینوم ټینګار وکړو، ځکه ملي مبارزه د تنظیمي واک و ځواک‌غوښتنو، شخړو او جګړو په شان د پردیو نیابتي لوبې نه وې، بلکې د افغانستان د ملت په استازولۍ د وطن‌ژغورنې ریښتینې هڅې وې.

تر دې ورهاخوا، ارواښاد استاد د افغانستان په عامو خلکو کې د یوه پېژندل شوي ښه شاعر، کیسه او ډرامه‌لیکوال او په دري و پښتو ژبو حاکم نظم و نثر لیکونکي په حیث مشهور و.

دا هرڅه ولې یادوم؟ ځواب ساده دی. موږ په دغه کتاب کې د یوه دقیق لیکوال په زړه پورې سیاسي او شخصي تجربې لولو، چې د هغه د شخصیت ترڅنګ د معاصر تاریخ په یوه مهمه دوره کې افغانستان هم راپېژني.

ګڼو د یپلوماتانو یا سیاستوالو خپلې خاطرې کښلي، خو هغوی چې جالبې خاطرې لرلي، د لیکوالۍ په فن نه‌پوهېدل او هغوی چې ښه لیکوال وو، د ژوند تجربې یې

ډېرې په زړه پورې یا مهمې نه‌وې. په دغه کتاب کې موږ له داسې یوه شخصیت سره مخامخ یو، چې پوهېږي څه ولیکي؟ څنګه یې ولیکي؟ او په کوم هنر د خاطرو لړۍ داسې وپېي لکه سړی چې یو په زړه پورې ناول لولي.

د خاطره‌لیکنې دود معمولاً دا وي، چې لیکوال یې د خپل ماشومتوب، کورني چاپېریال یا د ښوونځي له دوران څخه راپیلوي، ښايي ګڼ لوستونکي له داسې کلیشه‌يي پیل سره علاقه ونه‌لري، د انسان یوه ځانګړنه دا ده، چې خوځند روایات خوښوي، خوځند روایات لکه د سینما کامره هغه پېښې رااخلي، چې د لوستونکي په ذهن کې تلوسه زیاتوي او هره شېبه په دې تمه وي، چې نور به څه پېښیږي؟

استاد پژواک په دې اثر کې له همداسې تلوسه‌پاروونکي هنره کار اخلي. لومړنۍ صحنه په لندن کې د لوی سفیر عبدالرحمان پژواک په کور کې پېښیږي؛ سفیر تر ډوډۍ خوړلو روسته خبرونه اوري او په افغانستان کې د خونړۍ کودتا له پېښې خبریږي... لیکوال په څو شېبو کې د یوه حکومت د رسمي سفیر له دریځ څخه په یوه بې‌برخلیکه شخص بدلیږي.

سبا به څه پېښیږي؟

ښاغلی سفیر خپله پرېکړه کوي، نور نو له نوي نظام سره کار نه‌کوي او باید مخامخ وطن ته ستون شي...

دلته نو لوستونکی په ډېره تلوسه غواړي پوه شي، چې وړاندې څه پېښیږي؟ د کیسې مخینه څنګه ده؟ او د یوه افغان کډوال د سرګردانه ژوند نور څپرکي څه دي؟

د سیاسي او شخصي خاطراتو ډراماتوریزه کول یو ادبي نوښت دی، هغه مهال چې استاد خپل خاطرات لیکل، داسې ډراماتورګي – په تېره بیا افغانستان کې – چا ډېره نه‌پېژانده.

د استاد د ليکلو دا اسلوب ښايي يوازې د تلوسې رامنځته کولو لپاره هم نه‌وي، بلکې ښايي ده به غوښتل ځوان نسل ته دا هم ورزده کړي، چې خلکو ته د شخصيتونو د شخصي ژوند پېښو تر لوستلو د هغوی ملي افکار، دريځونه او عملي هڅې لومړی، غوره او مهمې دي.

د دې کتاب منځتګی دا دی، چې په کړکېچنو حالاتو کې استاد پژواک څه کولای شول؟ څه يې وکړل؟ ولې يې څو څوځله تر هوسا او خوښ ژونده د يوې ملي مبارزې ستومانه مزل غوره وګڼه او د ژوند تر پايه پر خپل ملي دريځ ولاړ پاتې شو.

د دې کتاب د ژباړې، خپرېدا او لوستلو په پيلامه کې غواړم، ځوان نسل ته د استاد پژواک پر دوو رسا او څرګندو پيغامونو تم شم:

**لومړی:** شخصيتي تقوا، استاد پژواک په نړيوال کچ د لوړو ديپلوماتيکو منصبونو او د افغانستان له پاچا رانيولې بيا تر لومړيو وزيرانو او ولسمشرانو پورې له خورا مهمو شخصيتونو سره د شخصي دوستۍ تر بريده پېژندل، زه د ده د سطحې څه نور فرهنګي – سياسي يا ديپلوماتيک شخصيتونه پېژنم، چې ګڼې زمکې، کورونه، باغونه او نور جايدادونه يې په نامه دي. خوتاسو به په همدې کتاب کې ولولئ، چې استاد پژواک د سفارت تر روستۍ تنخواه ورهاخوا بيا هېڅ نه لرل، تاسو به وګورئ، چې د افغانستان د پخواني پاچا لوربينه او ښښنه يې څومره په ادب رد کړې وه، چې د کور يا زمکې د وربښلو په برخه کې يې پرې لرله. استاد پژواک له همدومره لوړو منصبونو سره سره د خپلې درملنې، سفر او هستوګنې لګښتونه نه لرل. تر پايه د ځينو دوستانو په مرستو يا د کورنۍ د غړيو په همت وپايېد، خو هيڅکله يې په دې اړه اندېښنه ونه‌کړه، ځکه کار، مبارزې او له خپلو خلکو سره ليدنو کتنو ورته لومړيتوب درلود.

**دويم:** د استاد ملي دريځ، استاد پژواک پر ځينو بنسټي ارزښتونو باور لاره، هيڅکله يې دغه ارزښتونه معامله نه کړل. وطن، خلک او ملي ګټې.

استاد پژواک د چپ او ښي افراط ترمنځ د وطنپال اعتدال لاره ونیوله او د دوو درواغجنو انترناسیونالیزمونو تر منځ یې ملتپالنه او وطندوستي خپل شعار کړ. کله چې سرو افراطیونو د شوروي لښکرو ټانکونه پر وطن راوخېژول، تاسو یې په وړاندې د استادپژواک نظر د ده په هغه لیک کې کتلای شئ، چې د ببرک کارمل په غوښتنه یې هغه ته د خپل نظر په توګه لیکلی دی، بېشکه چې په هغه زمان کې د داسې لیک کښلو د زمري زړه غوښت.

ده د تنظیمي افراطیونو په وړاندې هم، چې وطن یې د خپلو ګټو، واک او سرتمبه ګۍ له امله پر سره اور واړاوه او د بېشمېره افغانانو وینې یې وبهولې، ملي دریځ ونیوه او پر ولسواکۍ، جمهوري ارزښتونو، دخلکو حقونو، بشري ارزښتونو او موډېرن نظام جوړونې یې ټینګار وکړ.

د ده ملي دریځ له دې ځخه ښه‌ترا پېژندلای شئ، چې پاکستان په ډېره سپین‌سترګۍ وځاره، وګواښه، وېې‌ربړاوه او چې له ملي دریځ او استقامت نه بدلولو له امله یې ناهیلی شو، نو له خپلې خاورې یې وشاړه.

استادپژواک د خپل ملي دریځ له کبله له تبعید ځخه تبعید شو، تر پایه د لوی افغانستان او (پښتونستان مسئلې) مدافع پاتې شو او له بهره راتپل شوې بنسټپالنه یې د وطن د راتلونکې لپاره ګواښمنه وګڼله. دا دی ننی نسل په ځرګنده د استاد د وړاندوینو د تحقق شاهدان دي.

په دې کتاب کې د افغانستان د برخلیک ټاکنې لپاره همدا اوس هم ډېر درسونه شته. دا نسخه اوس هم زړه نه ده. موږ له هماغه اورځخه سوزو او له هماغو زخمونو لاهم کړېږو، چې استاد یې سیزه او کړاوه.

استاد د خپلو دغو ځانګړنو په اړه د رحمان بابا دغه نیم‌بیتی ځومره ښکلی تضمین کړی:

**د پژواک زړه د وطن په غرو ولاړ دی**

**که ځه هم ولاړ په زوړند چاود کمر دی**

## خيالي ګرځي په خمتا کې بېخياله

## «رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی»

څه موده وړاندې مو د استادپژواک د لمانځنې په اړه له دوستانو سره په ګډه کار کاوه، په خبرو کې مو د استاد د اثارو په بشپړ چاپ او د ځينو ليکنو پر ملي ژبو اړولو او خپرولو ټينګار وکړ. ډېر ژر د استاد پرمېنه پاتې ځلنده مشال او زما خواږه دوست ښاغلي فرهاد پژواک زيری راکړ، چې د استاد  د ژوندپېښو (خلاصۀ فصلی از سرگذشت يک افغان مهاجر) پښتو ته راژباړل شوی او دوی يې د خپراوي هوډ لري. خدای شته ډېر خوشاله شوم. ښاغلي پژواک ژر د ځوان ليکوال او هوډمن ژباړن ښاغلي عبدالودود همت عمرزوی په همت راژباړل شوی متن راواستاوه. له څه برخې لوستلو روسته مې ښاغلي پژواک ته وويل، چې ژباړه ښه ده او منځپانګه په امانتې رالېږدېدلې ده، خو په ټوله کې بيا کتنې او څه سمون ته خامخا اړتيا لري. په ګډو هڅو مو په بيا کتنه کې هم ښاغلي ژباړن او هم پياوړي شاعر و ليکوال ښاغلي مصطفی سالک ته زحمت ورکړ، چې زه له دواړو څخه مننه کوم.

ښاغلي همت عمرزوی متن په روانه او بېتکلفه ژبه راژباړلی دی، چې پښتنو لوستونکيو ته به هماغه خوند ولري، لکه د استاد په سليس او خورا هنرمندانه دري متن کې يې چې اصل لري.

د دې کتاب له دري متن سره د استاد يو شمېر ښکلي دري شعرونه هم مل شوي و، چې د دغه کتاب خوږلني يې زياته کړې وه، ځکه خو مو غوره وبلله، چې له پښتو متن سره يې هم د استاد ځينې مشهور او خواږه پښتو شعرونه ملګري کړو، چې په هغو کې د استاد هنري ذوق، ملي احساس، وطنپالنه او غوره شخصيت د رڼو څراغونو په شان ځلېږي، همدا راز د کتاب له متن سره د استاد يو ژوندليک هم ملګری دی، چې ښايي نومهاليو پېغلو او زلميو ته به د استاد د ژوندپېښو او شخصيت په ورپېژندنه کې مرسته وکړي.

زه غواړم د دغه کتاب او همدا راز د استاد پژواک د ټولو پښتو او دري اثارو په ساتنه، پالنه، څېړونه او لوستونکیو ته په رسونه کې د ده له ټولې فرهنګپالې کورنۍ په تېره بیا د استاد له خلف الصدق ښاغلي فرهاد پژواک څخه ځانګړې مننه وکړم. دا مننه ځکه کوم، چې استاد پژواک او نور فرهنګي – ملي شخصیتونه یوازې په خپلو کورنیو پورې تړاو نه لري، بلکې دوی په ټول ملت پورې تړلي دي. د دوی معنوي او ارزښتي میراث هم ملي میراث دی، دا چې دغه ګډ میراث د دوی د کورنیو د ویښو او روښانه غړیو په وسیله ټولو ته رسول کیږي، باید موږ ټول د دوی له دغه زیار او لورېینو څخه مننه وکړو.

په تلو تلو کې غواړم دا زیری هم درکړم، چې یاد دوستان لاهم هڅې کوي، چې زموږ د ارواښاد استاد نور اثار هم بشپړ خپاره کړي او ځینې یې، چې ژباړه یې اړینه وي، پر ملي ژبو وژباړي، چې ټول ولس یې له پند و خوند څخه برخمن شي.

خپلو خاطراتو ته د استاد په یوه خوږه اشاره دا کرښې پای ته رسوم:

په یو دم د خاطراتو له نسیمه

ځان شي سور او زړه مې سور لکه انګار شي

دا وطن د کومې پېغلې تور وربل دی

چې باد نه وي لا وهلی تار و مار شي.

**څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال**

**۲۱ دیسامبر۲۰۲۳**

**فرانسه**

**د لوی او بخښوونکي خدای تعالی ج په سپېڅلي نامه**

من آن خواب پریشانم که تعبیرش نشاید کرد

اگر کردند تعبیرم، به هر تعبیرمیسازم

مرحوم استاد پژواک

# ولي مي دا کتاب وژباړی؟

دا هغه پوښتنه او فکري غوټه ده چې غواړم په دې لیکنه کې یې د څوابولو او پرانستلو چاره ترسره کړم، له نیکه مرغه تاریخي افغانستان د لوی اوقادرذات ج په حکم اوحکمت د زمان په هر پړاوکې د ژوند د سیالی پر شته ډګر او روان بهیر په هره برخه اوهره ډډه کې وړ، فعال او د کمال شاه زلمي زو کړي، ټوکولي او پاللي دي، داسي ژمن او صدیق اولادونه یې هست کړي چې د وطن د ویاړ، عزت او سرلوړی تاجداره نوم یې د خپل ویاړمن نامه سره تړلی، ځلولی او ویاړلی دی، له ښه شامته د دغو رښتینو او وزینو څېرو په نوملړ کې یو هم د وطن د ځلانده تاریخ د شلمي مېلادي پېړی نامداره ادیب، صادق سیاستمدار، حقیقت ویونکی اوحقیقت پالونکی ژورنالیست، ژمن عدالت خوا او بشرپالونکی دیپلمات اروابښاد استاد عبدالرحمان پژواک شامل او د خاص قدراو یادوړ دی.

د استاد پژواک مرحوم هیوادني ملي خدمات اونړیوال عدالت محوره اوانسان محوره زرین چوپړ د فکر اوقلم هر روښان ضمیره انسان ته دا سیک او تحرک ورکوي چې د نوموړي په باب څه ووایي او څه ولیکي، دده معنوي او ادبي غنیمت لوړ شخصیت دا ممیزه او کشش خورا زیات لري چې د مختلفو زاویو څخه یې د میوه داره او باوقاره ژوند اړخونه اوګوټونه وڅېړل او وشنل سي، په دې برخه کې مختلف مضمونونه اوهراړخیز موتیفونه د ډول ډول ویاړمنوسوژو سره شتون لري

چې د وطن د دې  حقدار بچي قدرونه اوستاینه پرې وسي، د استاد د پورته شعري بیت پرمصداق دده د لوی اوهراړخیز شخصیت څخه د معناداره (تعبیر) چاره سخته او ستونزمنه ده ولې د هر قلموال د خپل لیدلوري پربنسټ شونې ده چې خپل اخستنه او شننه ورڅخه واخلي وېې ولیکي او د درنو هیوادوالو سره یې شریک کاندي.

زه نه غواړم چې بحث راڅخه د بې مورده اوږدېدو او غځېدو ښکار سي او لوستونکي راسره ستړي کړم، بناً راځم د خپلي لیکني اصلي موخي او نچوړ ته: د ارواښاد استاد پژواک د پُرباره ژوند د لوړو اوژوروڅخه مالامال سفر دده په ښکلو شخصي یاداښتونو کې چې په ډېر ښه او روښانه دري نثر لیکل سوی خورا نوي، متفاوتي او تاریخي خبري اوبحثونه لري، ما په څو څو واره دا مغتنم اثر لوستی او په هرځل لوستومي د وطن د معاصر تاریخ په اړه نوي او جالب موضوعات ورڅخه زده کړي دي داکتاب چې(خلاصه فصل ازسرگذشت یک افغان مهاجر) نومېږي نه یوازي په خپل متن کې تاریخي مضامین لري بلکه خپله د استاد د لوی شخصیت اونورو ملي شخصیتونود پېژندني او ارزوني معناداره او وزنداره بابونه اوپیغامونه هم له ځان سره لري.

خو! ماته ترټولو اغېزمن محرِک او جذابه تلوسه خپله د مرحوم استاد پژواک منفردِ او نه تکراریدونکی معنوي ملي شخصیت وو چې زه یې د یاد کتاب ژباړلوته په بیا، بیا و هڅولم او دې چاري ته مې چې په اصل کې یو امانت دی ملا وتړله دلته به دا قضاوت درنو لوستونکوته پرېږدم چې په دې برخه کې څومره امین پاته سوی یم، د فراه ولایت په یو خړ اوسپېره کلي(رنج) کې مې پرته له برېښنا او کامپیوټره داعلمي او ادبي چاره په خپل لاسي مبایل ترسره کړه، او د هیواد د لوی شخصیت استاد عبدالرحمان پژواک علیه رحمه د شخصي خاطرو د شنني، ارزوني اوسپړني د غوره چاري په ترخ کې مې په اصل کې د نوموړي استاد له سنگیني

او وزيني روح سره يو ګډ روحي سفر تجربه کړ چې دا تجربه زما لپاره ډېره جالبه اوپه زړه پوري وه د ابوالمعاني بيدل د دې  غنيمت بيت پربنسټ چې وايي:

**ندارم درد بستان محبت شوقِ بېکاري**

**به يادت سطر اشکی مينويسم ناله ميخوانم**

ماهم په دې فکري او روحي سفرکې ډېر توري په ډېروتودو اوښکو ولمبول او په دې کتاب کې مې ډېر داسي ټکي وموندل  چې وجداني ژړاېې بيابيا راته چغوله، له بله پلوه داسي د ملي او انساني غرور جلاداره اوآبداره ثبوتونه هم پکښې وه چې د روښانه زړو خاوندان يې په وجد او جذبه راوستله، په هرصورت کتاب د افغانستان او استاد پژواک د ژوند د تاريخي اوملي مسايلو يو غوره اومهم څېرکی دی چې د هر لېوال اومينوال لوستونکي ملي اوميهني تنده په ښه شان او کيفيتی آن ورخړوبولای او شادابولای سي، زما دا کوچيني او نيمګړي هڅه دي د استاد د لوی شخصيت د پالني او قدروني د هڅي يوه کمه برخه وګڼل سي.

د استاد د متبحِراو لوړ شخصيت ستاينه او حق اداينه په اصل کې د ګران هيواد افغانستان پالنه اوستاينه ده، ماځکه  وغوښتل چې د ګران استاد پژواک د فکر ځلانده شغلې په خوږې پښتو هم تر خپلو قدرمنو هيوادوالو ورسوم او د خپلې مورنی درنې اوپستې ژبې د حق په اداينې کې تريوه بريده ژمن پاته سم، لوی خدای ج دي مونږته لانورهم د دغسي معنوي چارو وس او داد راکړي تر څو د وطن د حقدارو بچو حق تريوه بريده په رښتينې معنا اداکړو، زه په دې هيله يم چې يوه ورځ مونږ وکولای سو چې د (پژواک پېژندني) يو علمي اوڅېړنېز بهير راپيل کړو، په آخرکې د مرحوم استاد عبدالرحمان پژواک سپېڅلي روح ته د خوښی او آرامی د عا کوم، خدای تعالی ج دي د استاد په شمول ټول تللي روحونه په برين جنت کې سوکاله ولري آمين.

**مننه او قدرداني**

زه په ډېر ادب د هغو ټولو قدرمنو استادانو او د استاد د قدرمني علمي او ادبي درنې کورنۍ له غړو څخه ځانګړې مننه او قدرونه کوم چې ماته یې په دې چاره کې د خپلو غوره مشورو او معنوي ملاتړپه اساس پوره ځواک او داد راکړ په خاصه توګه د قدرمن استاد ګل رحمان رحماني غوره علمي او اصلاحي لارښونواود مرحوم استاد پژواک د درنې کورنۍ د خلف الصدق، دروندشخصیت ښاغلي استاد فرهادپژواک د ځانګړي پاملرنې اوهڅونې څخه ډېرزیات ممنون او مشکوریم.

**ډالۍ**

زه خپله دا ژباړه د وطن دو سترګو او آرمانجنو ارواحو ته په ډېر اخلاص اودرناوي ډالۍ کوم چې سوې زړونه د وطن په خړو خاوروکې د ابد په خوب ویده دي. د ارواښاد شهید محمد موسی شفیق او خپل دردمن او آرمانجن پلار سپېڅلو روحونوته دا کتاب ډالۍ کوم.

**خړو خاورو! ستاسومنځ کې جوهر پروت دی**

**د وطن له تفکره ډک سر پروت دی**

همدومره

په پېرزوینه اودرناوي

**همت عمرزوی**

هرات، افغانستان

۱۴۰۲\۱۲\۲۵ (د روژې مبارکې پنځمه ورځ)

# مخکينۍ يادونه

ددې ټولګې له ترتيب او چاپ څخه زمونږ موخه دا ده چې د ارواښاد پژواک د ژوند، هڅو، هاند او شخصيت اړوند هغه څه چې نوموړي ليکلي، تر هغه هم زياته او بشپړه روښنايي پرې واچول شي او د ځينو نورو سرچينو، ضميمو او ماخذونو په زياتولو سره دا څېرکی چې ارواښاد خپله پيل کړی او ليکلی و خو بشپړ نه و، لا نورهم د توان تر حده تکميل او د افغانستان غيور ولس د خبرتيا او معلوماتو په موخه ورته وړاندې شي. زه د استاد د مشر لمسي او شاګرد په توګه د خدای تعالی (ج) شکر ادا کوم چې د ټولو ستونزو او اوږد ځنډ سره سره بيا هم دا وياړ را په برخه او وتوانېدم چې دغه امانت خپلو هېوادوالو ته د دوی د عادلانه قضاوت په تله کې وسپارم.

لکه څنګه چې استاد پژواک د دې خاطرو نوم "خلاصۀ فصلی از سرگذشت یک افغان مهاجر" غوره کړی دی، له همدې کبله ددغه ځانګړي چوکاټ په اډانه کې د خاص وخت او ځای په پام کې نيولو سره د مهاجرت، پردېسۍ، د ستونزو او ناخوالو په پام کې نيولو سره يې بايد شننه وشي. دا يادښت د هغو پېښو، ستړياوو، دردونو او غمونو د لوی سېلاب يو څاڅکی دی چې فشار يې پر مبارزو مهاجرو افغانانو راغی او دوی يې زيات لالهانده او سرګردانه کړل. د دې کتاب د خپرولو څخه زمونږ نيت دا دی چې د افغانستان د معاصر تاريخ د رښتينو پېښو يوه څنډه د يو شخص له اند او ليدلوري، نويو او راتلونکو نسلونو ته وسپارو؛ ځکه چې له تېر تاريخ څخه خبرېدل او عبرت اخېستل د دې سبب کېږي چې په راتلونکي کې په ښه غور او تدبير پرېکړې ونيول شي.

د استاد پژواک ژوند ډېرې لوړې او ژورې درلودې، استاد د دنيايي تنګ نظريو او تعصوبونو څخه پاک او ډېر پراخ ليدلوری يې درلود. ښايي تر اوسه هم د

افغانستان ډېری خلک استاد پژواک سم ونه پېژني، ځکه د نوموړي ډېری اثار، مبارزې او هڅې د خلکو تر لاسرسي نه دي رسېدلي. دغه د ناغیړۍ حالت ګڼ‌شمېر دلیلونه او لاملونه لري، دا چې ولې استاد پژواک د خپلو خلکو او ولسونو څخه لرې وساتل شو او یا هم خلک ترې لرې وساتل شول، دا بېل بحث او شننه غواړي چې دلته په دې بحث کې ترې تېرېږو او د استاد پژواک په دې وینا بسنه کوو چې په اصل کې دا خپله د خلکو سره د نوموړي د اړیکو ښه ښکارندويي کوي: " زه او خلک له یو بل سره ډېر ښه دوستان یو، ولې لږ سره پېژنو! ایا دا د هغوی ګناه ده چې ما نه پېژني او که زما ګناه ده چې له دوی سره مینه لرم؟".

استاد پژواک دا عادت نه درلود چې خپلې لیکنې او اثار راټول کړي، یا د خپلو لوړو انساني ارمانونو ترلاسه کول او د ملي ګټو ساتنه، د خلکو له حقونو څخه د دفاع په برخه کې خپلې هڅې او مبارزې خلکو ته څرګندې کړي. پژواک د (حق) داعې ته ژمن و او هغه پایبندي چې نوموړي انساني کرامت ته درلوده، هغه یې د ځان او خپلو خلکو لپاره هم غوښته. د افغانستان د جهاد ملي مبارزه چې په اویایمې هجري لسیزې کې پیل شوه، ورسره جوخت د استاد پژواک په خبرو، عمل او نصیحتونو کې هم پېچلتیا رامنځته شوه. نوموړي هم د خطر زنګونه حس کړل او پر خپل وطن او خلکو د تېري او یرغل پر وړاندې یې د تدبیر او قلمي جهاد لاره ونیوه چې خپل ولس د ظلم او ستم څخه وژغوري. له همدې کبله د نوموړي د ښه پېژندلو لپاره د هغه د اثارو او لیکنو چاپ او خپرول غوره او مهمې سرچینې دي. ارواښاد استاد خپله په یو بیت کې داسې وايي:

**من آن خواب پریشانم که تعبیرش نشاید کرد**

**اگر کردند تعبیرم، به هر تعبیر می سازم**

یاد اثر له بابا څخه و خپل لمسي ته تر ډېره حده سپارلې خاطرې او یادښتونه دي، خو دا اثر له خاطرو سره جوخت خپل علمي او تاریخي ارزښت هم لري. د

دې کتاب د لیکلو مفکوره د ١٣٦٤ هـ . ش کال په پسرلي کې چې له ١٩٨٥ز. کال سره سمون خوري، په واشنګټن کې پیدا شوه او زما د ډېر ټینګار سره بالاخره د کال په پای کې استاد ژمنه وکړه چې د دې چارې په ترسره کولو به لاس پورې کوي، خو استاد پژواک د ناڅرګندو دلایلو پر بنسټ چې ماته هم نه دي معلوم، د اتیایمې لسیزې په وروستیو کې د دې یادښتونو په لیکلو پیل وکړ.

ښه مې په یاد دي چې د جمعې شپه وه، د استاد پژواک سره په واشنګټن کې دده په خپلې کوټې کې ناست وو او د فغانستان د راتلونکې وضعیت په هکله مو خبرې کولې. هغه شپه لکه نورې شپې د خپلو زده کړو په چارو نه وم بوخت او یوازې د استاد چوپړ ته وزګار وم، نو ځان مې ور ورساوه او د استاد د پاک ایمان، پوهې او لیدلوري له درمن څخه مې څو ورې را ټولول. هغه زما معنوي پلار و، زما پرې پوره باور و او دده هم راباندې پوره ډاډ اواعتماد و. ما له هغه څخه د رښتینولۍ، سپېڅلتوب او غرور درس زده کړ. هغه په ډېرې لورې حوصلې د امکان ترحده زما د نوي زلمیتوب له وخت څخه زما د زده کړو په برخه کې پاملرنه او کوښښ کاوه. زمونږ مجلس ګرم و، ما له استاد څخه د دې دورې مخکې او د کمونستي حکومت او همداشان پر افغانستان د روسانو د یرغل پر وړاندې د ملي مقاومت د خاطرو او جزییاتو د معلوماتو زیاتولو په موخه پوښتنې کولې. هغه د ځان په اړه ډېر لږ رغېده او زه لېواله وم چې د استاد د مبارزې او هڅو اړوند لا زیات معلومات ترلاسه کړم ترڅو مې په دې هکله پوهه زیاته شي.

د افغانستان د جهاد او ملي مبارزې د ویاړونو د بایللو د خطر زنګ او په ملي او نړیوالو سیاسي صحنو کې یې پیکه کېدل او د راتلونکې د بدو پایلو اندېښنو او ګواښونو چې استاد به ډېر په غور تحلیلول کال په کال به یې د دې پاڼو د لیکلو اهمیت او اړتیا لا نوره هم زیاتوله. زما ټینګار د دې اثر د لیکلو په هکله دا و چې لږ تر لږه دا مسؤولیتمسؤولیت ادا شي چې د افغانانو د معاصر تاریخ او ملي مبارزې تیاره ګوټونه همداسې تیاره پاتې نه شي، ښه به دا وي چې د افغانستان په

دننه او بهر کې د استاد پژواک د هڅو، ناارامیو، د نوموړي تبعید او ایستل او په ځانګړي ډول له پاکستان څخه واشنګټن ته دده د تبعید لاملونه او دلیلونه هم څرګند شي.

بله دا چې د هغه طرحه کړو وړاندیزونو او غوښتنو ته د جدي او اړینې نه پاملرنې لاملونه هم روښانه شي، لکه څنګه چې د (بانوی بلخ) په سریزه کې یادونه شوې ده چې "استاد پژواک هغه شخص نه و چې د هېواد په لویو مصلحتونو او ملي ګټو سودا وکړي، هغه په ډاګه ویل چې مونږ باید پرېږدو چې تاریخ په بدرنګه توګه یو ځل بیا تکرارشي، یعني داسې نه شي چې د جګړې په ډګر کې وړونکي واوسو، ولې د سیاست پر میدان بایلونکي شو!" دلته بحث دا نه دی چې استاد پژواک څومره پرځای ویل او یا د افغانستان د خلکو یوازنی پر حقه رېغ و، بلکې مقصد دا دی چې هغه د فکر او قلم سړی و. له همدې کبله د نوموړي هغه سیاسي، کلتوري او عرفاني فکر چې دده په اثارو کې یې انعکاس موندلی ممکن د نن او سبا ورځې د نسلونو په درد وخوري او دا اثار د موافقینو اومخالفینو د تفکراو شنني اړتیا لري، په دې اړوند نوموړی په یو بیت کې داسې وایي:

**برکردهٔ ما هر کس انگشت نهد برجاست**

**بر نیت ما پژواک اینکار خطا باشد**

او یا:

**شاید ملامتیم به نزد خدا وخلق**

**اما ببین که رخنه در ایمان نکرده ایم**

طبیعي خبره ده چې د استاد د ژوند وروستۍ ورځې او شپې په بوډاتوب، یوازېتوب، مهاجرت او پردېسۍ کې تېرې شوې، خو په روحي او معنوي لحاظ همغسې دنګ او په استقامت ټینګ او مضبوط ولاړ و. پېښو د نوموړي په لوېې پوهې او لیدلوري

کې کمی رانه وړ، ماته یې په یو راستولې لیک کې د خپل حال په هکله داسې لیکلي وو: "که څه هم په جسمي لحاظ ناتوان او ناروغ یم، ولې په روحي او معنوي لحاظ د خپل وطن او خلکو د ازادۍ د نعمت په تمه په استقامت او ثبات کې یم، د بې وسۍ له وجې لمونځ په اشاره کوم، ولې عقیده او فکرونه مې د ایمان او ازادۍ په قوت بې له کومې وېرې او ترهې له لباسه د خلکو او وطن په خیر بیانوم، د حق غلبه پر باطل، پر غلامۍ او معنوي اسارت د ملي مبارزې برې ، پوهه پر ناپوهۍ برلاسي وینم او په همدې هیله یې ارمان او غوښتنه کوم، ځکه چې له بوډاتوبه د سر ساتل نه غواړم او په پوښ کې د پاتې کېدلو پر ځای مې د قلم چلولو ته مخه کړې ده. خپل وطن لکه خپل ضمیر همداسې ارام او ازاد غواړم."

زما په نظر د استاد پژواک عقیده او ایمان په وګړنیزې ازادۍ، انساني کرامت او ټولنیزعدالت له هر ډول توپیر او تنګ نظرۍ څخه پاک او خالي و، چې دغه ټکي هغه په خپله مبارزه کې له نورو څخه جلا کوي او د ژوند د ټولو لوړو او ژورو سره سره یې بیا هم استقامت ورکاوه، ترڅو د خپلو خلکو له حقونو څخه دفاع وکړي او د اسلامیت او افغانیت د وقار ساتلو لپاره هڅه وکړي. د کمونستانو تر کودتا وروسته وطن ته د استاد پژواک بېرته راتګ، په کابل کې د بشر د حقونو د کمېسیون جوړول او رهبري کول، ببرک کارمل ته د لیک لېږل، د مهاجرت تصمیم نیول او له مجاهدینو سره یوځای کېدل، د پاکستان د وخت حکومت سره ټکراو پر بدو پالیسیو او سیاسي غرضونو یې اعتراض، د افغانستان د خلکو او ملي مبارزو مجاهدینو او سیاسي ګوندونو د خبراوي په موخه قلمې او ژورنالستي بوختیاوې افغانانو او نورې نړۍ ته په پرله پسې توګه د مذهبي بې اتفاقۍ او افراطیت د بدو پایلو خبرداری او بالاخره د ټولو سختیو او محرومیتونو زغمل... ټول یاد ټکي د استاد د مبارزې، استقامت او د پراخه لیدلوري غوره مثالونه او مصداقونه دي.

یو هغه غوره ټکی چې استاد پژواک له اوږدو کلونو پرې معتقد و او د هغې لپاره یې مبارزه کوله؛ هغه افغانانو ته د هغوی د شخصي سیاسي حق ورکول او د وګړنیزې

ازادۍ درلودل دي، چې دغه ټکي څو ځلې نوموړي ته سرخوږی هم جوړ کړی او اړ شوی چې له خپلې دندې استعفا ورکړي او له وطنه لرې وساتل شي. هغه په دې اړوند له (سحر) نومې افغان مجلې سره چې په پېښور کې نوې تاسيس شوې وه په يوې ځانګړې مرکه کې داسې وويل: "يو هغه څه چې زه يې همېشه بوخت ساتلی يم، هغه دا دي چې زه غواړم زموږ خلک د ازادۍ اصلي معنی د سياسي استقلال په توګه درک کړي او د هغې د ساتلو لپاره هر ډول قرباني او سرښندې ته چمتو شي، خو له بده مرغه په افغانستان کې استقلال وي، ولې ټول ولس يې د بشپړې ازادۍ څخه برخمن نه وي او دا لويه تېروتنه ده چې په هرې ټولنې کې ترسره شي د هغې په تاوان وي، چې په دې برخه کې لوی مثال د پخواني شوروي اتحاد هېواددی، سره د دې  چې نه يوازې يو خپلواک هېواد و، بلکې ان يو ستر قدرت هم و، خو خلک يې له هر ډول ازادۍ څخه بې برخې وو او په پايله کې لکه څنګه چې محسوسېد له همداسې برباد او تباه شو. زه په دې فکر کې يم چې د استقلال ترڅنګ بايد پر نورو ازاديو هم فکر او عمل وشي. زما په ياد دي يو ځل چې په لندن کې کلتوري اتشه وم د استقلال په اړوند مې شعر درلود چې يو بيت يې داسې و:

**از آن ديار مرا ياد ميدهد امروز**

**که مردمانش اسيرند و مملکت آزاد**

تر هغه ځايه چې زما په ياد دي استاد هيڅ وخت له جسمي ستړياوو او د ژوند له ستونزو څخه شکايت نه کاوه، خو د هغو بدو پايلو د راتلو اړوند چې افغانستان تر اوسه پورې ترې ځوريږي تل اندېښمن و، چې هغه د کمونستانو کودتا، د شوروي يرغل، د پاکستان ظلم او خطرناکې پالېسۍ دي. لکه څنګه چې د هغه د اتيايمې او نويمې لسيزې د ليکنو، مقالو او مرکو څخه ښکارېږي، نوموړي د ټولو راتلونکو پېښو او ناخوالو وړاندوينې کړې دي او د هغوی د بدو پايلو ګواښونه او خبرتياوې يې هم خپلو او هم پرديو ته ورکړې دي. يو ځل يې ماته په خبرو کې وويل

چې زما عدالت غوښتنه ښايي نتيجه ورنه کړي، ځکه يو ډېر ځواکمن لاس او د پردیو ګټو د افغانستان د برخلیک تناب په کنټرول کې نیولی دی، خو پر دې يې ټينګار درلود چې د حق په لاره کې خپله ملي فريضه ترسره کړي. نوموړي به ويل چې دې هڅو او مبارزې ته بايد دوام ورکړم ترڅو راتلونکي نسلونه په دې خبر شي چې داسې يو څوک يا خلک هم وو چې په دې پوه او خبر وو چې د افغانستان د خلکو په حق څومره ظلم روان و او څوک او څه وو چې د افغانستان د کړکېچ د عادلانه حل خنډ وګرځېدل او دا ولې؟ دا چې دغه کوښښونه او سټرياوې پايلو ته ونه رسېدې، دردوونکې ده، خو د افغانستان مبارز ملت د تاريخ حافظې ته يې د دې لپاره سپارل چې د هر وګړي او هر لوري او ډلې له خوا مساويانه پاملرنه ورته وشي، ګټور کار دی.

لکه پورته چې ورته اشاره وشوه، د دې خاطرو ليکل پېښور ته د استاد پژواک د ناڅاپي سفر په پايله کې چې د ١٣٦٨ هـ . ش کال په پيل کې چې له ١٩٩١ز. کال سره سمون خوري ترسره شول، همداسې نابشپړ پاته شول. ښه به وي هغه څه چې استاد د خپلو يادښتونو په پای کې ماته ليکلي دي هغه دلته نقل کړم:

"فرهاده! ما دا هيله درلوده چې دا څېړکې پای ته ورسوم، اما د خدای تعالی (ج) قدرت پر دې قادر کړم چې تر کلونو تبعيد وروسته چې د پاکستان حکومت امرېکاامرېکا ته وشړلم، بېرته پاکستان ته د سفر موقع راته حاصله شوه او زما د يادښتونو څېړکې تاته نابشپړ پاته شو. لکه څنګه چې ته پوهېږې چې د ناروغۍ او ناتوانۍ په حالت کې مې بياهم د ملي او وجداني ږغ اورېدو ته لبيک ووايه او دا دی له امرېکا څخه حرکت کوم. په هر صورت په لومړي فرصت کې به ان شاءالله د دې يادښتونو د لړۍ په ليکلو او ټولولو پيل کوم او د خپلې کورنۍ کوم غړي ته يې سپارم، ترڅو په هغه صورت کې چې زه تا دوباره په خپل ژوند کې ونه وينم تاته يې در ورسوي."

لکه څنګه چې یادونه وشوه، د دې اثر له خپرولو څخه موخه هېوادوالو ته د یوه ملي امانت سپارل دي او دا یو وړوکی خدمت دی چې زمونږ نوی نسل د استاد له عقیدې، افکارو او اثارو څخه تر یوه بریده خبر شي. د استاد د هغو یادښتونو په استناد چې داسې یې فرمایلي دي: "کله چې د یوه ملت د ارزښتونو ټاکلو موضوع مطرح وي، نه شو کولای چې تناب یې د نورو په لاس کې ورکړو او خپل حق وانخلو. " هیله من یم چې دا اثر د وطن د اوسنیو او راتلونکو سیاسي چارواکو د جدي پاملرنې وړ وګرځي.

**منم آن شمع حقیقت که نمیرد پژواک**

**زنده ام تا ازمن یک دو سخن می ماند**

په پای کې پژواک بنسټ او زه خپله ناشر دلته د ځینو ټکو یادونه اړینه ګڼم:

**لومړی:**

دا اثر لکه څنګه چې یې له نامه څخه ښکاري، د استاد پژواک د ژوند د څېړکي لنډیز دی او بس. له بده مرغه بوختیاوو او د استاد نابېره مرګ اجازه ور نه کړه چې دا یادښتونه بشپړ کړي. استاد خپله د خاطره لیکنې لېوالتیا او عادت نه درلود، ان هیڅکله یې خپل شعرونه ونه لیکل. زما ټینګار د ده د ژوند پېښو د لیکلو په برخه کې مهم و، چې د افغانانو د جهاد او ملي مبارزې د حقیقتونو او د هغوی د ونډې په برخه کې یو څه وپوهېږم او په پراخه ټنډه دا معلومات تر نورو ورسوم.

**دویم:**

ځیني خاطرې د استاد پژواک له خوا بیا نه دي مطالعه شوي، که چېرې ځیني عبارتونه پاته شوي وي بښنه مو ومنئ. د دې سبب هم پاکستان ته د استاد سفر، بوختیاوې، ناروغي او وفات دی. له دې تشې سره سره کومه پېژندګلوي چې زه له استاد پژواک سره لرم، خپل ځان ته دا اجازه ورکوم چې د نوموړي خاطرې پرته

له کومې لاس وهنې په اصلي ډول په دې کتاب کې چاپ کړم، البته پرته له يو څو کرښو چې هغه ډېرې شخصي او زما د خبرولو لپاره وې. ان شاءالله چې د دې يادښتونو کاپي به خپله د ارواښاد استاد په لاسليک د افغانستان پوهنتونو او نورو معتبرو علمي او څېړنيزو مرکزونو ته د ساتلو او تصديق په موخه، د څېړونکو او مينوالو د لاسرسي په نيت سپارو.

**دريم:**

د ډيپلوماسۍ برخه کې د استاد پژواک ورتيا، نوښت او کړنې د شپېتمې او اويايمې زيږديزې لسيزو په لړ کې خورا د پام وړ دي او ډېرې درنې ډيپلوماتيکې دندې يې په نړيوالې صحنې کې په غاړه لرلې دي، چې له هغې ډلې د ملګرو ملتونو پر منشور د بياکتنې کمېسيون رياست، د بشري حقونو کمېسيون رياست او په ۱۹۹٦ ز. کال د ملګرو ملتونو د عمومي مجموعې رياست يادولای شو. د استاد د ژوند دغه برخه چې په نړيوال ډګر کې يې خپل اغېزمن رول لوبولی د پوره ځيرتيا، ژورې مطالعې او کره څېړنو غوښتنه کوي، په ځانګړې توګه د بشر حقونو او ملتونو د حقوقو په برخه کې د استاد هڅې او رول د نويو ځوانانو د پوهاوي او په هېواد کې د بشري حقونو د خونديتوب او د دموکراسۍ د بنسټيز کېدو په موخه خورا د پام وړ دي. د ملګرو ملتونو انټرنېټي سرچينې او نور علمي او څېړنيز افغاني او نړيوال مرکزونه د افغان ملت لپاره د دې معنوي هر اړخيزميراث په اړوند مستند شواهد دي او دا د تعجب وړ خبره نه ده چې د ملګرو ملتونو مشرتابه تر نن ورځې د استاد پژواک د ژور فکر او غوره کړنو درناوی کوي.

**څلورم:**

د خپل کاکا زوی، برمک پژواک څخه چې د دې اثر د خپرولو په چارو کې يې ګام په ګام خپل غوره رول په ښه توګه لوبولی، د زړه له کومې مننداوی يم. هغه ستړياوې او مرستې چې د دې اثر د ترتيب او خپروونکې ادارې د موندلو په برخه کې يې راسره ترسره کړې او د دې ترڅنګ د ښاغلي برمک پژواک هغه مخلصانه چوپړ او زيار

چې نوموړي له استاد پژواک سره د جهاد، مبارزې او مهاجرت پر مهال ترسره کړی، خورا د قدر وړ دی.

د کتاب د ډیزاین او د پښتۍ د طرحې په برخه کې د ښاغلي حمید عبیدی څخه یوه نړۍ مننه کوم. همدارنګه د خپلې ګرانې خور پروین پژواک څخه د کتاب د بشپړېدو په برخه کې مننه کوم. همداشان لازمه ګڼم چې له "کلید ګروپ" څخه د کتاب د لومړی چاپ او خپرندویه چارو اړوند، د "خلاصۀ فصلی از سرگذشت یک افغان مهاجر" ترعنوان لاندې، ۱۳۹۳ هـ . ش، د زړه له کومې مننه وکړم، په ځانګړې ډول د شهیراحمد ذهین د ملګرتیا وهڅه څخه مننه کوم. اوس د دې کتاب خپرول په پښتو ژبه د "اړیکو دفتر/ دفترارتباط" په پراخه همکاری ترسره کیږي. زه د خپل ګران ورور جناب مسعود کروخیل له صادقانه ملاتړ څخه مننداوی یم. د دې خپرونې د قدرمنو پوهانو او دوستانو، هر یو څېړنوال دکتور عبدالغفور لېوال، ښاغلی عبدالودود همت عمرزوی، ارواښاد دکتورخلیل الله هاشمیان، دکتور امین طرزي، دکتور خالد ملکیار او دکتور خالد معروف له لېوالتیا، پېرزوینو او هڅونو څخه یوه نړۍ مننه کوم.

**پنځم:**

یوه برخه سندونه، شعرونه، انځورونه، ژوندلیک او د سترګو لیدلي حقیقتونه، د دې اثر په ضمیمو کې د مجبورۍ له مخې راوړل شوي دي، چې د استاد پژواک د ژوند په اړوند حقیقتونه، د نوموړي مبارزه او دریځ د امکان تر حده بشپړ او د مینوالو او څېړونکو په واک کې ورکړل شي. البته دا اثر تر دې وړوکی دی چې مونږ ټول موارد په کې ځای کړو، له هغو خلکو چې د استاد پژواک له ژوند سره پېژندګلوي لري، په ډېر درنښت هیله او غوښتنه کوم چې د استاد په اړوند خپلې خاطرې او نظرونه د افغانستان د ازادو رسنیو له لارې له مونږ او خلکو سره شریک کړي او خپله دا لویه لورینه راباندې وکړي. البته ما تر وروستیو دېرشو کلونو زیات د کورنۍ په مرسته د استاد د لیکنو او اثارو په راټولو تېر کړی دی او یوه لویه برخه اثار مې راټول کړي هم دي، خو لا هم هڅه کوم چې دا چاره بشپړه کړم. ویلای شم چې کابو د استاد نیمايي قلمي اثار خپاره شوي دي او پاتې اثار یې، په ځانګړې

توګه ارزښتمن ادبي اثار چې په دواړو ملي ژبو پښتو او دري لیکل شوي دي، جدي او له ځنډه پرته خپرېدو ته اړتیا لري. مونږ او کورنۍ ته د استاد پژواک تر ټولو ښه او لوی میراث د نوموړي همدا اثار دي، خو پوهېږم چې دا امانت په پای کې د افغانستان په ولس پورې اړه لري. له خنډونو او ستونزو سره سره بیا هم مننوی یم چې په وروستیو کلونو کې مو د استاد د لیکنو او شعرونو څو ټولګې د کورنۍ او پوهانو دوستانو په مرسته چاپ کړې دي، چې په لاندې ډول یې یادولای شو: "الماس ناشکن"، "ناهیدنامه"، "بانوی بلخ" او "یک زن". که وخت او اقتصادي توان اجازه راکړه، د استاد د کتابونو ټولې اصلي او کاپي ډیجیټلي بڼې به له خیره د مینوالو، څېړونکو پوهنتونونو او د افغانستان د ولس په واک کې ورکړو. په دې هیله چې د استاد د شعرونو دیوان هم خپلو هېوادوالو ته ډالۍ کړو، لکه څنګه چې خپله فرمایي: (سری دارم ولی سامان نخواهم_ گلستان دارم و دامان نخواهم_ نکردم جمع افکار پریشان_ که شاعر هستم و دیوان نخواهم). هیله ده چې یوه ورځ د نوموړي منتخب اثار په نړیوالو ژبو هم وژباړل شي او د افغانستان د ښه پېژندلو په پار د نړیوالو تر لاسو هم ورسېږي.

**شېبرم:**

د دې اثر مسوولیت په بشپړ ډول د پژواک خپرندویه اداري پر غاړه دی. له لوستونکو د چاپي او فني تېروتنو له امله، وار له مخه بښنه غواړو او د خپلو قدرمنو دوستانو او کورنۍ څخه چې د کتاب د خپرولو برخه کې یې زمونږ سره مرسته وکړه په منڼې، تاسو رابولو د کتاب لوستلو ته.

**د خیر په دعا او درنښت**

**فرهاد پژواک، د پژواک بنسټ رئیس**

**پسرلی ۱۴۰۳ هجری شمسی**

ویرجینیا، امریکا

بسم الله الرحمن الرحیم

# خلاصهٔ فصلی از سرگذشت یک افغان مهاجر

## پس منظر:

در لندن سفیر افغانستان بودم. بعد از غذای شام برحسب عادت خبرهای جهان را می شنیدم بازگشت جز کودتای کمونیستی علیه حکومت پخش گردید که به تفصیلات پیرامون آن افزوده می شد. با یکی از مأمورین بلند رتبهٔ وزارت خارجهٔ انگلستان در تلفون صحبت کردم. اطلاع مزید نداشت با آنکه لازم دید صحبت را به فردای آن شب حواله کند. تا آن فردا تصویر مجمع آن واقعه را بی بی سی و دیگر دستگاه های نشراتی اروپا پخش کرده بودند. چیزیکه از وزارت خارجهٔ برتانیه شنیدم تائید وقایع از جانب سفارت شان در کابل بود. از جستجوی عکس العمل حکومت برتانیه بجز خونسردی نیافتم. وزارت خارجهٔ کابل بعد از مکث تعجب آوری بزمینهٔ تلگرامهای سفیر و وقایع را از نقطهٔ نظر خود ودر هدایت های خود در بارهٔ کارکنان سفارت افغانی در لندن تنها برطرف کردن سکرتر اول (محمد عزیز نعیم) بود که بیقین محتاج امر کابل نبود و او خود دست از کار میکشید. یک تلگراف در بارهٔ رفتن حفیظ الله امین به هاوانا و توقف عبوری وی در میدان طیارهٔ لندن بود. کارکنان سفارت از من مشوره خواستند. بایشان گفتم که من شخصاً حاضر نیستم بروم هرکس در اتخاذ موقف خود آزاد است. آثار تأثر عمیقی در وجنات همه این جوانان وطنخواه مشاهده کردم. امین آمد و رفت. من در میدان طیاره اورا ندیدم. ولی آگاه شدم که ادارهٔ تشریفات وزارت خارجهٔ برتانیه در میدان تشریفات معمولهٔ درمورد اشخاص همپایهٔ حفیظ الله امین بطور رسمی بجا آورده بود. این روش بر عکس العمل حکومت برتانیه روشنی بیشتر افگند. این روشنی فضای اندیشه های مرا تاریکتر ساخت. و نزد امین نرفتن مرا به میدان هوائی به تحقیر تعبیر کرد. من هرگز بخود این حق را قایل نشده ام که کسی را تحقیر کنم. باعث نرفتن من به میدان هوائی افهام موقف من در برابر رژیم کمونستی و آنهم به توطئه و پایمردی بیگانه و بیگانه پرستان و وطنفروشان بود. چرا باید کسی را تحقیر کرد که خود را تحقیر کرده است؟ چرا باید کسی را کشت که خودکشی کرده و یا میکند؟

**بسم الله الرحمن الرحيم**

# شالید

په لندن کې د افغانستان سفیر وم، د ماښام ډوډۍ تر خوړلو وروسته د خپل همېشني عادت له مخې چې تل به مې نړیوال خبرونه اورېدل، د لومړي ځل لپاره د افغانستان پر حکومت د کمونستانو د کودتا خبر خپور شو، چې په اړوند یې نور تفصیل هم راځي. د انګلستان د بهرنیو چارو وزارت له یوه لوړ پوړي چارواکي سره مې په دې اړوند د ټیلیفون له لارې خبرې وکړې، هغه هم زیات معلومات نه درلودل، یا یې زیات معلومات سبا شپې ته پرېښودل. په سبا یې د دې خونړۍ پېښې تاوجن انځور له بي بي سي او د اروپا له نورو رسنیزو دستګاوو څخه وړاندې شول. هغه څه چې ما د برتانیې له حکومت څخه د دې پېښې په اړه واورېدل، په کابل کې یې د سفارت له لورې د پېښې تایید و او بس. د برتانیې د غبرګون له څېړلو وروسته ما د سرې سینې له خپلولو پرته بل څه ونه موندل.

د بهرنیو چارو وزارت له کابل څخه، تر یو لړ حیرانوونکي ځنډ وروسته د شفري ټلګرافونو استولو له لارې د خپل لیدلوري پر بنسټ پېښه بیان کړه او په خپلو لارښوونو کې یې په لندن کې د افغانستان سفارت د کارکونکو د ګوښه کولو په لړ کې د لومړي سکرتر (محمد عزیز نعیم) د ګوښه کولو لارښوونه کړې وه چې پرته له شکه هغه خپله ګوښه کېده او د کابل امر ته یې اړتیا نه درلوده. یو ټلګراف هم هاوانا ته د حفیظ الله امین د تګ او د لندن څخه د تېرېدو په وخت کې په هوایي ډګر کې د تم کېدو په اړه و. د سفارت کارکوونکو زما څخه په دې اړه مشوره وغوښته، ما ورته وویل چې زه خپله نه یم حاضر چې هلته ورشم، هر څوک د خپل دریځ په نیولو کې ازاد دی. د وطندوسته ځوانانو په څېرو کې مې د ژورې اندېښنې او خپګان نښې ولیدې. امین راغی او بېرته لاړ. ما په میدان کې ونه لید،

خو خبر شوم چې د برتانيې د بهرنيو چارو وزارت، د تشريفاتو ادارې په هوايي ميدان کې د حفيظ الله امين په کچه برابرو خلکو، معمولي رسمي تشريفات ورته وړاندې کړي وو. دغې طريقې د برتانيې د حکومت د غبرګون په اړه ښه روښنايي واچوله او دې روښنايي زما د فکر فضا نوره هم تياره کړه. امين هم هوايي ډګر ته زما نه تګ، د خپل ځان پر وړاندې سپکاوی وګاڼه.

زه هيڅکله ځان ته دا حق نه ورکوم چې چاته سپکاوی وکړم، ميدان ته زما نه ورتګ په اصل کې د کمونستانو د رژيم پر وړاندې د خپل دريځ په ډاګه کول وو. هغه هم يو داسې رژيم چې د توطيې، پرديو، ببګانه پرستو او وطن پلورونکو په مټ منځته راغلی و. ولې بايد هغه څوک سپک کړو چې خپله يې ځان سپک کړی وي؟ ولې بايد هغه خلک ووژنو چې هغوی خپله ځانونه وژلي وي او يا يې په لوی لاس وژني؟

حفيظ الله امين مې د کمونستانو له کودتا مخکې دوه ځلې هغه وخت چې په امريکا کې زده کړيال و ليدلی و. لومړی ځل له يوه بل افغان محصل سره چې هغه مې پېژنده، د خپلې پېژنګلورۍ په موخه راغلی و او دويم ځل مې هغه وخت وليد چې ما د ملګرو ملتونو په اداره کې د دايمي استازي په توګه دنده درلوده او کله چې پخواني باچا اعليحضرت امريکا ته سفر وکړ، زه مؤظف وم چې له ده سره ملګری و اوسم. امين د افغان زده کړيالانو ټولنې د مشر په توګه، يوه ناسته جوړه کړه چې په دې ناسته کې يې غوښتنه وکړه چې دوی ته وينا وکړم او له محصلينو سره خبرې اترې او مرکې وکړم. په لنډ ډول مې وينا ورته وکړه او په تفصيل مې د دوی پوښتنو ته ځوابونه ورکړل. بل وينا کوونکی جلالتماب عبدالله ملکيار و.

د کابل په کمونستي رژيم کې چې مې څوک له ډېره وخته او ښه پېژنده هغه نورمحمد تره کی و. زه خپل ځان يو له هغو افغانانو څخه بولم چې د روسيې نظام او د دوی سياسي اغراض ډېر ښه پېژنم. د افغانستان د حکومت تر جمهوري کېدو وروسته مرحوم داود خان او د هغه کابينې تصويب کړه چې زه په

مسکو کې د افغانستان د لوی سفیر په توګه وګومارل سم او مرحوم جمهور رییس د لومړي ځل لپاره خپل کور ته ور وغوښتم او د دې تصویب په هکله یې خبر کړم. ما په لازم ادب او پوره ټینګار سره په مسکو کې سفارت قبول نه کړ. زما دلیلونه او عرضونه جمهور رییس قبول کړل او هغه یې کابینې ته په څرګنده وړاندې کړل. دا پریکړه یې تصویب کړه چې هند ته د سفیر په توګه ولاړ شم او ترڅو چې د هند د حکومت موافقه رارسیږي، د وخت حساسیت ته په کتو چې سردار داود خان خپله نه شو کولای، الجزایر ته د پلان شوې غونډې لپاره ولاړ شي، نو زه یې د خپل ځانګړي استازي په توګه یادې ناستې ته د افغاني پلاوي په مشرتوب ولیږلم، چې د غیرمنسلکو هېوادونو د دولتونو د مشرانو په کنفراس کې برخه واخلم. د کنفرانس په لړ کې ایندراګاندي زه خبر کړم چې کابل د هند څخه ستا د سفیر کېدو د قبولۍ غوښتنه کړې ده او د هند حکومت هوکړه ورسره کړې ده. د کنفرانس تر ختمېدو وروسته او کابل ته تر تګ مخکې، د لوېدیځ المان د حکومت سره د خدای په امانۍ او د تشریفاتو وړاندې کولو په موخه هلته ولاړم.

د دې یادونې څخه زما موخه دا ده چې په مسکو کې د ټاکنې او د هغې د نه منلو موضوع دواړه د روسیې له نظام سره زما د بلدتیا پایله ده، چې دا مسله روښانه شي. د سیاست او اخلاقو له پلوه د یوه سفیر دنده د اړیکو ټینګښت دی نه پرېکون، هغه څوک چې په پاکې عقیدې، پرنسیپ او پاک نیت د اسلام د ارشاداتو په رڼا کې د افغاني اخلاقو پر بنسټ د یوه مسلمان افغان په حیث د دې دوو نقیضو د یو ځای کېدو په اندازه ښه سم پوهېږي، باید په پوره درک دا اندازه وساتي او که یې نه شي کولای، نو ځان دې ترې لرې وساتي. له بده مرغه د افغانستان او روسیې په اړیکو کې هم پیوستون او هم پرېکون دواړه خطر لري او دا خطر کمزوري او وړوکي هېواد ته ډېر متوجه وي. انسان اور بلوي چې د یخ پر وړاندې ځان تود وساتي، خو که د یخ له زوره اور ته ډېر نږدې شي نو سوځېږي. د جنت هوا او فضا د اعتدال په خاطر د ستاینې وړ ده، چې نه لمر شته او نه ډېره

يخني.  زه په مسکو کې د يوه مسلمان او افغان لپاره هيڅ جنتي ځيز نه وينم، که چېرې مې د پړانګ زړه هم درلوداى، له دې اوره به وېرېدم، ايا پړانګ له اوره نه وېرېږي؟

# کابل ته د تګ هوډ

په دې وياړم چې په اويا کلنۍ کې مې هم د پلار وصيتونه نه دي هېر کړي او د هغو په رڼا کې خپل ژوند کوم. د هغو وصيتونو له ډلې چې زما عالم پلار راته کړي، د ځينو يادونه يې ښايي د نورو لپاره هم ګټور وي.

لومړی: که چېرې مقتدر او ظالم حاکم ستا څخه پوښتنه کوي حقيقت ورته ووايه او که پوهېږې چې حقيقت ويل ستا د مرګ سبب کېږي، نو خوله پټه ونيسه او څه مه وايه، ولو که دا چوپتيا ستا د وژلو سبب هم ګرځي، خو دروغ مه وايه. دويم: که چېرې باچا يا اولی الامر خپل حضور ته ور وغوښتې يې له ځنډه ځان ور ورسوه، ولې پرته له بلنې يې حضورته مه ورځه.

درېيم: که کله په کوم شخصي کار کې د بل چا مشورې ته اړ شوې، پر خدای تعالی (ج) توکل کړه او خپل ضمير ته رجوع وکړه، په خپله عقيده هوډ وکړه، مشوره مه کوه او که دې مشوره وکړه سرغړونه مه ځنې کوه.

وروسته تر دې چې دوستان او همکاران ولاړل، له ځان سره مې فکر وکړ چې بايد يو څه وکړم او خپل تصميم ونيسم. په سبا شپه مې د خپلې پرېکړې په اړه کابل ته خبر ورکړ او خپل همکاران مې هم خبر کړل، له هغوی څخه مې هيله وکړه چې په لومړۍ الوتکې کې، زما د تګ لپاره چمتووالی ونيسي، چې هغوی هم په ډېرې مهربانۍ او خواخوږۍ دا کار وکړ. د برتانيا د بهرنيو چارو وزرات ته مې په ټيليفون کې وويل چې د کابل د رژيم پر وړاندې ستاسو او زما غبرګون توپير لري او زه په توپيري ډول ځان د دې رژيم استازی نه ګڼم. نور دې ته نه يم حاضر چې استازی يې واوسم، کابل ته مې خبر ور کړی دی، ما له تشريفاتو او خدای په امانۍ څخه معاف کړئ. يو څو بې مانا خبرې مو سره ادلې بدلې کړې او داسې مې احساسول لکه د زهرو اوبه چې د سر په کاسه کې څښم.

د کورنۍ ټول غړي مې په کابل کې وو، یوازې لمسی مې فرهاد پژواک چې په زده کړه بوخت و، ما سره یو ځای و. زه په دې ډاډمن وم چې خپلو پخوانیو سیاسي ماموریتونو، کړو وړو او غبرګونو ته په پام، یا دا چې کله په بهرنیو چارو وزارت کې عمومي سیاسي مدیر وم، هغه وخت له حفیظ الله امین سره زما چلن دا ټول هغه مسایل وو چې د وخت کمونست رژیم به هرومرو پلمې، بهانې او دلیلونه راته جوړوي او که چېرې یې ماته لاس ونه رسېږي، نو ورونو ته به مې حتماً تاوان رسوي. له همدې کبله ښه ده چې د خپل برخلیک هرکلي ته په خپله ځان چمتو کړم. بله دا چې د امکان تر حده پټې مبارزې ته لار پیدا کړم. دا چې زما حساب پاک دی، نو ولې باید له محاسبې څخه باک او پروا ولرم؟

کله چې دفتر خبر راکړ چې د اریانا الوتکې په لومړي پرواز کې مو ستا سفر ترتیب کړی، فرهاد ته مې دنده ورکړه چې زما کالي را ټول کړي. زما هوډ دا و چې په هر ډول ممکنه وي، فرهاد باید خپلو زده کړو ته دوام ورکړي. خدای تعالی (ج) زه داسې خلق کړی یم چې د پېښو او ستونزو په وخت کې زغم او سړه سینه ولرم، ولې دا توان یې نه دی راکړی چې له خپلو نازکو او ژورو احساساتو څخه ځان ازاد کړم. د فرهاد له ذهني او فکري وړتیا او دده له فزیکي استقامت څخه پوره ډاډمن وم، خو د ده د یوازې پاتې کېدو تصور زما عاطفه په شور راوستله. دده په لوړو زده کړو کې د ځنډ تصور هم زه ډېر اغېزمنولم. د فرهاد د غبرګون تر شنني وروسته یو ډېرمهم څه ته چې زه مخکې نه پرې پوهېدلم متوجه شوم، هغه دده پر ځان باور و. په نفس باور که په ځانګړې توګه پر خدای (ج) له توکل سره یوځای وي، دا د خدای تعالی (ج) لوی نعمت دی، د خدای پاک (ج) شکر ادا کوم.

# د کابل په هوايي ډګر کې

په الوتکه کې مې د خدمه وو او کارکوونکو په چلن کې توپیر ونه لید، پرته له یوه نفره چې ناڅرګند په نظر راغی، نور ټول خلک عادي او ادبناکه وو، خو کله چې په کابل کې له الوتکې کښته شوم، نو د ټولو خلکو چلن، حالت او د خبرو کولو طرز د یوه افغان له نظره حیرانوونکی و. په تعجب سره د "انقلاب" په مانا وپوهېدم. لارښوونکې امر وکړ چې هغه وڅارم. له هغو دوو کسانو څخه چې د مېز تر شا ناست وو یوه یې وویل چې "پاسپورټ!" پاسپورټ مې ورکړ. پاڼې یې را واړولې او په ورته وخت کې یې وویل "سیاسي." زما نوم او لقبونه یې ولوستل او بیا یې سر تر پایه زما څېره تر نظر تېره کړه. د ګوتې په اشاره یې راته وویل "ګمرک!" په زړه کې مې له ځان سره وویل چې داهم د "انقلاب" ژبه ده چې یوه جمله په یوې کلیمې کې افاده کوي.

په ګمرک کې مې خپل ورور ارواښاد پوهاند فضل ربي پژواک ولید چې ماته منتظر و. هغه مې په غېږ کې ونیو، قرار یې په غوږ کې راته وویل: "اوس چې راغلې په خیر راشې". دوه قدمه لرې مې یو ځوان چې تقریباً دېرش کلن به وو، ولید. څه یې وویل او رانږدې شو تفګنچه ورسره وه خپل ځان یې راته معرفي کړ. څرګنده شوه چې د امنیت کارکوونکی او د میدان له ساتونکو څخه و، چلن یې له درناوي ډک و. ماته یې وویل چې "ستاسو د کور غړي ستاسو له راتګ خبر دي او د باندې درته انتظار دي، تاسو ورشئ او تشریف وروړئ. زه او پوهاندصاحب ستاسو شیان وروسته د ګمرک تر معاینې هلته در وړو. فضل ربي د هغه خبره ومنله او زه دباندې ولاړم. زما ورور عتیق الله پژواک وویل چې "غرمه نږدې ده، عفیفه جانې (زما لور) د نعمت جان کره چې زما وراره او د دې خاوند دی مېلمستیا کړې ده او مونږ ټول یې وربللي یو لومړی هلته ځو. لالا (فضل ربي پژواک) به هم

ستاسو د شیانو سره همالته راشي." نعمت الله پژواک وویل "موټر چمتو دی، لاړو او په موټر کې کښېناستو. خلک راټول شوي وو خو پرېشانه وو.

مجلس خپلمنځي او کورنی و، زه د حاضرینو په لیدو ډېر خوشحاله وم او هغوی چې نه وو د احوال پوښتنه مې پې کوله. د خبرو او چپو خولو ځارنه مې کوله. لالا راورسېد او راسره کښېناست. سپګار یې ولګاوه، د وطن او خلکو په اړه یې خبرې کولې.

د څنګ له کوټې څخه ږغ راغی چې ډوډۍ تیاره ده. زه نه یوازې چې یې خوبه وم، بلکې وږی هم وم، ځکه په الوتکه کې مې د یوه دوست په اشاره هغه څه چې د خوراک او څښاک لپاره راوړل کېدل، د هغو له خوړلو څخه ډډه وکړه. زما اراده دا وه چې ژر د عتیق الله پژواک کور ته لاړ او ویده شم. په هر حال، ډوډۍ مو وخوړله. د ټیلیفون زنګ راغی. ویې ویل چې "ترون" دی. ترون د امنیت رییس و او غوښتل یې چې ما سره خبرې وکړي. د هغه کورنۍ غړی و چې ځانونو ته یې صاحبزادګان ویل او په ننګرهار کې یې ژوند کاوه. دا خلک زما لپاره ناپېژانده نه وو.

ترون هغه څوک و چې د امین رژیم د جلال اباد تاریخي ښار د هغه په نوم ونوموه او په "ترون کوټ" یې بدل کړ.

د ترون سره تر ټیلیفوني خبرو وروسته د ډول ډول فکرونو په لړ کې یو څه زما فکر ته رانښوتل چې خبرنه یې بې ګټې نه وه. د یوه کمونیست صاحبزاده سره مې خبرې وکړې. په افغانستان کې صاحبزاده هغه چاته وایي چې د نسب لړۍ یې له یوې روحاني کورنۍ سره تړاو ولري. د داسې لقبونو شمېر زیات دی او په ټول وطن کې خلک بلدتیا ورسره لري. د بېلګې په ډول: سید، میر، شاه، باچا، میان "میا"، ایشان... او داسې نور د افغانستان د کمونستانو په منځ کې د دغسې درنو کورنیو غړي لیدل کېږي، چې عام خلک ورته ځانګړی درناوی لري. دوی ټول له ځوان پوړ څخه ګومارل شوي دي، دغو ځوانانو له یوه اړخه د کمونېزم سره په یو ځای

کېدو، د خپلو کورنيو په منځ کې درزونه پيدا کړل او له بل پلوه يې د نورو طبقو ځوانانو د جلب په موخه د کمونېزم د يوې تبليغاتي وسيلې په توګه هم کار ورکړ. چې په پايله کې د کورنيو د عمومي اړيکو د بدوالي او پيکه کېدو سبب شول، نو په همدې بنسټ دا له امکان لرې نه ده چې دا به هم د روسانو د قصدي تکتيکونو څخه يو وي. دغه حقيقت په عين وخت کې د نورو درنو کورنيو لکه ديني عالمان، ملايان، اخندان، اخندزاده ګان... او داسې نورو کورنيو چې د عامو خلکو په نزد درنښت او مقام لري هم ليدل کېږي. البته بله موخه چې ملکان، خانان او ځمکه وال دي هغه بيا بله وجه لري، چې ويلو ته اړتيا نه لري. دومره بايد وويل شي چې روسانو بايد له ډېره وخته کار کړی وي چې وکولای شي خپلو سياسي او ټولنيزو غرضونو ته زمينه برابره کړي. نو په دې اساس يوازنی شی چې زمونږ د تسلی او په راتلونکي کې د داړ لامل کېدای شي هغه د نوو نسلونو پوهاوی او هغوی ته د عبرت د درس ورکول دي.

# له ترون سره خبرې

ددې خبرو د څېرکې لنډيز چې زمونږ موخه ده اوس پيل کيږي، هغه څه چې مو تراوسه ووېل يوازې د مخکې يادونې لنډيز و.

ومې ويل صاحبزاده صاحب زه پژواک، عبدالرحمان پژواک يم. ويې ويل زه ترون يم، ډاډ مې نه درلود فکر کوم چې د صاحبزاده له يادولو خفه شو، ناپامه مې يو محرِک په خپل باطن کې حس کړ چې راته وايي د صاحبزاده خطاب بيا تکرار کړه، دغه ازار ورکوونکي نيت وروسته زما وجدان ته ټکان ورکړ. تر لنډې پېژندنې وروسته يې راته ووېل چې د يوې رسمي مسلې لپاره تاسو سره خبرې کوم، غواړم چې خبر درکړم، د حکومت د لزوم ديد پر بنسټ له کوره  بهر مه راووځه او نور چاته هم اجازه مه ورکوه چې ستاسو خوا ته درشي. البته د حکومت له اخرني هوډ څخه به هم وروسته خبر شې. ما دا تمه درلوده چې ما سره به اړيکه نيول کيږي، خو دا تمه مې نه وه چې تر درېو ساعتونو په کمه موده کې څه واورم. ورته ومې ويل چې صاحبزاده صاحب هسې نه چې دا مې اشتباه اوربدلې وي، ودې ويل چې د حکومت د صوابديد په اساس، صوابديد هم هرومرو موجب لري.

ويې ويل: بلې، سبب يې ستاسو ساتنه ده، ورته ومې ويل البته نه شم کولای چې د حکومت له امر څخه سرغړونه وکړم، همدا اوس د خپل وراره له کوره ځم د خپل ورور کور ته او هلته ستاسو د حکومت وروستۍ پرېکړې ته منتظر کښېنم.

ويې ويل: نه، هر چېرې چې ياست هم هلته اوسئ، د امنيت اداره موظفه ده چې پر تاسو ټينګار وکړي، له دې وېرې چې هسې نه ږغ مې ټيپ کړي پر ځان مې ډير احتياط لازم کړ او ورته ومې ويل چې صاحبزاده صاحب تاسو پوهيږئ چې زه خپلوان او ورونه لرم.

ویې ویل: ورونه دې کولای چې ستاسو خواته درشي او درسره وويني، خو په ډله ییزه توګه نه.

ومې ویل، ډاکټر ته اړتیا لرم.

راته ویې ویل: د اړتیا په وخت کې مونږ ډاکټر درلېږو، زه د روغتیا له پلوه ډاکټر ته اړ نه وم، یوازې د راتلونکو حالاتو لپاره مې دا خبره ورته وکړه، غوښتل یې خبرې پرې کړي، موضوع مو راتلونکي ته وځنډوله.

ویې ویل: د اړتیا په وخت کې د امنیت ادارې ته ټیلیفون وکړه موظف نفربه تاسو ته ځواب درکړي.

په انصاف سره دا د غور وړ ده څوک چې خپل ځان د زرګونو انسانانو د امنیت د نیولو مسؤول ګڼي په مستبده روحیه د یو څو لنډو امرانه خبرو په کولو چې دا وکړه او هغه مه کوه!، وخت ونه لري، په داسې حال کې چې "موظف اشخاص" هم ولري!، په دې توګه په کوم کور کې چې وم هم هلته تر څارلاندې ونیول شوم. یو دلیل چې د وزیراکبرخان له سیمې د نعمت الله د کور څخه جمال مېنې ته زما د تګ په مخ کې خنډ شو، هغه دا و چې په وزیر اکبرخان کې زما څارنه اسانه وه. د کور څنګ ته سړک و، ورهاخواته یې نږدې په لس متره واټن کې پارک و، په پارک کې باغ او د خلکو د کښېناستلو لپاره اوږدې څوکۍ جوړې شوې وې. یو خواته یې دېوال و د دېوال هاخواته د شمالي کوریا سفارت و او بل اړخ ته یې د یو اروپایي تبعه کور و. ګومان کېږي چې د شرقي المان له کارکوونکو څخه به و. یوه ورځ مې له خپلې کوټې څخه ولید کله چې تند باد او باران پیل شو څارونکي له پارک څخه د شمالي کوریا سفارت ته پناه یوړه. مطلب مې دادی چې هیڅ افغان ګاونډی مو نه درلود، وروسته تر کلونو مسافرۍ بیاهم په خپل وطن او خلکو کې یوازېتوب و. زه په خپل ژوند کې تر څلیرویشت ساعتونو زیات نه یم بندي شوی، خو په کور کې داسې توقیف او بې برخې کېدل د محبس له توقیف څخه کم نه دي. سره

له دې چې په دې پوهېدلم چې د کابل ښار پرته له یو لوی محبسه بل څه نه دی، د دردناکو حقیقتونو بیان په دې لنډیز کې نه ځایېږي. د لومړۍ ورځې په سبا مې لیدل چې دوستان راځي او له هغه چا سره چې دروازه یې پرانستله تر یوې دقیقې خبرو وروسته بېرته ووځي او ځي. ما د کوټې له کړکۍ څخه لیدل او پېژندل مې، یوازنۍ تسلي مې دا وه چې پوهېدلم څوک، څوک ژوندي دي او په زندان کې نه دي. زه تر اوسه نه وم توانېدلی چې په کابل کې کور ولرم، خو دوستان مې ډېر او بې شمېره وو، هغه یوه دقیقه خبرې هم د دې لپاره وې چې ورته ویلي مې وو یوازې د دوی د راتلو څخه مننه وکړي او د حکومت له خوا زما د محکومیت په اړه ورته ووایي او دا هم ورته په ډاګه کړي چې د حکومت له اجازې پرته بیا دلته رانه شي. زما دوستان داسې خلک نه وو چې دوی ته حکومت اجازه ورکړي او یا دوی وکولای شي چې اجازه ورنه وغواړي. کله چې به دوی بېرته ستنېدل تر هغو یې ځارل چې څو به له سترګو پناه کېدل. همدا شان نورو ګومارل شویو کسانو به هم ځارل چې څېره او هویت یې ورته څرګند شي. هر څومره چې حکومت زه له خپلو دوستانو څخه لرې ساتلم، زه لا نور هم ځورېدلم او د خدای تعالی (ج) ناشکري راڅخه کېدله، خدای پاک (ج) مې دي دا ناشکري راته وبښي.

په دې وخت کې د بهرنیو چارو وزارت د محاسبې مامورین ګومارل شوي وو چې زما حسابونه وڅېړي، له بده مرغه هغه وخت ټول حسابونه او لګښتونه د لوی سفیر په نوم حواله کېدل، طبعاً چې د حساب مسؤول خپله سفیر و. زه له یوه پلوه په ریاضي او حساب کې چندان وړتیا نه لرم او د زده کړو په وخت کې مې په دې مضمون کې ډېرې کمې نومرې اخېستې. یوازې ځان مې کامیابه کاوه او له بله اړخه دا حتمي وه چې په تر ټولو پاکو سفیرانو هم تهمت ویل کېده، دغه اندېښنې هم ځورولم او دا راته د زغم وړ نه وه، نو په دې اساس په هیڅ ماموریت کې ما مالي مسایل په غاړه نه اخېستل.

تل به مې د سفارت نورو کارکوونکو ته دا مسؤولیت سپاره، خپل معاش به مې نقد غوښت، ځکه ما شخصي بانکي حساب نه درلود، چې تر اوسه یې هم نه لرم. همکاران مې الحمدالله ژوندي دي او د دې حقیقت شاهدان دي. له همدې کبله زما حساب پاک وو او د محاسبې پروا مې نه لرله.

یو د پخوانیو همکارانو څخه چې تر اوسه یې مجبوراً تر مناسب وخته خپل کار ته دوام ورکړی و د تېر وخت او همکارۍ د لحاظ او درناوي په خاطر یې غیر مستقیم خبر راکړ چې ستاسو د راتګ سره جوخت حفیظ الله امین امر وکړ چې ستاسو د سیاسي عمومي مدیریت د دندې د وخت ټولې پاڼې، سندونه، ټیلیګرافي شفرونه، راپورونه او د سفارت د وخت مواد شخصاً ده ته د مطالعې په موخه وسپارل شي.

حفیظ الله امین ځیرک انسان و، خو احساسات یې ماشومانه وه. د بلوغ څخه مخکې نبوغ ډېر بېلارې کوونکی او خطرناک دی. د استبداد او ځان غوښتنې ورانوونکی سېلاب له دغه حالت څخه سرچینه اخلي. چنګېز دومره په دې بدې ناروغی نه وو روږدی لکه هټلر چې و. په دغه یادونه کې امین ته په هیڅ ډول حقیقي نبوغ نه یم قایل، اما ځینې تقلیدي نابغه ګان شته چې د نورو خلکو له ناپوهۍ او خامۍ څخه په ځینو ځایونو کې په خپله ګټه کار اخلي. دغو خلکو ته د کابل په عامیانه ژبه "سیانه" وایي. د دې ډلې موخه ساده او ناپوهو خلکو ته دوکه ورکول او د هغوی بې لارې کول دي. موسولیني د ناپوهۍ او نادانۍ خندقونه او ژورې ډکولې او وچولې، د پوهې او فکر د ازادۍ سرچینې یې وچولې او ړندولې، مشهورتیا یې موسوي، عیسوي او محمدي نه وه.

زما په اند د مسایلو د شننې ښه لارښود د توپیرونو درک کول دي. په شباهتونو تکیه کول د بې لارۍ باعث کېږي. ابراهیم علیه السلام بت د دې لپاره ماتاوه چې د بت جوړونې دود له منځه یوسي نه دا چې له خپل ځانه بت جوړ کړي. په لوېدیځ کې د مېکل انژ، بیتهوون، ویکتور هوګو، شکسپېر، تولستوی، ګویته او همدارنګه په ختیځ کې د بوعلي سینا بلخي، مولانا بلخي، فردوسي، طوسي نبوغ د

مقلدینو سره توپیر لري. دغه نیوکه د دې لپاره ده چې ډېر ځله مې اورېدلي دي چې ځیني خلک تره کي او امین ته د نبوغ نسبت ورکوي.

هغه د بهرنیو چارو وزارت مامور چې مخکې یې یادونه وشوه، راته وویل هغه راپور چې امین غوښتل زما په هکله یې جوړ کړي تر ډېرو پلټنو وروسته یې هیڅ داسې څه د تور لګولو لپاره ونه موندل، نو ځکه یې د حساب د څارنې لپار د څېړونو امر وکړ. کله چې په دې برخه کې هم هیڅ ونه موندل شول، نو په پایله کې هغه څه چې ترون، "وروستی تصمیم" یادوه هغه هم وځنډېده او د کور څارنې او توقیف د ببرک له خوا د عمومي بښنې تراعلانه پورې دوام وکړ. زه له وزیراکبرخان مېنې څخه جمال مېنې ته وکوچېدم. د کور څارنې لاهم دوام درلود. کله کله به د ګرځښت لپاره د سید جماالدین افغان زیارت ته تلم او بیا به هم څارل کېدلم. هغه دوستان چې کور ته راتلل هغوی به هم څارل کېدل. دیدن یې د خوښۍ او تسلۍ سبب و، شتون یې لوی نعمت او غنیمت و. مخکې تر دې چې له وزیر اکبرخان مېنې څخه جمال مېنې ته ولاړم شم، په معدې کې مې درد احساساوه او تر تشخیص وروسته څرګنده شوه چې د معدې زخم"Ulcer(اولسر)" لرم. په جمال مېنه کې درد نور هم ډېر او سخت شو او وینه بهېدل هم ورسره پیدا شو. ځینو دوستانو مشوره راکړه چې هره درملنه چې کېږي باید په کور کې وشي ځکه په روغتونونو باور نشته. د درملنې ترتیب مو داسې جوړ کړ چې ورځ ډاکټران کور ته راشي او د وینې د ضایع کېدو په وخت کې وینه هم همدلته تزریق شي. د دې ټولو کوښښونو سره بیا هم له پښو ولوېدم او تر دې چې جراحۍ ته اړتیا پیدا شوه. د دې ژمنې په ورکولو سره چې که هندوستان ته د جراحۍ لپاره ولاړشم، بېرته به هېواد ته راستنېږم د لنډ مهال لپاره مې د مسافرت اجازه او پاسپورټ واخېستل. په عملیات کې یې د معدې یو څه برخه پرې کړه او د ژمنې پرځای کولو په خاطر بېرته له ډهلي څخه کابل ته راستون شوم. زما ورور عتیق الله پژواک زه هند ته یوړم او بېرته یې راوړم. له هیڅ افغان څخه تر دې سړي ډېر مننددوی نه یم، پرته

د خير د دعا کولو نه د نومورې حق نه شم ادا کولای. لوی خدای (ج) دې يې نه ما او نه بل چاته اړ کوي.

سره له دې چې عمليات بريالی وو، خو د کمزورۍ دوره يې اوږده وه، زه له جراحۍ مخکې هم ډېر کمزوری شوی وم. کابل ته زما بيائلي راتګ يو غير مترقبه توپير رامنځ ته کړ. دا څرګنده وه چې رژيم زما په بېرته را ستنېدو باور نه درلود، خو دا چې پاسپورټ يې را کړ دا خپلې ملاحظې لري. لومړی داچې پرته زما له ورونو هيڅا دا تمه نه درلوده چې له دې ناروغۍ وروسته به زه ژوندی پاته شم. دويم: رژيم د ژوندي پاته کېدو په صورت کې په هېواد کې زما ترپاته کېدو بهر ته تګ ته لومړيتوب ورکاوه او بله دا چې غوښتل يې هېواد ته په راتګ ما استعمال کړي . لکه مرحوم عبدالهادي داوي او پخوانی صدراعظم مرحوم ډاکتر ظاهر يې چې د "پدر وطن" مجلس ته جبراً وبلل او په خپله ګټه يې د دوی د تمې خلاف په چم د مجلس په سر کې خلکو ته وښودل. تر څه مودې وروسته دا نښې نښانې له ورايه څرګندې شوې، زما روغتيايي حالت هم ښه شوی و او دباندې د ګرځېدو لپاره وتلم. د کور څارنه کابو نامريي شوه، خو دوام يې درلود. د ګرځېدو په وخت کې چا نه څارلم. هغه پخواني دوستان چې زما په اړوند انديښنه کې وو اوس کورته د پوښتنې او ليدو لپاره ژر، ژر راتلل. د خپلو ورونو له ځينو دوستانو سره هم بلد شوم او د خپل ښه بخت څخه خوشحاله وم.

يوه ورځ مې د ببرک کارمل له خوا پيغام ترلاسه کړ، چې دوه مطلبه يې درلودل؛ يو وروسته تر روغتيا زما د صحت پوښتنه او دويم دا چې د هېواد د حالاتو په اړه په ليکلې توګه خپل نظريات ورسره شريک کړم. لومړی مطلب وروسته له وخته او ډېر خندوونکی ښکارېده چې زه يې حيران کړم، خو تفکر د خندا موقع رانه کړه. تفکر ته ولاړم. انديشه او تفکر له پوښتنې څخه پيلېږي، او د ځواب لټه بله لار نه لري. دا څرګنده ده چې هر متفکر انسان لومړی پوښتنه کوي او دا پوښتنه لومړی له ځانه څخه کوي. ان که چېرې يو زده کوونکی له ځانه پوښتنه نه کوي

او په هرڅه کې استاد ته رجوع کوي، تکيه يې پراستاد وي نو دا يې د ذکاوت او پخوالي په برخه کې د وړتيا او پرمختګ خنډ ګرځي.

ماته هم دا پوښتنه پيدا شوه چې ايا په ليکلو پيل وکړم؟ ما دا وخت د شبنامو په ليکلو شروع کړې وه. دا ليکونه هرومرو رژيم ته رسېدل ځکه چې مخبرين يې خورا ډېر وو. که چېرې خپل نظريات وليکم ايا د ليکنې د طرز او جوړښت له مخې د شبنامو ليکوال نه پېژندل کېږي؟ نو دا څنګه وليکم او که چېرې منفي ځواب ورکوم، نو غبرګون به يې څه وي؟ ايا ګناه به نه وي چې د خپلو نظرياتو د رسېدو چانس ونه کاروم؟ او که احياناً د حقيقتونو بيانولو په برخه کې خپله دنده ترسره نه کړم د وجدان عذاب به څنګه وزغمم؟ زه په دې عقيده يم چې د عادل وجدان په ان هر ډول ظالم او جابر حاکم چې وي بيا هم سړی نه شي په عذابولای. زه بايد په دې اعتراف وکړم چې د شپې پاڼو د ليکلو په برخه کې مې ډېر احتياط کاوه، مثلاً د ليکنې طرز مې ټول په خپله طريقه نه ليکه او په قصده مې په املا او انشا کې تېروتنې کولې. خط مې هم په ښي لاس نه ليکه.

بالاخره پرېکړه مې وکړه چې څه وليکم، د خپلو نظرياتو په ليکلو مې پيل وکړ. خپل ځان په دې مسؤول ګڼم، کوم خط چې مې ببرک ته ولېږه له خپلو خلکو سره مې شريک نه شو کړای. هيله من يم چې د شرايطو په نظر کې نيولو سره کومې نيمګړتياوې چې لري د هغو په پټولو سره په خپل لويوالي ما وبښي.

پر اوضاع باندې د خپل فکر د ليکلو نه مخکې چې مې د تفکر لپاره کوم ځنډ وکړ، روانه اوضاع مې پر مغزو خپره شوه او ناپامه مې کابل ته د لومړۍ ورځې راتګ او د تړون سره ټيليفوني خبرې ذهن ته راغلې. کله چې مې تړون ته وويل چې د خپل روغتيايي وضعيت د مراقبت لپاره زه ډاکټر انتخابوم چې په اونۍ کې يوه ورځ اجازه ورکړي چې زما روغتيايي حالت وارزوي، نو د خپل پخواني دوست مرحوم ډاکټر

عبدالواحد رشیدي نوم مې ورته واخیست. هغه راته وویل چې نوموړی خو د غوړونو، پوزې او ستوني ډاکټر دی، ما ورته وویل چې زه خپل د وینې فشار پرې ګورم، ځکه زه د فشار کتلو ته په مرتب ډول اړتیا لرم، نه پوهېږم چې څنګه مې دا هم ورزیاته کړه چې د غوړونو، ستوني او پوزې له اړخه هم ستونزې لرم او روغتیایي څاراو درملنې ته اړ یم، غوړونه مې د خطر او بربادۍ اذانونه اوري، پزه مې د وینو بوی حسوي او په ستوني کې مې خبرې غوټه کېږي. اعتراف کوم چې نه یم پښېمانه چې دا خبرې مې ورته وکړې، اما دا چې بې اختیاره مې پر ژبه راغلې له ځانه سره مې وویل که دا خبرې دې نه وای کړې ښه به وو ځکه کومه ګټه نه لري او تاوان یې حتمي دی. عواطف او احساسات د هر عادي انسان د شخصیت یوه برخه ده، هغه خلک چې دعوه کوي سر تر پایه د تعقل ډېره ده او د وجود په غره کې یې هیڅ د احساساتو مرمرین رګ شتون نه لري، دروغ او لافې وایي. موخه د انسان د پاکو احساساتو او بني ادم د سپېڅلو عواطفو څخه ده، چې خدای تعالی (ج) په ټولو مخلوقاتو کې د کرامت تاج ور په سر کړی دی.

د ببرک کارمل د پېغام د ځواب په لیکلو مې پیل وکړ او دا دی د ځواب هغه متن کټ مټ له خپلو هېوادوالو سره د دوی د قضاوت په موخه شریکوم.

# د ببرک کارمل  پیغام ته زما د ځواب متن

د انقلابي شورا رییس او لومړي وزیر، ببرک کارمل حضور ته: ستاسو له دې مهربانۍ ځخه مننه کوم چې زه مو د دې  وړ وبللم چې د هېواد د روان وضعیت په هکله خپل نظر درسره شریک کړم.  دا چې په تېرو څلورو لسیزو کې لومړی ځل دی چې د حکومت له ادرسه په رسمې توګه یو شخصیت ماته دا چانس راکوي، زما څېړنه ستاسو له پیغامه ځخه د تعجب سره مله وه.  دا د هر وګړي دنده ده چې دغسې پاملرنې او مهربانۍ ته مثبت ځواب ورکړي او مطلقه خاموشي ان د ګونګیانو لپاره هم حرامه ده.

لومړی ځل یو حالت دا وو چې د پخواني لومړي وزیر ښاغلي ډاکټر محمد یوسف د صدارت په دورې کې د نوموړي له خوا د نوي اساسي قانون پر مسودې له نیویارک ځخه د نظر ورکولو په موخه را وغوښتل شوم. خپل نظریات مې په لیکلې بڼه ورته وسپارل، وروسته پوه شوم چې دومره نیمګړي وو چې ان د اساسي قانون د طرحې کمېسون ته د استولو جوګه نه وو. دا یادونه مې تر دې پورې وکړه چې دغسې چانس ورکول لکه ما غوندې کس ته خپل تېر وخت ته په کتو یوه عادي چاره نه ده او زما تر تمې لوړه ده.

افغانستان نن له ډول ډول او بې شمېره ستونزو او ناخوالو سره لاس او ګرېوان دی، چې ټولې مهمې، د اندېښنې وړ او  یو متفکرانه بېړنۍ او جدي پاملرنې اړتیا ورته لیدل کیږي.  په دې چاره کې د هغو خلکو مسؤولیت چې د واک واګې په لاس کې لري او د هېواد برخلیک ورله غاړې دی د خپلې ټولې لورینې سره لکه لمر داسې روښانه دی.  ولې په عین وخت کې د هر وګړي چې د دې  خاورې بچی وي که په داخل کې وي او یا په بهر کې، په هر مقام او منصب کې چې وي دا مسؤولیت په مساوي توګه ورتر غاړې دی او هیڅ ډول خلاصون او بهانه یې د توجیه وړنه ده.

زه لومړی د خپل لیدلوري په اساس کومه غمیزه او کړکېچ چې اوس ورسره مخامخ یو داسې څرګندوم او وړاندې کوم.  زما په اند دا ناپېښه او ناپامه ځانګړی کوم

نوی کړکېچ چې رامنځ ته شوی دی زه یې د بحث لپاره د "باور او د ایډیالوژیو د نه یووالي کړکېچ" ګڼم او د دې بحران سبب او عامل د شوروي اتحاد او د واک پر ګدۍ ناست رژیم ځانونو ته دا اجازه ورکول وو چې د روسیې مسلح ځواکونه افغانستان ته داخل شول.

شوروي مخکې تر دې بربنډ یرغله، ښه ګاونډی بلل کېده، چې د خپل ټول قوت سره سره یې بیاهم د دوو هېوادونو ترمنځ د ګاونډیتوب دوه اړخیزه درناوی تل ساتلی و او د نړیوالې همکارۍ او دوستۍ له چلن څخه یې ان په هغه وخت کې د دواړو هېوادونو د ټولنیزو ایډیالوژیکو نظامونو ترمنځ د اختلاف شتون سره بیا هم د افغانستان باور او ډاډ خپل کړی و. په نظر او عمل کې یې د افغانستان سره د اقتصادي مرستې او همکارۍ له امله د خلکو او حکومتونو مننه او قدرداني خپله کړې وه.

دغه د دوستۍ طرحه د لېنین وه چې د شوروي له خوا پلې کېدله او په ګټه یې هم وه، دا چې د افغانستان د ملي ګټو سره یې کوم ټکر نه درلود. نو د افغانستان خلکو هغه یو سیاسي نعمت ګاڼه او په پوره باور یې د غرب د اقتصادي مرستو د کموالي په بیه نور هم له شوروي سره اړیکو ته زیاتوالی او لومړیتوب ورکاوه. افغانستان ته د شوروي د مسلحو ځواکونو راتګ، د دوستۍ او باور بنیاد د افغانستان د خلکو په زړونو او دماغونو کې ولړزاوه او هغه څه چې له منځه نه وو تللي نو د جوړېدو پر ځای یې لا زیانمن کړل.

د دې سیاسي زلزلې د رامنځته کېدو معقوله پوهنه ډېره ستونزمنه او حیرانوونکې ده. مشروعیت یې د بین المللي اصولو او قوانینو له نظره هیڅ ډول توجیه نه لري، د یوې رښتینې او حقیقت خوښوونکې شننې په پیل کې نه ځایېږي، ځکه د یادو قوانینو او مقرراتو د درناوي نه شتون په اصل کې یوه نوې چاره نه ده. مونږ

په داسې نړۍ کې ژوند کوو چې ټولې نړيوالې اړيکې او راکړه ورکړه، د يوه اساسي قانون په رڼا کې ترسره کېږي چې هغه د ”حق ځواک“ دی.

څه چې د رښتينې حقيقت خوښونې په پيل کې منځ ته راځي د دې ټکي په اړه فکر کول دي چې ايا دغه چاره او عمل د يوه هېواد ګټې ساتي؟ او د هغه هېواد لپاره معقول او ګټور دي او که نه؟ نو پر دې بنسټ د يوې چارې مشروعيت لومړيتوب نه لري، بلکې لومړی يې معقوليت په پام کې ساتل په کار دي.

نو ځکه زه وايم چې:

۱- افغانستان ته د شوروي عسکرو لېږل لويه سياسي تېروتنه ده. تر هغه ځايه چې د شوروي په ګټو پورې اړه لري، که چېرې د شوروي موخه د دښمنانو پر وړاندې د ځان ساتل وي او خپل دښمنان هم لوېديځ او د هغه ملګري ګڼي، نو افغانستان ته لاس اچول او هغه هم داسې افغانستان چې په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره يو دوست سوسيالست رژيم تجربه کوي، نو د غير سوسيالستو رژيمونو تر ولکې لاندې به هيڅکله حاضر نه شي چې د شوروي پر وړاندې د لوېديځ اړه جوړه شي، دا د قبول وړ منطق نه رامنځ ته کوي.

دا سياست په حيرانوونکې توګه هغه وخت رامنځته شو چې پاکستان په ډېرو زياتو ازموينو کې خپلې ګټې له لوېديځ څخه په ببلولو کې وليدلې او ځان يې په بې پرې توګه د غيرمنسلکو هېوادونو په ډله کې شامل کړ. همدارنګه ايران هم، د پاکستان له لوري د چين سره د ډېرو اړيکو د پاللو توجيه او د شوروي سره مخالفت غير ممکن دی او دا تصور چې چين به پر شوروي د افغانستان له لوري يرغل وکړي ډېر بې ځايه ګمان دی.

پر هندوستان د شوروي د باور تشه او له چين سره د مخالفت شتون به د شوروي لپاره تر هغه وخته وي چې پاکستان موجود وي او د افغانستان په اړه يې تصور نه شو کولای.

له ډېرو کلونو څخه امرېکا او ملګرو یې د خپلو تمو په برخه کې د افغانستان له لورې غوڅ ځواب ترلاسه کړی چې د شوروي په وړاندې به یې استعمال نه شي کړای او دا یې د ډېرو لارو څخه درک کړې ده، که چېرې لکه شوروي د زور له لارې مداخله وکړي عین تېروتنه به تکرارکړي. که د شوروي له خوا د افغانستان له لورې د امرېکا څخه وېره مطرح کېږي دا هم بې ځایه ده. امرېکا د خپلو ګټو څخه په افغانستان کې عملي نظامې دفاع نه کوي. د امرېکا دفاعي کرښه د افغنستان په سرحدونو کې داخل نه ده، د امرېکا دفاعي خطونه د شوروي پر وړاندې معلوم دي او وو. امرېکا د افغانستان څخه ساتنه نه کوي ځکه خپلې ګټې د افغانستان څخه بهرویني. د کارتر له بیانیې نیولې تر ټولو خبرونو د لوېدیځ د هیڅ یو مسؤول شخصیت په خبرو کې دا مورد نشته چې دوی دې له افغانستان څخه د دفاع په اړه څه ووایي او عملاً داسې د حساب وړ څه وي چې د افغانستان څخه د روس د وتلو عامل شي. ټول څه د ایران او پاکستان په ګټه ښکاري او بیه یې د افغانستان په زیان کې وینم.

که چېرې د شوروي منظور دا وي چې له ختیځې اروپا څخه پاملرنه را واړوي او عمومي افکار له دې اړخه د دنیا بل پلو ته شوق کړي، نو دې ډول سیاست مثبت اثرات نه دي درلودلي او منفي اغېز یې له ورایه څرګند دی. د اروپا د دیتانت (détente) له خطرونو څخه ګوښه کېدل له بلې لارې هم کېدلای شي.

ددې اقدام ترسره کېدل په دنیا کې د بې پرې او وړو هېوادونو په برخه کې څرګند دی او هغه څه چې مې د باور کړکېچ بللی دی، یاد کړکېچ د افغانستان په خلکو کې لانور هم پراخه شوی دی او په ټوله بې پرې نړۍ کې یې د اعتماد کړکېچ رامنځه ته کړی دی. هغو وړو او بې پرې هېوادونو چې شوروي اتحاد د یو ستر قدرت په توګه خپل دوست او ملاتړی ګاڼه او تکیه یې پرې کوله، هم پر دې اقدام یې اعتراض کړی دی او په مخالفت کې یې رایه ورکړې ده، نورو هېوادنو هم د ځینو سیاسي ملاحظو په اساس دا چاره نه ده تایید کړې. ایا شوروي د دغسې انعکاس

تمه درلوده؟ که يې نه درلوده دا د تېروتنې يو روښانه دليل دی او که چېرې يې تمه وه نو معلومه خبره ده چې د بې پرې هېوادونو غوښتنو ته يې هيڅ پام نه دی کړی. په دواړو صورتونو کې چې اوس دا چارې او تمې ځينې شوي دي، ايا هغو ته درناوی کوي او که اهميت نه ورکوي؟

ايا د باور د بېرته ترلاسه کولو لپاره بې له دې چې دې رايو ته مثبت ځواب ورکړي بله ابرومندانه لار شته؟

هغه څه چې د افغانستان اړوند دي د باور په دې کړکېچ کې هغه هېوادونه چې نېغ په نېغه د دې اقدام په وړاندې نه دي ولاړ، د هغوی سره يې حالت لوی توپير لري. دا چې د افغانستان د خلکو بيا باور ترلاسه کول به ځومره وخت وغواړي دا د امکاناتو په صورت کې د اټکل وړ ده.

که چېرې د افغانستان نيول او لاندې کول منظور نه وي بيا هم د شوروي دا چاره، د شوروي په هغه لار کې حرکت دی چې د افغانستان له سرحد نه ترپايه، د شمال څخه تر سهيله او د ختيځ له سرحد څخه تر لوېديځه د باور د نه شتون تشه لاهم موجوده ده. دا لار ډېره سخته او له پېچومو ډکه ده، موخه د افغانستان لوړ غرونه نه دي چې نور وياړ پرې کول د ځان تېرايستنه ده، بلکې د افغانستان د خلکو د عقيدې او معنوي شعايرو غرونه زمونږ هدف دی. غرونه چې هر ځومره لوړ وي بيا هم سړی کولای شي چې پرې تېر شي او تر پښو يې لاندې کړي خو عقيدې او شعاير ځنګ ته کېدلی او تر پښو لاندې کېدلی نه شي.

۲- تر هغه ځايه چې د افغانستان په واکمن رژيم پورې اړه لري، د شوروي د دې اقدام سره د موافقې او خوښې لاملونه هر څه چې وي، د دې تېروتنې د سمون او اصلاح نه کول به خپله بله لويه تېروتنه وي چې د واکمن رژيم او شوروي له خوا په ګډه ترسره کېږي. زما موخه يوازې د دې تېروتنې د اصلاح په اړه فکر نه دی، بلکې د اصلاح او سمونې څخه مې مراد پر ټاکلي او مناسب وخت عملي سمون راوستل دي.

په افغانستان کې د شوروي عسکرو د اړتیا د دوام توجیه که په افغانستان کې د بهرنیو عسکرو د وېرې په خاطر وي د هغې توضیح مې د دې  لیکنې په لومړۍ فقرې کې ورکړه، چې افغانستان ته د شوروي د نظامي ځواکونو د ننوتلو په هکله وه، په دې برخه کې هم صدق کوي.

که چېرې دا مجبوریت د ځینو افغاني ډلو د مخالفت لپاره وي، نو نیغ په نېغه د افغانستان په واکمن رژیم پورې چې د واک واګې یې په لاس کې دي اړه لري. البته په دې ډلو کې داسې اشخاص هم شتون لري چې کوښښ کوي خپلې مغرضې شخصي موخې وپالي او د دې  ډلو او بهرنیو مغرضو سرچینو څخه ګټه واخلي، خو دا ډول خلک ځرګند دي او ځرنګوالی یې معلوم دی او د افغانستان خلک هغوی پېژني. اما اکثره خلک د خپلو عقیدو، شعایرو، دود او دستور د ساتنې لپاره مبارزه اوهاند کوي. د دغو خلکو ببلول د عادلانه فکر لومړی شرط دی. دې خلکو په حقیقت کې وسله وال پاڅون نه دی کړی، بلکې دوی پاڅون ته اړ کړای شوي دي.

هغو خلکو چې د ثور انقلاب ترسره کړ په حقیقت کې دوی د یوه بري دعوه کولای شي او هغه دا دی چې دوی د واک واګې ترلاسه کړي، تر هغې وروسته دا نورې کړنې لکه د سوسیالیزم د ماهیت د وریېژندلو طرز، د نوي رژیم د کړونو د تبلیغ طرز، د خبرو شهوت، د شعار ورکولو ذوق، د پېښو او تقلید ډول، د چغو له لارې د ستونو ځیرل، د ځېرې د نمایش له لارې د نبوغ دعوې، د چاپلوسیو جلبول، د شخصیت پالنې د دود وده، ټولو حقیقت خوښوونکو او رښتینو فکرونو ته د ارتجاع او وروسته پاتې نومونه ورکول د خپلو ښو هیلو د پلي کېدو د طرز په موخه .... داسې نورې او دې ته ورته کړنې ټولې د ناکامیو په ورځنۍ کتابچه بدلې شوې.

که چېرې د سوسیالیزم پر ځای اسلام هم په دغه شکل او طریقه راغلی وای او قران کریم په دې ډول ویل کېدلای، نو د مسلمانۍ وده او رونق یې له منځه وړ.

ډار او وېره، بند، پرته له محاکمې په دار کول، د خوندیتوب نه شتون او نورې ډېرې لړې او ناخوالې... ویلو او یادولو ته اړتیا نه لري. د اصلاح او سمون فرمانونه

چې معقول ماهیت یې درلود، که چېرې په کې د پوهو او خبیرو خلکو نظر او مشوره غوښتل شوې وای، نو لا نور به هم معقولتره او غوره وای. د خلکو د رضایت خپلولو او پوهولو له لارې خلکو ته د ګټې رسونې پر ځای د فرمانونو خپرول په سره رنګ او نستعلیق خط ولیکل شول او د خلکو د پوهېدو او درک په موخه دې طرز ته لومړیتوب ورکول شو، که د دې فرمانونو د ماهیت په اړوند د پوهېدلو په برخه کې پاملرنه و هم شوه، بیا هم د راډیو له لارې یا د مقالې په توګه یا د راډیو ډرامې په شکل او یا لکه کلاسیکې قصیدې چې پخوا به ویل کېدلې او تشبیب یې په ښکنځلو، د فرمان له اصلي ماهیت څخه فرعي موضوع ته تللو، د اشخاصو په ستاینه او دعا کولو یې پای ته رسول وو، اوس یې توپیر دادی چې هلته به تر هر څه لومړی شاعرانو د ستاینې والا شخص ستاینه کوله او دلته د فرمان اصل یوه ضمني موضوع وي.

مظاهرو جعلي بڼه خپله کړه. خپرول یې په دروغو او لاپو د راډیو له لارې داسې کېدل، چې وروسته له څه وخت ځنډ نه به وویل شول چې په پلاني ځای، ښار، ښارګوټي او کلي کې د خلکو له خوا لاریون شوی، اورېدونکو به په هغو ځایونو کې دا کار د خلکو د بلوا په توګه تعبیراوه.

داسې قانونونه رامنځ ته شول چې پر مخکني حالت یې اغېز کاوه.

د خلکو د مال او پانګې سلبول د هغوی په سپکاوي سره ترسره شول.

دا ټول ټکي د ببلګې راوړلو په موخه یاد شول، کنه د ټولو مفصل بیان اووه اویا دفتره غواړي، موخه داده چې خلکو د ربښتیني سوسیالیزم څخه تېښته نه ده کړې او د هغه پر وړاندې یې پاڅون نه دی کړی، اما د هغه څه څخه لرې شوي چې دوی یې په اړه اورېدلي او لیدلي دي.

تر ټولو مهمه دا چې د مذهب او وجدان د ازادۍ معرفي یې دین ته د سپکاوي په بڼه وه، د خرافاتو د پرېښودلو معرفي د دود او دستور په پرېښودلو سره، د ځمکو د عادلانه ویش معرفي د پخوانیو ځمکه والو په سپکاوي او بې عزتۍ سره چې د

راتلونکي بزګر و، دا د بزګرانو له لوري د سوشیالیزم څخه د ناپوهو او ناخبرو اداره چیانو کړنې وې چې نه د ادارې په طرز پوهېدل او نه د خلکو په ټولنیز ژوند. دا کار د دوی د دستور په اساس په قصدي توګه ترسره کېده، کله چې خلکو بې له تېښتې بله لار ونه موندله، نو د مرمیو په باران وځارل شول او کورونه یې وسوځول شول.

اوس د "د باور او ایډیالوژیو د یووالي نه شتون د کړکېچ" په دې ناورین کې څه باید وشي؟

١- د "سوسیالیزم" ایډیالوژي حکومت په لاس کې لري او د "اسلام" ایډیالوژي د اکثریت خلکو استازیتوب کوي.

٢- د سوسیالیزم ایډیالوژي تر پنځلسو کالو زیات عمر نه لري، خو د اسلام ایډیالوژي تر اته سوو کالو زیات عمر لري.

٣- د سوسیالیزم ایډیالوژي زده کړې ته اړتیا لري او زده کوونکي یې د زده کړې په دویم زده کړیز کال کې دي. ښوونکي یې تازه له پوهنتون څخه فارغ شوي دي او یوازې یو کال او څو میاشتې کېږي چې د عمل په ډګر کې یې تجربه کوي. اسلامي ایډیالوژي علم په دویمه درجه کې ګڼي او اسلام د عقیدې او ایمان پر بنسټ ولاړ دی.

ددې مخالفت پایله په هر ځای کې لکه د افغانستان کورنۍ جګړه ده. کورنۍ جګړه طبعاً چې د بهرنیو مداخلې او نورو مغرضو او فرصت غوښتونکو کړیو ته د لاس وهنې زمینه برابروي. د دې جګړې پای ته رسول په تدبیر پورې اړه لري نه تورې ته. که چېرې د تورې خبره وي، نو داخلي توره په دې وژنو کې له بهرنۍ تورې سره توپیر لري او که د تدبیر خبره منځته راځي، نو بیاهم کورنی تدبیر له بهرني تدبیر سره توپیر لري. که چېرې دا چاره په توره پای ته رسېږي، نو داخلي توره یې پای ته رسولای شي او که په تدبیر وي، نو یوازې او یوازې په داخلي تدبیر پای ته رسېږي.

د تورې پایله د باور تشه نه شي ډکولای، که بهرنۍ وي هغه تلپاتې کوي. که چېرته بهرنی تدبیر سم وای، نو شوروي اتحاد د خپلې ټولې سیاسي پوهې سره هغه تدبیر تاییدوي چې په هغې کې ورسره د شوروي ځواکونه نه وای ګډ. زه په ډاډ وایم چې ځمکې ته کتل سپوږمۍ ته تر رسېدو کم نه دي. څو پېړۍ وړاندې بخارا له اوسني افغانستان سره توپیر لري. زه د افغانستان په اړه د شوروي پوهانو او مشرانو د پوهې او شناخت صلاحیت ته هغسې قایل نه یم، لکه تاسو او افغان پوهانو ته چې قایل یم. د افغان پوهانو او متفکرینو تفکر او تدبر او د ختیځې او لوېدیځې نړۍ پر پوهه یې تکیه په دې برخه کې په بشپړه توګه سمه نه ده او د هغو افغان وګړو شعور ته چې د پوهانو په نوملړ کې نه دي هم باید مساوي پاملرنه وشي.

دا چې تاسو زما څخه نظریه غوښتې ده، زه تدبیر د نظرېې په توګه یوازې تاسو ته سپارم. دا چې ویلي مو دي چې په ازاده توګه یې وړاندې کړئ، نو زه یې هم په خپلواکه توګه وړاندې کوم. دا چې ویلي مو دي چې د رښتیا ویل ماته زیان نه رسوي، نو ما هم په تاسو باور وکړ او دا څو پاڼې چې د څو فقرو په وړاندې کولو سره پای ته رسوم، د یو امانت په ډول د یوه افغان وګړي په حیث د بل افغان وګړي په توګه تاسوته وړاندې کوم. دا فقرې په لاندې ډول دي:

١- روسان باید په خپلې تېروتنې وپوهول شي.

٢- د داخلي تورې په پوښ کې کول باید په یو اړخیز ډول د حکومت له لورې اعلان شي.

٣- بهرنۍ توره باید په بیړه په پوښ کې شي او د دوی وتل باید په معقول وخت په مناسبه توګه د مهمې اړتیا څخه وبلل شي. له معقول وخت څخه دلته مراد دا دی چې د دې پالیسۍ د اعلان څخه پیل او تر هغه وخته بشپړ شي، چې دوی د خپل بار تړلو لپاره اړتیا لري.

٤- پرته له ګواښ څخه د تېر رژیم په تېروتنو اعتراف کول او مخالفو ډلو ته که په دننه کې دي او یا بهر دي، دا ډاډ ورکول چې موجوده رژیم د اختلافونو د له

منځه وړلو لپاره د هر ډول خبرو او سولې له لارې د جوړجاړي غوښتونکی او هوډمن دی او د افغانستان خلکو ته په مېړانه د دوی د ډاډ په خاطر دا ضمانت ورکړي چې د افغانستان د خیر په موخه د افغانستان خلکو ته دا زمینه مساعدوي چې خپل برخلیک په خپله وټاکي.

٥- د هغو ډلو شرطونه چې یا خپله او یا یې مشرتابه په بهر کې وي، باید وغوښتل شي او ولوستل شي.

٦- له شوروي سره خواخوږې دوستي باید په سرلوړۍ تایید شي.

٧- ایران او پاکستان ته باید د دوستۍ لاس ورکړل شي، او د افغانستان په کورنیو چارو کې د عملي او نظامي نه لاس وهنې په صورت کې باید د ښه نیت له مخې پوره ډاډ ورکړل شي، چې ستاسو په مخالفت کې به هیڅ ډول کړنه نه تر سره کېږي. دا چاره باید د خاموشې ډیپلوماسۍ له لارې ترسره شي.

٨- له افغان مخالفینو سره معامله، کړنې او د دوی له نیت څخه د خبرونې په موخه باید د ملګرو ملتونو سکرتر جنرال، د اسلامي هېوادونو سکرتر جنرال او د بې طرفه ډلې مشرتابه ته خبر ورکړل شي. له نوموړو څخه دا هیله وشي چې دا مسله له خپلو غړو هېوادونو سره شریکه کړي او دا ژمنه هم ورکړل شي چې د غړو هېوادونو د نظریاتو د انعکاس په صورت کې د افغانستان حکومت حاضر دی چې د دوی نظریات او مشورې د ډیپلوماسۍ له لارې تر غور او مطالعې لاندې ونیسي.

٩- په ښار کې اوازه ده چې ښايي لویه جرګه جوړه شي. دا سپېڅلې موسسه تېرو تجربوته په کتو د باور له کړکېچ سره لاس او ګرېوان ده او زما په اند باید د اوسنیو شرایطو څخه بېل او نورو شرایطو ته وځنډول شي. ښه به دا وي چې مخالفو ډلو ته دا وراندیز وشي چې هغه ټکي چې په خبرو کې پر هغو فکري اتفاق رامنځ ته نه شي او دا اختلاف د اهمیت وړ وي، نو په دې صورت کې د افغانستان حکومت حاضر دی چې دا موضوع د لویې جرګې له لارې د افغانستان د ټول ولس استازو

ته وسپارل شي او لویه جرګه به د ټولو لورو او مخالفو ډلو له استازو څخه جوړه وي. لویه جرګه باید د تېرو رژیمونو د لویو جرګو په څېر نه وي.

په پای کې غواړم دا ور زیاته کړم چې له افغانستان سره د شوروي مرسته او همکاري هم د ثور له انقلاب څخه مخکې او هم وروسته تر انقلاب د منني او قدر وړ دي. هیڅ وطندوست افغان باید د هغوی قدرداني هېره نه کړي. که چېرې یې د ثور له انقلاب نه وروسته هم دې مرستو ته په ښه تدبیر پراختیا ور کړې وای، نو د شوروي اتحاد د همکاریو زیاتوالي به د مختلفو لګښتونو او د افغانستان د ابادۍ او پرمختګ په برخه کې مهم اغېز لرلی وای. د حالاتو په ښه کولو کې به یې د مرستو په دوام کې مثبته اغېزه کړې وای. افغان ځواکونه چې د ثور انقلاب د رامنځ ته کېدو اصلي لامل و په لنډ وخت کې به داسې کمزوري او پاشلي نه وای، بلکې لا نور به هم قوي، منظم او د باور وړ وای. د سوسیالیزم حقیقي معنا خلکو ته ور پېژندل شوې وای او خلک چې ډېر ټینګ مسلمانان دي، دا ورته جوته شوې وای چې سوسیالیزم نه یوازې دا چې ټول د اسلام له دین سره مخالف نه دی، بلکې اسلام په خپل ذات کې د یوې سپېڅلې عقیدې په اډانه کې هغه اسماني پېغام دی چې پېړۍ پېړۍ مخکې انسان ته را استول شوی دی او منځپانګه یې حقیقي سوسیالیزم دی. په ځینو برخو کې لکه پالیسیو ان ایډیالوژي، انتر ناسیونالیزم، د سوسیالیزم او کمونیزم ایډیالوژیو هم له اسلام څخه الهام اخېستی دی. د سود خوړلو او نجونو خرڅولو د دود له منځه وړلو لپاره هڅه په اصل کې هغه بېلګې دي چې د قراني امر او محمدي شریعت په پلي کېدو کې شتون لري. کوم داخلي تدبیر دا اجازه ورکوي چې د ځمکو د ویش چارې په دغه ډول، لکه په دې لړۍ کې چې وې په دغسې طرز ترسره شي؟ او دا طریقه یې سمه وګڼل شي.

ایا د بیرغ د رنګ او بڼې بدلون لومړۍ او مهمه چاره ده؟

د خلکو د سرشمېرنې د اصل سره د ونو سرشمېرنه چې څو یې مېوه لرونکې دي او څو یې مېوې دي، ایا د دغو دوو حالتونو اړتیا یو ډول ده؟ په داسې حال کې چې د

نفوسو سرشمېرنه د اقتصادي نظام بنسټ دی. د روښانه مسایلو پټول او ناڅرګندول د خلکو د سر او مال یو ډول محاسبه، د ښځو د نالوستۍ سره مجادله چې د هېواد په روڼ اندو ښارونو کې په بل څه تعبیر شوه. دا ټول موارد د غور او تامل وړ دي.

زه دلته خپله خبره نوره په دې څرګندو مسایلو نه اوږدوم. زما یوازینۍ موخه دا ده چې دا جوته کړم چې د حل یوازینۍ لار داده چې افغانستان خپل ارزښتونه په خپل واک کې ولري او خلک خپل برخلیک د خپلو حقیقي هیلو او غوښتنو سره سم په خپله وټاکي. خلکو ته لارښوونه وشي چې خپل ارمانونه د وخت له غوښتونو سره سم غوره کړي، خپله ډوډۍ خپل د کار او مزد له لارې ترلاسه کړي. خپل کالي په کرامت او درناوي واغوندي، کور د ازادۍ په چاپېریال کې ولري او مادي او معنوي پانګه؛ یعنې وړتیا او سرمایه په ازاده توګه د خپلې ټولنې د چوپړ په پار وکاروي.

**د افغانستان د امن او خپلواکۍ په دعا**

**په درنښت عبدالرحمان پژواک "لاسلیک"**

**د دلوې لومړۍ نېټه "۱۳۵۸"ه . ش کال، کابل.**

# په کابل کې وروستۍ ورځې

ببرک کارمل تر حفیظ الله امین د مکر او حیله ګرۍ په لحاظ ځیرکتره و. البته اعتراف کوم چې دا قضاوت زما شخصي او عندي دی او داسې قضاوت هم بشپړې پېژندګلوۍ ته اړتیا لري. که چېرې تېروتی یم هیله ده چې ومې بښئ؛ ځکه د دې دواړو څخه مې هیڅ یو په بشپړه توګه نه پېژندل. تړون خپل هدایت له امین څخه اخېستی و، خو کله چې ببرک واک ته ورسېد، په دې وخت کې زما ورور پوهاند فضل ربي پژواک د زړه په ناروغۍ اخته شو او د علي اباد په روغتون کې یې له مرحوم انګار سره په یوه کوټه کې ځای ورکړ، چې وروسته انګار مرحوم په همهغه کوټه کې ومړ. کله چې مې د ببرک له حکومت څخه هیله وکړه چې اجازه راکړي چې د خپل ورور پوښتنې ته روغتون ته ورشم، نو نوموړي د تړون په څېر سختي نه کوله. تر څار لاندې یې اجازه راکړه چې پوښتنې ته ولاړ شم.

دا د عمومي عفوې تر اعلان مخکې وو او وروسته تر اعلان اجازه راکړل شوه چې له وزیر اکبر خان مېنې څخه جمال مېنې ته د خپل ورور عتیق الله پژواک کور ته لاړ شم او د اوسېدلو لپاره ځای ته بدلون ورکړم.

د ببرک پیغام هم ماته په جمال مېنه کې راورسېد، دا چې په لیکلې بڼه مې ځواب ورکړ ترڅو ورځو پورې چوپتیا وه او هیڅ خبر نه و، ترڅو چې د ببرک د حکومت د لیکوالو د ټولنې رییس د ملاقات وخت راڅخه وغوښت او زما لیدو ته راغی. له خپله اړخه یې غیر مستقیمه داسې اشاره درلوده چې د ببرک د غوښتنې په اساس یې هیله راڅخه وکړه چې زه د لیکوالو د ټولنې غړیتوب ومنم او په داسې لوړو الفاظو یې وستایلم چې زه هیڅکله د هغو صفتونو وړ نه یم. د ډیپلوماسۍ په ټول ادب سره یې پر خپلې غوښتنې ټینګار وکړ.

که څوک باور وکړي چې د ”انقلاب“ په راوستلو سره په ټولو چارو کې بدلون راغلی سمه به وي، خو په چاپلوسۍ او تملق کې هیڅ بدلون نه دی راغلی. له بده مرغه د افغانستان حکومتونه تل د چاپلوسۍ ښوونځي دي، چې زمونږ وړتیا لرونکو خلکو دا چلونه ښه زده کړي دي او د ډول ډول ګټو د ترلاسه کولو او یا یې د ځان ساتلو په غرض کاروي.

په هر صورت ما ورته وویل چې زه نور لیکوال نه یم؛ ځکه چې لیکل مې پرېښي دي. هر څومره یې چې ټینګار وکړ او زما د لیکوالۍ یې ډول ډول صفتونه وکړل، خو ما د لیکوالو د ټولنې له غړیتوب څخه ډډه وکړه. ډېر متاثر شو، ولې بیا یې هم خپل تاثر ښکاره نه کړ او زما نه غړیتوب یې د دې ټولنې لپاره لویه تشه وبلله. خدای په اماني یې وکړه او ولاړ. زه په خپل ذهن کې بوخت شوم او د دې کار په سموالي او ناسموالي مې فکر کاوه. عقل جوګه نه و، خو وجدان مې ډاډمن و. عقل خوښوونکو دوستانو هم دا ډول دریځ خطرناک وباله، اما باوجدانه او با پرنسیپه دوستانو دا پرېکړه د وجدان په امر وستایله.

له څو ورځو وروسته ببرک بل پېغام راولېږه او زما له نظریاتو څخه یې خوښي څرګنده کړه، د ”پدر وطن“ په ټولنه کې یې د ګډون بلنه راکړه او په ضمن کې یې داسې راته برېښوله چې د مرحوم عبدالهادي داوي او مرحوم ډاکتر ظاهر خان په غړیتوب سره زما ځای په دې ټولنه کې خالي دی. په ځواب کې مې ورته وویل چې پر موضوع فکر کوم او د درېو ورځو په موده کې ځواب درکوم.

ماته په سمه توګه معلومات نشته چې دوی په کوم مکر او چم او د کومو ژمنو په ورکولو سره داسې ملي او وطنخوا شخص لکه عبدالهادي داوي او همدارنګه د پاک زړه خاوند، دموکرات او ازادخویه شخصیت ډاکترعبدالظاهر خان پخوانی لومړی وزیر د ”پدر وطن“ د مجمع غړیتوب ته اړ کړي دي، اما دومره پوهېږم چې د دوی له شهرت څخه په ګټې اخېستنې سره یې غوښتل نور خلک را جلب کړي او یا یې لږ تر لږه مخالفت ور شنډ کړي. تر څو ورځو وروسته د ببرک یو وزیر چې

له پخوا مې پېژانده، زما خوا ته راغی، فکر مې وکړ چې د پخواني شناخت په خاطر مې دیدن ته راغلی، اما د خبرو په لړ کې پوه شوم چې د ببرک د دویم پېغام ځواب راځخه غواړي او هغه ته يې رسوي. ما چې کوم وخت غوښتی و، د باور وړ دوستانو سره مې مشوره کړې وه، نوموړي ته مې وویل چې زه په یو شرط د "پدر وطن" په یوې غونډې کې ګډون کوم چې ماته وخت راکړل شي چې څو دقیقې د مجلس له ګډونوالو سره خبرې وکړم. وزیر چې پېغام راوړی و، و ویل چې جمهور رییس پرېکړه کړې ده چې تاسو کولای شئ د ویناوالو له جملې څخه و اوسئ او خبرې وکړئ. ورته ومې ویل چې ناستې ته مو راځم. وخت او ځای يې راته معلوم کړ او ورغلم.

دا ناسته د "سلام خانې" په مانۍ کې سمبال شوې وه. پر ټاکلي وخت ور ورسېدم او د ننه د ننوتلو لاربښوونه راته وشوه. د رژیم ویناوال پر یوه مېز د وینا د وړوکي مېز شاته ناست وو. جناب داوي صاحب او ډاکټر ظاهر خان هم هغه لور ته ناست ول. ماته يې له نورو غړو سره کیڼ لور ته په دویم قطار کې د تالار دننه ځای راکړ. خپل ښي لوري ته مې د ټولو تر منځه یوازې مرحوم صدیق طرزي د "مرحوم ډاکټر ننګیالي طرزي پلار" پېژانده. ویناوې پیل شوې او د رایو ورکول شروع شول. ټولې رايې پر ټولو موضوعګانو په یوه خوله وې، ما ځینو موضوعاتو ته موافقه رایه ورکړه، ځینو ته مخالفه او ځینو ته ممتنع. رایه ورکول په لاس و.

زه هره شېبه منتظر وم چې ما ته د خبرو کولو وار را ورسېږي. ببرک وینا وکړه او پر مطرح شویو موضوعاتو رایه ورکول ترسره شول، چا ماته وار رانه کړ. ببرک د کوټې شاته اطاق ته ولاړ او له خپلو حکومتي چارواکو سره یو ځای شو. زه د شا کوټې ته ورغلم او وزیر مې ولید ورته ومې ویل چې کله د خبرو نوبت را کوئ؟ نوموړی ولاړ او له ببرک سره يې په دې اړه خبرې وکړې بېرته راغی ويې ویل چې جمهور رییس امر وکړ چې تاسو داخل کوټې ته راشئ. زه هم ورغلم. دوی ټول د کابینې او د بېرو غړي په کوټه کې دننه سره ناست وو. د ببرک مېرمن او اناهیتا هم

هلته وې او ببرک ماته معرفي کړې. د هغوی له ډلې مې ډېری نه پېژندل، زه یې خپل څنګ ته کښېنولم، زما ښي لور ته یو نفر روس ناست و او داسې ښکارېدل چې په فارسي ژبه پوهېږي. زما او د ببرک ترمنځ فاصله نسبت د روس او زما ترمنځ له واټن څخه کمه وه، څرګنده وه چې روس به زما او د ببرک خبرې اورېدې. ببرک وویل ما ستاسو د وینا کولو موضوع نه ده هېره کړې. وړاندېز کوم چې ښه به دا وي چې تاسو له وینا کولو څخه ډډه وکړئ. ما ورته وویل زه په همدغه شرط راغلی یم او تاسو ژمنه وکړه، کنه زه اصلاً نه راتلم. زه نظریات لرم چې هغه باید د خپلې دندې په ډول د یو افغان په توګه خپلو هېوادوالو ته ورسوم. ببرک وویل پر کومه موضوع خبرې کوې؟ ما ورته وویل زما د خبرو بنسټ همهغه لیک دی چې تاسو ته مې لیکلی و. وې ویل هو هغه لیک ماته ورسېد. په هر حال وینا کول مو په ګټه نه بولم. ما ورته وویل چې په داسې حالت کې نو زه هم خپل کور ته ځم او نور په غونډه کې ګډون نه کوم، او زه متاسفه یم چې تاسو په خپله ژمنه وفا ونه کړه. خدای په اماني مې وکړه او کور ته راغلم.

کوم مکتوب چې اشاره مې ورته وکړه د دې کتاب په پاڼو کې د هېوادوالو تر نظر تېر شوی دی. باید ووایم چې د "۱۹۸٦" مېلادي کال په جون میاشت کې کله چې نجیب الله نیویارک ته سفر وکړ. زه په واشنګټن کې وم، او ټیلیفون یې راته وکړ چې نجیب تاسو سره خبرې کوي. ما ورته وویل چې زه په هیڅ موضوع کې خبرې نه ورسره کوم (ددې خبرو د متن د لیدلو لپاره دي ضمیمو ته رجوع وشي). تر هغې وروسته نعمت الله پژواک "زما د ورور زوی" چې کله د ملګرو ملتونو سازمان ته راغی، بیا یې هم ټیلیفون وکړ او زما څخه یې د لیدو غوښتنه وکړه. هغه ته مې وویل چې زه نه غواړم درسره ووینم او داسې کومه موضوع هم نشته چې سره ووینو او پر هغې بحث سره وکړو. دا چې په تکرار سره یې زما له خوا منفي ځواب تر لاسه کړ او ورسره ومې نه لیدل، خبرې مو ونه شوې، نو زما لمسي" فرهاد" ته یې چې د نوموړي زوی دی ویلي وو، کوم لیک چې ما ببرک ته لېږلی و هغه نجیب لوستی و او ویلي یې و چې دا حیرانوونکې ده چې ببرک دا لیک له ځان سره ساتلی د خپلو

همکارانو او د رژیم له ملګرو سره یې نه دی شریک کړی. که چېرې د نجیب دا خبره سمه وي نو د پرچم د ګوند عمومي وضع او د ببرک او نجیب چې د ګوند لوړ رتبه غړي او ټولواک دي، د اړیکو پر څرنګتیا له یو نوې زاوېې څخه چې لا تراوسه ناڅرګنده وه رڼا اچوي. هغوی چې پر وضعیت شننه کوي، په دې اړه به یې نظریات وړاندې کړي وي، دا موضوع د شننې وړ ده او هیله ده چې د نظر خاوندان پاملرنه ورته وکړي، ځکه چې د ببرک پر ځای واک او جمهوري ریاست ته د نجیب د رسېدو سره اړیکه لري، نو له دې اړخه تاریخي ارزښت هم پیدا کوي.

کله چې دویم ځل هندوستان ته د تلو اجازه راکړل شوه، هیڅا زما دوستانو، د کورنۍ غړو او ان معالج ډاکټر مې د ژوندي پاتې کېدو تمه نه درلوده. دا ځل زما د بېرته راتګ خبره را پورته نه شوه، ما هم د بیا راتلو ژمنه ونه کړه او پرته د دوستانو له مشورې مې پرېکړه وکړه چې مهاجر شم، که ګوندې وکولای شم چې له دې لارې د خپلو هېوادوالو ږغ تر کوم ځایه ورسوم. دا چې د دوستۍ حق مې ادا کړی وي، څو دوستان وو چې هغوی مې باید له خپل دې نیت څخه خبر کړي وای. د دې خلکو نومونه اخلم تر څو مننه ورڅخه شوي وي. هغوی چې وفات شوي دعا ورته کوم او هغوی چې ژوندي دي او په کابل کې دي نومونه یې نه اخلم. هندوستان ته د تګ د اجازې اخېستلو د چارو تر بشپړېدو، یوه ورځ وروسته او د کابل څخه تر حرکت دوې ورځې وړاندې زما پخوانی دوست چې هر کله مې په اونۍ کې یو، دوه ځلې پوښتنې او مجلس ته راتلو، مرحوم عبدالحی حبیبي راته راغی.

ورته ومې ویل چې "نن تا سره خدای په اماني کوم. ښایي بیا در سره ونه وینم." د هغه په څېره کې مې د خفګان تاثر ولید، راته وېې ویل "نه ان شاالله چې جوړېږې او روغتیا به دې په برخه کېږي." ورته ومې ویل "چې که چېرې جوړ هم شم، بېرته نه راځم او د مهاجرت لار نیسم." یوه شېبه خاموشه و او وروسته یې وویل "پر خدای (ج) دې سپارم" او ولاړ. لکه ویلي چې مې و بیا مې هغه ونه لیده.

بل دوست چې په اونۍ کې یو دوه ځله مجلس ته راتلو مرحوم غلام فاروق خان پخوانی لوی درستیز و. نوموړي ته مې هم د خپلو تللو په هکله وویل، دا چې زما اقتصادي او مالي وضعه ورته معلومه وه چې ښه نه وه او عتیق الله هم تر خپل

توان پورته پر ما  لګښتونه کړي وو، نو غلام فاروق مرحوم راته وویل چې زه په کور کې دېرش زره نغدې افغانۍ لرم او سبا چې خدای په امانۍ ته راتلم، له ځان سره یې درته را وړم، عتیق الله ته ووایه چې هغه قبولې کړي. ما مننه ورڅخه وکړه او په ټینګار سره مې له دې دوستانه مهربانۍ څخه وګرځاوه. مرحوم عبدالعزیز خاوری هم لس زره افغانۍ له ځان سره راوړې وې چې هغه مې په منښ ورنه واخېستې او عتیق الله ته مې ورکړې، دا مې ورته وویل چې بېرته به یې له خپله اړخه و هغه ته ورکوي. خدای تعالی (ج) دې هغه وبښي ډېر پاک زړی، مینه ناک، وطندوست او مهربانه انسان و. مجبوره شوم چې په چکسلواکیا کې د افغانستان پخواني سفیر مرحوم حسن صافي څخه څلوېښت زره افغانۍ پور کړم او د حجت په وړاندې کولو سره  تر اوسه نه یم توانېدلی چې دا پور یې ورکړم. د تداوۍ او سفر نور لګښتونه مې ورور عتیق الله پژواک ترسره کړل.

بل دوست چې بشپړ ډاډ مې پرې درلود او د خپل سفر له نیت څخه مې خبر کړ، هغه محمد قیوم نوابي و. دا ښاغلی مهربانه او د قدر وړ شخصیت د ډاکټرعصمت الله نوابي پلار دی چې اوس هم د نیویارک په کوم روغتون کې کار کوي او له خپلې کورنۍ سره په نیو جرسي کې په خپل شخصي کور کې ژوند کوي. ځوان دی اما د اسلام د دین ډېر پایبند دی، لمونځ کوي، روژه نیسي او د دین ټول فرضونه پر ځان پلي کوي. تر حرکت دوې ورځې مخکې مې ټیلیفون ورته وکړ، اما ځواب مې ترلاسه نه کړ. کومه ورځ چې مې حرکت کاوه مخته تر دې چې له کوره ووځم، ټیلیفون مې ورته وکړ، ویده و. له مېرمنې سره مې یې چې  تل لکه خپل خور راباندې مهربانه وه، خبرې وکړې او له هغې مې هیله وکړه چې ویښ یې نه کړي او زما د خیر دعا او د خدای په امانۍ پېغام ورته ورسوي. د یو دوست په موټر کې هوایي ډګر ته ولاړم.

# د کابل په هوايي میدان کې

کله چې د خپل  وراره نعمت الله پژواک کره اوسېدم د یو سړي سره چې دده شخصي ملګری وو دوباره اشنا شوم. دا سړی د بهرنیو چارو وزارت د اوراقو د څانګې له مامورینو څخه و. هغه مې مخکې هم پېژانده، نوم یې عبدالهادي "مکمل" و او د پرچم  ګوند غړیتوب یې درلود. تر کودتا وروسته په عراق کې د افغانستان د لوی سفیر په توګه ګومارل شوی و. "مکمل" راغلی و چې د ګوند په کومه ناسته کې ګډون وکړي، په هوايي میدان کې له هغه سره مخ شوم، راته ویې ویل په کومه الوتکه کې چې تاسو پرواز لرئ زه هم درسره یم ځم هند ته او له هغه ځایه د خپلې دندې د ترسره کولو لپاره د لوی سفیر په توګه عراق ته ځم. په ډېر ادب او دوستانه ډول یې زما سره چلن وکړ او وروسته د څو دقیقو لپاره ناڅرګند شو. د میدان له مامورینو سره یې خبرې وکړې ورڅخه ویې غوښتل چې د عامو خلکو د انتظار د کوټې پرځای د مهمو شخصیتونو (VIP) کوټې ته ولاړ شو. وروسته یې ټینګار وکړ ورسره ولاړم، پر هره موضوع خبرې وشوې، خو پر سیاسي مسایلو نه ده بحث وکړ او نه ما غوښتل چې څه پرې ووایم. د رژیم او کمونېزم په اړه زما نظریات ورته معلوم وو. د حرکت کولو وخت راورسېد او د ډهلي په لور مو الوتنه وکړه.

# د مهاجرت لړۍ پیل

## نوي ډهلي

چې له الوتکې د میدان و مانۍ ته ورننوتو حسن شرق مې ولید، هغه دا وخت په هند کې د افغانستان سفیر و، له خپلو همکارانو سره د عبدالهادي مکمل د ښه راغلاست لپاره راغلی و. ما خپل ځان له دې ډلې څخه جلا کړ، خو حسن شرق ځارلم او راته وې ویل چې هیله کوم زمونږ څخه مه جلا کېږه او یو ځای راسره ولاړ شه. ما ورته وویل چېرې؟

وې ویل: د افغانستان سفارت ته.

ما ورته وویل: ما په اشوکا هوټل کې کوټه کرایه کړې او سفارت ته نه ځم. هر څومره ټینګار چې یې وکړ ورسره ومې نه منله. اخر یې وویل چې لومړی باید تا تر اشوکا هوټله ورسوو، مجبوره شوم ورسره ومې منله چې تر هوټله مې ورسوي. دا چې ما سفارت ته د تګ څخه د خلاصون لپاره اشوکا هوټل ته د تګ ویلي وو، روغتون ته ولاړم.

د درملنې او د روغتون د معاینو پړاو پای ته ورسېد. ما په هغه مانۍ کې چې نورو افغانانو هم ژوند پکې کاوه یوه کوټه په کرایه ونیوله. دا کوټه د ښاغلي سید محمد میوند د اوسېدو ځای ته نږدې وه. جناب میوند د هغو مهاجرینو څخه و چې په ډهلي کې یې په خپل سرای کې یو دفتر پرانېستی و او د افغانستان په اړوند د پېښو او حالاتو معلومات یې راټولول او خپرول. همدارنګه له افغان مهاجرینو سره یې په اړوندو چارو کې د ملګرو ملتونو د پناه ورکولو له دفتر سره پام وړ مرسته کوله.

په نوي ځای کې مې ښاغلي میوند ته د خپل مهاجرت په اړه وویل. نوموړی حیران شو او وې ویل چې دا مسله باید د یوه خبرې کنفرانس له لارې بیان کړې. ورسره

ومې منله او په خپل سرای کې يې يوه خبرې ناسته را وبلله، چې په هغې کې ډېر شمېر خبرې اژانسونو او د راډیوګانو خبریالانو ګډون درلود. ما د خپل مهاجرت لاملونه او روانه اوضاع په جزییاتو سره روښانه کړه، ماښام وو د کرایه کړي ځای په محوطې کې ناست وم، یو وړوکی چمن و اما د هندوستان په ګرمۍ کې ډېر ښکلی غنیمت و. تر خبري کنفرانس وروسته مې خبرونه اورېدل چې د "بي بي سي" راډیو د استازي له خولې مې د خپل مهاجرت په اړه خبر واورېد. د دې سرای نورو افغانانو هم دا خبر په خپلو کوټو کې اورېدلی و، زما لیدو ته راغله خواخوږي يې وکړه او ماته يې مبارکي وویله. خبرو ډېر دوام وکړ او نور په دې کوټه کې یوازې پاتې نه شوم.

وروسته تر څو ورځو مې له نیویارک څخه لیک ترلاسه کړ، چې یو امریکایي دوست مې زما د مهاجرت خبر د" نیویارک ټایمز" له اخبار څخه پرې کړی او را لېږلی و، ښه به وي چې هغه لیک دلته راوړم (په ضمیمو کې دې وکتل شي!).

په دې وخت کې ښاغلي خالد معروف چې د هند په علیګړ اسلامي پوهنتون کې يې زده کړې کولې او د خپلو زده کړېزو چارو د بشپړولو لپاره يې په نوي ډهلي کې هم کوټه درلوده، کله چې زما له راتلو خبر شوی و راغی. وروسته چې مې هر وخت غوښتي وای زما خوا ته راتلو. د ده په خاطر نورو ډېرو افغان مهاجرو ځوانانو دلته تګ او راتګ پیل کړ، چې د هغوی له خوا ډېرې ښې او وطندوسته خاطرې لرم.

د سرای مخ ته چمن د ټولو اوسېدونکو د ناستې ګډ ځای و، مخکې تر دې چې خپلې کوټې ته داخل شم، په مخ کې مې د منتظم دفتر یا د سرای د خاوند کوټه وه. په دې کوټه کې یو پولیس چې تل به په ملکي کالو کې وو اوسېده، یو افغان چې دا پولیس يې پېژانده ماته معرفي کړ او د احتیاط کولو يې راته وویل.

ما په هند کې د سفارت په وخت کې ډېرى دوستان لکه سیاستمداران، د پوهنتون استادان، د رسنیو کارکوونکي... او نور درلودل، خبر یې راکړ چې له بده مرغه د پولیسو د ګواښ په خاطر زما لیدو ته نه شي راتلاى. پر دې سربېره هم د نهرو په پوهنتون کې د سیاسي شنونکو او لیکوالو له لورې یوه ناسته جوړه شوه او ما سره یې د افغانستان موضوع تر بحث لاندې ونیوله. ایندراګاندي په ظاهره دیموکراسي مراعتوله، خو په اصل او باطن کې مطلقه دکتاتوره وه. د هند د حکومت غړو کوښښ کاوه چې د کابل رژیم سره د ښو اړیکو په پاللو روسیه هم خوشحاله وساتي. د ټولې پېژندګلوۍ سره چې ما ورسره درلوده، زما په راتګ یې ځان ناخبره واچوه او هیڅ اړیکه یې راسره ونه نیوله، ولې د پولیسو څار یې تر اخره دوام درلود. درې کړنې چې په دغه موده کې ترسره شوې د یادوني وړ یې ګڼم.

لومړۍ: په ډهلي کې د ملګرو ملتونو د پناه ورکوونکو ادارې ته تګ او د ملګرو ملتونو د مهاجرو په ډله کې ځان ثبتول وه چې تر اخره یې زما سره مالي مرسته ونه کړه او ما هم ټینګار پرې ونه کړ. د دې لومړى دلیل دا و چې په ملګرو ملتونو کې نوم لیکنه د دې باعث کېدله چې د هند له حکومت څخه سرى خوندي او د ازار څخه یې وژغورل شي.

دویم: د پاکستان سفارت ته تګ او د سفیر سره یې لیدل و چې د ویزې ورکولو غوښتنه او پاکستان ته د مهاجرت او مسافرت نیت پکې شامل و. د ژمنې په کولو سربېره بیا هم د پاکستان سفارت چې له میاشتومیاشتو انتظار وروسته ویزه رانه کړه اخر مجبور شوم لوېدیځ المان ته ولاړم.

درېمه: د امریکا له سفیر سره کتنه

د امریکا سفیر موناهن (Senator Daniel Patrick Moynihan)، په هند کې زما د سفارت په موده کې مو له یو بل سره ښه پېژندل. د امریکا په سفارت کې مو ملاقات سره وکړ او د افغانستان پر حالاتو تر هر اړخیز بحث وروسته یې د هر

ډول مرستې ژمنه راسره وکړه او وروسته يې هيله وکړه چې يو څه معلومات د نوموړي دوو سلاکارانو ته هم ورکړم. دې دوو مشاورينو ډېرې پوښتنې درلودې او غوښتل يې چې د ځوابونو څخه په ګټې اخېستنې د امريکا په ګټه د کابل د رژيم په اړه معلومات ولري. د امريکاسفير ته مې وويل چې اوس کومه غوښتنه نه لرم که چېرې اړتيا پيدا شوه مراجعه کوم.

د هند د پوليسو څارنه شديده شوه او پاکستان هم ويزه رانه کړه، نو د المان سفارت ته مې رجوع وکړه او د ويزې غوښتنه مې ترې وکړه. د المان سفير هغه وخت په نوي ډهلي کې نه و، شارژدافير يې په څلورويشتو ساعتونو کې خبر راکړ چې هر وخت وغواړم، لوېديځ المان ته سفر کولای شم او دوی ويزه راکولای شي. د دوی له دې چلند څخه مې مننه وکړه.

په دې وخت کې د مرحوم صلاح الدين سلجوقي مېرمن، سناتوره حميرا سلجوقي په ډهلي کې مېشته وه. چې د المان څخه مې ويزه وغوښتله هغې ته مې پېغام واستوه چې غواړم له ډهلي څخه المان ته سفر وکړم او دا هيله لرم چې د خدای په امانۍ لپاره د دې خواته ور شم. په سبا يې چې لمر خپل ښکلی ځای ښايسته ساپې ته د نرم نسيم سره د سرای په چمن کې پرېښی و، ومې ليده چې سناتوره مېرمن حميرا سلجوقي سرای ته داخله شوه. ښه راغلاست ته يې ورغلم او سره کښېناستو مجلس مو پيل کړ. يو دوې نجونې چې په فرزندۍ يې نيولې وې هم له ځان سره راوستې وې. حميرا سلجوقي بشپړ سواد درلود او د شعر طبعه يې هم درلوده. ډېره ځيرکه، علمدوسته، مهربانه، وطندوسته او روڼ اندې مېرمن وه. مجلس طبعاً د افغانستان په اړه وو يو ساعت، نيم ساعت سره کښېناستو، خدای په اماني يې وکړه او ولاړه. د تګ په وخت کې يې وويل چې " يوه هيله لرم هرومرو به يې منې."

ورته ومې ويل چې "ستاسو د هر امر پيروۍ ته حاضريم". په دې وخت کې يې يو زره ډالره راکړل او ويې ويل چې د الوتکې د کرايې لپاره يې قبولې کړه او د خدای په

امانۍ سره ولاړه. دا چې په دې هکله مې هیڅ تمه نه وه، نو زما د قبلولو یا نه قبلولو د بیانولو لپاره هیڅ وخت پاتې نه و. له بله اړخه مې پیسو ته ډېره اړتیا هم نه وه. وروسته مې مېرمن حمیرا ته حال واستوه او د حسنه قرض له ورکړې څخه مې یې مننه وکړه.

د لوېدیځ المان لور ته مې حرکت وکړ. الوتکې په فرانکفورت کې ناسته وکړه او د ټرین په وسیله چې له هوایي ډګره د بن لور ته لاره تللې، بن ته ولاړم. یو هوټل ته ور کښېته شوم. چې کله یې زما وسایل هوټل ته یوړه، محمد شریف اژیر ته مې ټیلیفون وکړ. له څو دقیقو وروسته یې مېرمن سارا جانه راغله او راته وې ویل چې اژیر له کور څخه نږدې ارزانه هوټل کرایه کړی دی او دا راغلې چې ما لومړی هوټل او بیا خپل کور ته بوځي. د هوټل ارزانۍ او اژیر ته نږدې والي دې دواړو ټکو زه وهڅولم چې موافقه ور سره وکړم. لومړی هوټل د بن د لومړۍ درجې هوټلونو څخه و چې په لوېدیځ المان کې د سفارت په وخت کې ورسره اشنا وم. کوم هوټل چې اژیر نیولی و رښتیا هم دده له کوره یې څلور پنځه دقیقې واټن نه درلود او ډېر بېحده ارزانه و. د هوټل په کرایې کې د سهار ناری هم شامل و. غرمه د اژیر کره ولاړم او ښه غرمه مې هلته تېره کړه. د هغه له لیدنې څخه ډېر خوښ شوم ځکه سره کښېناستو او د زړه دردونه مو سره بیان کړل. زما اعصاب چې له ډېرې مودې څخه ستړي وه دده په لیدو تر یوه بریده تسکین شول. کله چې بېرته هوټل ته را وګرځېدم له څو ورځو وروسته پوه شوم چې کولای شم ویده شم، اما نابېره یو بل افغان ډاکټر امان الله رسول زما لیدو ته راغی. دا شخص د افغانانو په منځ کې پوره پېژندګلوي لري او معرفي ته اړتیا نه لري. دا وار د افغانانو د ستړیاوو مکررې کیسې پیل شوې، دا چې ختمول یې اړین و، باید پای ته مو رسولې وای په ډېر مشکل مو موضوع ته بدلون ورکړ.

اژیر مرحوم ډېر زیات مېلمه پالونکی و او د ټولو افغانانو سره یې پراخه اړیکې درلودې او کورته یې راتلل. له هغې ډلې یو ډاکټر میرحیدر داور و چې د اقتصاد په رشته کې

يې زده کړې کړې وې او څه موده په کابل کې د ماليې وزير و. تر مهاجرت وروسته يې د کولن په پوهنتون کې درس ورکاوه، له نوموړي سره اشنا شوم. د نظر خاوند او خبير سړی و. څو ورځې وروسته پخواني لومړي وزير ډاکټرمحمد يوسف خان تشريف راوړ، د اژير مرحوم په کور کې مو اوږد مجلس وکړ. ډاکټر يوسف خان مرحوم زما برعکس ډېر خوشبين و، يا ښه ده چې ووايم هغه سياسي سړی و خوشبينۍ ته يې لومړيتوب ورکاوه. د مهاجرت ترمخه چې په کابل کې و، د وزير اکبرخان په پارک کې به (د ببرک له خوا د کور د حبس له ختمېدو څخه وروسته او مخ ته تردې چې د وزير اکبرخان مېني څخه جمال مېني ته ولاړ شم) کله کله سره مخ کېدلو. په اخره ليدنه کې يې زما څخه مشوره وغوښته چې که چېرې هجرت وکړم ستا نظر په دې هکله څه دی؟ ما ورته وويل چې په لومړي چانس کې بايد ولاړ شي، زما نظر يې له خپل نظر سره موافق وموند او وې ويل چې لاره شته چې ولاړ شم او ځم به.

ما لومړی ځل محمد يوسف خان په لندن کې وپېژنده. په هغه وخت کې زه په لندن کې د افغانستان په سفارت کې د کلتوري او مطبوعاتي اتشې په حيث موظف وم او نوموړی ښاغلی ډاکټر د خپل ورور د تداوۍ او علاج په موخه لندن ته راغلی و. دواړه د نوې ځوانۍ په درشل کې وو، هغه د فزيک په رشته کې خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړې وې او زه چې د منظمو زده کړو او د کسب له وسايلو څخه بې برخې وم، غوښتل مې د عملي ښوونځي په برخه کې يو څه زده کړم او په اصطلاح له ځانه څه جوړ کړم. زما اړيکه له ډاکټر سره يوازې د يو ناروغ لرونکي هېوادوال په توګه وه، ولې د هغه سره بحث ډېر ګټور و او خورا جالب شخصيت يې درلود. ما هم خپلې اړيکې ورسره وساتلې او هم مې پراختيا ورکړه.

کله چې نوموړی د لومړي وزير په توګه وټاکل شو، زه په نيويارک کې په ملګرو ملتونو کې موظف وم. هغه وخت چې نوموړي په قاهره کې د غيرمنسلکو هېوادونو په کنفرانس کې د افغانستان د لومړي وزير په حيث ګډون وکړ زه يې ور وغوښتلم،

چې د افغاني پلاوي د غړي په توګه په کنفرانس کې ګډون وکړم، (ما تر هغه وخت د لومړي کنفرانس څخه چې د غیر منسلکو هېوادونو ترمنځ په بلګراد کې و نیولې ان په ټولو کنفرانسونو کې د افغاني پلاوي غړیتوب درلود. په باندونګ کې مې هم د اسیايي هېوادونو په کنفرانس کې ګډون کړی و). البته په قاهرې کې د رسمي چارو له نظره یو د بل له فکر او عمل د طرز سره لا نورهم اشنا شو. د کنفرانس تر ختمېدو وروسته زه بېرته نیویارک ته ولاړم.

د ډاکټر محمد یوسف د صدارت په وخت کې کله چې بادشاه وغوښتل چې نوی اساسي قانون د نسبي دموکراسۍ پر بنسټ را منځ ته کړي، زه په ژنیو (سویس) کې د ملګرو ملتونو د بشر حقونو د کمېسون د رییس په توګه په کار بوخت وم، چې د صدارت د مقام له لورې د تلګراف په ذریعه مخابره راته وشوه او کابل ته یې وغوښتم. پوهېدلم چې کابل په ژنیو کې زما له بوختیاوو خبر دی او په اهمیت یې هم پوهېږي، دا چې بیا یې هم کابل ته وبللم هرومرو کومه اړینه او مهمه موضوع مطرح ده. ولاړم ډاکټر محمد یوسف د عظمی صدارت په ماڼۍ کې خپل حضور ته ومنلم او راته وېې ویل چې کابل ته ستا د رابللو علت دادی چې د نوي اساسي قانون په جوړېدو کې خپل نظریات راسره شریک کړې. ما ورته وویل چې خپل نظریات به په لیکلې بڼه ډېر ژر درته وړاندې کړم. پر خپله ژمنه مې وفا وکړه. په عین وخت کې باچا هم خپل حضور ته وبللم او همدا موضوع یې راسره مطرح کړه. دا چې موضوع یوه وه د خپلې لیکنې یوه نسخه مې چې له صدراعظم سره شریکه کړې وه بله مې له باچا سره شریکه کړه. څو ورځې وروسته د اساسي قانون د مسودې لپاره پلاوی وټاکل شو، خو زه یې په منځ کې نه وم. تعجب مې ونه کړ، ځکه چې زما نظریات ډېر د بشر، د لړکیو او د نر او ښځې پر حقونو راټول وو او بله دا چې د مسودې د پلاوي غړو تر ټاکل کېدو مخکې ماته داسې اشاره وشوه چې بېرته خپلې دندې ته ورګرځېدای شم. همداسې وشوه زه بېرته ژنو ته ولاړم او د مسودې هیت چې وټاکل شو زه په کابل کې نه وم. که چېرې زما نظریات منل شوي

وای د ملګرو ملتونو د بشر د حقونو د کنوانسیون ټول مواد په اساسي قانون کې راتلل. په یاد مې دي چې مرحوم سردار محمد داود خان هم زما نظریات غوښتي وو او ما د ملګرو ملتونو د بشر حقونو د ټولو کنوانسینونو مواد لیکلي وو او د مرحوم محمد یونس رفیق په لاس مې محمد داودخان ته وړاندې کړي وو. تراوسه نه پوهېږم چې څه شو. دغه اندازه خبر شوم چې (د ډاکټر یوسف خان د وخت) د اساسي قانون په تسوید کې زما نظریات ان مجلس ته هم نه و، وړاندې شوي دا خبره د اساسي قانون د تسوید کمیسیون د پلاوي یو غړي راته وکړه، چې په رښتینوالي کې یې هیڅ شک نه لرم.

د بشر د حقونو په اړه چې مې سردار محمد داود خان ته کومه اشاره وکړه د هغه د نقش لوبولو هغه وخت مې په یاد شو چې د بشر د حقونو د اعلامیې په تصویب کې یې ترسره کړی و، په هغه وخت کې سردار داود خان په پاریس کې د افغانستان لوی سفیر و او د ملګرو ملتونو په عمومي اسمبلۍ کې یې د افغاني پلاوي ریاست په غاړه درلود. زه د کار د نړیوال سازمان (ILO) د دفتر له خوا د دې موسسې د پلاوي د غړي په توګه راغلی وم، د عمومي اسمبلۍ په سیاسي، ټولنیزي او کلتوري کمېټه کې مې چې په هغه کال یې د بشر د حقونو اعلامیه تر بحث لاندې نیوله د کار د نړیوال سازمان (ILO) استازیتوب کاوه. غواړم چې هغه مسله دلته یاده کړم.

په یاده کمېټه کې د افغاني پلاوي یو غړی مرحوم عبدالغفور شرر و. دا چې په بهرنیو چارو وزارت کې سره همکاران وو هغه مې له پخوا پېژنده. له نوموړي سره د خبرو په لړ کې یې راته وویل چې مامور دې د افغانستان په استازیتوب د بشر د حقونو اعلامیې ته منفي رایه ور کړې. د دې اخطار اورېدلو چې افغانستان د بشرد حقونو اعلامیې ته منفي رایه ورکوي او د تل لپاره د افغانستان د بدنامۍ سبب ګرځي ماته شدید ټکان راکړ.

شرر مرحوم په عین وخت کې د سفارت سرکاتب (First Secretary) و، د حکومت مطیع مامور و د هغه سره د دلیلونو ویلو هم کومه ګټه نه کوله. نو په

دې خاطر سیدقاسم چې د ( سید تاج الدین ورور وو او  سید تاج الدین د بهرنیو چارو د وزارت پخوانی اداري مرستیال و) اوس د بهرنیو چارو د وزارت کاتب او د افغاني پلاوي غړی و. الحمدالله اوس هم ژوندی دی نوموړی مې ولېد، موضوع مې ورسره شریکه کړه. دوستانه یې راته وویل چې زه څه کولای شم راته ووایه چې ویې کړم؟ د هغه څخه مې هیله وکړه چې ما د سردار داودخان سره معرفي کړي. سردار مرحوم مې فقط یو ځل هغه وخت لیدلی و چې د قوای مرکز قوماندان وو اوزه د "پښتوټولنې" عمومي مدیروم او په ضمن کې د نالوستو لپاره د کورسونو د جوړولو مسول هم وم. سلجوقي مرحوم غوښتل چې سردار وهڅوي چې په قوای مرکز کې د نالوستوکسانو لپاره کورسونه پرانیزي،چې هغه خلک چې نظامي خدمت ته راځي اونالوستي دي د عسکري خدمت ترڅنګ لوستل او لیکل هم زده کړي او د عسکري خدمت تربشپړولو وروسته خپلو کورونو ته لوستي ور وګرځي. هیره دي نه وي چې دا نظریه چې لومړی ځل د دفاع وزارت ته وړاندې شوې وه هغه وخت د دفاع وزیر "شاه محمود غازي" وو د هغه له خوا نه وه منل شوې. مرحوم محمد داود خان دا نظریه په خورا درناوي ومنله، زه او علامه سلجوقي مرحوم په ښه خوشحالۍ ورنه را وګرځېدو او کار مو پیل کړ. کله چې د بالاحصار په خواکې د سردار مرحوم له دفترڅخه را ووتلو، علامه سلجوقي راته وویل: "زویه ودي لېد د ځوان اوزوړ توپیر؟ دې ځوان سردار د نوښت په کولو سره د دې  ښه کار ویاړ د خپل ځان کړ، او هغه بوډا سردار(منظور یې شاه محمود خان غازي وو) چې په لیدلو اونه پوهېدلو یې دغه ویاړ له لاسه ورکړ. په دې خاطر زه همېشه وایم چې چارې باید د هېواد ځوانانوته وسپارل شي چې زړېږي ښه چوپړ یې کړی اوچارې یې ترسره کړې وي."

زه د خپل عادت له مخې چُپ وم او فقط غوښتل مې څه واورم اوزده یې کړم. علامه سلجوقي ان په هغه وخت کې هم جسماً بوډا نه و، سره د دې  چې د خپل اوږد ژوند په بهیر کې ترپایه هم معناً او هم روحا" ځوان و. زه وروسته تر خپل

پلاره چې هم مې په معنوي لحاظ اوهم په مادي لحاظ پلار او استاد و اوهمدارنګه مشر ورورمې" حفیظ الله اماني" چې درس مې ورسره ویلی دی، علامه سلجوقي خپل یوازینی معنوي پلار او استاد ګڼم. ټول استادان مې چې په ښوونځي کې مقرر وو پر ما حقداره دي، یوه شیبه او هیڅ وخت به د هغوی حقونه هیر نه کړم اوتل به یې په ښو او دعا یادوم.

اوس دوباره ورګرځم د سردار محمد داودخان کیسې ته چې د بشر د حقونو د اعلامیې په اړوند ده. که چیرې له حقیقت څخه تېر نه شم، باید د ښاغلي سید قاسم خان د رول څخه په بشپړ ډول قدرونه وکړم. ځکه که نوموړي خپله اخلاقي مېړانه نه وای ادا کړې، او موضوع یې سردار محمد داود خان ته نه وای رسولې او لکه شرر مرحوم چې د خپلې افغاني دندې څخه یې اوږې خالي او ځان وکیښ، یوازې یې خپلې رسمي اوحکومتي دندې ته ارزښت ورکړی وی. هغه بدلون چې دافغانستان په منفي دریځ کې د بشر د حقونو د اعلامیې په تړاو رامنځ ته شو نه به وای راغلی.

ښاغلي سید قاسم راته وویل چې څه وکړم هغه څه چې زما په وس کې دي له هغه څخه به ځان ونه سپموم، ورته ومې ویل زما ستاڅخه دا هیله ده چې ما د یو عادي افغان په توګه سردار محمد داود خان ته معرفي کړې، او ورته وواېې سره د دې چې د خپل وطن په چوپړ کې نه یم او د کار د نړیوال سازمان په دفتر کې کار کوم، ولې نه شم کولای چې له خپل هېواد څخه بې لېوالتیا و اوسم، زه د بشر د حقونو د موضوع په اړه، په عمومي اسمبلۍ کې ځیني عرضونه لرم چې غواړم و سردارته یې وړاندې کړم.

ښاغلي سید قاسم ومنله او سفارت ته یې ټیلیفون وکړ. هغه ته یې وویل چې سردار د غاښونو ډاکټر ته تللی دی، که چیرې غواړې چې هم هلته ټیلیفون ورته وکړو. مونږ دواړه د ټیلیفون په کوټه کې و او هیله مو ورڅخه وکړه چې موضوع ډېره اړینه او عاجله ده سردار چې هر ځای وي مونږ باید ځانونه ور ورسوو. ښاغلي سید

قاسم د غاښو د ډاکټر دفترته ټیلیفون وکړ، او زه یې سردار مرحوم ته ور پېژندلم، ماته یې وویل چې والاحضرت غواړي خبرې در سره وکړي. ماهم ټیلیفون واخست او سردار پرته له نورو تعرفي خبرو راته وویل غواړې ماته څه ووایې؟ موضوع مې ورسره شریکه کړه او دامې هم ورته وویل چې د ملګرو ملتونو په غړو هېوادونو کې د اعلامیې پروړاندې یوازې یو هېواد (سعودي عربستان) منفي رایه ورکوي، او افغانستان هم د سعودي عربستان سره په ډله کې راځي او له ټولې نړۍ څخه بېلېږي. سردار ښه په غور زماخبروته غوږ شو او وروسته یې راته وویل چې ټیلیفون  سید قاسم ته ورکړم. ښاغلي سید قاسم خبرې ورسره وکړې اوماته یې وویل والاحضرت امر وکړ چې شرر ته ووایم ترڅویادي اعلامې ته مثبته رایه ورکړي. د خدای تعالی (ج) شکر مې پرځای کړ، اود ښاغلي سید قاسم څخه مې مننه وکړه. سردار مرحوم ته مې دعا وکړه، او سید قاسم ته مې وویل چې ژر کوه شررته د والاحضرت امر ورسوه. همداسي یې وکړل او افغانستان مثبت رایه و کاروله، ماهم باید د کار نړیوال سازمان دفتر ته ځان رسولی وای چې د افغانستان د دریځ بدلون سم ثبت کړي.

باور لرم چې  داسې خلک شته چې دغه ستړیاوې او منډې ترړې په پراخه ټټر لولي او هیڅ ډول ازار یې نه ځوروي.

اوس بېرته هغه څه ته ورګرځم  چې په لویدیځ المان کې رامنځ ته شول. د خبرې کنفرانس ور کولو فکر راته پیدا شو اما د اخبار سره مې مرکې ته لومړیتوب ورکړ. مرکه مې د ښاغلي اژیر په کورکې وکړه، او په سبا یې یوه بشپړه مقاله په الماني ژبه خپره شوه، له بده مرغه نه پوهېږم چې د هغې مقالې متن څه شو له اټکله لرې نه ده چې د اژیر مرحوم په کاغذونو کې دې وي.

دوې ورځې وروسته اژیر مرحوم  راته وویل چې په بن کې د پاکستان د سفارت لومړي سکرټر ماته ټیلیفون وکړ او غواړي چې تاسو سره اړیکه ونیسي، ما ورته وویل چې سمه ده زه هم ورسره وینم. د پاکستان د سفارت استازي غوښتل چې

له سفیر سره زما د لیدو لېوالتیا ځان ته څرګنده کړي، چې ورسره ګورم او که نه؟ ورته ومې ویل چې په بشپړې خوشحالۍ ور سره وینم. یوه ورځ وروسته ماسپښین مهال وخت وټاکل شو او له اژیر سره د پاکستان سفارت ته ولاړم.

په ډېرې مهربانۍ او مېلمه پالنې مو ښه هرکلی وشو. چې تعرفي خبرو او د اسلام اباد څخه تر ځینو دوستانه ګیلو او د سفارت او شخصاً د سفیر له ښه چلن څخه تر مننې کولو وروسته د پاکستان لوی سفیر راته وویل چې وروایه ستا لپاره څه کولای شم چې ترسره يې کړم.

هغه ته مې وویل چې یوازې یو څه غواړم، هغه دا چې له خپلو خلکو سره یو ځای و اوسم، نو په دې خاطر غواړم چې پاکستان ته هجرت وکړم او پرته له کوم امتیاز غوښتلو لکه د نورو مېلیونونو افغان کډوالو په څېر، د یوه عادي کډوال په توګه له دوی سره یو ځای ژوند وکړم. سفیر وویل که غواړې پاکستان ته سفر وکړې زه به د خپل حکومت له لورې بلنلیک او د تګ اسانتیاوې درته چمتو کړم. زیاته يې کړه اړینه نه ده چې د کډوال په توګه هلته ولاړ شې، بلکې د مېلمه په حیث ولاړ شئ. په ناستو خلکو کې يې یوه ته اشاره وکړه هغه ولاړ ډېر ژر يې پاسپورټ له ویزې سره بیرته راوړ. ملاقات مو په پاکستانۍ الوتکې کې د ځای تر نیولواو ترتیبولو او د چاویو تر څښلو وروسته پای ته ورسېد. وروسته څرګنده شوه چې ټولې چارې مخکې ترتیب شوې وې، په لومړۍ درجه ټېکټ په پاکستانۍ الوتکې کې د اسلام اباد په لور وخوځېدو.

# پاکستان ته د مېلمه په توګه زما لومړی سفر

په الوتکه کې کارکوونکو د عادي او معمولي حالت څخه زیاته مېلمه پالنه وکړه، چې په کراچۍ کې کښته شو. له الوتکې څخه د کوزېدو په وخت کې د دولتي تشریفاتو یو غړي ځان راته معرفي کړ، زما د بکسونو په اړه یې هدایت ورکړ. زه یې د VIP کوټې لور ته رهنمايي کړم او راته ویې ویل چې اسلام اباد ته د الوتکې چمتووالی نیول شوی دی، ستا وسایل هلته وړل کېږي او زه به مو د الوتکې د حرکت په وخت کې بدرګه کړم.

اسلام اباد ته ورسېدو، ډېر ښه او دوستانه ښکلی هرکلی و او ماته یې وویل چې د "سند هاوس" (Sindh House) په مېلمستون کې به اوسېږې. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت د تشریفاتو د څانګې یو غړي خپل ځان د کوربه په توګه راته معرفي کړ او ویې ویل چې زه به دې کوربه توب کوم. دا سړی د پنجاب اوسېدونکی و، خو ډېره روانه پښتو یې ویله. له لومړۍ ورځې څخه د مېلمستیا تر پایه چې درې میاشتې وخت یې ونیو، تل په اسلام اباد او پېښور کې راسره ملګری وکله به یې خپل مېرمنه هم پېښور ته له ځان سره بېوله. مېرمن یې د اسلامي دستورونو پربنسټ همېشه مخ پټې وه او هیڅکله مې ونه لیدله. د پېښور په مېلمستون کې چې "ګورنر هاوس" یې ګڼي، تل یې د خپلې مېرمنې په هکله خبرې کولې. د سهار ناری ما او ده یو ځای کاوه او مجلس به مو هم سره کاوه، کله چې به زه لوی سالون ته د خپلو افغانانو د لیدو لپاره ولاړم، نو دی به مې هم تر ماښامه نه لیده. د ډوډۍ سپارښتنه به ده ورکوله، کله به یو ډول او کله به بل ډول و، په ټولیزه توګه ښه سړی و، هیڅکله یې زما څخه پوښتنه ونه کړه چې د خوراکي شیانو د سفارش په وخت کې کوم څه غواړې او کوم څه نه غواړې. ما هم په خوراکي توکیو کې د خپلې خوښې په اړه ان که اړین هم وو هیڅ نه ورته ویل.

هره ورځ شاوخوا دوه سوه تر درې سوه افغانان زما ليدلو ته راتلل او خبرې اترې مو سره کولې، په منځ کې مو قيد نه و، اما دا بې قيدي د ږغ په کچه وه، فکرونه مو په غوږونو اورېدل او هغه څه چې په فکرونو کې وه د سياسي ملاحظو د قيوداتو په اساس حکومت نه غوښتل چې حقيقتونه په عمومي ناستو کې ځرګند او وويل شي، نو په خوله نه ويل کېدل او په ږغ کې نه اورېدل کېدل. کډوالي د دموکراسۍ په هېواد کې جهنم دی، په يو استبدادي حکومت کې چې نظامي هم وي، نو مهاجرت داسې دی لکه سړی چې د دوزخ په تاترينه پوړۍ کې وي. د مېلمه پالنې څخه يې په منځ د پاکستان حکومت په هغه وخت کې (چې تراوسه يې هم کوم بدلون نه دی کړی)، په داسې يو هېواد کې حاکم دی چې په ټوله نړۍ کې د کډوال لپاره بد او سخت ځای دی. نه د کډوالو موضوعه قوانين چې نړيواله سرچينه لري مراعت کېدل او نه يې د انصارو او مهاجرو د اړيکو سره چې اسلامي دستورونه دي، يو وړوکی ورته والی درلود. په "سند هاوس" کې به هم ډلې ډلې خلک ليدو ته راتلل او په ډول ډول طريقو به يې د حکومت له لورې څارنه کېدله خبري يې ټيپېدلې او په افغاني جامو کې به يې جاسوسان رالېږل.

"سند هاوس" يو له هغو څو دولتي مېلمستونونو څخه و، چې د پاکستان په ډېرو سيمو کې يې په دې نوم شتون درلود او د هغو سيمو اکثره معتبرو مېلمنو او نورو بهرنيو هېوادونو مېلمنو ته پکې ځای ورکول کېده. د دې مېلمستونونو له ډلې څخه يوه يې د "صوبه سرحد شمال غرب" په نوم هم شتون درلود.

ټولو دغو مېلمستونونو يې د اوسېدو کوټې، د ليدنو کتنو سالونونه، اطاقونه او نور اړين توکي درلودل، د ماڼۍ څخه دباندې د قدم وهلو لپاره ساحه، د لامبو وهلو ډنډ (که څه هم اوبه يې نه درلودې) او نور توکي موجود وو. خواړه د مېلمستون د سمبالوونکي او مېلمه په غوښتنه په ځانګړې اشپزخانې کې چمتو کېدل، کارکوونکي او شاګردان يې ډېر ادبناک او بانزاکته خلک وو، چې د کورنيو

مېلمنو د خوښۍ او رضايت د خپلولو په خاطر له (وېرې) او د بهرنيو مېلمنو ښه خدمت يې د حکومت په لارښوونه په ډېره ښه توګه کاوه.

دا مېلمستيا لږه موده نه وه. درې مياشتې يې دوام وکړ. په دغو دريو مياشتو کې يوه يې د روژې مبارکې له مياشتې سره برابره وه. د هند په نيمې وچې کې د روژې نيول (ان په ژمي کې نور موسمونه خو لا پرېږده) ډېره سخته تېرېږي، ولې مونږ داسې بوخت وو چې هيڅ نه پوهېدلو چې ورځ څنګه تېرېږي. تل به د کار په ختمېدو سره د روژه ماتي لپاره مېلمستون ته ورګرځېدو. د روژه ماتي په وخت کې به هېوادوال په خپلو کوټو کې وو، نو يوازې به وم. ما هيڅکله په يوازې توګه د ډوډۍ خوړلو عادت پيدا نه کړ. مرحوم پلار به مې له مېلمه پرته ډوډۍ نه خوړله. ان اوس چې مې عمر د دوه اويا کالو په منځ کې دی او مجبور يم چې يوازې ډوډۍ وخورم، بيا هم د خوراک په وخت کې تېرې خاطرې او د مېلمنو سره د ګډ خوراک يادونه را په زړه کېږي او ښايي دغسې فکري حالت زما په څېر د ناروغ انسان روغتيا ته ښه نه وي. نه پوهېږم چې چاره به يې څه وي؟ دا چې چاره نشته بايد ويې زغمم. زه په ټول وخت کې چې له هېواده بهر وم او په وطن کې مې تر اوسېدو زيات کلونه بهر تېر کړي دي تل يوازې اوسېدلم، ولې له خپل پلار څخه په خوی اخېستلو پرته له استثنا هيڅ وخت بې مېلمه نه وم.  نه مې په يادېږي چې له دې نعمت څخه بې برخې شوی يم. په ځانګړي ډول د روژه ماتي ډوډۍ په يوازيتوب کې بې مالګې ده، هغسې شکر او دعا چې په ټولېز ډول وي په يوازيتوب کې نشته، هر نعمت چې انسان ته ميسر وي، خوښي يې له خپګان سره ګډه ده او دا خپګان د اکثريتو افغان مسلمانانو ترمنځ ګډ دی.

دا درې مياشتې وخت ټول په اسلام اباد او پېښور کې تېر شو. د پاکستان له ”نورو صوبو“ څخه د ليدنې غوښتنه مې ونه منل شوه، ما يوازې بلوڅستان ”کويټې“ ته پر تګ د اجازې ورکولو ټينګار کاوه چې ونه منل شو. اصلاً بنديز بلوڅستان ته پر تللو و چې نورو صوبو ته د تګ په برخه کې هم خنډ شو. ځکه پوهېدلم چې که

بلوڅستان ته د تګ اجازه ترلاسه کړم او نورو صوبو او سيمو ته اجازه ونه لرم دا د پاکستان لپاره ستونزمنه ده. په پېښور کې د کډوالو شمېر زيات و، خو له کوېټې څخه په وطن د ننه افغانانو سره اړيکه نيول اسانه وو، چې دا ډېره مهمه وه. همدارنګه د حکومت د ښار سازمان هم ډېر قوي نه و. په اسلام اباد کې ډېر وخت د بهرنيو چارو وزارت له غړو سره پر کتنو تېرېده او په پېښور کې مو بيا ډېر وخت له افغانانو او هغو خلکو سره چې د " ازاد سرحد د خلکو" په نوم يادېدل، ليدنې کتنې درلودې. په اسلام اباد کې مې د بهرنيو چارو د وزير (صاحبزاده يعقوب خان) د وزارت دويم شخص (سکرتر جنرال سردار شاهنواز خان) او درېيم شخص سره چې عمومي سياسي مدير و، ناستې او ملاقاتونه کېدل. زما کوربه چې اصلاً د تشريفاتو غړی و په دې ليدنو کې به راسره و، چې هغه څه چې يې مشرتابه ورته ويل په هغو پوه شي او د بهرنيو چارو د وزارت دباندې زما سياست ښه وڅاري.

صاحبزاده يعقوب خان په لومړۍ ليدنه کې ډېر د وروړګلوۍ، دوستانه او ښه چلن وکړ، چې د ليدنې په پای کې مې ډېره مننه ترې وکړه. ځيرک، ټينګ، پوه او جدي سړی دی. سکرټر جنرال اصلاً سدوزی سردار او افغان دی. ښکلی او با نزاکته انسان دی. هغه ليدنه چې مې له ده سره درلوده په هغو کې يې په ډېرې مهربانۍ او شرافت خبرې کولې.

ما هم له نوموړي سره ازاد بحث کاوه او خپله وجداني لېوالتيا او د زړه پټ اړخونه مې له ده سره د پېژندګلوۍ په موخه لا نورهم ورته بيانول. په ډېره روښانه توګه مې د افغان ګوندونو د بې اتفاقۍ په موخه د پاکستان غلط سياست(Favoritism) ورته په ډاګه کاوه او د هغه له خبرې څخه داسې ښکارېدل چې دی هم په دې حقيقت پوه دی او د لومړي ځل لپاره يې دا درک کړه چې ځينې افغانان هم په دې مسله پوهېږي. په غير مستقيمه توګه يې ماته دا په ډاګه کړه چې د لويو مسايلو پاليسي نبغ په نبغه د جمهوري رياست او شخصاً ضياءالحق په لاس کې ده.

ما له هغه څخه هیله وکړه چې د ضیاءالحق سره د لیدنې زمینه راته برابره کړي. داچې ضیاءالحق له ځینو افغانانو سره لیدل کتل کول، نو دا غوښتنه ډېره ځانګړې نه وه. په هر صورت زه یې وپوهولم چې جمهور رییس ما سره ملاقات نه کوي او کوښې ته پر تګ هم باید له ټینګار څخه ډډه و کړم، له خپله اړخه یې وویل چې په دې چاره کې ګټه نهویني. زه ښه پوهېدلم ولې پرته د خپګان له ویلو یا کولو بل څه په وس کې نه وو. په حقیقت کې په دغه موده کې پوه شوم چې مېلمستیا هم نوره پای ته ورسوم او ما یې هم دوام بې ګټې باله. پرېکړه مې وکړه چې د بهرنیو چارو وزارت سره په راتلونکي لیدنه کې د دوی د ټولو مرستو او مهربانیو څخه مننه او قدر داني وکړم او هغه څه چې د دوی د منلو وړ نه وو په دریځ یې خبر او پوه یم او نشم کولای چې د خپلې ناهیلۍ احساسات له دوی څخه پټ کړم. اوس د دې وخت رارسېدلی چې هغه زحمت او ستړیا چې دوی زما د مېلمه پالنې په برخه کې په غاړه اخېستې ده پای ته یې ورسوم او همدارنګه د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ د جوړېدو وخت هم نږدې دی غواړم چې په نیویارک کې و اوسم او که وکولای شم چې د افغانستان لپاره کوم کار ترسره کړم.

کله چې دوی د پاکستان څخه زما د تګ په نیت خبر شول دومره خوشحاله شول چې ان که ما نه وای ورته ویلی ښایي چې دوی راته د تللو وړاندیز کړی وای، د بهرنیو چارو د وزیر او سکرتر جنرال سره لیدنې کتنې وشوې، خو له جمهور رییس سره مې تر اخره لیدنه ونه شوه.

ددې منډو ترړو د دوام لپاره مې پیسو ته اړتیا وه، موضوع مې د ښاغلي پیر سید احمد ګیلاني سره شریکه کړه، په ډېر درنښت او مهربانۍ یې راته وویل چې خپله نه شي کولای په دې برخه کې مالي مرسته وکړي ان که په پور هم وي، ولې دا چې تاسو مستحق یاست هغه لګښتونه چې مجاهدین یې له کوم ادرسه پوره کوي له هغه اړخه به کومه چاره وکړم. نوموړي په ضمن کې دا هم وویل چې نور ګوندونه هم باید ستا ونډه په نظر کې ونیسي. دې مهربانه شخص په خپلې ژمنې وفا وکړه

او ما سره يې خپله مرسته روانه وساتله او زه يې په داسي دريځ کې وساتلم چې له هيڅ پردي حکومت، موسسې او ان ملګرو ملتونو څخه کومه مرسته ونه غواړم او وکولای شم چې په خپلواکه توګه خپل افکار د پرديو پر وړاندې ازادانه او په مړښت وساتم. د ښاغلي ګېلاني نيکي او ښه به هيڅکله هېر نه کړم، يو ورځ د لمر لوېدو نه وروسته د ښاغلي مجددي صاحب زوی د خپل پلار له لورې زما مېلمستون ته راغی او د هغه په استازيتوب يې ما سره د خدای په اماني وکړه او د نومورې له اړخه يې د سفر او لارې د لګښت لپاره "زر ډالره" راکړل. د اسلام اباد څخه په ملي الوتکه کې کراچۍ ته ولاړم او له هغه ځايه نړيوالې هوايي کرښې سره يو ځای شوم.

# د ملګرو ملتونو سازمان کې

له اټکل څخه لرې نه ده چې د پاکستان حکومت که د ضیاءالحق وي او که کوم بل حکمران او ډېر یا لږ د"Favoritism " پلوی نه وي، پایله یې د پېښور د ګوندونو د بې اتفاقۍ سبب کېږي. د ځینو نورو مجبوریتونو په خاطر هغه څه چې ما شاهنوازخان او صاحبزاده یعقوب خان ته وویل غوښتل مې که له جمهور رییس سره ملاقات وشي، هغه ته به یې هم ووایم چې خپل دې سیاست ته بدلون ورکړي، په ځانګړي ډول دا مسله که چېرې امریکا دې سیاست ته متوجه شي چې د میلیونونو انسانانو وینه، ژوبلېدل او د دوی مرستې عبث دي،

طبعاً دا روښانه ده چې امریکا به ناخبره نه پاتېږي او دې ټکي ته به متوجه کېږي. دا اټکل شونی دی چې د امریکا بهر او دننه بدلونونه به امریکا پاملرنې ته اړ باسي، که چېرې د یادو اټکلونو څخه یو هم ترسره نه شي، نو تر دې د بد حالت انتظار باید ولرو، چې تاوان یې په عاجله توګه مونږ افغانانو ته او په اوږدمهاله ډول پاکستان او امریکا ته رسېږي.

زه له پاکستان څخه امریکا ته ولاړم چې ربښتیني حقیقتونه هغو خلکو ته چې زه یې پېژنم او په ځانګړي ډول د ملګرو ملتونو د سازمان غړو ته وړاندې کړم. د جینوا د سیاسي خبرو د جوړښت نیمګړتیاوې ورته په ډاګه کړم، البته زما له لورې د ملګرو ملتونو غړو ته د پاکستان د هیلو، موخو او غوښتنو روښانه کول هرومرو په پام کې وو.

د ملګرو ملتونو د غړو ترمنځ دا ټکي مطرح وو چې امریکایان باید پرې پوه شي، چې د پاکستان د سیاست خطرونه څه دي او په خاص ډول د امریکا د ملاتړ سره لانور هم دا مسله د اهمیت وړ ده.

جین کرک پاتریک (Jeane Kirkpatrick) په ملګرو ملتونو کې د امریکا دایمي استازې وه. ما هغه نه پېژندله، اما د نورو خبیرو خلکو نظر د دې پوهیالۍ مېرمنې

په هکله زه نور هم وهځولم چې لیدنه ورسره بې ګټې نه ده او له هره اړخه ګټوره ده.

په همدغو هیلو ملګرو ملتونو ته ولاړم.

په ملګرو ملتونو کې زما پخوانۍ کاري دورې ته په پام او هغه حقونه چې مې درلودل ځکه یو وخت د عمومي اسمبلۍ رییس وم وتوانېدلم چې د سازمان په مانۍ کې یو څوکۍ ترلاسه کړم او په "لانج" کې د عمومي اسمبلۍ د جلسو د کوټې دباندې د مختلفو هېوادونو له استازو سره په خپلواکه توګه ناستې پاستې ولرم، بحثونه ورسره ترسره کړم. ما هڅه وکړه چې له دې چانسونو څخه ډېره زیاته ګټه پورته کړم. د دې استازو په منځ کې مې د امریکا، هندوستان، عربي ملکونو له دایمي استازو سره په خاص ډول د تونس له دایمي استازي سره په ځلونو لیدنې کتنې وشوې.

په ملګرو ملتونو کې مې د کوردوویز (Diego Cordovez, U.N. Special Envoy for Afghanistan) سره لیدنه وشوه چې یو بل څوک د پیکو په نوم هم حاضر و او د هغه د خبرو یادښت یې لیکه (دا شخص کله چې کوردو ویز په خپل هېواد کې د بهرنیو چارو د وزیر په حیث مقرر شو، نو دی په ملګرو ملتونو کې د افغانستان په چارو کې د سکرتر جنرال د ځانګړي استازي په توګه وټاکل شو چې په اصل کې د کوردو ویز ځایناستی غوره شو). په دې ناسته کې مې نوموړی پاکستان ته د خپل سفر له بهیره خبر کړ او هغه څه چې مې د پاکستان حکومت ته ویلي وو هغه مې هم ورته په ډاګه کړل، تر ټولو مهمه دا چې د پاکستان د پالیسیو په اړه مې معلومات ورکړل او ورته ومې ویل چې دوی د افغان مجاهدینو په منځ کې یوې ډلې ته تر بلې ډلې لومړیتوب ورکوي. د دوی موخې او غوښتنې مې ورته تشریح کړې، د افغانستان او پاکستان د اړیکو پر شالید مې رڼا واچوله او د دوی پر سیاسي غرضونو مې بحث وکړ. د جینوا په خبرو کې مې د افغانانو پر نه ګډون نیوکه او شکایت وکړ، زما خبرې یې چندان خوښې نه شوې په ځانګړي ډول دا چې د جینوا خبرې مې ګټورې ونه بللې،

نوموړی یې اغېزمن کړ. په ځواب کې یې راته وویل د نورو افغانانو نظریات چې زه اورم ستا له نظریاتو سره توپیر لري، ما ورته وویل ښايي نورو ستا د خوښې وړ خبرې کړي وي، خو زه غواړم چې د افغانستان ملي ګټې وساتل شي او حقیقتونه که څه هم ترخه دي باید وویل شي.

د هندوستان له استازي سره مې هم ټول موضوعات شریک کړل او د دوی د حکومت له چلن څخه مې شکایت ورته وکړ. زما څخه یې وپوښتل، ایا لومړي او یا د بهرنیو چارو وزیر ته مې مراجعه وکړه؟ ورته و مې ویل چې نه. ویې وویل چې په دې حالت کې ښايي د حکومت لوړپوړي چارواکي ډهلي ته ستا له راتګه ناخبره وي. ما په خندا کې ورته وویل چې که خبر نه وای نو زما په اړوند به یې د دومره ځارنې او سختۍ امر نه ورکاوه. په ظاهره یې د خواشینۍ اظهار وکړ. د هند د حکومت پالیسي په هغه وخت کې او وروسته د روسیې او د کابل د رژیم سره د دوی اړیکې ټولو ته څرګندې دي ویلو ته اړتیا نه لري.

په ملګرو ملتونو کې د امریکا د دایمي استازي سره په کتنه کې مې هغه ټول مسایل چې د پاکستان حکومت ته ویلي وو او هغه څه چې مې ضیاءالحق ته د ویلو لپاره چمتو کړي وه که چېرې ملاقات ورسره شوی وای، ټول وویل او بحث مو پرې وکړ. جین کرک پاتریک د لیدنې په پای کې خپل دوه سلاکاران را وغوښتل او ورته ویې ویل چې زما نظریات ولیکي. خپله د بلې لیدنې لپاره له دفتر څخه بهر ووتله. ما د پاکستان د هغه هوډلیک پر مسودې باندې چې دوی چمتو کړې او تربحث لاندې و د بدلون لپاره لس وړاندیزونه د امریکا استازولۍ ته وړاندې کړل، چې هغوی یاد موارد تر لوستنې او غور لاندې ونیسي. همدغه کار مې د چین، فرانسې او وروسته د برتانیې له دایمي استازو سره هم وکړ. په دې وخت کې د تصمیم نامې مسوده د یوې ځانګړې ناستې په لړ کې د اسیايي او افریقايي هېوادونو د استازو ترمنځ تر بحث لاندې نیول کېده. دا چې دې ناستې ته تګ د پاکستان له بلنې پرته ناشونی و (پاکستان بلنه را نه کړه) نو تعدیل نامه مې د تونس دایمي استازي ښاغلي

سلیم ته وسپارله. خپله یې موافقه ورسره وکړه او ژمنه یې راکړه چې غونډې ته به یې سپاري.

ښاغلي سلیم د ارواښاد ښاغلي منجي سلیم کشر ورور و. منجي سلیم یو وخت د تونس د بهرنیو چارو وزیر او بیا د عمومي اسمبلۍ رییس وو. د ښکېلاک پر وړاندې د تونس د مشهورو ازادي غوښتونکو فعالانو له ډلې څخه و. دا دوه وروڼه د خپلو خلکو ترمنځ په سپېڅلتوب او ازادي غوښتنې مشهور او محبوب و. د سلیم وروڼو (Salim Brothers) په نوم یې نېک سیاسي شهرت درلود او د ملي مبارزو شخصیتونو په نوم یادېدل. زه له نوموړي څخه ډېر منندوی یم او د منښې مراتب مې ورته وړاندې کړل. په خپله ژمنه یې وفا وکړه او وروسته خبر شوم چې د اسیایي او افریقایي هېوادونو ټولو استازو زما له تعدیل نامې څخه ملاتړ کړی و، خو یوازې پاکستان مخالفت کړی و، ځکه چې دوی د هوډلیک لیکوونکي وو او د دوی رد او تایید دواړو خپل ځانګړی ارزښت درلود.

له بله اړخه کله چې د امریکا دایمي استازي خپله بیانیه ورکړه، وامې ورېدل چې نوموړي زما د هغه سپارل شوي تعدیل نامې چې دده سلاکارانو ته مې ورکړې وه د ډېری کلیمو پرځای (ډېری بیانیې) استعمال کړې وې، چې دا چاره هیله بښونکې وه، نو په دې اساس د جین کرک پاتریک شخصي وضعه او د اورېدلو وړتیا د ستاینې او قدرونې وړ ده. زه د نوموړي د بیانیې له ختمېدو وروسته په عمومي اسمبلۍ کې دده څوکۍ ته ورغلم او مننه مې ترې وکړه.

تر یوه بریده کوم فرصت چې لاس ته راغی ظاهراً یو څه هیله بښونکی و، په تېره بیا زما په څېر شخص لپاره چې په اوړو کې ویښته لټوم. یو دروغجن امید یې راته پیدا کړ، دا یو څو داسې شیبې وې چې په نیویارک کې د اوسېدو په وخت له خپل ځانه راضي و اوسم. ما دا وموندل چې انسان هیڅ وخت باید په خپلو تجربو د غرور حس و نه کړي، ځکه داسې نیمګړې پیداشوي یو چې هر وخت شونې ده چې په ظواهرو تېرووځو، که چېرې داسي وشي نو اړینه ده چې خپله تېروتنه مهمه

تجربه وګڼو او زده کړه ورڅخه وکړو. کله چې د ټولو هیلو دروغ راته څرګند شول، نور یې زه بدبین کړم.

د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلي درې میاشتې او یا درې میاشتې او څو ورځې دوام کوي. زه د عمومي اسمبلۍ تر جوړېدو یو دوې ورځې مخکې نیویارک ته راغلم او د اسمبلۍ ترپایه هلته پاتې شوم. دلته دا خپله اخلاقي دنده ګڼم چې د غوره او هېواد غوښتونکي ځوان ننګیالي طرزي یادونه وکړم، په نیویارک کې یې زما د استوګنې تر پایه د هیڅ ډول مهربانۍ څخه سپما ونه کړه. نوموړی د اسلامي کنفرانس په دفتر کې کار کوي، هر کله چې به مې د کوم ملاقات د ترتیبولو او یابل کوم کار لپاره ږغ ورباندې وکړ، نو تل به په خورا ورین تندي او دوستانه چلن چمتو و. د نوموړي دا نېک چلن نه هېرېدونکی دی، سربېره پر دې یو متفکر شخصیت هم وو، نو ځکه مې دده له مشورو څخه هم ګټه اخېستله. لوی خدای پاک (ج) دې دده په څېر نور شخصیتونه هم ډېر کړي.

د اسمبلۍ تر پای ته رسېدو وروسته چې کومه هیله پیدا شوې وه لندن ته ولاړم، په لندن کې تر زیات فکر کولو وروسته، دې پایلې ته ورسېدم چې د هېواد ځینو پوه او د نظر خاوندانو ته لیک ولېږم، ترڅو یوه خپل منځي ناسته ترسره کړو ګوندې هغه لارې چارې عملي کړو چې د افغانستان د خپلواکۍ په بېرته اخېستلو کې اغېزمنې تمامې شي. په دې ډله کې ښاغلی ډاکټر محمدیوسف خان، ښاغلی صمد حامد، رښتیا، طبیبي او نور افغانان شامل وو. د دوی له اکثرو څخه مې مثبت ځواب ترلاسه کړ، ولې وروسته خبر شوم چې ښاغلي صمد حامد او ځینو نورو مخالفت ښودلی و او یو ګډ لیک یې هم نورو افغانانو ته زمونږ د غندلو په موخه لېږلی و. زه یوازینی څوک وم چې له نوموړي څخه مې په نېغه توګه په خپل نوم ځواب ترلاسه نه کړ. سره له دې چې ځینو خلکو راته وویل چې دده لیک ته باید ځواب ورکړم. ما ورته وویل چې دا کار نه کوم پرېږدئ حقیقتونه به خپله څرګند شي. همداسې وشو، وروسته ښاغلی حامد نیویارک ته راغی او دا هغه

وخت وو چې زه دویم ځل د پاکستان حکومت له خوا  تر ایستلووروسته  نیویارک ته راغلی وم. نوموړي راته وویل چې غلط فهمي شوې وه او اوس ښښنه غواړم. ما ورته وویل چې زه هیڅکله ښښنه غوښتل اړین نه وینم، دا مسله داسې انګېرم چې هیڅ نه دي شوي. د نظریاتو تر تبادلې وروسته اړیکې د دوستۍ او ورورګلوۍ په توګه جوړې شوې. د نوموړي د خبرو څخه تر ګټې اخېستو وروسته مو خدای په اماني وکړه، څه چې پیښ شول هغه داوو چې د افغانانو ترمنځ چې کومه ګډه ناسته او راټولېدنه په پام کې وه هغه ترسره نه شوه.

# د کډوال په توګه پاکستان ته زما دويم سفر

د پاکستان د حکومت په بلنه مې هلته تر لومړي سفر مخکې د لوېديځ المان په پلازمېنه کې د دوی د بهرنيو چارو په وزارت کې د لومړي سياسي مرستيال، عمومي سياسي مدير او نورو لوړ رتبه چارواکو سره ليدنې کتنې وشوې. هغه مطالب چې د دوی سره د خبرو په لړ کې مطرح شوي دي، د دې پاڼو په لړ کې څرګندېږي او تکرارولو ته يې اړتيا نشته. يو څه چې د يادونې وړ دي د افغانانو سره د المان د خلکو مينه ناکه خواخوږي ده. د هر چا څخه يې خبره په غور اورېدله او خواخوږي يې ور سره کوله، ماته يې وويل چې هر کله دې غوښتل المان ته راشې، څلورويشت ساعته مخکې له حرکت څخه زمونږ استازولۍ ته خبر راکوه، نو د راتلو او وېزې امکانات به درته چمتو کوو. زما د مننې او قدردانۍ مراتب د دوی له دې چلن څخه څرګند دي. په نيويارک کې د عمومي اسمبلۍ تر پای ته رسېدو (لکه مخکې چې مې اشاره وکړه) وروسته کومې هيلې چې راته پيدا شوې ان د ځينو افغانانو په را ټولېدو کې که څه هم ناکامي رامنځ ته شوه، خو بيا يې هم زه له خپل هوډ او هڅو څخه لاس په سر نه کړم، کوښښ مې وکړ چې له افغانانو سره خپلو دې هڅو ته دوام ورکړم، د دوی ډېری يې افغانستان ته نېږدې په پاکستان کې مېشته وو. نو په دې خاطر د دې پر ځای چې المان ته ولاړ شم او د دوی له ښې مېلمه پالنې څخه ګټه واخلم، هڅه مې وکړه چې پاکستان ته سفر وکړم.

يو شپه مې د ښاغلي مجاهد سيد احمد ګيلاني په کور کې د خبرو په لړ کې پاکستان ته د خپل تګ د نيت په اړه يادونه وکړه. د ګيلاني صاحب لور بي بي مريمې وويل چې د وېزې اخېستل ناشوني نه دي او له هغه ستونزو څخه چې په ډهلي کې د پاکستان سفارت راته جوړې کړې بايد وېره ونه لرم. بي بي مريمې په پاکستان کې له کوم مامور سره اړيکه ونيوله، (تراوسه هم نه پوهېږم چې هغه کس څوک و)،

په بریالیتوب سره یې وېزه راته واخېستله او ما هم پرته له ځنډه د پاکستان په لور حرکت وکړ.

د وېزې اخېستلو زه نور هم خوشبینه کړم او داسې تصور مې وکړ چې هلته زما په درې میاشتنۍ اوسېدنه، سفر او د دوی د پالیسیو سره چې ما کوم مخالفت کړی و، ښايي دا به د پاکستان د ځورېدو او خفه کېدو سبب نه وي شوي، ځکه پرته له کوم خنډ او ځنډ څخه یې پر وخت وېزه راکړه. په داسې حال کې چې په ډهلي کې یې زه ناهیلی کړم، چې ناچاره شوم (او لکه چې مخکې یې یادونه وشوه) لویدیځ المان ته ولاړم.

مخکې تر دې چې پاکستان ته د یوه عادي کډوال په توګه د خپل سفر جریان ذکر کړم د دوو موضوعګانو یادونه ګټوره ګڼم. په ملګرو ملتونو کې پوه شوم، کوم هېوادونه چې د افغانستان د قضیې چارې په واک کې لري، هغوی په اصولو نه بلکې په فروعاتو بوخت دي، ان د ملګرو ملتو د دارالانشاء پاملرنه یې له اصل څخه فرعې ته اړولې ده. له اصل څخه موخه د افغانستان د خلکو د برخلیک ټاکلو حق دی چې په ازاده توګه د دوی په خپل واک کې وي. له فروعاتو څخه مراد د بېلګې په ډول له پاکستان څخه د افغان کډوالو بېرته ستنېدنه ده، چې پاکستان غوښتل له دې مسلې څخه ډول ډول ګټې واخلي. د مهاجرو د دروند فشار اوازې او تبلیغات یې خپرول چې د نړۍ او افغانستان د مسلمانانو رضایت خپل کړي او د "بین المللي موسسو" لوېدیځو هېوادونو په ځانګړي ډول امریکا له لارې  ډېرې زیاتي نړیوالې مرستي راجلب کړي. د داسې ګټو اخېستلو لپاره دومره زیات تبلیغ وشو چې د ساده او عادي منطق خلکو یې علت او معلول هېر او له نظره وغورځول؛ یعنې هغه څه چې د افغانانو د کډوالۍ سبب شوي وو، هغه ته هیڅ پام ونه شي او له منځه ولاړ شي. کډوال طبعاً چې خپله خپل هېواد ته ورګرځي.

په دغسې غلطې پالیسۍ او بدې ګټې اخیستنې یو هېواد چې ځان یې دوست ګاڼه د داسې هېواد چې د شوروي تر یرغل لاندې وو او دی یې وکالت کوي، په داسې حال کې چې موکلین یې په نړیوالو ناستو او خبرو کې ان ډېر لږې شاوخوا هم نه پرېښودل، د دوی پالیسي دا وه چې تر اصل یې فرعې ته لومړیتوب ورکاوه او تصمیم لیکونه چې خپله یې پاکستان لیکوونکی و، داسې ترتیبول چې د افغانستان د برخلیک د ټاکلو حق په خپلواکه توګه خپله د افغان ولس په واک کې وي دا مهم ټکي به یې د تصمیم نامې د دیباچې په preamble کې ذکر کول، حال دا چې دا باید په لومړي پاراګراف او یاد دویمې برخې په پای کې راوړل شوي operative او پلي شوي وای. هغه هم باید په لومړي پاراګراف کې داسې لیکل شوي وای چې د شوروي ناروا یرغل په سختو ټکو غندل شوی او بد ګڼل شوی وای او پرته له شرطه یې له افغانستان څخه د وتلو غوښتنه کړې وای!

هغه څه چې ډېر د تعجب وړ دي هغه دا دي چې هیڅ یو له هغو هېوادونو څخه چې ځانونه یې د افغانستان دوستان ګڼل په خپلو خبرو کې یو تاریخي حقیقت هم چې د ملګرو ملتونو په پاڼو کې ثبت دی یاد نه کړ، نو په دې خاطر دا ټکی باید د خپلو هېوادوالو د خبرونې لپاره دلته درج کړم (د اثبات لپاره دې د ملګرو ملتونو د درېمې کمېټې رېکارډونو ته مراجعه وشي (Social Humanitarian and Cultural Third Committee, General Assembly, U.N.)

د برخلیک ټاکلو حق د ملګرو ملتونو د منشور تر لیکلو مخکې یو سیاسي اصل و، کله چې دا منشور را منځ ته شو د یو اصل په توګه درج شو.

هغه وخت چې ما په لندن کې دنده ترسره کوله او د عمومي اسمبلۍ د جوړېدو په وخت کې به مې د افغاني پلاوي د غړي په توګه ګډون کاوه. په هغه موده کې د ملګرو ملتونو اوسنۍ ودانۍ د منهتن "نیویارک" په ښار کې نه وه جوړه شوې. د عمومي اسمبلۍ ناسته به د نیویارک ښار څخه دباندې په "فلشاڼګ" کې ترسره

کېدله، په دغه وخت کې ما د اسمبلۍ په درېمې کمېټې کې د افغانستان استازیتوب کاوه (درېمه کمېټه، د اقتصادي، کلتوري او ټولنیزو حقونو کمېټه وه).

د افغانستان د استازي په حیث مې وړاندیز وکړ، چې د دوو بشري او حقوقي کنوانسینونو د تسوید په وخت کې باید د خلکو او ولسونو د برخلیک ټاکلو حق د حق په توګه وپېژندل شي، ثبت او ولیکل شي. دا وړاندیز ډېر لنډ او ساده دی "ټول خلک او ولسونه د خپل برخلیک د ټاکلو حق لري":

(All peoples and nations have the right to self-determination)

ښه مې په یاد دي کله چې د دې وړاندیز د منځپانګې کاغذونه وویشل شول، مخکې له دې چې زه یې پر محتوا وغږېږم د څو شېبو لپاره د کمېټې په ناسته کې یوه ژوره چوپتیا خپره شوه. وروسته ما د دې  وړاندیز د تصویب او اړتیا په اړه خبرې وکړې او کله چې مې بیانیه پای ته ورسېده جوخت ورسره د پخوانیو ښکېلاکي هېوادونو استازو او اوسنیو استعمارګرو هېوادونو خپل مخالفت او نیوکې پیل کړې.

د ټولو دلیلونه داوو چې دا موضوع هم د ملګرو ملتونو په منشور او هم د بشر حقونو په نړیواله اعلامیه کې یاده شوې ده او د بشر حقونو په دې کنوانسیون کې باید درج نه شي، ځکه بیا یادول یې په اصل کې د هغو دوو مهمو سندونو (د ملګرو ملتونو د منشور او د بشر د حقونو نړیوالې اعلامیې) تر پښو لاندې کول دي. دا چې د دې  مسایلو بشپړه یادونه د دې  لیکنې تر حوصلې لوړه خبره ده، نو هغه دوستان چې یې اورېدلو او لوستلو ته لېوال دي، زه ورته د ملګرو ملتونو د ثبت شوو رېکارډونو حواله ورکوم، چې هلته هم په لنډیز او هم په بشپړه توګه ان لفظ په لفظ بیان شوي دي.

د هغې ورځې د جلسې تر پای ته رسېدو وروسته مې بیا هم د تېر په څېر د مختلفو هېوادونو له استازو سره اړیکې ونیولې او هڅه مې وکړه چې هغوی له مخالفت

څخه وګرځوم او کومو هېوادونو چې تراوسه خپل مخالفت نه وو څرګند کړی هیله مې ترې وکړه چې مخالفت ونه کړي. خو زما هڅې ناکامه وي او هیڅ هیله بښونکی ځواب مې ترلاسه نه کړ. یوازنی استازی چې راته وېې ویل پرموضوع به مثبت فکر وکړي، د سعودي عرب استازی جمیل برودي مرحوم وو. جمیل برودي اصلاً د لبنان هېواد د نصارا له خلکو څخه وو، خو خپل عمر یې د عربي شاهي خاندان په چوپړ کې تېر کړی و او په وفادارۍ سره یې خدمت ورته کړی و. د هغوی د لوړ پوړو چارواکو باور او ډاډ یې ترلاسه کړی وو، نوموړی د شاهي کورنۍ د زلمیو ښوونکی، پالونکی او د مشرانو مشاور یې و. شاه او شهزاده ګانو چې په ماشومتوب کې د نوموړي شاګردان وو، ډېر درناوی یې ورته درلود. دغه قدر او درناوی تر دې حده و چې برودي د عربو د مرکزي حکومت څخه لارښوونې او امر اخیستلو ته اړتیا نه درلوده او څه چې به یې خپله په خیر ګڼل د همغه مطابق یې رایه ورکوله.

د هغې ورځې په سبا راغی او راته وېې ویل چې غواړي زما د وړاندیز ملاتړ وکړي، نوم یې د وړاندیز په پاڼو کې د وړاندیز کوونکي (Sponsor) په توګه درج شو. ما له نوموړي څخه مننه وکړه او په زړه کې ډېر زیات خوشحاله شوم. جمیل برودي مرحوم پر خپله ژمنه وفا وکړه، د برخلیک د ټاکلو ( Self -determination) پر حق بحث اوږد شو او ټولو هېوادونو برخه پکې واخیستله (د ملګرو ملتونو ریکارډونو ته دې مراجعه وشي). د لاتینې امریکې هېوادونو په حیرانوونکي ډول د موضوع پر اهمیت بحث وکړ، رښا یې پرې واچوله او وړاندیزونه یې وکړل.  چې د افغانستان د وړاندیزونو د پراختیا د زمینې پر بنسټ وو، یعنې وېې ویل چې دا حق یوازې په سیاسي، کلتوري او ټولنیزو حقونو پورې محدود نه دی، بلکې د بشر د حقونو ټولې برخې ځان کې رانغاړي او په دویم کنوانسیون کې چې اقتصادي حق پکې شامل دی، باید په برابره توګه وپېژندل شي. شمېر یې نسبت ښکېلاکګرو هېوادونو او پلویانوته زیات و او دریځ یې هم د ډېری وړو او درېمه درجه هېوادونو

لپاره حيرانوونکی او په زړه پورې و، نو ځکه د (Self-determination) وړانديز ډېرې راپې واخېستې او تصويب شو او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو په دواړو کنوانسينونو کې د لومړۍ مادې په توګه درج شو.

موخه دا ده چې پر افغانستان د شوروي تر يرغل وروسته چې په پايله کې يې ټول سياسي، ټولنيز، کلتوري او اقتصادي حقونه ورنه واخېستل، د افغانستان ظاهري دوستانو، د خلکو او ولسونو په ځانګړې ډول د دې هېواد (افغانستان) دې حق ته اشاره هېره نه کړه، اما په ناګارۍ کې يې تر پښو لاندې کړ، نورو وړو هېوادونو هم د افغانستان د دې هيله درلودونکو هڅو څخه، چې د دې انکار نه منونکي حق په موخه وې يايې استفاده ورڅخه کوله او يا يې چې د استفادې کولو کوم چانس درلود، نو وېې کاراوه، يوازې د ډېرو خبرو پرته نور يې د افغانانو د مبارزې په برخه کې هيڅ کوښښ او ملاتړ ونه کړ.

# په اسلام اباد کې هڅې او کوښښونه

الوتکه کراچۍ ته ورسېده او اسلام اباد ته د تګ لپاره باید بدله شوې وای. دا چې دا ځل د یوه عادي کډوال په توګه راغلم، په کراچۍ کې مې لکه د تېر ځل هغسې مېلمه پالنه ونه شوه، تر یو لنډ ځنډ وروسته د اسلام اباد لور ته وخوځېدم. د اسلام اباد هوايي ډګر ته ښاغلی عظیم ناصر ضیا راغلی وو، ښاغلی عظیم د مرحوم عطاالله ناصر ضیا زوی دی او عطاالله ناصر د (مرحوم امیر شهید حبیب الله خان) د ورور (سردار نصرالله خان) د غازي امان الله د کاکا، زوی وو. ناصر ضیا مرحوم د بهرنیو چارو د وزارت د مامورینو له ډلې څخه وو او کله چې زه د بهرنیو چارو وزارت عمومي سیاسي مدیر وم، د سیاسي مدیریت د یوې څانګې مدیر وو. ناصر ضیا مرحوم یو ښکلی او باذوقه سړی و او په څو ژبو (انګیسي، فرانسوي، ایټالوي، الماني اندي، روسي او اردو) یې خبرې کولې او په انګلېسي یې په لوړه کچه لیکل کول. د ژبو په زده کولو کې یې ځانګړې وړتیا درلوده د خپلې دې وړتیا څخه یې غوره ګټه اخېسته، زما له شخصي دوستانو څخه وو، په بهرنیو چارو وزارت کې د همکارۍ ترڅنګ مو په شخصي ژوند کې هم ښې دوستانه اړیکې درلودې. له نوموړي څخه ډېرې ښې خاطري لرم چې پرته له دعا نه شم کولای یادې یې کړم. د هغه له وفات څخه وروسته طبعاً چې زامنو یې ماته ځانګړی درناوی درلود او هغوی هم زما او د خپل پلار مرحوم په ملګرتیا خبر وو. کله چې په هندوستان کې د افغانستان لوی سفیر وم عظیم ناصر ضیا، په ډهلي کې په لوړو زده کړو بوخت وو او (د درسونو څخه مو په فارغ وخت کې) دوستانه لیدنې کتنې کولې، چې واقعاً ډېرې ښې تېرېدلې.

د هغه له لیدو څخه ډېر خوشحاله شوم، نوموړي په هغه وخت کې د ښاغلي ګیلاني په ملي مجاهد ګوند کې د ویاند په توګه کار کاوه. زه یې له هوايي ډګره هغه هوټل ته یوړم چې زما لپاره یې کرایه کړی و او هره ورځ به یې زما احوال اخېسته.

په اسلام اباد او راولپنډۍ کې ځينې اوسېدونکي افغانان هوټل ته راتلل او له خبرو اترو څخه به مې يې ګټه اخېستله. هغه څوک چې له پېښور څخه راتلل هغوی هم په ځانګړې پاملرنه احوال اخېسته او پوښتنه به يې کوله.

دا چې په اسلام اباد کې د حکومت له لورې ما سره اړيکه ونه نيول شوه، ډېر خوښ او راضي وم، ځکه د وخت د حکومت په سياسي موخو، غوښتنو او غرضونو ډېر ښه پوهېدلی وم او له دوی څخه مې د خير رسولو هيڅ تمه نه درلوده. دا چې پاکستان ته زما د دويم ځل تللو په پيل کې يې زيان نه دی رارسولی راضي وم. خو يو څه چې کله کله به د اواره ګۍ د انديښنو او خاموشه فکر کولو په وخت زما ذهن ته راتلل هغه دا و چې د پاکستان د مطبوعاتو کسانو د خپل عادت په خلاف چې تل يې نږدېوالی کاوه دا ځل يې لرېوالی غوره کړی و. دا ګومان چې ممکن دوی به د حکومت له لورې منعه شوي وي، د باور وړ وګرځېد. داحالت ښه نه و، چې د يوه عادي کډوال لپاره دې هيله بښونکی وي. په هر صورت يو کډوال چې خپلو خلکو ته ورځې او په نږدېوالي يې خوښ وي، که حقيقت خوښوونکی وي، له پرديو څخه د تمو کولو مخه نيسي. هغه افغانان چې په اسلام اباد او يا د پاکستان په نورو سيمو کې اوسېدل د هغوی پاملرنه او لېوالتيا خورا هيله بښونکې وه او ټولې ناهيلۍ او ستونزې يې جبرانولې. ځينو هغو افغانانو چې دا فکر کاوه چې ښايي زه په اسلام اباد کې پاتې کيږم او استوګنه غوره کوم نو هغوی د دې لپاره راتلل چې ما پېښور ته د تګ لپاره وهڅوي او يا لږ تر لږه د مېلمه په توګه بلنې راکړي. ما به ورته ويل چې زه يوازې (اسلام اباد) ته د لارې په اوږدو کې راغلی يم او ځم استوګنه به په پېښور کې کوم. له دې خبرې به ډېر زيات خوښ شول.

(دا ځل) په اسلام اباد کې زه په دې ډاډمن شوم چې نه يوازې زه غواړم چې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره يوځای واوسېږم، بلکې د دوی هم دا هيله وه چې زه به يوځای ور سره اوسېږم. دا هيله او لېوالتيا دومره زياته وه چې په دې برخه کې يې د لارې له هر ډول خنډ څخه نفرت کاوه، که چېرې يې په الفاظو کې نه ياداوه مانا

يې دا نه وه چې په هيڅ ډول يې نه پټاوه. يو ځل بيا دا حساس او مېړني خلک يو لوی ګډ غم او کړاو سره يو ځای کړي وو، دا اړيکې داسې سره پېيلې وې، چې شلېدل يې ناشوني وو. د افغانستان دوښمنان هم په تاريخ او هم په اوسني وخت کې د افغانانو په دې پيوستون پوهېدلي وو او تل يې په خپل ټول توان دا هڅه کړې چې د دوی ترمنځ درز او بې اتفاقي رامنځ ته کړي. سره د دې چې کله کله يې له دې لارې په لومړيو کې برياليتوب ترلاسه کړی دی، خو په اخر کې يې ناکامي په برخه شوې ده. دا چې دا ځل به څه پېښېږي، خدای تعالی (ج) ته څرګنده ده، ولې هيلې به له لاسه نه ورکوو.

که په لوېديځ کې يو، که په ختيځ کې، د دنيا په هر ګوټ او هر ځای کې چې اوسو، زه په دې عقيده يم چې د هستۍ پر نړۍ که په هر زمان او مکان کې يو او په هر ډول حالاتو او شرايطو کې چې و اوسو، يوازې او يوازې دوې ريښتيني قوې دي چې يوه يې د خدای تعالی (ج) پاک او لايزال ذات او تر هغه وروسته خلک دي. په خدای تعالی (ج) توکل او په خلکو باور د ټولو په خير دی او په بلې هرې قوې ډاډ تېروتنه ده او بس. دغه چاره پر هر څه خو په ځانګړې توګه د سياست او حکمرانۍ په برخه کې صدق کوي، چې د مدني انسان د ژوند له پيل څخه تراوسه يې بدلون نه دی کړی او په راتلونکي کې به هم همداسې وي.

زه هيڅکله د دې عقيدې څخه په لمسولو د نورو څخه د پيروۍ لپاره تمه او هڅه نه کوم. يوازې خپله ټينګه عقيده ثبت او بيانوم. په اصل کې دا راته ستونزمنه ده چې په عقيده کې تقليد او پيروي وکړم. عقيده بايد د بنسټ او ضمير له ريښې څخه منشا واخلي.

له دې عقيدې سره يوځای داهم بايد ورزياته کړم، چې نن د روس امپراطوري چې ظاهراً د "شوروي اتحاد" په نوم يادېږي، دا په حقيقت کې هغه څه دي چې لېنن د هغې نسبت د "زارها" دورې ته کوی. لېنن به ويل چې د زار امپراطوري د ملتونو يو زندان دی. دا خبره هغه خلکو ته چې د زار امپراطوري يې تشکيلوله حقيقت

ښکارېده، خو نوموړي دا نيوکه د خلکو د تېرايستنې او خپلولو لپاره د هغه څه پر اړه چې دده په نظر کې و، کاروله او کله چې يې واک ترلاسه کړ، دې زندان بدلون ونه کړ، بلکې دېوالونه يې لا هم لوړ شول او د دې لوړو دېوالو په منځ کې بهرنۍ خونړۍ پېښې ان د باور تر کچې پورته بندۍ شوې.

له يو پلوه له خدای تعالی (ج) څخه انکار او له بله اړخه خلکو ته پر دردونو، زجرونو، ربړونو او ناخوالو جواز ورکول عملي شول، عقيدې او نظرونه، ماده او معنی، وجدان او ضمير او د بشر اسارت نه منونکی روح، د دماغ په مختل کوونکو وسيلو، معنوي وژلو او روحي له منځه وړلو د بربادۍ او ورکونې حال ته ورسېده.

د خدای تعالی (ج) د عبادت ځايونه وتړل شول او پرځای يې د زورواکو او ستمګرانو بنده ګي دود کړله. يو تاريخ ليکوونکي وليکل چې دومره روحانيون يې و وژل که چېرې يو وخت معابد خلاص کړۍ نو يو کشيش به هم نه وي چې په کليسا کې د عبادت کوونکو د عبادت مراسم ترسره کړي.

دا هغه ظلمونه وو چې دوی د روسيې پر خلکو چې خپل يې هم ګڼل ترسره کړل. کوم ظلمونه چې دوی د خپل ښکېلاک تر جغ لاندې پر خلکو وکړل هغه د بيانولو تر کچې لوړ دي، د تصور او پرتلې تر پولو اوړي.

ښه مې په ياد دي کله چې علامه صلاح الدين سلجوقي د لسان الغيب حافظ شېرازي په فال کتلو کې زما پوښتنې ته ځواب وايه، په خپلو خبرو کې يې وويل (چې کټ مټ مې هغه الفاظ هېر دي) دغه ټولې عقيدې د انسانانو د هغو تمو څخه پيداکېږي چې دوی يې اورېدل او لوستل غواړي او غواړي چې فکر او تخييل پکې وکړي، هلته نو تر دې اندازې عقيده او ايمان پرې راوړي چې په خپل باور کې ورک شي. استاد وويل چې په اسلام کې (فال نيول) جايز نه دی. تفکر او فلسفه يې هم نه مني اما ډېر زيات شمېر خلکو په مختلفو وختونو، کلتورونو او مکتبونو کې په

هغه باور لرلی دی، ځکه د انسان ډېری هیلې د امیدونو په زېرو کې نغښتې دي او هغوی تخیيل نېک فال نیولو ته هڅوي.

زه چې کله د "ریګویدا" په مطالعه بوخت وم او د هغې ځینې برخې مې دري ته ژباړلې، (د افغانستان مشهور مورخ ښاغلي مرحوم احمد علي کهزاد د هغې ژباړې څخه په خپلو اثارو کې ګټه اخیستې او په پاوروقیو کې يې د ماخذ یادونه هم کړې ده)، په ریګویدا کې مې لوستل چې د کارغه غږ د خوښۍ د رارسېدو زېری دی. دغه فال نیونه تر زرهاوو کلونو وروسته هم زموږ د عامو خلکو ترمنځ ژوندۍ ده او کله چې د کارغه غږ واوري درې ځله وایې" ښه خبر، خوله دې له بورې ډکه" او عام وګړي په دې توګه د خوشحالۍ زېري ته په ساعتونو انتظار ناست وي او خپلې ناهیلۍ او خفګانونه له دې لارې څنډې ته کوي. له ځانه سره مې فکر وکړ چې داځه پروا کوي چې که خرافات د هیلو سبب وګرځي نو مخه يې ونه نیول شي نسبت هغه حقیقت ته چې د ناهیلۍ سبب کېږي.

د دغه عقیدې پربنسټ چې ظلم او ستم بې ثباته دی او خلک ثبات لري ما یو غزل ولیکه چې د کډوالو په یوه خپرونه کې چاپ شو او وروسته تر ډېر وخته مې بیا ولوسته. له هېواده د لریوالي، د خلکو د وژنې د وطن د ورانېدلو او په ځانګړي ډول هغه خطر په اندېښنه کې چې د افغانستان دین، کلتور، دود او دستور ته متوجه وو له دردونو په ډک زړه او له هیلو څخه په خالي ذهن کې ویده شوم. د خوب په نړۍ کې مې یوه مصرعه ولیکله چې راویښ شوم د هغې د وزن او قافیې پر بنسټ مې غزل ولیکه. د کډوالو په خپرونه کې د دې غزل لوستلو زما پام دې ته راواړاوه چې کوم خوب چې مې لیدلی و دا مې هغه ته د روح ځواب وو چې کله، کله د خوب په ډول جلوه کوي. هغه رویا مې په یوه خوشالوونکې خوب سره تعبیر کړه او داسې خوشالي مې حس کړه چې تر ډېره یوې ناڅرګندې او مبهمې هیلې ته ورته وه. هغه مصرع دا ده:

***موج اگر نتوان شکستنش ناخدا خواهد شکست***

وروسته تر دې چې ګورباچوف ( Mikhail Gorbachev, Soviet President) د روسيې ناخدا د هغه هېواد لويه کښتۍ د ورانوونکو څپو څخه د ژغورلو په پار د اقتصادي کړکېچ او عمومي افکارو له لوی سېلاب څخه د کمونيزم د ساتلو لپاره د ظاهراً دموکراسي مطلوب خو ناڅرګند ساحل ته راوړه، خپلو خلکو ته په چل ورکولو او نړيوالو ته د مادي مرستو د ورکولو په ژمنو صحنې ته راغی، نو د ناخدا په لاس د کښتۍ ماتولو الهام راته د داسې مفهوم جلوه راوړه چې تخييل يې د خوب له نړۍ پرته د تصور وړ نه وو.

په هر صورت په دې سفر کې مې له يو شمېر افغانانو سره ليده کاته وشول چې ځينې مې مخکې پېژندل او ځينې مې په لومړي ځل وپېژندل. له هغې ډلې څخه يوازې د ځينو نومونه دلته يادوم. يو له هغو خلکو څخه مرحوم جنرال غلام عمر علومي وو چې په اسلام اباد کې د کډوال په توګه استوګن و، نوموړی زما د پخواني او صميمي دوست مرحوم غلام علي کريمي ورور و. د حبيبي لېسې له زده کوونکو څخه و. خپلې لوړې زده کړې يې په امرېکايي لبنان دارالعلوم کې ترسره کړې وې، د پاک زړه خاوند او متقي مسلمان و. فکرونه او هيلې يې د قدر وړ دي، له خپلو خلکو او هېواد سره يې زياته مينه درلوده. د قضايه قوې غړی و او د هرې لارې چې شونې وه دې ته يې پاملرنه کوله ترڅو د خپلو خلکو د ضايعه شوو حقونو څخه دفاع وکړي او د مسؤولو چارواکو تر غوږونو يې غږ ورسوي. خدای تعالی (ج) دې نوموړی وبښي.

جنرال غلام عمر يو سپاهي سړی و، خو سياسي اخلاق يې درلودل، يو کډوال مجاهد و.

يو سړی مې د لومړي ځل لپاره په اسلام اباد کې په هغه مېلمستيا کې وليده او ورسره اشنا شوم چې مجاهدينو د ښاغلي پيرسيد احمد ګيلاني صاحب په کور کې جوړه کړې وه. متفکر، مجاهد او هيله من ځوان و د لودين په نوم چې وروسته په شهادت ورسېد. ارامې ولې متفکرانه خبرې يې کولې، پوهه يې يوازې په کتابونو

پورې محدوده نه وه، خپل خلک او چاپېریال یې هم تر یوه بریده پېژاندل. د نوموړي له پېژندنې څخه مې ښه اخېستنه وکړه او وروسته چې زه له پاکستان څخه واپستل شوم او هغه هم متعصبو خلکو په شهادت ورساوه. پوه شوم چې د نوموړي پېژندنه تر دې لا زیاته شونې نه وه. د نوموړي مرګ زه د بهاءالدین مجروح تر مرګ چې له پخوا څخه مې له نږدې پېژانده کم ونه دردولم. خدای تعالی (ج) دې دوی دواړه د نورو مبارزو مجاهدو شهیدانو سره یوځای په خپل رحمت او جنت کې ارام ولري.

په اسلام اباد کې د ښاغلي سید مخدوم رهین سره هم اشنا شوم، په هغه هوټل کې مو ځای درلود او د ښاغلي فروغ سره مې هم خبرې وشوې. ښاغلی رهین مې د یو محافظه کار، سازش کوونکی او کمپرومایز (compromise) ځوان شخصیت په توګه وموند. ډېر یې د شعر او ادبیاتو په اړه خبرې کولې، نو په دې خاطر زما اخستنه له نوموړي څخه د نورو سره دده د خبرو کولو د طرز له اورېدو څخه تراوسه پاته ده، د پاکستان څخه د باندې هم زما لیدنو له نوموړي څخه د همغه لومړنی انتباه په اړه بدلون نه دی کړی، په شعر ښه پوهېده او د ادب سره یې ډېره لېوالتیا درلوده.

په اسلام اباد کې مې ډېری ملکي او نظامي افغانان وپېژندل. د اسلام اباد د دې ځل سفر فضا ډېره ښه وه، په ځانګړي ډول دا ځل د حکومتي تشریفاتو څخه فارغ وم، ډېر د ارامۍ احساس مې کاوه، د افغانانو په منځ کې ښاغلي ګېلاني او د نوموړي د درنې کورنۍ غړو په ځانګړي او رښتیني ډول زما سره محبت او مهرباني وکړه. د دوی د کورنۍ له مشر او کشر څخه یې منندوی یم او ښې خاطرې ترې لرم. په ځانګړې توګه چې د ژوند په تېرېدو (هغه هم د کډوالۍ او تنګلاسۍ په موده کې) د هر ډول لوړو او ژورو په راتلو لکه چې د ځینو خلکو چلن بدلون کوي د دوی چلند بدلون ونه کړ او په یو ډول و. دغه ډول صفتونه په اشخاصو او په ځانګړې توګه

د یوې کورنۍ په ټولو غړو کې ډېر نادِر او د هر ډول ستاینې وړ دي. خدای تعالی (ج) دې دوی ته نېکه بدله او اجرونه ورکړي.

یو څه چې زه یې نا ارامه کولم، هغه دا وو چې د ځینو افغان دوستانو له خوا پوه شوم چې د پاکستان د حکومت پولیس د جامو په بدلون کې زما څارنه کوي. د دې بد چلن سبب هیڅکله ماته څرګند نه شو. دغه ډول بدګماني که د وېرې له کبله وي هیڅ معنی نه لري ځکه زه نه د پاکستان مخالف او بدغوښتونکی وم او نه مې دا توان درلود چې دوی ته ډار رامنځ ته کړم.

البته زما او د پاکستان د حکومت ترمنځ د نظر اختلاف شتون درلود او د دوی د حکومت له چارواکو څخه مې نه دی پټ کړی (د بهرنیو چارو په وزارت کې مې) په ډاګه ورته څرګند کړی دی. زما په اند د ملي ګټو پر ساتلو زما ټینګار په هیڅ وجه له پاکستان سره د مخالفت په معنی نه و او نه به هم هیڅکله وي. زه بیاهم په بشپړ صراحت وایم چې زما په حق کې د پاکستان بدګماني او دوام به یې هیڅکله هم ما د خپلو ملي ګټو د ساتنې څخه په شا نه کړي او دا ډېره چټي او عبث خبره ده چې د یوه مسلمان ګاونډي هېواد حکومت، د اسلام په سپېڅلي دین کې د ظن المومنین له صفت څخه په ګټې اخېستنې، د یوه مسلمان په حق کې تغافل او تجاهل وکړي. خدای تعالی (ج) عادل ذات دی او زه هر څه د هغه عدالت او نیاو ته سپارم، توکل مې په الله (ج) دی.

ښاغلي پیرسید احمد ګیلاني د خپل کور په غولي کې مجلسونه کول چې په هغو کې د پېښور او اسلام اباد ځینو افغان اوسېدونکو برخه اخېسته او ماهم په دې ناستو کې ګډون درلود. د هغو افغانانو سره چې نه مې پېژندل په دې مجلسو کې ورسره اشنا شوم دا د دې ناستو ګټه وه او د دوی د ګټورو نظرونو څخه مې ګټه پورته کوله. له ګډونوالو سره په لیدنو کې هم د عالِم او هم د امی سره لیدنې کتنې کېدلې. د علماوو په منځ کې روښن فکره او دنیا لیدونکي ځوانان هم موجود وو، ولې ما د امي او نالوستو وګړو څخه هم ګټه اخېستله.

---

د افغانستان د سیاسي مسایلو په هکله د افغانستان د عامو خلکو شعور او د خیر او شر په اړوند د دوی پوهه ډېره حیرانوونکې لوړه او عالي وه. د دې ډلې تحلیل او شننه په دې کچه ژوره او حقیقت خوښوونکې ده چې د تصور له دایرې وتلې ده. زه تل په هېواد کې دننه د خلکو له پوهې څخه په ګټنه کې وم، ولې په کلونو له وطن څخه لرېوالي له دې ګټې څخه بې برخې کړی وم او زما دا لېوالتیا او مینه چې د عامو خلکو له پوهې څخه فیض او ګټه واخلم د دې سبب وه چې زه باید په بشپړ ډول دوی ته غوږ ونیسم او زده کړه ورڅخه وکړم.

د ګېلاني سره زما پېژندګلوي بې سابقې نه وه. په لومړي ځل مې نوموړی د باقي جان په کور کې چې دده «خسر» هم و په کابل کې ولید. دده قدرمن پلار ښاغلی نقیب صاحب مې له ده مخکې پېژانده، زه په هغه وخت کې چې پیر سید احمد ګېلاني سره مې پېژندګلوي وشوه د بهرنیو چارو په وزارت کې مامور وم او تازه مې په لندن کې د اتشې په حیث دنده پیل کړې او مقرر شوی وم. باقي جان مې پېژانده، د پیر سیداحمد ګېلاني سره مې له همهغې لومړنۍ ورځې لیدنې څخه ښه اخېستنه وکړه او تراوسه پر ځای ده.

ښاغلی نقیب صاحب ډېر نفوذ لرونکی او په عین وخت کې جالب شخصیت و. زما پلار او کورنۍ د شوربازار د حضراتو (مجددي د کورنۍ) اخلاصمند او عقیدتي وه او له هغوی سره یې د معنوي عقیدې ترڅنګ دوستي هم درلوده. زما پلار د نورالمشایخ مرحوم فضل احمد مجددي (د هرات د حضراتو) د ډېرو نېږدې دوستانو څخه و. زما د پلار تر وفات وروسته هم ښاغلي نورالمشایخ زمونږ د کورنۍ او شخصاً ما سره خپلو اړیکو او مهربانۍ ته دوام ورکړ او له دوی څخه ډېرې ښې خاطرې لرم چې په دې لنډه لیکنه کې یې یادونه نه ځایېږي.

سرېره پر دې زه د ښاغلي نقیب سره پېژندګلوۍ او مجلس ته هیله من او لېوال وم. په ځانګړي ډول په هغه وخت کې نوموړی د خپل وخت له مهمو شخصیتونو څخه و، چې د اخلاقي، سیاسي او ټولنیزو ستاینو او غندنو څخه برخمن و، په هره

کچه خلکو هغه ته ډول ډول نسبتونه ورکول. زما په څېر د علم طالب ته دا اړینه وه چې له هرې شونې لارې په ګټې اخېستو حقیقت ځان ته څرګند کړي، یوازنی کس چې د ښاغلي نقیب صاحب د شخصیت په اړه او ردیف کې و هغه مرحوم نورالمشایخ و، نو ځکه غوارم چې پر دې موضوع لږ په تفصیل وغږېږم او هغه څه چې په تېر کې پېښ شوي او ما لیدلي هغه تا (فرهاد) ته ووایم. ښایي چې د دې موضوع سره اشنایي یوه ورځ ستا په درد وخوري او که چېرې په درد وهم نه خوري زیان هم نه ورځخه اټکل کېږي.

د ژمي په موسم کې زه معمولاً د کال د رخصتیو څخه په استفادې له کابل څخه ننګرهار ته تلم او د باغوانۍ د ژمي له ښکلې هوا څخه به مې ګټه اخېستله. باغواني یو کوچنی کلی دی چې زما د نیکه د پیدایښت ځای دی. د ښار شمال خواته بالاباغ او سهیل ته یې برینه واقع ده. په شمال کې یې د سرخرود سیند او سهیل خوا ته یې د چشمه زار دښته ده، چې له باغباني څخه فتح اباد ببلوي. د فتح اباد په شمال کې نمله (د خوګیاڼیو اړوند سیمه) واقع ده. نمله د باغباني سره د خوګیاڼیو تر ټولو نږدې برخه ده.

ښاغلي نقیب صاحب د  چهارباغ صفا په څنګ کې چې په (سرخرود کې پرته ده) ځمکه، کلا او باغ درلودل چې د هغه په نوم یادېدل. د نقیب صاحب د اوسېدو ځای له باغباني څخه کابو شل میله واټن لري، نو په دې خاطر په عامیانه اصطلاح یو له بل سره وطنداران وو.

ددې سره زما مرحوم پلار، د کورنۍ نورو ژوندیو غړو او شخصاً ما  د ښاغلي نورالمشایخ صاحب (د شوربازار حضرت) سره هم ښې اړیکي درلودې. هر کال چې به په ژمي کې باغباني ته راتلم یو، دوه ځله به د نقیب صاحب دیدن ته ورتلم او هغه مرحوم به هم ماته د لیدنې وخت راکاوه. دغه لیدنې به کله د نوموړي په کور او کله په باغ کې د قدم په وهلو سره ترسره کېدې. نقیب مرحوم به په معتدل او ظریف ږغ خبرې کولې. د هغه چلن هم په ناسته ولاړه کې قرار، ظریفانه او په

درنښت و. نرمه موسکا يې تل پر شونډو ښکارېدله، اما په لوړ ږغ او قهقه خندا يې زما په ياد نه ده. دا هغه ځانګړنې او ښېګڼې دي چې د يوه متقي مسلمان په شخصيت کې ليدل کېږي او د هغه د حالت د بيانولو په وخت کې ويل کېږي، چې د مسلمانۍ د ښو خصلتونو او ادبونو څخه ګڼل کېږي. نقيب صاحب د عفيف کلام او ښو ويلو خاوند و. طبعاً زه نه شم کولای چې د نقيب صاحب عليه رحمه د ستايني څخه ډډه وکړم. بايد ووايم چې دې سرې غيبت نه کاوه خپله ژبه يې په ښکنځولو نه چټلوله دا چې انسان په ټولو مخلوقاتو کې غوره دی د وقار او عفت له مقامه يې ځان نه ټيټاوه.

زما دوست مرحوم ګويا اعتمادي چې لکه زما د خپل وخت د شخصيتونو سره د ليدو کتو لېوال و تل به ما سره د ښاغلي نقيب صاحب ديدن ته په ګډه تلو.

ګويا يو له متجسس ترينو انسانانو څخه و چې ما په خپل ژوند کې ليدلي دي. په هرې موضوع کې يې د هر چا څخه پوښتنه کوله او د پوښتنې په وخت کې يې د ځای او وخت ملاحظې په پام کې نه نيولې. بېدريغه او بې پروا پوښتنه يې کوله. يو ورځ يې د ښاغلي نقيب صاحب څخه پوښتنه وکړه چې خلک وايي چا ستا لمونځ کول يې نه دي ليدلي ولې لمونځ نه کوې؟ جناب نقيب په نازکې مسکا ځواب ورکړ. سمه ده چې چا زما لمونځ کول نه دي ليدلي دليل يې دا دی چې زه د خلکو لپاره لمونځ نه کوم. کله چې ته پر دې پوښتنې او ځواب فکر کوې بهتره ده چې زه په دې اړه يو څه معلومات درکړم. زه په هر ژمې کې سرخرود (باغباني) ته راځم او هغه دوستان چې د ژمي په رخصتيو کې جلال اباد ته راځي هغوی ته هم بلنه ورکوم چې مهرباني وکړي څو ورځې باغباني ته هم راشي او مونږ خوشحاله کړي. دوستانو هم مهرباني کوله تشريف يې راوړه چې دا زما د ژوند له خوږو او نه هېرېدونکو خاطرو څخه دي.

د ګويا پوښتنې او د نقيب صاحب ځواب پر ما ځانګړی اثر وکړ. دا پوښتنه او ځواب په باغ کې د قدم وهلو پر وخت مطرح شوو. ښاغلي نقيب صاحب مونږ

هغه ځای ته یوړو چې هلته یو پرانیستی قبر کښل شوی و او په خوا کې یې پاکه او وچه شګه هواره وه.

نقیب صاحب وویل چې دا زما قبر دی اکثره وخت دلته راځم او ورته ګورم چې په تېرېدونکي او فاني ژوند مغروره نه شم.

کله چې له نقیب صاحب څخه رخصت شو، ګویا ته مې وویل څه لازمه وه چې د نقیب صاحب څخه دې د لمونځ نه کولو په اړه پوښتنه کوله؟ ګویا مرحوم راته وویل ودې لیدل څومره ښه ځواب مې ترلاسه کړ، کله چې سړی پوښتنه ونه کړي ځواب نه مومي او که چېرې پوښتنې ناځرګندې او مجهولې پاتې شي انسان ناپوه پاتې کېږي.

ما له ځان سره فکر وکړ دا خلک چې هرڅه کوي د هغو لپاره دلیلونه لري هغه زه یم چې باید د زده کړې او پوهنې لار وپېژنم.

ما او ګویا قرار او خاموشه تګ کاوه نه پوهېږم چې نوموړي پر څه فکر کاوه، اما زه د خپل فکر د سېلاب په څپو کې داسې ډوب وم د دې  پرځای چې د خپلې ژغورنې په موخه هڅه وکړم لا نور هم د دې  هیلو په تلاش کې وم چې ژور او کښته ولاړ شم. له باغه و وتلو یو اس ته نېږدې ورغلو ګویا پر اس سپور شو او زه هم داسې پلی ورسره روان وم. له باغباني څخه تر چهارباغ صفا پورې همداسې نوموړی پر اس سپور او زه پلی، ولاړو، ګویا په جسم چاغ او غوښن وو او په زیات واټن یې پلی تګ نه شو کولای، له جسمي فعالیت څخه یې ښه نه راتلل.

موخه داده چې د ګېلاني او مجددي کورنۍ په افغانستان کې او په ځانګړې توګه د خلکو په منځ کې لوړ او د درناوي وړ مقام درلود، داچې د خلکو عقیدتمندي د روحانیت پر بنسټ ولاړه ده، نو د دوی د نفوذ لار یې د وخت حکومتونو ته هم پرانېستې ده.

---

د کورنیو جګړو په وخت کې هم دا کورنۍ د خلکو د راټولېدنې مرکزونه وو. ځکه نو که چېرې یو بڅرکی هم په دې کورنیو کې شتون ولري، نو د اور بلولو وړتیا به ولري او دا اور به نه مړ کېږي، ځکه یې د افغانستان د ځوان او روڼ اندي نسل لپاره پېژندنه اړینه ده. بله دا چې دوی یوازې روحاني نه دي، بلکې سیاسي خلک هم دي او سیاسي هیلې او غوښتنې هم لري. د سیاسي تشبثاتو(Political Ambitions) څخه هم برخمن دي.

ما په پورته یادونه کې هڅه کړې چې د دوی پر هغو اړخونو رڼا واچوم چې خلک ورسره لږه اشنايي لري. هېره دې نه وي چې د افغانانو د جهاد او مبارزې په کلونو کې د ګیلاني د کورنۍ ټولو غړو او په ځانګړي ډول د ښاغلي پیرسید احمد ګیلاني اغلې لور بي بي فاطمې ګیلاني په تبلیغ، ابلاغ او بحثونو کې مهمه ونډه لرلې ده. ټول خلک باید که نارینه دي او که ښځینه، د دې افغانۍ مېرمنې د هڅو، کوښښونو، رول او ونډې درناوی وکړي او هېر یې نه کړي.

# پېښور ته کډوال کېدل او پايلې يې

مخکې مې ووېل کومې ناستې چې په اسلام اباد کې د جناب ګېلاني صاحب په کور کې د اسلام اباد، پېښور او پاکستان د نورو سيمو مېشتو افغانانو ترمنځ ترسره کېدلې ما هم ګډون پکې کاوه، د ګډون لپاره د ښاغلي ګېلاني زوی له هوټل څخه تر خپل کوره زما په رسولو کې زحمت اېسته. روڼ اندي ځوان دی د جهاد او مبارزې په لاره کې يې د خپل پلار سره مرسته کوله او دا هڅې او کوښښونه يې په اخلاص ترسره کول، خپله ونډه يې په ښه شان سره ادا کوله، په عين وخت کې د خپلو لوړو زده کړو د بشپړولو په هڅه کې هم و.

د ښاغلي سيد مخدوم رهين په اړه مې مخکې اشاره وکړه. کله چې له اسلام اباد څخه پېښور ته تلم د ښاغلي ګېلاني په امر يې په خپل موټر کې ورسولم. د اسلام اباد څخه تر پېښوره په لاره کې د خبرو اترو کافي وخت مساعد شو. د خبرو ډېره برخه د ادب او دري ژبې د ادبياتو په اړه وه. همدارنګه مجلس ډېر ګرم وو، لاره چې ډېره اوږده نه وه لا نوره هم لنډه شوه.

په پېښورکې مشهور هوټل ډينز (Deans Hotel) ته ولاړم. اما ښاغلي ګېلاني د امنيت، خونديتوب او نورو اسانتياوو په موخه دا اړينه وبلله چې د نوموړي د وراره په ګاونډيتوب کې واوسم او هلته يې يو مېلمستون چې په اصطلاح (سراچه) ډوله وو راته ځانګړی کړ. دې مېلمستون يوه کوټه درلوده چې په هغې کې يو د خوب تخت، د کار مېز، ټيليفون او نور وسايل موجود وو.

هره غرمه به  يې زوی راته او زه به يې په موټر کې له مېلمستون څخه چې څو دقيقې له هغه منزل نه  فاصله لري هلته ور وړم. دا دفتر د افندي وو نوموړي به ملاقاتونه پکې کول، د غرمې ډوډۍ مو همهلته خوړله ځکه د ګوند غړي (ملکي او نظامي) قومندانان به د ليدنو کتنو لپاره په هغه دفتر کې راټولېدل، د ډوډۍ خوړلو

په کوټه کې به د دفتر غړي او مېلمانه يو ځای حاضر وو. خوراک ساده وو ولې په ذوق او سليقه به برابر و، په هغو مجلسونو کې چې کومې مشورې کېدلي او کومو شخصيتونو په کې ګډون کاوه يو له دغو شخصيتونو څخه چې ډېر به راته او تل به حاضر و، ښاغلی سيد شمس الدين مجروح و. ښاغلی مجروح په باچا صاحب هم مشهور و، نوموړی مې له پخوا څخه په وطن کې پېژانده او ليدنې کتنې به مې ورسره تل زما د خوښې سبب کېدلې. باچا صاحب د ګېلاني صاحب د ګوند د شورا غړی و، چې د نوموړي شتون په يادې شورا کې لوی غنيمت و، اما له بده مرغه دا شتون يې له پاکستان څخه امرېکا ته په کډوال کېدو پای ته ورسېد. له يو ځای څخه بل ځای ته کډوال کېدل که د مجبوريت له وجې وي، (لکه د افغانستان څخه د افغانانو کډوال کېدل) دا مفهوم لري او پرته له دې دا له تصوره لرې ده چې يو څوک دې له پاکستان څخه امرېکا ته کډوال شي او خپلې ستونزې او بې برخې کېدل دې لا نور هم زيات کړي، خپل موثريت دې د جهاد او مبارزې په برخه کې کم، کمزوری او ان په نشت حساب کړي. که چېرې زه د پاکستان پوليسو په زوره له پاکستانه نه وای اېستلی، ما به هيڅکله په هيڅ ډول فشار له خپلو اواره خلکو سره د نېږدېوالي نعمت له لاسه نه وای ورکړی. په هر صورت که وخت پيداشو د باچا څخه به له پاکستان نه امرېکا ته د ده د راتګ دليلونه وپوښتم.

د شپې له خوا مې په مېلمستون او په خپله کوټه کې ډوډۍ وخوړله، يو نفر په ځانګړي ډول ګومارل شوی و چې ماته ډوډۍ راوړي او تر خوړلو پورې يې منتظر وي. زما چوپړ او مېلمه پالنه تر اخره مراعت کېدله او زه ورڅخه مننداوی يم، د خلکو په بلنو او مېلمستياوو کې مې ډېر غور کاوه او پرته له کوم ګټور ځای څخه هر چېرې نه تلم.

له خلکو سره اړيکې ورځ تر بلې زياتېدلې او ډېر وخت به د هېوادوالو په ښه راغلاست او د هغوی د دردونو او داستانونو په اورېدلو تېرېده. له وطن څخه د

دې  تازه کډوال شویو خلکو په منځ کې (نر او ښځې) هغه خلک هم شامل وو چې د کابل د رژیم له خدمت څخه په تنګ وو او تېښته يې را کړې وه. دلته دا وېره وه او په پاکستان کې د مخکې راغلو دوستانو سپارښتنه هم وه چې باید احتیاط وکړم. ښايي له وطنه د نوو راغلو خلکو په منځ کې منافقین هم شتون ولري. په هر وخت او هر ځای کې دا ډار د یو بد او ناوړه تشویش په توګه د ټولو رښتینو مجاهدینو او مبارزینو مهاجرو سره شتون درلود. حیرانوونکې دا وه دو نفره چې خپله يې ماته د احتیاط سپارښتنې کولې د کابل رژیم د استخباراتي دستګاه غړي او د منافقینو د لومړۍ درجې له ډلې څخه وو.

په دغسې یو تنګ چاپېریال او فضا کې چې یو څوک د تبلیغ په وسلې جهاد او مبارزه کوي ډېره سخته ده او کله کله ښايي چې د ښه ګومان خاوندان هم په تېروتنه سره په بد ګومانۍ کې راګیر شي. د دې  بلا او پایلو څخه يې د ځان ساتنه او خوندیتوب پرته د (رِسک) د منلو او پر خدای تعالی (ج) له توکل کولو څخه بل څه نه شي کېدلای او که چېرې توکل ونه شي، نو سړی باید شونډې پرانه نیزي او له هیچا سره د جهاد او مبارزې په اړه خبرې ونه کړي. تقدیر ته ځان سپارل کټ مټ همهغه عقیده ده چې غربیان يې د (Risk) په منلو تعبیروي. نور تعبیرونه له دې څخه رامنځ ته کېږي چې ځینې تعبیروونکي غواړي چې دین ته د مرموزو، ساده حقیقتونو او منطق نه لوړ ماهیت ورکړي، په داسي حال کې چې د اسلام سپېڅلي دین په اساس، کلیاتو او هم په جزییاتو او فروعاتو کې یو منطقي او معقول دین دی او پر حقیقت خوښونې يې تکیه ده.

دا زما شخصي تعبیر نه دی، له بده مرغه ماخذ يې په کتاب کې رانه هېر دی، ولې دا مې په یاد دي چې پلار مرحوم به مې ما او نورو کسانو ته د درس راکولو په بهیر کې دا موضوع راته ښودله.

د هغو کسانو چې زما سره يې یو ځای درس لوسته او اشاره ورته وشوه، ښه به وي چې دلته د هغوی یادونه وکړم. هغوی طالبان (طالب العلمان ) وو، چې د

افغانستان له بېلابېلو سيمو او کله به هم د ازاد سرحد له منطقو څخه دلته راتله او د عالمانو او استادانو سره به يې استوګنه کوله ترڅو سبقونه ولولي. دغه استوګنې ته يې دېره کېدل ويل. زما پلار مرحوم چې به کله د قضا له دندې په رخصتۍ باغباني ته راغی او يا به وزګار وو او دلته به اوسېده، نو دا طالبان به يې له ځان سره منل، لکه څنګه چې هر ځای کې دود دي، طالبان به په مسجد او يا حجره کې اوسېدل. د خوراک لپاره به د ډوډۍ ټولولو ته د دوی له منځه کوم ځوان طالب چې (چنۍ) يې باله په کلي کې ګرځيده او هغه خوراکې توکي چې به يې ټولول هغو ته يې (وظيفه) ويله. اما دا چې زما پلار کافي ځمکه او پانګه درلوده، نو تل به يې له اوو تر اتو او ان تر شلو نفرو طالبانو ته پر ټاکلي وخت سهار، غرمه او ماښام ډوډۍ ورکوله او درس به يې هم ورکاوه. زه خپله هم درې کاله د دې  درس په حلقې کې شامل وم (پلارمې په دې درېوو کلونو کې رسمي دنده نه لرله) ما هم د "مطلع دانش" په ښوونځي کې چې له باغباني څخه تر هغه ځايه نيم ساعت پلې لار وه درس لوسته او غرمه به مې د کورني درس په حلقې کې له نورو طالبانو سره ګډون کاوه.

دا چې په دې پاڼو کې به تر ډېره بدې خاطرې منعکسي شي، دا چاره به هغو د پېښو شپو او ورځو ته چې برخليک او مقدرات ګنل کېږي ور وسپارو او دلته به ځيني ښې خاطرې ثبت کړم. يوه له دغو ښو او نه هېرېدونکو خاطرو څخه د خپل ارواښاد مشر ورور سره د خبرو ده. حفيظ الله چې اماني تخلص يې کاوه. نوموړی د مطلع دانش په ښوونځي کې سرښوونکی و، کله چې به ښوونځي ته تللو زه به هم د هغه په څنګ کې ورسره روان وم. په لاره کې به هغه مرحوم تر پايه خبرې کولې او ما به غوږ ورته نيولی و. د هغه خبرې به يوازې د نيکونو قبرونو ته د رسېدو په وخت کې بندې شوې. دا هديره د باغباني - بالا باغ د لارې په سر پرته ده. کله چې به ترې تېرېدلو زما مرحوم ورور به ودرېد او خپلو مړو ته به يې دعا او درود ورلېږه. ما به هم طبعاً پيروي کوله. وروسته تر دعا به بېرته پر لار روانېدلو، نوموړي به

بېرته خپلې خبرې له سره پيل کړې. دا خبرې به د هر ډول موضوعاتو په اړه وې، خو ډېرى يې پر دې ټکي راټولې وې چې ماشومان بايد د خپلو قبيلو او کورنيو د پخوانيو مشرانو پر عنعناتو، مراسمو، دود او دستور، ديني او اخلاقي دندو وپوهېږي. په دې خبرو کې داسې درسونه وو چې د کتابونو په لوستولو يې زده کړه شونې نه ده. د دې موضوعاتو په اړه کتاب هم شتون نه درلود، نه پوهېږم چې اوس به وي او که نه، اما ګومان نه کوم چې اوس به هم شتون ولري، چې دا د اندېښنې وړ خبره ده.

کله کله داسې هم پېښېدله چې زما همزولو او تر ما مشرانو زده کوونکو چې په مطلع دانش ښوونځي کې يې درس لوسته، ښوونځي ته په لاره کې به يې را منډه کړه ترڅو راورسېږي او د نوموړي له ګټورو خبرو څخه ګټه واخلي. د دې ښوونځي زده کوونکو زما له ورور سره ځانګړې مينه درلوده او د نوموړي احسانمن وو؛ ځکه هغه دوى ښوونځي ته په راتلو هڅول او د دوى پلرونه يې دې ته راضي کړي وو چې خپل ماشومان ښوونځي کې شامل کړي ترڅو له زده کړو بې برخې پاتې نه شي. له ښوونځي څخه چې به راتلو هم د تلو په څېر، زده کوونکو زما ورور ته ځان رارساوه، په دې توپير چې د حرکت له پيل نه د (باغبانيوالو) زده کوونکو شمېر د بالا باغ تر زده کوونکو زيات وو او کله به ټول چې شمېر يې شلو تنو ته رسېده زما له ورور سره يوځاى شول او د نوموړي خبرو ته به يې غوږنيوى. پر بل ځاى درېدل مو د بالا باغ د خلکو پر هديرې وو، د دې هديرې واټن د باغباني له هديرې څخه يوازې په مچلوغه کې د ډبرې د غورځولو او رسېدو په اندازه و. دعا او فاتحه د تګ او راتګ په وخت کې په دواړو هديرو کې تر سره کېدله. هغه څه چې مې وروسته، کله چې د ماشومتوب دوره تېره شوه او بوډاوالى راورسېد درک کړه او قدر يې کوم هغه د کلي له ماشومانو سره د نوموړي چلن و. د نورو ماشومانو او د خپل ورور ترمنځ يې داسې چلن کاوه چې هيڅ توپير يې نه درلود. هغه مرحوم د خلکو په منځ کې په پرهېزګارۍ، تقوا او ښه توب مشهور و او هر چا يې ځانګړى

احترام کاوه. هغه وخت د خلکو په منځ کې ځینې خرافات دود وو او دوی عقیده درلوده که څوک په زلمیتوب کې پرهېزګاره وي او ښه توب یې څرګند وي، نو هغه ځوانیمرګ کېږي. په همدې خاطر د کورنۍ ښځو به تل هغه ته په دعا کې ویل "الهي ځوانیمرګه یې مه کړې" اما برخلیک یې داسې و چې د (سقاو د زوی په دویم انقلاب کې) هغه وخت چې محمد هاشم خان لومړی وزیر و، له مرحوم عبدالوکیل خان نورستاني سره یوځای د سقاویانو له خوا په شهادت ورسېد او د مرنجان پر تپې یې د عبدالوکیل نورستاني ترڅنګ خاورو ته وسپاره. دا چې نادرخان د ظاهرشاه پلار په مرنجان تپې کې ښخ و او دا د شاهي کورنۍ پلرنۍ هدیره ده، نو دلته د نورو خلکو ښخول د سلطنتي خاندان له لورې یو ډول اعزاز او درناوی دی چې هغوی ته ورکول کېږي.

د خرافاتو په اړه باید ووایم چې انسان طبعاً مرموزو او ناڅرګندو موضوعاتو ته لېواله وي او دا په فوق الطبیعت باندې دده د عقیدې لرلو سبب کېږي. کله چې د تصادف له مخې داسې ناسم باورونه، سم ثابت شي، نو د انسان حافظه هغه ساتي او تل پکې پاتې کېږي. او که د هغه پر خلاف ثابت شي د انسان په حافظې کې نه پاتې کېږي. دا د دې  لامل کېږي چې خرافات لا نور هم قوي شي او د عامو خلکو په ذهن او عقیدې کې ټینګ پاتې شي، له یوه نسل څخه بل راتلونکي نسل ته ولېږدول شي.

اوس نو د خلکو تګ او راتګ دومره زیات شو چې د کور مخته ځای ددوی د ناستې او مجلس لپاره تنګ و. د افغانستان د خلکو ترمنځ دود دی چې په ځانګړو حالاتو کې کله چې ټول په کومه ستونزه او ربړه باندې اخته وي، نو د پوښتنې او خواخوږۍ لپاره یوازې نه ځي، بلکې په ډله ییز ډول ځي. د دې  موضوع یادونه دلته اړینه نه ده، یوازې دومره وایم چې دغه چلن او دود د افغان قومونو په منځ کې په ځانګړي ډول پښتون قوم ترمنځ دود دی او شتون لري. دغه رواج تر ډېره په کلیوالو سیمو کې دی اما لږ څه په ښاري سیمو کې هم شتون لري. دا ډول تګ

او راتګ پرته له مخکنۍ همغږۍ او خبر ورکونې ترسره کېده، چې تر ډېره په اصطلاح "خودي او طبيعي" او پرته له تشريفاتو وشي.

موخه داده چې بايد داسې کور غوره کړو چې په اسانۍ سره مېلمانه او دوستان پکې ځای شي. په دغه موده کې و چې د پښتني کورنۍ اړوند چې په اصل کې د پېښور اوسېدونکي و، اما څو کاله مخکې افغانستان ته کډه شوي وو او د شمال په سيمو کې يې استوګنه غوره کړې وه (د مرحوم عجب خان کورنۍ) حاضره شوه چې په پېښور کې يې کومې سرای ګانې لرلې، يوه يې ماته د اوسېدو لپاره راکړي.

دې کور يو لوی سالون درلود چې کابو شپېته تنه پکې کېناستلای شوو او په دويم پوړ کې يې هم د ملاقات لپاره وړوکې کوټه، د خوب کوټه، تشناب او نور اړين توکي درلودل. څه وخت مې دلته استوګنه کوله چې د عجب خان مشر زوی چې دا وخت د خپلې کورنۍ مشرتوب ورپه غاړه و راته ځرګنده کړه چې د پاکستان د پوليسو له خوا تهديد، ځار او فشار وربانديې زيات شوی دی. دليل يې هم دلته د خلکو زيات تګ او راتګ په ګوته کړ، څو ورځې وروسته يې په ډاګه راته وويل چې د دوی په سرای کې زما اوسېدل دوی ته غټ خطر دی. زه ناچاره شوم هغه سرای مې پرېښوده.

په دې وخت کې مې د ښاغلي ګېلاني په مرسته بل کور کرايه کړ. دې کور يوه د اوسېدو لويه کوټه، د خوب کوټه، تشناب او دوې نورې کوټې درلودې.

زما ورېرونه (فريدون پژواک، برمک پژواک) د شپې له خوا د خوب په لويه خونه کې ويدېدل او يو له دوی څخه د خوب په هغه بله کوټه کې ويده کېده. تراوسه په دې کور کې زمونږ له اوسېدو څخه يوه اونۍ نه وه تېره شوې چې يوه ورځ د پاکستان څوتنه مخفي پوليس زما ليدو ته راغلل او د پاکستان د لوړو دولتي چارواکو امر يې زما د توقيف او کور د ځارلو په اړه راته ولوست. دې حالت شاوخوا درې مياشتې د ۱۹۸۳م ( له اپرېل څخه د جولای تر وروستيو) دوام

وکړ، چې بالاخره له پاکستان څخه زما د اېستلو سبب شو. باید یادونه وکړم چې په دې وخت کې له نورو لارو څخه ما سره اړیکه نیول ناشونې وه. هېوادوالو به خپل پېغامونه په ډېرو پورې تړل او بیابه یې د هغه سړک څخه چې له سرای سره نښتی و د تېرېدو په وخت کې د سرای منځ ته راغورځول. ما به یې ځوابونه د مختلفو لارو، وختونو او هغه ځایونو چې مخکې ورته ویل شوي وو د خپلو وریرو په واسطه خپلو هېوادوالو ته وراستول. ورېررونو مې بهر ته د سودا اخېستلو لپاره د تګ اجازه درلوده.

په دې ځای کې باید یادونه وکړم چې ما سره د دې  چې د پاکستان سره نه پخلاکېدونکې او ناراضه رویه درلوده، د دوی څارنه ان چې د (KLM) هوایي چلن الوتکې ته پورته کېدم دوام درلود، خو شکایت مې ورڅخه ونه کړ. په امستردام (هالند) کې د رسنیو ډېرو استازو (د خپلو هغو همکارانو په اشاره چې په پېښور او اسلام اباد کې یې ما سره د اړیکو ټینګولو اجازه نه درلوده) منتظر وو، خو ما د پاکستان برعکس (په حقیقت کې په هیڅ موضوع کې) څه ونه ویل او دې مسلې (زما سره) دوه دلیله درلوده؛ لومړی دا چې پاکستان زما د هر ډول خبرو څخه کولای شول چې ما سره خپل هر ظلم ته مشروعیت پیداکړي او مهمه لا دا چې نه مې غوښتل د پاکستان له لورې زما سره پر چلن د نورو افغان کډوالو اړیکې زیانمنې شې. همدا سبب و چې کله ځینو هېوادوالو په پېښور کې زما د توقیف په اړه غوښتل چې د یو لاریون په ترځ کې اعتراض وکړي، ما مشوره ورکړه چې لاریون ونه کړي او په ټینګه یې په مخکې خنډ شوم. دا خلک په کډوالو کې قومي شخصیتونه وو او په کمپونو کې د ډېر لوی نفوذ خاوندان وو.

# د څو دوستانو یاد

په پورته پاڼو کې مې د مرحوم ګویا اعتمادي یادونه وکړه. محمد سرور ګویا اعتمادي د جمعه خان زوی او د اعتماد الدوله سردارعبدالقدوس خان وراره و. ګویا مرحوم یو ډېر مهربان شخصیت او د خپلوانو او دوستانو خواخوږی و، همداشان سخي او مېلمه پالونکی انسان و. په خوراک کې یې لوړ او په په جامو کې متوسط ذوق درلود. د نومورِي لوی نعمت د هغه حافظه وه. شاعر نه و ولې دده په همزولو کې (د علامه سلجوقي نه پرته چې خپله پیاوړی شاعر و) ډېر کم داسې څوک وو چې په حافظې کې دې دده غوندې شعري پانګه ولري. ډېر لږ شعر یې وایه اما شعرونه یې د خپلې طبیعي قریحې محصول نه وو، بلکې په حافظې کې یې د نورو د شعري دېوانونو او اثارو د ډېر تکرار او سر و کار له تاثره څخه ویل. ډېر خوله ور او پیاوړی شعر پېژندونکی و، په تاریخ او ځانګړي ډول د ادبیاتو په تاریخ کې پلټونکی او د مطالعې خاوند و. په کتاب پېژندنه کې یې تخصص درلود او د کتاب درلودلو او کتاب لوستنې سره یې ډېره مینه وه. له مادي اړخه دې پیاوړي او ازاد شخص په ساده ډول یې په یو درې کوټېز اپارتمان کې ژوند کاوه. په یوې کوټې کې یې چې ډېر ګرانبیه، نادر او مهم کتابونه او قلمي نسخې پکې وې کتابونه ساتل او د مجلس او مېلمستیا لپاره یې د مېلمنو هرکلی او مېلمه پالنه پکې کوله. په بلې کوټې کې یې اشپزي کوله. سره له دې چې اشپز یې هم درلود، خو خپله یې له اشپزۍ سره لېوالتیا درلوده او ډېره ښه کټوۍ یې پخوله. په درېمې کوټې کې چې له کتابونو ډکه وه، د الماریو په منځ کې یې د خوب لپاره ځای جوړ کړی و. دغه اپارتمان په دهمزنګ کې د یو دوکان پر دویم پوړ د برښنا سټېشن مخامخ خوا ته موقعیت درلود. څه موده د برښنا د سټېشن په اپارتمان کې د مرحوم ګویا کشر ورور صفدر اعتمادي چې د برښنا د سټیشن مرستیال هم و استوګنه کوله، ځکه صفدر مرحوم وروسته تر دې چې لومړۍ مېرمن یې چې د څرخي له کورنۍ څخه

وه، بندۍ شوه نوموړي له خپلې دویمې مېرمنې سره ژوند کاوه. ګویا اعتمادي د ژوند ترپایه مجرد وګرځېد او ورور يې ياد اپارتمان دده په واک کې ورکړی و. د هغه وخت ټول شاعران او اديبان د نوموړي ملګري او دوستان وو. زما په ګډون استاد خليلي، ميا جان حضرت (د صبغت الله مجددي پلار)، ډاکټر محمد انس، رشيد لطيفي او سيد شمس الدين مجروح هغه څوک وو چې ډېر له ده سره په اړيکه کې وو.

په دې وخت کې زما د دوستانو په منځ کې لکه رشيد لطيفي، مرحوم عبدالغفور برشنا، مرحوم ډاکټرعبدالرحمن محمودي، مرحوم عبدالحی حبيبي، لالا محمد سعيد خان کندهاری (د سندرغاړي ناشناس پلار) او په همزولو ملګرو کې مې مرحوم محمد رسول وسا، مرحوم جيلاني جان اريزوی او مرحوم ډاکټرعبدالواحد رشيدي شامل وو. کله کله به مرحوم علامه صلاح الدين سلجوقي چې زما استاد او امر هم و تشريف راوړ. مرحوم ډاکټرمحمد اصف سهيل هم په اونۍ کې دوه ځلې راتلو. ډاکټر وسا د استاد خليلي د کاکا زوی و، د (حبيبيې) د ښوونځي په لسم ټولګي له نوموړي سره ټولګيوال شوم. هغه تر لسم ټولګي زده کړې وکړې او وروسته د خپلې کورنۍ له غړو سره بندي شو. د زندان څخه تر خلاصون وروسته بېرته په ښوونځي کې شامل شو. مرحوم ډاکټر محمد اصف سهيل د (اندرابي) په ښوونځي کې په دريم ټولګي کې ما سره ټولګيوال و. د ډاکتر واحد رشيدي سره د طب په فاکولته کې اشنا او ملګری شوم. همدارنګه د جېلاني جان اريزوی سره هم د طب په فاکولتې کې ټولګيوال او ملګری شوم. ډاکټر واحد رشيدي د (استقلال) له ښوونځي څخه فارغ و او يو کال تر ما مخکې و. جېلاني جان اريزوی د (نجات) له ښوونځي فارغ او د (نادر شاه شهيد) د قاتل (عبدالخالق) ټولګيوال و. جېلاني جان په ختټه پوپل زی او د ډاکټرعلي احمد پوپل له خپلوانو څخه و، اما د خپلوۍ د رشتې څخه يې زيات يو له بل سره سيالي درلوده او تش په ظاهره يې د نورو په مخکې خپله خپلوي ساتله. د (نجات) په ښوونځي چې کوم کسان د عبدالخالق د جرم په سبب يا بنديان او يا اعدام شول، د (نجات) د ښوونځي او د نورو ښوونځيو د زده کوونکو له خوا د خواخوږۍ او همدردۍ روحيه ور سره پالل

کېدله. داچې اریزوی نه بندي او نه اعدام شو(هغه هم دده خپله ځیرکي وه) نو د (نجات) ښوونځي د زده کوونکو له خوا خواخوږي نه ورسره کېدله. ډېری زده کوونکي په دې نه پوهېدل چې ولې باید له ځینو سره خواخوږي وکړي او له ځینو نورو سره یې ونه کړي؟ د پوهنې او معارف له ځوانانو سره عجیبه روحیه پیدا شوې وه، هغه دا چې یا په شعوري او یا ناشعوري ډول د شاه له قاتل سره د خواخوږۍ بیان کېده. دغه خاموشه ولې ژوره انقلابي روحیه د وخت موډ ګرځېدلی و او ډېری ځوانانو ځان ښودنه پرې کوله. دا چې یاد تظاهر حقیقي او د زړه له تله نه و نو د (نجات) د ښوونځي هغه زده کوونکي چې به یا وژل شوي او یا بندي شوي وو هغوی به ستایل کېدل او هغه چې ژوندي وو د هغوی غندنه کېدله، اما د ډار له وجې تر یادو ستاینو او غندنو زیات مخته نه تلل. په عین وخت کې دا ښه کړه وړه هم نه وو او خلکو پټ په زړونو کې خندا پرې کوله، ځکه ځان ښودنه یې له ورایه ښکاره ده او د انقلاب په اړه یې سستي او بې زړه توب معلوم و.

په هر صورت له دې حقیقت څخه سترګې نه شو پټولای چې د انقلاب روحیه ورځ تر بلې قوي کېدله او د ډېری ځوانانو د روح په ژورو کې په سیاسي ژوند کې د خلکو د ونډې اخېستلو په اړه لېوالتیا په جوش او ولولو وه، په مغزو کې یې د استبدادي حکومت پر وړاندې د مخالفت فکرونه ټوکېدلي او د دوی د احساساتو د راپورته کېدو سبب شوي وو. سره له دې چې د شاهي کورنۍ د غړو او ملګرو له خوا یې لاریونونه تر سره کېدل، ولې ځوانانو دا ټول د دوی چم او حیله ګڼل.

په شاهي کورنۍ کې مرحوم شاه محمودخان غازي دا حرکت د ملي کلب په جوړېدو سره رامنځ ته کړ او ملګري یې لکه عبدالمجید زابلی نقش لوبولو ته هیله من و، ولې متفکر او وطندوسته زلمیو نه غوښتل چې دا ډګرد دوی نقش ته پرېږدي او تېر ووځي.

دا دوره د افغانستان په تاریخ کې ځانګړې ارزښت لري. تېر خوځښتونه د امیر حبیب الله خان شهید او اماني دورې په وخت کې چې غوښتنه یې مشروطیت، دموکراتیک حکومت، د اساسي قانون جوړونه او پلي کول وو په لږو خلکو پورې

محدود وو، خو دا ځل د خلکو هیلو په ځوان پوړ او ښوونځیو کې د دې فکر ماهیت زیات احساساوه. ولې له بله اړخه د چارو واګې د زړو خلکو په لاس کې وې، چې ځوان کول د مستبدو او ځیرکو چارواکو سره سر و کار درلود. د پاخه عمر لرونکي کسانو یې زیاتې اداري تجربې درلودې او ځوانان یې د خپل وخت په نویو زده کړو سمبال وو. ښه بېلګه یې تر محمد نادرشاه وروسته محمد هاشم خان صدراعظم و او د ځوانانو غوره بېلګې یې محمد ظاهرشاه، سردار محمد داود خان او ورور یې سردار محمد نعیم خان وو. د نادرخان نورو ورونو تر ځوانانو یوه بله ښېګڼه هم درلوده، هغه دا چې دوی د افغانستان له خلکو سره بشپړه بلدتیا درلوده، د خلکو، قومونو او قبایلو له روحیاتو سره یې د پېژندنې په برخه کې ډېره اوږده تجربه درلوده چې ځوانان د دې ګټورې ښېګڼې څخه بې برخي وو.

د افغانستان په تېر تاریخ کې باچاهانو او سلطنتي کورنیو یوه ډېره غټه کمزورتیا درلوده چې هغه د دوی د کورنیو د غړو ترمنځ بې اتفاقي وه، خلکو یا لږ تر لږه قبایلي خانانو او د قومي قوت بانفوذه خلکو کولای شول چې له دې ټکي څخه ګټه واخلي. خو د یحیی په کورنیو کې په ځانګړي ډول د نادرشاه په ژوند کې د دوی د ورونو، کاکا زامنو او ورېرونو ترمنځ اتفاق ډېر قوي و او که چېرې به کوم اختلاف شتون درلود، هغه به یې د عامو خلکو له نظر څخه پټ په پرده کې ساته. د افغانستان د خلکو پر وړاندې یې د یوې طرحه شوې پالیسۍ په ډول استعمالاوه، د خلکو پر وړاندې په یووالي او اتفاق کې وو. دې پالیسۍ تر هغه وخته چې د ظاهرشاه د کاکا زامنو (سردارمحمد داودخان او سردار محمدنعیم خان) او ظاهرشاه خپل منځي اتفاق له منځه یوړ او یا یې ونه شو کولای چې دوام ورکړي، د دوی د خاندان قدرت یې د له منځه تلو څخه ساتلی و. دا پېښې او بدلونونه چې رامنځ ته شول لکه د سردار محمد داودخان تر کودتا وروسته د جمهوریت اعلان، د شاهي نظام الغا او داسې نورې را وروسته پېښې هغه پېښې ټولو ته څرګندې دي او اړینه نه ده چې دلته بیا یادې شي.

# د دوو اکا زامنو په اړوند یو څو خبرې

## (اعلیحضرت محمد ظاهرشاه او سردار محمد داود خان)

کله چې د سردار محمد داودخان کودتا ترسره شو، زه په هغه وخت کې له ملګرو ملتو څخه تبدیل شوی وم او په نوې دنده په لوېدیځ المان کې د لوی سفیر په حیث مقرر شوی وم. دا وخت کابل ته په رخصتۍ راغلی وم. زه به چې هر کله کابل ته راتلم، په کابل هوټل کې مې استوګنه غوره کوله، ځکه هغه دوستان چې زما لیدو ته راتلل دلته راتګ ورته اسانه و. دا ځل مرحوم شفیق ډېر ټینګار وکړ چې کانینټل هوټل ته د اوسېدو لپاره ولاړ شم. د بهرنیو چارو د وزیر او (صدراعظم) ټینګار صمیمانه و نو ځکه مې ومانه. تر کومه ځایه چې ماته معلومه ده زه یوازنی افغان وم چې په دې هوټل کې اوسېدلم. د هوټل نور ټول استوګن بهرنیان وو. یو ورځ سهار مې د خبرونو اورېدلو په موخه راډیو چالانه کړه. یو داسې خبر مې واورېد چې خبر نه، بلکې لکه مار چې یو ډول ریزونه کوي د داسې څه اورېدل مې حس کړل. څو دقیقې وروسته خبر شوم چې سردار محمد داودخان کودتا کړې او د واک واګې یې په لاس کې اخېستې دي.

نه پوهېږم چې د چا له خوا (ښايي د هوټل د کوم کارکوونکي له خوا) څو بهرني سېلانیان راته معرفي شول او اړیکه یې راسره ونیوله. دوی ډېر پرېشانه وو زما څخه یې هیله وکړه چې دوی ته د پاکستان د تګ پر شونتیا معلومات وکړم. ما د ټیلیفون له لارې اړیکه ونیوه او راته وویل شول چې کودتا پرته له وژنو او وینو تویلو ترسره شوې ده او سیلانیان کولای شي که وغواړي، چې له افغانستان څخه په ډاډه زړه سفر وکړي. همداشان د کابل - تورخم لاره هم پرانېستې ده، دا خبر د دوی د خوشحالۍ سبب هم شو او زه هم تر یوه بریده ډاډه شوم. په ځانګړي ډول دا د خوښۍ وړ وه چې وینه تویېدنه ډېره نه ده شوې. یو څو دقیقې وروسته د سردار محمد داودخان بیانیه واورول شو، چې په ډېره ډاډمنتیا او ارامۍ یې وړاندې کړه، په دې وخت کې زه په دې فکرکې شوم چې باید څه وکړم؟

د هغې ورځې په غرمې د مرحوم شفیق په بلنه پټیېل شوې وه چې بهرنیو چارو وزارت ته ولاړ شم او د غرمې ډوډۍ هلته وخورو. د بلنې په وخت کې مرحوم شفیق داسې راته وبرېښول چې غواړي ما سره شخصاً یوازې پر ځینو مهمو مسایلو وغږیږي. تراوسه څرګنده نه شوه چې د نوموړي په زړه کې به څه ول او څه ویل یې غوښتل، ځکه تر هغې وروسته وخت او مجال پیدانه شو چې بیا نوموړی ووینم. یوازې د بندي کېدو او مرګ څخه یې خبر شوم. خدای تعالی (ج) دې هغه وبښي ډېر ځیرک انسان او د پراخه نظر لرونکی عالم، فعاله ډیپلوماټ، وطندوسته، د خپلو خلکو خواخوږی او مهربانه شخص و. ښايي یوازنی د بهرنیو چارو غوره وزیر او وروسته صدراعظم و چې دا ټول صفتونه یې لرل.

کودتا چې په هر ډول ترسره شوې وي د اندېښنې وړ ده. ما هیڅ دلیل نه درلود چې د دې کودتا له اړخه تشویش ولرم، ځکه نه مې له شاه او نه له داود خان سره شخصي اړیکي درلودل او په ټولو حالاتو کې مې متقابله وضعه ساتلې وه. په دې معنی چې که هغوی زما درناوی کاوه ما هم د دوی د احترام مراتب ترسره کول. د بېلګې په توګه خپلې دندې مې په ټول اخلاص او ربښتینولۍ هم په افغانستان کې او هم د شاه او یا سردار سره په سفر کې ترسره کولې. هغه وخت چې سردار محمد داود خان پر کور وزګار ناست و، هم ما خپل چلن ته بدلون ورنه کړ. کله چې به د رخصتۍ پر مهال کابل ته تلم، نو د نوموړي کور ته به ورتلم او پوښتنه مې یې کوله. ده به هم په خورا اخلاص او ربښتینولۍ زما مېلمه پالنه کول. په کابل کې چې به وم د شاه امر ته مې کتل که به یې غوښتل چې ورسره ووینم نو خدمت ته یې ورتلم، که به یې بیانیه ترتیبوله، د (لیکوالۍ اړوند) به کوم کار یا بل امر و، هغه به مې پر ټاکلي وخت او ښه توګه ترسره کاوه. هر وخت یې د یو شریف افغان په توګه ما سره په درناوي او عزت چلن کاوه. ما هم نوموړي ته خپل درناوی او ربښتینولي ثابت ساتل.

باید ووایم چې تر کودتا وروسته بې اندېښنې نه وم. دا چې د سپلانیانو اړوند ټیلیفون ته مې ځواب ترلاسه کړ، د ځواب راکولو د لحن ډول یې یو څه ډاډمن کړم. ماته وویل شو چې "رهبر" پر دې اړه ستاسو له مراجعې څخه مننه وکړه او ویې ویل چې د کابل - تورخم لاره پرانیستې ده او کولای شي چې په ډاډه زړه سفر وکړي. ما هم سپلانیانو ته وویل هغوی ډېر خوشحاله شو او د خپل سفر په چمتووالي چې د سرویس په وسیله یې ترسره کاوه بوخت شول. ما له ځان سره پرېکړه وکړه چې هیچا ته به رجوع نه کوم نه مې له چا سره خواخوږي وکړه او نه مې چاته مبارکي ورکړه او په دې اړه مې د هغو دوستانو مشوره هم ونه منله چې په ټیلیفون کې یې راته وویل چې په ګډه به مبارکۍ ته ولاړ شو او یا زه باید یوازې ولاړ شم. هوډ مې وکړ چې له هوټل څخه دباندې ولاړ نه شم. خبره پر کودتا او د شاه او د اکا د زامنو پر اړیکو راغله. په دې اړه غواړم چې د شاه او سردار پر خلق او طبعې یو واقعي مثال تاته (فرهاد) وړاندې کړم او د دې  مثال اړوند قضاوت به تاته وسپارم.

یو ځل باچا زه خپل دفترته ور وغوښتم، د ډوډۍ تر خوړلو وروسته یې خبرې پیل کړې او وروسته یې راته وویل چې نیت لري چې "کاریزمیر" ته ولاړ شي. په کاریزمیر کې یې ځمکه درلوده هلته یې بزګر درلود او د څارویو او نباتاتو د ساتنې لپاره یې (Farm) جوړ کړی و. هره ورځ به څو ساعته پکې بوخت و. کله چې دده له دفتر څخه راکښته شو ماته یې امر وکړ چې په موټر کې څنګ ته ورسره کښېنم او کاریزمیر ته ولاړ شو. موټر هم نوموړي خپله چلاوه، په موټر کې یوازې مونږ دوه وو، له هره اړخه یې خبرې کولې او ما غوږ ورته نیولی و.

کاریزمیر ته ورسېدو. ځمکه، بزګرخونه او ژوي یې را وښودل، پر یوځای ودرېد او ځمکې ته یې اشاره وکړه چې له کوم ځایه تر کوم ځایه په ده پورې اړه لري. بیا یې وویل چې دا بزګرخونه یو بېلګه ده، هیله من یم چې نورهېوادوال هم دغسې بزګرخونې او ورته نورې بېلګې جوړې کړې او ددغه مفکورې پلي کول نور هم

پراخه کړي. یوې تږوتې ځمکې ته یې اشاره وکړه او ویې ویل چې زه ښو ګاونډیانو ته اړتیا لرم، نو په دې خاطر مې دغه ځمکه ډاکټر محمد ظاهرخان ته ورکړه، ترڅو ګاونډیان سره و اوسو. همداشان یې نورې ځمکې ته اشاره وکړه چې غواړم دا تاسو ته درکړم چې یو بل ښه ګاونډی هم ولرم. ما ناڅاپه ځان په یو داسې خاموش حالت کې احساس کړ چې تر فشار لاندې یم او دا اغېز مې وړوکی کوي. په ډېر صمیمیت او نرمۍ مې ورته وویل چې د اعلیحضرت د حضور څخه منندویي کول داسې الفاظ او کلیمات غواړي چې ما سره یې د ادا کولو توان نشته. ډېر زیات مشکور یم، خو له بده مرغه د ځمکې او کروندې شوق نه لرم او که یې ولرم نو د پلار او نیکونو څخه چې هر څه مادي پانګه را پاتې ده هغه ځمکه او جایداد دی. زه یقین لرم چې تر ما کوم بل مستحق شخص به له دې ګرانبیه ډالۍ څخه ښه په مینه خوښ شي او په ذوق به ګټه ترې واخلي. اعلیحضرت هیڅ ونه ویل اما له څېرې او وضعیت څخه یې له ورایه داسې ښکارېدل چې طبعه یې خټه شوه. له کارېزمیر څخه راستانه شو نوموړی په ارګ کې حرمسرای ته ولاړ او زه خپل موټر ته چې هلته مې درولی و، وختم او کور ته ولاړم. په لاره کې مې له ځان سره پر هغه څه چې پېښ شو فکر کاوه او خپل ځان سره مې وویل هر څه چې کېدل وشول او له دې وروسته هم چې څه کېږي، نو کېږي به. د باچا د خاطر له رنجه چې د خواخوږۍ او صمیمیت څخه ډک وو ډېراغېزمن شوم او دا چې ما په ټول اخلاص او صمیمیت چلن ورسره وکړ له دې اړخه مې وجدان خوښ او ارام و. کله چې له وطن څخه د ماموریت په لور ستنېدم منتظر وم چې خپل حضور ته مې وغواړي او خدای په اماني ورسره وکړم او که کوم امر وي چې هغه هم ترې واخلم.

د عادت له مخې مې خپل د راستنېدو نېټه ښاغلي علومي ته چې د تشریفاتو رییس وو او اوس هم ژوندی دی وویله. د تشریفاتو د رییس له خوا خبر شوم چې امر نشته او په دې یې پوه کړم چې اعلیحضرت نه غواړي درسره وګوري او کومه اړتیا هم نشته. زه پوهېدلم چې اصلي علت د باچا خپګان دی ځکه راسره لیدل نه

غواړي. ما هم ونه غوښتل چې زحمت ورکړم د رخصتۍ شپې او ورځې مې هم نورې پای ته رسېدلې وې او په ټاکلې ورځ د خپلې دندې پر لور روان شوم، اعلیحضرت مې په ټولو چارو کې تل صابر، بښونکی او د زغم خاوند لیدلی و، ولې دا ځل چې سخت راځخه خفه شوی و پر زړه مې ډېر ګران احساساوه.

**بله بېلګه:** هغه وخت چې سهروردي د پاکستان صدراعظم و، سردارمحمد داودخان پاکستان ته سفر وکړ. زه په دې وخت کې په ملګرو ملتونو کې په دنده بوخت وم او په یاد رسمي سفر کې د ګډون په موخه پلازمېنې ته راوغوښتل شوم.

په دې سفر کې چې سردارمحمد داودخان کومه مهمه موخه درلوده هغه دا وه چې که شونې وي، البته چې شونتیا یې ډېره کمه او لږې وه چې د پښتونستان د قضیې پر اړه له پاکستان سره خبرې او که ممکنه وه مفاهمه وکړي. د افغانستان د حکومت دریځ چې په اصل کې د سردارمحمد نعیم خان دریځ و او سردار داودخان ته ویل شوی و، هغه د برخلیک ټاکلو د حق مسله وه چې د پښتونستان خلک په خپلواکه توګه د خپل برخلیک ټاکلو حق بیان کړي، چې ایا دوی ځان ته ازادي غواړي او که له خپل پلرني هېواد افغانستان سره یوځای کېږي.

دا عیناً هغه دریځ و چې پاکستان د کشمیر پر اړه رامنځ ته کړی و، خو د پښتونستان په برخه کې یې له دوه ګوني دریځ (Double Standard) څخه کار اخیست او پر دې بنسټ یې دلیلونه او ادعاوې وړاندې کولې، په دې معنی چې د افغانستان دعوه یې (Afghan slant) بلله او د کشمیر په اړه یې خپل دعوه سمه ګڼله، په داسې حال کې چې ښکېلاکګرې برتانیې د خپلو سیاسي چارواوترتیباتو د ترسره کولو پربنسټ د کشمیر اړوند پرېکړه د هندو مهاراجه په واک کې ورکړې وه. نوموړی خپله د کشمیر و او پښتونستان یې پاکستان ته بښلی و.

زه چې کله عمومي سیاسي مدیر وم، لیدل مې چې کله به سردار داودخان د وزیرانو په مجلس کې کومه طرحه وړاندې کوله او د دوی نظرونه به یې پرې راټولول، وزیرانو به د سردار محمد نعیم خان نظر تاییداوه او سردار داودخان به هم دا تایید حقیقي او سم باله او د مجلس پرېکړه به یې اعلانوله.

سردار داود خان یوازنی ډار چې درلود هغه دا و، که چېرې دده ورور اړیکې ورسره پرې کړي، نو دی به یوازې او بې څوکه پاته شي. دا هسې ډار و که نومړي خپل ورور پرځای کښېنولی وای اړیکپالنه او خپلوي پالنه (Nepotism) يې نه کولای او نورو افغانانو ته یې مخه کړې وای، هغوی ته یې دا فکر ورکړای وای چې زه په تاسو باور لرم، طبعاً چې ټول خلک چې دده تر ورور پیاوړي او په کار پوه وو، د نومړي خپل خلک به وای او دی به هیڅکله یوازې نه پاتې کېدلای. په هر حال دا هم یوه له هغو خبرو څخه ده چې سمې نه دي او خلکو په ناخبرۍ کې همداسې ناسمې منلې دي. مراد له دې خبرو څخه دا دی چې وایي ”خسروان پوهېږي او د هېواد چارې يې.“ البته دا خبره هلته صدق کوي چې هېواد خپله خسرو او خسرو خپله هېواد وي، نور خلک ان په موجوداتو کې هم و نه ګڼل شي، دا خولا پرېږده چې دوی ته پاملرنه وشي او د پام وړ وشمېرل شي.

ما د پښتونستان په اړه ځان ته بېله عقیده درلوده او هغه داده چې دا خاوره (پښتونستان) د افغانستان نه بېلېدونکې خاوره او مسلم حق دی، افغانستان باید د دې خاورې د پیوستون دریځ رامنځ ته کړي. د دې لپاره چې د پښتونستان خلک راجلب شي د افغانستان په څېر د غریب هېواد له خوا د پیسو مصرفول ښه پالیسي نه ده. زما په اند په افغانستان کې باید داسې قوانین طرح او پلي شي چې په کې د خلکو بنسټیز حقونه، برابري، ازادي، ټولنیزعدالت... شتون ولري او په ټوله کې افغانستان د یوه قانوني هېواد په توګه د پښتونستان خلک د ځان سره د پیوستون لپاره چمتو او لېواله کړي چې دوی هم په دې برخه کې ځنډ ونه کړي. له دغسې قوانینو څخه پرته نور قومونه او پرګنۍ (بې له پښتنو) ښایي د پښتونستان څخه زیات ډار او وېره ولري، ځکه په افغانستان کې به د پښتنو نفوس دوه چنده شي او له پېرېو څخه راپه دې خوا چې يې کوم اکثریت لرلی، ښایي د هېواد نور قومونه تر نفوذ لاندې راولي، نو پر دې بنسټ ښایي چې افغانستان

نور شتون ونه لري او ګران افغانستان به په یوه نه منونکي او نه زغمونکي پښتونستان بدل شي.

په هر صورت زما نظریه د یوه عادي افغان سوچه نظریه وه چې طبعاً نه منل کیده، ولې سردار محمد داودخان د پښتونستان په هکله زما نظریه نسبت خپل نظر ته بشپړه او پراخه ګڼله، نو د پښتونستان په اړه خبرو اترو کې یې په ما بشپړ باور درلود او په ټولو مذاکرو کې یې زه شاملولم. د دې ټولې موضوع بیانول بې ځایه او د مثنوي د اووه اویا کتابونو بیان دی.

پاکستان ته ولاړو، پاکستانیانو د تشریفاتو له لحاظه په ډېره لوړه درجه ښه هرکلی او مېلمه پالنه وکړه، خو په خبرو او مفاهمې کې یې ډېرې ستونزې جوړې او سختګیري یې وکړه. په مذاکرو کې یې جنرال ایوب خان ته ځانګړې ونډه ورکړه چې خپله هم پښتون و او د پښتنو له خوا یې د پاکستان په پلوۍ دلیلونه وړاندې کول. نورو به نرمې خبرې کولې اما نوموړی په ډېره غوسه او ګواښونکې لهجه غږېده، نورو پاکستانیانو به دده خبرې د پښتنو د غوښتنو او هیلو د استازولۍ په توګه مونږ ته برېښولې. جنرال ایوب خان هم لکه دوی په انګلېسي خبرې کولې، سردار داود خان سره له دې چې په انګلېسي په کافي اندازه پوهېده، خو تل یې لومړیتوب ورکاوه چې مطالب وژباړل شي. ماته یې وویل چې هم زما او هم د نورو خبرې وژباړم.

ما هڅه کوله چې د ایوب خان د خبرو ژباړه د بې معنی، احساساتي او جذباتي لهجې څخه خالي وي چې سردار داودخان ته د خپل طبیعت له مخې غوسه ورنه شي او له مذاکراتو څخه ونه ووځي. ولې وروسته دا راته جوته شوه چې سردار اصلاً یو صبور او زغم لرونکی انسان دی، ځکه په دې مذاکراتو کې پوهېده چې د ایوب خان لهجه ګواښونکې ده، اما نوموړي جدي نه ګڼله او زما ژباړې ته یې پام کاوه. باید یادونه وکړم چې په ټولو هېوادونو او مذاکرو کې به چې کله ما ژباړه کوله، نو راته ویل به یې که چېرې زما په خبرو کې کوم څه بدلون ته اړتیا لري، اجازه درته

شته چې په ژباړه کې بدلون ورکړي، خو دا يې نه وه راته ويلې چې د نورو د خبرو په ژباړلو کې هم لاسوهنه وکړم. په هر حال زما ګومان سم و، ځکه د مجلس تر پای ته رسېدو وروسته يې راته وويل "دې ناخلفه او حرامي زوی جنرال ايوب خان پر خپل پلار او مور لعنت کاوه." زياته يې کړه "ښه دې وکړه چې په ژباړه کې دې د هغه لهجه نرمه کړه که نه په دا خوله مې واهه." ما دده له دې خبرو څخه زړه لا نورهم ډاډه کړ او د نوموړي سياستمداري مې په زړه کې وستايله. په عين وخت کې مې هم درس ورنه زده کړ او هم مې دده په شخصيت کې نوی کشف ومونده. هغه نظر چې ټولو خلکو او زه هم ورته مايل وم چې وېې منم دا و چې ويل به يې "سردار يو اعصابي او احساساتي سړی دی" هغه غلط ثابت شو او څرګنده شوه چې بې سنجشه سړی نه و که چېرې به يې غوسه هم کوله هغه به يې په سنجش سره کاروله او لږ تر لږه د (بهرنيانو) سره په مهمو مذاکرو کې به په خپل واک او کنترول کې و.

په زړه پورې دا ده چې يو ورځ د دواج ښکار لپاره بلنه راکړه، د افغانستان د پلاوي غړو له پاکستاني پلاوي سره په ګډه د ښکار د ځای په مختلفو برخو کې په ډلو ووېشل شول. لومړي وزير او جمهور رييس هم ګډون پکې کړی و، زه د ايوب خان دوی په ګروپ کې وم.

جنرال ايوب خان راته وويل چې زما په ژباړه کې دې لاسوهنه وکړه (هغه په پښتو، فارسي او انګلېسي ژبو پوهېده). ورته وې ويل "ستا لهجه ډېره تنده وه او سردار داسې ګواښونکې لهجه نه شي زغملای، ما د يو پښتون په توګه دا نه غوښتل چې دوه پښتانه دې يو له بل سره وجنګېږي او پنجاپيان دې ننداره کوي." کله چې مې له ښکار څخه وروسته دا کيسه سردار ته وکړه، ډېر خوښ شو او راته وېې ويل " رښتيا چې پښتون يې" ډېر مو سره وخندل. انصافاً نوموړی يو ملي او وطندوسته شخصيت و او تر وزير اکبرخان راوروسته بل داسې شخص د افغانانو په تاريخ کې نه موندل کېږي.

په لیکنه کې د داسې اضافه مسایلو د ورګډېدلو مخه نیول ناشونې ده، هیله ده د داسې افاقي خاطرو یادول مو له اصلي بحث څخه لرې نه کړي، اوس بېرته اصلي مطلب ته ورګرځم.

پاکستان ته د مسافرت په پای کې د شپې او ورځې له مذاکراتو او بوختیاوو وروسته، چې د افغانستان له لورې یې زه مسؤول وم او د پاکستان له لورې مسټر بېګ (د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت سکرټرجنرال) مسؤول و، موافقه پر دې وشوه چې د دواړو لورو د دریځونو ترمنځ د ژورو اختلافونو سره سره به یو ګډه اعلامیه خپروي او په دې برخه کې ټینګار د پاکستان له لورې څخه و. ما د موقعې څخه په ګټې اخېستنې ټینګار وکړ چې خپلو خلکو ته د دواړو حکومتونو د امانت ساتنې په پار باید د "پښتونستان" نوم په ګډه اعلامیه کې یاد شي، اما پاکستان د دې کلیمې له شتون څخه انکار کاوه. اخر دې هوکړې ته ورسېدو چې د پښتونستان کلیمه په ناخنک (" ") قوس کې ولیکو. وخت د سهار د دریو او څلورو بجو ترمنځ و. د سردار کوټې ته ورغلم چې له موضوع څخه یې خبر کړم، سهروردي بېګ یې هم له خوبه را ویښ کړ او هوکړه یې ترې واخېسته ماته یې ابلاغ کړه، سردار ویښ و او پایلې ته منتظر ناست و. ویې ویل د لومړي ځل لپاره د پښتونستان نوم لیکل ان که په ناخنک کې هم وي یو بریالیتوب دی، ما ورته وویل چې دوی (پاکستانیانو) ته مې وویل چې تاسو که د ګډې اعلامیې په کاپۍ کې د پښتونستان نوم خپل په مطبوعاتو کې په ناخنک کې لیکئ، مونږ خو یې پرته له ناخنک څخه لیکو، دا نظر منظور شو او زه بېرته مجلس ته ولاړم بېګ ته مې خبر ورکړ.

سبا (یا په حقیقت کې په هممغه ورځ مو) د کابل پر لور حرکت وکړ. د کوربنو سره تر خدای په امانۍ وروسته کله چې افغان الوتکې ته پورته شو، سردار زه په غېږ کې ونیولم او زما د زحمتونو له کبله یې مننه راڅخه وکړه، د بریالیتوب مبارکي یې راکړه. له ځان سره مې وویل عجیبه دنیا ده دا چې د افغانستان خلک هیله لري چې ټول ده (سردار) ته مبارکي ووایي، خو نوموړی ماته مبارکي وایي.

يو څو ورځې وروسته مرحوم جلال الدين طرزي د بهرنيو چارو د وزارت د تشريفاتو رييس په کابل کې ټيليفون راته وکړ، چې والاحضرت صدراعظم نن ماسپښين له يوه امريکايي سره کتنه لري او امر يې کړی چې د مېلمه تر راتګ مخکې بايد زه هلته ځان ور ورسوم.

په اعظمی صدارت کې د والاحضرت دفتر ته ورغلم سردار د کښېناستلو اشاره راته وکړه چې له څو دقيقو وروسته د تشريفاتو رييس امريکايي مېلمه له ځان سره راوست او کتنه يې ترسره او پای ته ورسېده. ما خپل يادښتونه را ټول کړل او غوښتل مې چې رخصت شم سردار مرحوم راته وويل تاسو يو څو دقيقې دلته و اوسئ ، زه هم کښېناستم او امر ته منتظر وم. سردار مرحوم راته وويل زه خبر شوی يم چې تاسو د دولت يوازنی مامور ياست چې په کابل کې کور نه لرئ، په داسې حال کې چې کور لرل د ژوند له مهمو اړتياوو څخه دي، تاسو بايد کور ولرئ. زه دا ډېر وخت په دې فکر کې يم چې د يوه ښکلي کور نقشه درته واچوم او په ښه ډيزاين يې درته ودان کړو، چې د حکومت له لورې يې ستاسو د ښو چوپړونو په بدل کې درته وسپارو، ستاسو دنده يوازې همدا ده چې ورشئ او هلته استوګنه پکې وکړئ.

زه د څو شېبو لپاره مطلق چُپ پاته شوم؛ وروسته مې ورته وويل چې د والاحضرت مهرباني او پېرزوينه د قدر او ارزښت وړ ده مننه کوم، ښايي زه يوازنی د دولت مامور يم چې په کابل کې کور نه لرم، ولې يوازنی بې کوره افغان نه يم او بله دا چې زه پانګې ته ډېر پای بند نه يم.

سردار راته وويل يعنې نه يې قبلوې؟

ورته ومې وويل چې داسې يې ګڼم لکه چې ماته رسېدلی وي مننه کوم.

له څوکۍ څخه ولاړ شو د مېز هغه لور ته راغی چې زه ناست وم زه هم له ځايه ور ولاړ شوم. راته وې ويل پوه شوم او دا خبره پر همدې ځای پرېږدو. ناپامه يې

زه په غېږکې ونیولم او وېې ویل خدای (ج) دې ستا په څېر نور داسې خلک هم ډېر کړي.

ما چې باچا خفه کړی و ناڅاپه مې خوښي او ارامې حس کړه، د هغې خوښۍ د احساس او ډاډمنتیا بېلګه مې په یاد نه ده. مخکې مې درته وویل چې د دې دوو بېلګو (محمد ظاهرشاه او سردار داود خان) د شخصیت د شننې قضاوت تاته (فرهاد) سپارم.

وروسته تر دې د سردار درناوی او پاملرنه لا نوره هم زما په اړوند زیاته شوه او تر دې بریده ورسېده کله چې یې د جمهوریت په لومړي کال زه د غیرمنسلکو هېوادونو د مشرانو په کنفرانس کې د ګډون لپاره الجزایر ته لېږلم. راته وېې ویل دا چې زه ګډون نه شم کولای نو تاسو د خپل ځانګړي استازي په توګه لېږم او تر خپل ورور وروسته دا باور یوازې په تاسو کولای شم.

البته د جمهوریت په لومړي کال یې نورو ځایونو او کنفرانسونوته هم د خپل ځانګړي استازي په توګه زه لېږلی یم لکه، پاکستان، د غیرمنسلکو هېوادونو د مشرانو کنفرانس، د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلې، بنګلدېش ته د مجیب الرحمان په بلنه تګ او داسې نور.

وروسته تر دې ما د سردار محمد داود خان شخصیت ته ځانګړی درناوی درلود او د یو چا شخصیت ته درناوی په دې معنی نه دی چې سړی به د هغه له ټولو فکرونو اوسیاسي پالیسیو سره همږغی وي. په ژوند کې ناشوني ده چې سړی دې د ډېرو محترمو خلکو سره هم د نظر او فکر اختلاف ونه لري، ولې تل باید د درناوي او قدر وړ شخص احترام وشي، د هغه د نظریاتو او افکارو شننه وشي هغه چې د اختلاف وړ دي له هغو سره مخالفت او هغه چې د موافقت وړ دي له هغو سره هوکړه او همږغي وشي. څوک چې دغه حقیقت او اصل نه پېژني، ښايي د درناوي وړ هم نه وي، له بل پلوه له نېکه مرغه سردار مرحوم له خپلو افکارو سره زما د

مخالفت دلیلونو ته هم تر اخره غوږ نیوه او وروسته یې خپل نظریات بیانول. ډېري وخت به یې ټینکار پرې کاوه.

دلته باید د دوو ورونو ترمنځ توپیر ته اشاره وکړم. سردارمحمد نعیم خان هیڅکله د خپلو افکارو مخالفو نظرونو ته غوږ نه اېښوده او د هغه خبرې به یې پرې کولې او دا به یې ورته ویل چې " زیاتو کړو وړو خبرو ته اړتیا نشته زه امر کوم چې داسې یا هغسې وکړه." عجیبه دا ده چې سردار داود خان په لېوني او سرزوري (سرټمبه) شخص مشهور و او دا نسبت سردار نعیم خان ته نه ورکول کېده. د ډېري قضاوت د هیچا په هکله دومره له حقیقت څخه لرې نه دی، لکه د سردار محمد داودخان په اړه چې دی زه یې دلیل د خلکو څخه د سردار داودخان مرحوم لرېوالی ګڼم. نوموړي عادت درلود هغه خلک چې ده غوره کړي و، له هغو سره راشه درشه ولري او د نورو خلکو سره یې اړیکي نه ساتلې. دې خلکو هم د دې لپاره چې مقام یې ساتلی وي نور خلک یې له سردار داود خان څخه لرې ساتل او د هغوی شتون یې سردار ته د یو ډار په توګه څرګنداوه. د هغوی لرېوالی یې سردار ته د خوندیتوب وسیله ګڼله، نو په دې خاطر یې کیسې او داستانونه جوړ او خپاره کړل چې ټول له حقیقت څخه خالي وو. له بله اړخه سردار داسې عادت درلود چې کله به یې له چا سره دوستي شوه، نو تراخره یې ساتله او دده دې دوستانو چې په حقیقت کې د ځان دوستان وو، د نوموړي له دې خصلت څخه یې بده ګټه اخېستله. سردار مرحوم تر ډېره د کار او عمل سړی و. خبرې یې نه فصیح او نه جالبې وې، نو په دې اساس ښه به دا وي چې هغه د خپل کار د قضاوت په تله کې وتلل شي. د نوموړي چوپړونه او ترسره کړي کارونه که ښه دي یا بد، باید یو، یو لېست شي او تر شننې او څېړنې لاندې ونیول شي. زه په دې عقیده یم چې انسان هغه څه دی چې ترسره کوي یې. د چا په نیت څوک نه پوهېږي. په خبرو سړی نه شي کولای چې باور وکړي. فلهذا یوازې کړنې دي چې باید په پام کې ونیول شي.

د سردار مرحوم د کړنو په لړلیک کې کولای شو چې دغه مهم ټکي یاد کړو:

۱- د خپلې خاورې د بېرته ترلاسه کولو د دعوې را پورته کول چې برتانیې هغه ورڅخه بېله کړې وه، یعنې د پښتونستان د ازادۍ دعوه

۲- په ښارونو کې د نوو ودانیو جوړول چې د خلکو د ژوند پر ډول یې ژور اغېز وکړ

۳- په لویو ښارونو کې او د افغانستان د ولایتونو ترمنځ د سړکونو پراختیا او اسفالټ کول

٤- د برښنا او ټکنالوژۍ واردول

٥- د کرنې د پراختیا لپاره د بندونو جوړول او د صنعت د ودې لپاره د فابریکو جوړول، چې دا د کرنې او صنعت د ودې لپاره په یو وخت کې ښې هڅې وې

٦- تر ټولو مهمه دا چې د ښځو د حقونو پېژندنه وشوه او چادري یې له منځه یوړه، په ټولنیز ژوند او دولتي ادارو کې یې د ونډې اخېستو زمینه ورته مساعده کړه

۷- په ټول هېواد کې امنیت ټینګولو ته پاملرنه او داسې نور...

دا هغه هیلې وې چې بل هیڅوک یې په ترسره کولو کې نه وو بریالي شوي. هغه لړلیک چې باید چا تر دې غوره جوړ کړی وای، جوړ نه شو او باید چمتو شي چې دا شننه د عدالت په تله کې ترسره شي.

فرهاده! ما هیله درلوده چې دا څېرکی بشپړ او پای ته ورسوم، خو د خدای تعالی (ج) قدرت او اراده پر دې شوه چې د پاکستان د حکومت له خوا تر کلونو تبعید وروسته مې یو ځل بیا په امریکا کې د دې هېواد د حکومت له خوا هلته د سفر کولو اجازه ترلاسه کړه او زما د یادښتونو څېرکی همداسې نابشپړ تاته پاتې شو. لکه څنګه چې ته پوهېږې چې د ناروغۍ او کمزورۍ په داسې حالت کې چې ان

حرکت نه شم کولای، ولې د ملي او ايماني فريضې وجداني غږ ته مې لبيک ووايه او له امريکا څخه مې حرکت وکړ.

په هر صورت کله چې مې وخت وموند په لومړي قدم کې به انشاءالله دا يادښتونه بشپړوم او کوم خپلوان ته به يې سپارم که چېرې بيا ځلې ما او تا په ژوند کې سره ونه ليدل چې دا يادښتونه تاته وسپاري.

**عبدالرحمان پژواک**

د پنجشنبې ورځ د سهار ۲ بجې.

۲۱مارچ ۱۹۹۱م کال (لرغونی ملي نوروز)

**دوباره خوانده نشده است. اگر در عبارت چيزی مانده باشد معذور داريد.**

۶۸

حکومت آن به امریکا دست دهد و نفس یادداشت تا این رأی تو ناتمام بماند
و طوریکه تو سپرده‌ای در حال رسیدن و تصمیم قاطعیت به حرکت ندای ف[illegible] ملی
و ایرانی را لبیک گفتند. و از امریکا حرکت کنم.
بهرصورت به اولین فرصت دنباله این یادداشت‌ها را ان‌شاءالله، نوشته و نزد
یکی از اعضای فامیل بگذارم که آن را در صورتیکه من بار دیگر در زندگی ترا
نبینیم بتو برساند.

ساعت ۳ صبح روز پنجشنبه ۲۱ ماه مارچ (نوروز ملی باستانی)
۱۹۹۶

[illegible] ۲ ولکاکسن
۳۸۶۵ فیرفکس ورجینیا
اتازونی.

درباره خواندن نوشته‌ها اگر در عبارت چیزی کم
مانده باشد معذرت دارید.

3865 WILCOXSON DR
FAIRFAX, VA 22031

# ضميمي

# پاکستان ته د یوه کډوال په توګه

# د استاد عبدالرحمان پژواک دویم ځل سفر

**لیکوال برمک پژواک**

ارواښاد استاد پژواک پاکستان ته په خپل دویم ځل سفر کې غوښتل چې د یوه عادي کډوال په توګه په پېښور کې استوګنه غوره کړي؛ ځکه چې پېښور د افغان مبارزو مجاهدو کډوالو په یو مهم مرکز بدل شوی و او دلته یې د روسانو او په کابل کې د دوی د لاسپوڅي رژیم پر وړاندې د جهاد او ملي مقاومت لپاره خپلې هلې ځلې کولې. د همدې لپاره د "۱۹۸۳"م کال په فبروري میاشت کې اسلام اباد ته ولاړ او هلته تر څه وخت تېرولو وروسته له مجاهدینو او ملي مبارزینو سره د لا نېږدېوالي او همږغۍ په موخه پېښور ته وخوځېد. هلته یې لومړی د Deans په نوم هوټل کې او بیا وروسته د ښاغلي ګېلاني د کوم خپلوان د کور په مېلمستون کې استوګنه غوره کړه. دا چې د مجاهدینو او افغان کډوالو د ټولو قومونو او ګوندونو د خلکو تګ او راتګ له ده سره زیات و، نو کوم بل ځای یې د اوسېدلو لپاره کرایه کړ. د بل ځای د کرایه کولو څخه یې موخه دا وه چې یو څه پراخه وي چې د مېلمنو او مراجعینو سره په اسانه ناستې پاستې وشي او بل دا چې په ازاده توګه پرته له کومې غلط فهمۍ له خلکو سره اړیکه او راکړه ورکړه ولري. نو ځکه هغې مانۍ ته چې د مرحوم عجب خان افریدي د زامنو وه ولاړ او څه دپاسه یوه میاشت هلته په ازاده توګه واوسېد. د یادونې وړده چې په دې وخت کې د ارواښاد استاد پژواک وربېرونه هر یو فریدون پژواک، مرحوم سهراب پژواک او برمک پژواک هم یوځای ورسره اوسېدل او دده خدمت یې کاوه.

دا چې د استاد پژواک اړیکې له پاکستاني چارواکو سره خړې پړې شوې او له بله اړخه ده ته د هېوادوالو تګ او راتګ هم زیات و، نو د مرحوم عجب خان افریدي زامنو له دې اړخه د خطر احساس وکړ او استاد پژواک ته یې خپله اندېښنه په ډاګه کړه. هغه هم دا ځای پرېښود او دلته ډېر ونه اوسېده، بېرته Deans هوټل ته ولاړ چې د ښاغلي سید احمد ګیلاني په مرسته یې د شامي روډ په سیمه کې یو بل کور کرایه کړ او هلته له خپلو وربرونو سره مېشت شو. له مجاهدینو، افغان کډوالو او ملي او نړیوالو رسنیو سره یې د لیدنو کتنو او مرکو لړۍ ته دوام وکړ او د مقالو په خپرولو سره یې په ځانګړي ډول د ژنیو پر مذاکراتو نظریات ورکول او د دې خبرو اترو د جوړښت پر ډول او دا چې ازادي غوښتونکو افغانو ته په کې د ګډون اجازه نه وه ورکول شوې او د دې بهیر د بدو پایلو د رامنځ ته کېدو ګواښونه به یې ورکول. په نوي کور کې د اوسېدو څخه یې لا یوه اونۍ نه وه تېره شوې چې د پاکستان د حکومت د سرحد صوبې د سپېشل برنچ

( Special Branch) یوه ډله پټ پولیس چې مشري یې کرنېل سکندرخان کوله، ورغله او له استاد سره یې د لیدنې غوښتنه وکړه. سکندرخان د پاکستاني چارواکو امر ورته راوړی و چې د استاد چارو او د اوسېدو د ځای د څارنې په اړه خبر ورکړي. همدارنګه یې ورته په ډاګه کړه چې استاد نه شي کولای چې پرته له خپلو وربرو څخه له بل هیچا سره که افغان وي او یا غیر افغان، اړیکې او راشه درشه ولري. د دې امر د پلي کېدو لپاره به څو نفره پولیس دده د کور پېره کوي او همداشان د لاښه څار او مواظبت په موخه به یو نفر پولیس له استاد سره په سرای کې دننه اوسېږي. استاد پژواک د کور څار او د پولیسو د پیره کولو امر د پاکستاني چارواکو د سیاست یوه برخه وګڼله، ولې په ډېر ټینګار او سختو ټکو یې کرنېل سکندرخان ته وویل چې په سرای کې دننه د پولیس اوسېدل او موظف کول په هیڅ عنوان نه منم. نو هماغه وو چې پولیس د دې امر څخه په ډډه شول او پر پلي کېدو یې ټینګار ونه کړ. په هر صورت د پاکستاني چارواکو حکم په بشپړ ډول پلی شو د

استاد کور تر څار لاندې ونیول شو او د کور مخې ته يې يوه ډله مخفي پوليس او څو تنه ښاري پولیس په یوه خیمه کې د پيرې لپاره استوګن شول. د يادونې وړ ده چې په دې ورځ د یو شمېر رسنیو ژورنالستان چې ان د نړیوالو رسنیو استازي هم پکې وو لکه ښاغلی نبي مصداق چې د بي بي سي د پښتو څانګې له خوا راغلی و او غوښتل يې چې له استاد پژواک سره مرکه وکړي خو د پاکستاني پولیسو له خوا اجازه ورنه کړل شوه او د استاد سره له ليدنې منع شو. په هغه شپه د کور د څارنې موضوع په ټولو نړیوالو معتبرو رسنیو کې خپره شوه، اما پاکستاني چارواکو په ځرګنده توګه په دې اړه کومه تبصره ونه کړه. پاکستاني مقاماتو د دې امر د توجیه لپاره دا دلیل راوړ دا چې استاد د درناوي وړ یوه نړیواله مهمه څېره ده او اوس مهال د پاکستان مېلمه دی، نو کوم افغان کډوال او خلک چې له استاد سره د لیدنو او کتنو لپاره راځي ممکن نوموړي ته کوم ګواښ پېښ کړي، له همدې کبله مونږ د استاد د شخصي امنیت اوخوندیتابه په موخه دا پولیس دلته ځای پرځای کړي دي، چې ساتنه يې وکړي.

د استاد ملي او خپلواک دریځ او د ملي ګټو د مهمو بللو او ساتلو هڅې چې تر هر څه ورته مهمې وې، د پاکستان د دښمنۍ یوازنی دلیل و. د جینوا د خبرو د جوړښت پر طرز او دا چې خپلواک افغانان، مجاهدین او ملي مبارزین له دې خبرو څخه د پاکستان په هڅو کوښه وساتل شول پر دې ټکو د استاد ټینګې نیوکې، د مجاهدینو او ګوندونو ترمنځ د یووالي د رامنځ ته کېدو په برخه کې د استاد پژواک هڅې، همداشان د یوه سیاسي او اداري واحد سازمان په توګه چې په کې په ملي اونړیوال ډګر کې ټول خپلواک افغانان، ملي مبارزین، مجاهدین او ټول ګوندونه ګډون ولري، د یوه جلاوطنه حکومت د رامنځ ته کېدو وړاندیز، دا ټول موارد له پاکستان سره د اختلاف لاملونه وو. همدارنګه د استاد پژواک دا نظر چې يو نړیوال کنفرانس دې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د دایمي استازو په شمول او د دوی تر څار لاندې جوړ شي چې په کې د افغانستان د قضیې ټول

ښکېل لوبغاړي هېوادونه، نور هېوادونه او خپلواک نړیوال سازمانونه، د افغانستان د سیاسي ګوندونو استازي د مجاهدینو او ملي مبارزینو استازي هم ګډون ولري او د افغانستان معضلې ته د حل لاره ومومي، یاد نظر له پاکستان سره د استاد پژواک اختلاف نور هم زیات کړ. هغه ځوک چې د افغانستان د قضیې پر وړاندې د پاکستان په سیاست پوهېږي د دې لیکنې له لوستنې او لږ فکر کولو څخه پوهېږي چې پاکستان د استاد پژواک سره څومره ژور حساسیت او د دښمن ډوله چلن درلوده، اما بیا هم د دې ټول اختلاف سره سره استاد پژواک د پاکستان په اړه شکایت ونه وکړ.

دا چې دا کړاوونه یې په پټه خوله ګالل د دې لپاره یې دوه دلیله درلودل، نوموړی په دې اړوند زیاتوي، لومړی دا چې د پاکستان په اړه زما له خوا هر ډول شکایت کول د دې لامل کېدل چې د خپل ځان پر ضد د هغوی هر ډول ناروا کړنې ته، په لوی لاس مشروعیت ورکړم او بله مهمه لا دا چې مانه غوښتل زما د ټکر او مخالفت له وجې د نورو افغان کډوالو اړیکو ته زیان ورسېږي. په همدې خاطر کله چې په پېښورکې زما د کور تر ځار لاندې نیولو په غبرګون کې ځینې هېوادوال راټول شوي وو او غوښتل یې چې لاریون وکړي ما اجازه ورنه کړه او په ټینګه مې یې مخه ونیوله .

باید وویل شي چې نېغ په نېغه د استاد پژواک سره اړیکه نیول ناشونې وه، نو هېوادوالو به د نوموړي د وریرونو له لارې چې له ده سره یوځای اوسېدل لکه (فریدون پژواک او برمک پژواک) او بهر ته د تګ او راتګ اجازه یې درلوده، پېغامونه سره لېږل رالېږل او کله کله به هېوادوالو ان چې د کور په خوا کې به تېرېدل په ډېرو به یې خپل پېغامونه وترل او له سړک څخه به یې سرای ته ورغورځول. له دې یادونې څخه زمونږ منظور دا دی چې پاکستان خپل ټول فشارونه او بندیزونه پر استاد پژواک د دې لپاره ولګول چې نوموړی ځنډې ته کړې ولې هغه

بیا هم لکه د تېر په څېر له خپلو هېوادوالو سره په غیر مستقیم ډول له بېلابېلو لارو څخه اړیکې نیولې او په ملي جریدو کې یې خپلې مقالې خپرولې.

د استاد پر وړاندې د پاکستان دا هڅې هم شنډې او ناکامې شوې، په کور کې د استاد حبسول د دې  سبب شول چې ډېری هغه مجاهدین او ملي مبارزین چې د استاد له ملي دریځ، تقوا او سیاسي پوهې سره بلد وو، د پاکستان پر نیت بدګومانه شي او د هغو د بدو پایلو خبرداری ورکړي. البته د استاد توقیف او وروسته یې له پاکستان څخه اېستل د هغو خلکو او ډلو لپاره چې په پاکستان پورې تړلې وې او ګټو ته یې ژمنتیا درلوده د هرکلي وړ و او هغوی یې په اړه هیڅ هم نه ویل او چپ پاتې وو، ولې برعکس ډېری ملي شخصیتونو او جهادي مشرانو د پاکستان د دې ظالمانه کړنو پر وړاندې غبرګون وښود او دا کار یې د افغانستان د ملي ګټو او روسیې پر وړاندې د افغانانو د ملي مقاوت پر ضد وباله. سر بېره پردې د لوېدیځ المان او برتانیې هېوادونو سفاروتونو هم چې استاد د کمونستانو تر کودتا مخکې هلته د لوی سفیر په توګه دنده ترسره کړې وه، د استاد د حبس او د کور تر څار لاندې نیول وغندل او د خپلو اندېښنو مراتب یې په اسلام اباد کې د خپلو سفارتونو له لارې د پاکستان د بهرنیو چارو له وزارت سره شریک کړل. ان تر دې چې د یادو هېوادونو قونسلان پېښور ته هم راغلل او د استاد د برخلیک په اړه یې د خپلو حکومتونو دریځونه پاکستاني چارواکو ته وړاندې کړل، اما خپله د پاکستاني پولیسو د مخنیوي په خاطر ونه توانېدل چې له استاد پژواک سره لیدنه وکړي.

استاد پژواک د "۱۹۸۳"م کال د اپرېل څخه تر جولای پورې د درېو میاشتو لپاره تر څار لاندې او په حبس کې وو، وروسته تر هغې له پاکستان څخه واېستل شو. د پېښور څخه د پاکستان مخفي پولیسو په موټر کې تر اسلام اباده ورساوه او له هغه ځایه یې له ملګرو ملتونو څخه د کډوال په توګه پناه واخېسته او نیویارک ته ولاړ. دلته لازمه ګڼم چې یادونه وکړم، کله چې استاد پژواک له پاکستان څخه واېستل شو او امریکا ته ولاړ، نو ښاغلي ډاکټرعصمت الله نوابي د یو وطندوست

او پوه شخص په حیث د استاد د مېلمه پالنې او خدمت په برخه کې ډېرې هڅې وکړې، استاد ته یې په نیوجرسي ایالت کې په خپل کور کې د اوسېدو او مېلمستیا چوپړونه ترسره کړل. زه له دې کبله نړۍ مننه ورڅخه کوم، استاد په نیو جرسي کې تر لنډې استوګنې وروسته نیویارک ته ولاړ چې د افغانستان د قضیې په تړاو خپلو هڅو ته له سره دوام ورکړي او د ملګرو ملتونو د سازمان له لارې د افغانستان کشالې ته نړیوال انعکاس ورکړي په دې نیت چې ګوندې په دې اړوند نړیوال افکار روښانه او ملاتړ یې ترلاسه کړي. استاد په نیویارک کې له څو میاشتو اوسېدو وروسته واشنګټن ته ولاړ او هلته یې څو کلونه تېرکړل. په امرېکا کې د اوسېدو په وروستیو کلونو کې استاد د خپل لمسي فرهاد پژواک په کور کې د ویرجنیا په ایالت کې اوسېده او فرهاد ته یې دا ویاړ ور په برخه کړ چې د خپلو بوختیاوو، دندې او زده‌کړو ترڅنګ د استاد په چوپړ کې و اوسي. بلاخره استاد پژواک د ۱۹۹۱م کال په پسرلي کې د افغانستان د ازادو لیکوالو د ټولنې په بلنه بېرته پېښور ته ستون شو.

# پېښور ته د استاد پژواک وروستۍ سفر

**لیکوال: فرهاد پژواک**

لکه څنګه چې د ځینو افغاني کرېو د مقالو او خپرونو څخه اخېستنه کېږي، پېښور ته د (۱۹۹۱م) کال په پسرلي کې د استاد پژواک د وروستي سفر د لاملونو په اړه بېلابېل نظرونه او ناسم پوهاوی رامنځ ته شوی دی. ځینو هېوادوالو په شعوري یا غیرشعوري ډول د دې سفر څخه خپل شخصي تعبیرونه او برداشتونه وړاندې کړي دي، ځینې یې د سفر څخه ډېر خوښ او ځینې بیا سخت ناخوښ ښکاري.

اصلي خبره دا ده چې استاد پژواک تل هیله درلوده چې د خپلو مجاهدو او کډوالو افغان وروڼو سره نږدې او یوځای ژوند وکړي او په دې عقیده وو چې له دوی سره په نږدې والي کې سرې کولای شي خپلو هېوادوالو ته ښه او غوره خدمت ترسره کړي. همدارنګه د استاد پژواک په یادښتونو کې دا موضوع په ټینګار سره یاده شوې ده چې پېښور ته په "۱۹۸۲"م کال کې دده د دویم سفر په لړ کې نوموړي غوښتل چې هلته د خپلو مجاهدو مهاجرو او ملي مبارزو هېوادوالو ترڅنګ په هغه ښار کې د یوه عادي کډوال په توګه استوګنه وکړي.

کله چې د "۱۹۸۳"م کال په جولای کې استاد پژواک له پاکستان څخه وتلو ته اړ شو او امریکا ته یې سفر وکړ دا جبري سفر هیڅکله د نوموړي په خوښه نه و او تر دې یې بله غوره چاره هم نه درلوده. اړینه بولم چې دلته د ګاونډیو هېوادونو د غرضونو اړوند د استاد هغه پر حق دریځ چې د "بانوی بلخ" په کتاب کې یې بیان کړی دی، په لنډه توګه اقتباس کړم "پاکستان او ایران د افغانستان دوه وروڼه هېوادونه دي، د افغانستان خلک د خپل لوی غم او درد په لومړیو کې د دې دوو هېوادونو خواخوږي هیڅکله نه هېروي، زه خپله داسې الفاظ نه لرم چې د یادو مسلمانو او وروڼو هېوادونو د خواخوږۍ مننذويي پرې وکړم، اما کله چې په منځ

کې د یوه ملت د ارزښتونو موضوح مطرح وي نه ښايي چې واک يې د نورو په لاس کې ورکړو او خپل حق ونه غواړو.“

استاد پژواک په ضمن کې مجاهدينو ته دا ډول سپارښتې درلودې:

”له يو اړخه د ځينو هېوادونو ګټې او غرضونه او بل لور ته هغه خلک چې ځانونه د خدای (ج) په لار کې د جهاد لپاره وقف ګڼي، خو پرته له څوکۍ او مقام څخه بل نيت نه لري، د افغانستان راتلونکې څېره ډېره وېروونکې او له ګواښونو ډکه ښکاره کوي.“

په امريکا کې د اوسېدو پر وخت استاد په ټينګ هوډ او ايمان د افغانستان د ملي ګټو د ساتلو په موخه له هر ډول ملاحظو او شخصي ګټو څخه تېر و او په دې لار کې يې خپلې نهايي هلې ځلې کولې. په دې لړ کې يې د نيويارک په ښار کې د مختلفو هېوادونو له استازو او د ملګرو ملتونو د دارلانشاء سره ليدنې او خبرې اترې درلودې او همدا هڅې وې چې د ملګرو ملتونو د سازمان ډېری غړو له افغانستان څخه د شوروي د يرغلګرو ځواکونو د وتلو اړوند مثبتې رايې ورکړې.

په هر حال د جناب استاد پژواک غوښتنه او د زړه هيله تل همدا وه چې د خپلو مجاهدو او مبارزو هېوادوالو سره له نږدې اړيکې ولري او هېواد او هېوادوالو ته د خدمت لپاره که اړينه وي، د نړۍ هرې څنډې او سيمې ته پرته د خپلو روغتياو ستونزو په نظر کې نيولو سره سفر وکړي. نوموړي خپل کوم دوست ته په يو ليک کې دا هيله داسې څرګنده کړې ده: ”زه په څلورويشتو ساعتونو کې خپله چمتو يم چې اتازوني پرېږدم، زما روغتيا مهمه نه ده، همدارنګه دلته د خپلې درملنې لپاره کومه وسيله هم نه لرم ځکه له هيڅ بهرنۍ سرچينې څخه مې د امريکا په شمول مرسته نه غوښتې او نه يې غواړم، ولې يوه عامه او بله خاصه ستونزه لرم، لومړی دا چې پاسپورټ او يا داسې کاغذ يا لاسوند لکه نور افغانان چې يې لري، نه لرم چې وېزه پرې واخلم نو په دې خاطر له اتازوني څخه نه وتلی يم او نه وتلای

شم، دویم دا چې د پاکستان حکومت ماته هلته د ورتګ اجازه نه راکوي او زه یې د دوی په اصطلاح (ناپسند شخصیت) اعلان کړی یم".

کله چې د افغانستان د ازادو لیکوالو د ټولنې رییس ښاغلي رسول امین د "۱۹۹۱" م کال په پیل کې استاد پژواک ته په هغه سیمینار کې چې (WUFA, Writers Union of Free Afghanistan) له خوا ترسره کېده د ګډون بلنه ورکړه، نو استاد د پاکستان د ویزې ستونزه او د سفر لپاره د یو نړیوال سند د نه شتون تشه له ښاغلي امین سره یاده کړه. ښاغلي امین ورته وویل چې په دې اړه به کوښښ وکړي، څو ورځې وروسته په واشنګټن کې د پاکستان سفارت استاد ته ټیلیفون وکړ او ورته وې ویل چې مونږ ته امر شوی چې تاسو ته د پاکستان ویزه درکړو. ما د استاد د سفر د سند په اړه د امریکا د کډوالو چارو ادارې ته مراجعه وکړه او دا ځل مې دې غوښتنې ته مثبت ځواب ترلاسه کړ، استاد په دې توګه سفر پیل کړ او پېښور ته ولاړ.

دلته باید په ډاګه ووایو چې پاکستان ته د استاد د سفر او بلنې ټولې چارې د افغانستان د ازادو لیکوالو د ټولنې له خوا ترسره شوې او د استاد یوازینۍ موخه له دې سفر څخه دا وه چې افغان ملي مبارزینوته خدمت وکړي او خپل وطن او هېوادوالوته ډېر نېږدې پاتې شي. استاد خپله په دې اړه له پېښور څخه خپل یوه ملګري ته په یو لیک کې داسې لیکي:

"ستاسو د ۱۳۷۰ کال د ثور د ۲۲ نېټې لیک له امریکا څخه تر تګ او پېښورته تر غیرمترقبه او د تمې خلاف سفر څخه وروسته فرهاد راولېږه. ما هیڅکله نه غوښتل چې له پېښور نه د خپلو هېوادوالو څخه بېل او لرې و اوسم او ان امریکا ته سفر وکړم. په پېښور کې د کور تر څار او بیا له پاکستانه تر ایستلو وروسته ما دا باور نه درلود چې زما په څېر (ناپسند شخصیت) ته دې بېرته پاکستان د دخول ویزه ورکړي. د (WUFA) کارکوونکو له لورې په سمینار کې د ګډون بلنه راکړل شوه، تعجب مې وکړ، ما له هغوی سره د ویزې او اړونده امکاناتو په اړه خبرې

وکړې هغوی راته وویل چې په دې اړه به کوښښ وکړي. څو ورځې وروسته په واشنګټن کې د پاکستان د سفارت له خوا ټیلیفون راته وشو چې مونږ هدایت ترلاسه کړی چې تاسو ته ویزه درکړو، ما هغوی ته وویل چې کابو تر "۹" کالو وروسته زه داسې د مسافرت پاټه نه لرم چې پر هغې ویزه واخلم، راته ویې ویل چې یوازې د ویزې په ورکولو کې اختیار لري. د امریکا د کډوالو چارو ادارې ته مې مراجعه وکړه دا چې پوهېدله چې پاکستان ویزه راکوي، نو هغه چاره چې د څو کلونو په موده کې نه ترسره کېدله د بهرنیو چارو وزارت ډېر ژر او په بیړه ترسره کړه. د مسافرت پاټه یې زما کور ته راوړه، ما په هغه وخت کې بې له دې چې د سفر کولو په اړه فکر وکړم بل کوم فرصت نه درلود. د خپلې ناروغتیا او سپارښتنو په خلاف مې پر خدای (ج) توکل وکړ، روان شوم او له ځان سره مې وویل که په دې لاره کې مړ هم شم، نو وطن ته به یو څه نږدې ساه ورکړم او دا نېکمرغي باید له لاسه ورنه کړم".

د استاد پژواک د ژوند وروستي کلونه په پېښور کې د افغانانو د مختلفو پوړیو سره په اړیکو او خبرو اترو کې تېر شول. نوموړی خپله په دې هکله داسې وایي: "زما ناروغي دوام لري، ولې جسمې ده له روحي، معنوي او قلبي پلوه په مراتبو روغ او جوړیم او د خدای تعالی (ج) شکر ادا کوم. دلته د افغانانو بېلابېل قشرونه لکه د طب ډاکټران، ښوونکي، زده کوونکي، لیکوالان، شاعران، ادیبان، غازي زلمیان، د ځینو ګوندونو استازي او د کډوالو له کمپونو څخه عام خلک ما یوه شېبه یوازیتوب ته نه پرېږدي او د بل هیڅ کار لپاره فرصت نشته همدا له خلکو سره لیدنې او کتنې غوره سرچینه ده چې زه باید نورې ټولې چارې څنګ ته کړم..."

استاد پژواک د ۱۳۷٤ هـ . ش کال د جوزا پر۱۸چې د ۱۹۹۵م کال د جون له ۸ نېټې سره سمون خوري، له دې فاني نړۍ سره د تل لپاره غالباً د زړه د درېدو له امله مخه ښه وکړه او په خپله خبره وطن ته یې څو فرسخه نږدې د خپلې کورنۍ په غېږ کې ساه ورکړه او د حق داعي ته یې لبیک ووایه. جنازه یې د ننګرهار ولایت

په سرخرود ولسوالۍ کې په خپل پلرني کلي باغباني کې د دوستانو، خپلوانو او هېوادوالو له خوا خاورو ته وسپارل شوه. وروسته بيا په ۱۳۸۵ هـ . ش کال چې د ۲۰۰٦ م کال سره سمون خوري، د استاد پژواک قبر د نوموړي د کورنۍ غړو، قومي مشرانو او علماوو سره تر مشورې او شرعي حکمونو تر ادا کولو وروسته، د ده له پلرنۍ هديرې څخه د نوموړي د اوسېدو ځای باغ کلا ته راولېږدول شو. په دې هيله چې د خدای تعالی (ج) په توکل به يوه ورځ هلته دده د مزار تر څنګ يو مسجد او کتابتون د ده په خپل نوم ورغول شي، چې د ټولو خلکو او مينه والو د ګټې اخېستنې وړ وګرځي. همدارنګه زه هيله من يم چې دا کلا او باغ د پژواک کورنۍ د ټولو غړو له خوا د ارواښاد استاد عبدالرحمان پژواک په نوم وقف او ونومول شي.

پای.

# د ډاکټر نجیب الله ټیلیفونی تماس

**د استاد پژواک سره د ډاکټر نجیب د غیر مترقبه او د تمې خلاف ټیلیفوني خبرو نقل. یاده دي وي چې ډاکټر نجیب دا وخت د افغانستان د جمهور رییس په توګه د ملګرو ملتونو په غونډه کې د ګډون په موخه په رسمې سفر نیویارک ته راغلی و او استاد پژواک دا مهال په واشنګټن کې استوګنه درلوده**

د یادښت لیکوونکی فرهاد پژواک، د ”۱۹۸۹“م کال د جون د ”٦“ ورځې ماښام

د معمول په څېر د استاد پژواک په خدمت کې وم چې د ټیلیفون زنګ راغی. هغه څه چې مې د ټیلیفوني خبرو اترو څخه واورېدل او له د استاد پژواک سره تر خبرو وروسته مې ذهن ته ښکته شول، د دې لیکنې بنسټ جوړوي او ښايي چې په زړه پورې وي. دا یادونه باید وکړم چې د دې ټیلیفوني خبرو اصل کټ مټ ښايي نه وي رانقل شوی، غالباً چې په ملګرو ملتونو کې د وخت د رژیم د کابل سفیر شاه محمد دوست به و چې ټیلیفون یې رخ کړ.

شاه محمد دوست: ښاغلی پژواک؟

پژواک: بلې.

شاه محمد دوست: ښاغلی نجیب غواړي چې تاسو سره خبرې وکړي.

پژواک: کوم نجیب؟

شاه محمد دوست: د افغانستان جمهور رییس.

نجیب: کاکا جانه سلام!

پژواک: زما کوم وراره یاست؟

نجیب: د افغانستان د جمهور ریيس په حيث تاسو سره خبرې نه کوم، ستاسو د وراره په توګه خبرې درسره کوم، غوښتل مې چې ستاسو د روغتيا پوښتنه وکړم.

پژواک: په روحي او معنوي لحاظ بشپړ روغ او جوړ يم.

نجیب: خوښ شوم چې ستاسو غږ مې واورید. د هېواد له حالاتو څخه به خبر یاست، وطن خپلو صالحو بچو ته اړتيا لري.

پژواک: طبیعي.

نجیب: ستاسو له نظرونو څخه خبر يم د منلو او درناوي وړ دي، شعرونه مو خلکو ته رسېږي، په کابل کې خلک ستاسو راتګ ته منتظر دي او ستاسو د ځيګر ټوټې مو هم راتلو ته انتظار دي.

پژواک:  د افغانستان ټول خلک خپل د ځيګر ټوټې ګڼم.

نجیب: موخه مې کورنۍ ده.

پژواک: زما حقيقي وراره (ډاکټر نعمت الله پژواک) راغلی و، خو د اصولو له نظره مې له هغه سره ونه ليدل، مسله کورنۍ نه ده د ټول هېواد او ولس مسله ده.

نجیب: مونږ په ښه نيت افغانستان ته راغلي وو چې خلکو ته ډوډۍ، کالي او کور چمتو کړو.

پژواک: ښايي نيت...! اما عمل مو څنګه و وطن مو وران کړ، خلک لوڅې پښې له هېواد څخه کډوالۍ ته مجبوره شول. پټي او کاريزونه مو وچ کړه، د افغانستان ابرو او ازادي مو له منځه يوړه، پردي مو راوستل. تاسو پوهېږئ چې زه د دې شيانو سره مخالف وم او مخالف به يم.

نجیب: زما عرضونه نه قبلوئ؟

پژواک: د قبول وړ نه دي.

نجیب: په هر صورت، غوښتل مې ستاسو د صحت پوښتنه وکړم.

پژواک: زما روغتیا اهمیت نه لري، د افغانستان صحت مهم دی.

نجیب: ومې ښېئ زحمت مې درکړ.

پژواک: مهرباني مو وکړه، زه دا هیله او تمه لرم چې د یوې ازادې او رښتینې نظرېې څخه غافله ونه اوسې.

نجیب: ستاسو د روغتیا پوښتنه به بیا هم کوم، زما عرضونه هم په یاد ولرئ.

پای.

**یاحق**

" نرسم اگر من ناتوان، سخنم به موکمری رسد"

ابوالمعانی بیدل.

# د حق د لارې مجاهدینو او ملي مبارزینو ته عریضه

**عبدالرحمان پژواک**

د لسان الغیب حافظ شیرازي په خبره "بارها گفتم و بار دیگر می گویم" د هغه عالم دا خبره چې ویلي یې و (د پېښې علاج باید تر پېښېدو مخکې وشي) ډېره ژوره، پر ځای او د پاملرنې وړ ده.

په دې وروستیو کې په ځانګړې توګه د روسیې د ناکامۍ او د کابل رژیم ته د ورکړل شوې لاربښوونې په هڅو د کابل له خوا د اغفال او تېرایستنې ځینې ټیمونه چې دوی یې د ښه نیت ټیمونه بولي (د نجیب په خبره دري پنځوس هېوادونو ته او د نړیوالو سرچینو په اټکل تر شپېتو زیاتو هېوادونو ته) چې ټولې لوېې وچې په کې شاملې دي، په ځانګړي ډول د درېمې نړۍ هېوادونو ته په کې پاملرنه زیاته ده. د روسیې او هند په مرسته، له کټمندو څخه نیولې تر ملګرو ملتونو او هغو هېوادونو چې د انقلابي خوځښتونو په هېوادونو مسمی دي او د لیبیا او شام په هڅو د اسلامي هېوادونو کنفرانس، په دې ټولو مملکتونو کې یې اوازه خپره کړې ده.

د عمومي مجمع په تالار کې د اورېدونکو په توګه (د لومړي ځل لپاره) د مجاهدینو د ټیم د حضور شونتیا، د سعودي عرب د دایمي استازي په بلنه کې د کوردویز ګډون او د ملګرو ملتونو په عمومي اسمبلۍ کې د رایې اچونې د پایلو ترلاسه کولو وروسته د افغاني ټیم سره د کوردویز تشریفاتي اړیکو دا اوازه خپرول نور هم زیات

کړل او په راتلونکو خبرو کې یې د افغان مجاهدینو او ملي مبارزینو د ګډون اټکلیزه تمه پیداکړه. که داسې فرض کړو چې دغه ډول شونتیا ولو که ناوخته رامنځ ته شي سمه و اوسي، نو د افغانانو پاملرنه په دې حالت کې کومو مطالبو ته اړینه ده، په ډېره ژوره او جدي توګه په پام کې ونیول شي او دوی ورته پېشبینه و اوسي.

۱- د افغانستان کشاله چې روسیه یې د خپلو غرضونو او سیاسي ګټو په خاطر سیمه ییزه برېښوي او امریکا هم هغه د معصومیت له مخې یا په تېروتنه کې سیمه ییزه ګڼي باید نړیواله وبلل شي او د ژنیو د بې پایلو او بې ګټو خبرو د واړه چوکاټ له دایرې څخه رابهر شي. د ملګرو ملتونو تر څار لاندې د یوه نړیوال کنفرانس په چوکاټ کې چې په هغې کې افغان مجاهدین او د کابل د رژیم استازي په مساوي توګه یعنې د یوه ګوند په توګه ګډون وکړي او همداشان د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا دایمي استازي لکه امریکا، روسیه، چین، انګلستان او فرانسه هم غړیتوب پکې ولري، د افغانستان پر قضیه دې خبرې وکړي.

۲- په هر ډول سیاسي جوړښت کې د مبارزینو د ګوندونو تساوي باید د کابل له کمونېست ګوند سره د یوه حق په توګه ثابته وي.

۳- که چېرې تر سختو کلونو او تباهي راوړونکو حالتونو وروسته سره له دې چې د مجاهدینو او ملي مبارزینو ثابت حق په غیرعادلانه توګه تروړل شوی بیاهم دوی ته د قضیې د سیاسي حل په موخه د خبرو په بهیر کې د ګډون بلنه ورکول کیږي هغه دې نه ردوي. منل او نه منل دواړه یې باید د دلیلونو پر بنسټ او په شرطونو پورې تړلي وي. د دوی له خوا باید د افغانستان د ملي ګټو ساتونکی دریځ ونیول شي، دامونه او دانې باید په غور ولیدل شي. د پردیو په ځانګړې توګه د روسیې له زهرناکو دانو څخه باید ځانونه وساتل شي، چې د دوی سیاسي دام ته ونه لویږي او د دښمن د تکتیکي لومې ښکار نه شي. همدارنګه د خپلو خواخوږو او ملاتړو دوستانو تېر غفلت او سیاسي تېروتنې هم په پام کې ونیسي، خدای (ج) دې نه کوي چې قصدي شوی وي.

٤- په خبرو او مذاکراتو کې د روسيې د ګډون غوښتنه اړينه ده، د ژنيو د خبرو د بهير د جوړښت يوه له لويو نيمګړتياوو څخه داده چې روسيه د يوازني مقابل لوري په حيث په خبرو کې په نېغه توګه ونډه نه اخلي او له پيله څخه دا برياليتوب دوی ته ډالۍ شوی دی چې د کابل رژيم يې استازيتوب کوي.

٥- که مجاهدينو او ملي مبارزينو ته بلنه ورکول کېږي بايد د خبرو او مذاکراتو ترسره کول په دوو پړاوونو کې ترسره شي: په لومړي پړاو کې بايد د مجاهدينو، مشاورينو او همداشان د ملي مبارزينو ګډ ټيم په خبرو کې برخه واخلي، چې وکولای شي له بشپړو معلوماتو سره رهبرانو ته راپورونه ورکړي. تراوسه که يې راپورونه ورکړي هم دي، د دوی د نېغو سرچينو څخه نه دي، د دې اهميت، بيانولو ته اړتيا نه لري.

٦- په هر ډول خبرو يا مذاکرو کې د مجاهدينو او افغان ملي مبارزينو د مستشارانو شتون حتمي او لازمي دی. الحمد لله افغانستان په کافي اندازه رسېدلي نظامي اشخاص لري، چې په بشپړ يقين سره د جهاد او ملي مبارزې خدمت ته چمتو وو او چمتو دي، دا ملاحظه بايد په ټولو پړاوونو کې مراعات شي.

٧- تر هغه وخته چې روسيه د مجاهدينو او ملي مبارزينو له مشرانو سره مخامخ خبرو ته حاضره نه شي، افغان مبارز قومندانان بايد په هېواد کې دننه ازاد پرېښودل شي، همهغسې لکه چې روسيې له ژمنو څخه ځان اېستلی دی، دوی هم بايد د ژمنو، په ځانګړي ډول د تېلو ژمنو له چوکاټ څخه ولو که پر رهبرانو هم وي ازاد شي.

٨- د افغانستان د اشغال په هڅو کې روسانو ډېر يرغلګر ګامونه پورته کړي دي. د واخان سيمه يې نه يوازې دا چې اشغال کړې ده، بلکې د ژور فکر کولو وړ اطلاعاتو پر بنسټ يې هغه الحاق کړې ده. د يرغلګرو قواوو د وتلو په موضوع کې بايد دا شرط او غوښتنه موجوده وي چې دوی بايد لومړی له واخان څخه ووځي

او د افغانستان له نورو سیمو څخه مخکې تر وتلو باید خپله ژمنه نړۍ ته په ډاګه او اعلان کړي. وروسته له واخان څخه په وتلو پیل وکړي، د افغانستان د خاورې د یوې برخې د الحاق معنی روښانه ده او په دې هکله زیاتو توضیحاتو ته اشاره نه کوم. که چېرې له نظامي یرغل څخه د روسانو موخه دا وه چې د افغانستان د خاورې یوه برخه الحاق کړي او واک یې خپلو خاینو غلامانو ته وسپاري، دا په خپل ذات کې بشپړه تباهي ده، نو په دې خاطر د تباهیو بله ملاحظه د افغان نني نسل او راتلونکي ولس لپاره تر دې ابرومنده معنی نه لري.

۹- دا نظریه باید په شدت او روښانه توګه رد شي چې د ځینو په نظر د افغانستان قضیه د بشري حقونو قضیه ده. د بشري قضیې صبغه د یوه ځانګړي یوازني علت معلول ده چې هغه علت پر یو خپلواک هېواد یرغل او تېری دی، که علت پای ته ورسېږي، معلول خپله له منځه ځي.

۱۰- د خبرو په لومړي فرصت کې مخکې تر پیلېدو باید په ایران کې د افغان کډوالو مشرانو ته د مجاهدینو له ډلو سره په یو صف او چوکاټ کې د یوځای کېدو په موخه بلنه ورکړل شي او په ترکیې کې افغان کډوال هم هېر نه شي.

۱۱- ډېر زیات شمېر افغان کډوال د نړۍ د مختلفو لویو وچو په بېلابېلو هېوادونو په ځانګړې توګه په لوېدیځې اروپا او امریکا کې مېشت دي. د دوی په منځ کې داسې خلک شته چې هم ښې پخوانۍ مسلکي تجربې لري او هم علمي مقام لري. همدارنګه په وطن کې یې پخوانۍ ښه مخینه او اوس په کډوالۍ کې له وطن سره مینه هم ښه څرګنده ده، چې د دوی د پېژندلو حقیقي ښکارندویي کوي. کومه مثبته ګټه اخېستنه چې له دوی څخه کېدلای شي هغه باید په پام کې ونیول شي او د ملي ګټو په برخه کې باید په کار واچول شي. ملي مبارزه او جهاد یوازې جګړه نه ده، په داسې حال کې چې تورې ته اړتیا ثابته ده او انکار ترې کېدای نه شي ، خو فکر او تدبیر ته هم پاملرنه اړینه ده. که چېرې قلم په قلمدان کې کېښودل شي داسې ښکاري، لکه توره چې په پوښ کې کېښودل شي.

۱۲- په لسمه فقره کې مې چې کومې خبرې ته اشاره وکړه، په پاکستان کې د افغان مجاهدینو رهبرانو او عامو کډوالو د مشرانو اړیکې باید په ایران او ترکیې کې د افغان کډوالو سره زیاتې شي او همداشان د دوارو مسلمانو ورونو هېوادونو اړیکې چې له افغانستان سره معنوي، تاریخي او لرغوني اړیکي لري، زیاتي پاملرنې ته اړتیا لري. یوه لاره یې داده چې په پاکستان کې د افغان مجاهدینو د رهبرانو یو ګډ ټیم یادو حکومتونو ته ورشي، غوره ده چې پاکستان ته د دې دوو هېوادونو د مجاهدینو د مشرانو تر رابللو وروسته دا چاره ترسره شي، چې د یادو هېوادونو له حکومتونو څخه خپلې غوښتنې او مطالبې د مفاهمې او الهي خواست په مرسته سره راټولې کړي. د افغانستان د خلکو د حقیقي غوښتنو او تمو د یووالي او همږغۍ لپاره مفاهمه، چې د نننۍ ارزښت په پرتله یې سبانی ارزښت زیات دی، د ډېپلوماسۍ او مفاهمې له چوکاټ څخه یې بهر پاتې کېدل او یا بهر پرېښودل، که چېرې نن سرسري هم وګڼل شي، خو سبا یې له پایلې وروسته په هر ډول مفاهمې کې بدې ناخوالې رامنځته کېدلی شي.

۱۳- ترکیه یو خواخوږی هېواد دی او کولای شي چې اغېزمن رول ولوبوي، اما دا چې د هرې سیاسي ملاحظې پر بنسټ چې ده، خو په عمل کې غواړي کومه تمه چې ترې کېدای شي هڅه کوي ځان ته تر هغې هم د زیات اغېزمن نقش لوبولو اجازه ورکړي، د هغوی د لازیاتي پاملرنې را اړولو غوښتنه اړینه ده.

۱٤- د ایران جمهوري دولت له خپلو ټولو (نه شرقي او نه غربي) شعارونو سره سره په دې وروستیو کې شرق ته ډېره پاملرنه کوي او د لوېدیځ څخه په خپل جلاوالی ډېر نازېږي. د دې ډول سیاست د تر سره کولو واک یوازې له ایران سره دی، د خپل هېواد په چارو دوی خپله ښه پوهېږي، خو د افغانستان د قضیې په اړه باید لاندې ټکي په نظر کې ونیول شي:

الف: په ایران کې تر پاکستان وروسته په ډېرغټ شمېر افغان کډوال شتون لري، چې دا په یو واحد او مسلمان ګاونډي هېواد کې دي.

ب: دا کتله بې مشره او بې تنظیمه نه ده، په افغانستان کې دننه د پاملرنې وړ مینه وال او خواخوږي لري.

ج: په ملي مبارزه او جهاد کې عملاً ونډه لري.

د: که چېرې پاکستان هغوی ته کومه پاملرنه نه کوي، علت یې دادی چې دوی خپله د نړیوالو مرستو سره سره تر دې درانه بار لاندې دي. د غیر کمونېستي نړۍ لکه امریکا، سعودي عرب، مصر او داسې نورو کمه پاملرنه ایران سره د دوی د سیاسي اړیکو او ملاحظو زېږنده ده. که په دې برخه کې ورته سیاسي موسسې او تخصصي ځانګې بشپړه پاملرنه نه کوي، سبب یې د ایران د جلاوالي سیاست ګڼل کېدای شي، ولې دا ستونزمنه ده چې په پاکستان کې د مېشته مجاهدینوله خوا په ایران کې له خپلو هېوادوالو سره د اړیکو د نه شتون دلیلونه وپلټل شي. په هر حال دا هغه موضوع ده چې د دواړو اړخونو له خوا پاملرنې ته اړتیا لري، په دې وروستیو کې روسیه ډېره فعاله شوې ده چې له مختلفو لارو څخه په ایران کې ځان ته لار پرانیزي، چې تر یوه بریده د تبلیغ د نفوذ له اړخه په ایران کې پر افغان کډوالو بې اغېزې نه ده، په دې برخه کې په پاکستان کې مېشته افغان مجاهدین کافي معلومات او تجربې لري چې په ایران کې یې له خپلو مېشته هېوادوالو سره شریکې کړي.

۱۵- په ډېر اټکل سره به د ۱۹۸۷م کال د ډسمبر پر ۸ د امریکایي او روسي مشرانو ترمنځ په واشنګټن کې مذاکرات ترسره کېږي. لیکوال (استاد پژواک) د خپل عادت او فکري مکتب د دستور په اساس مخکې له مخکې له وړاندوینې او خوشبینۍ څخه ډډه کوي، خو له شک پرته دا مذاکرات چې د امریکا او روسیې ترمنځ پر اړیکو یې اغېز د لوېدیځ او ختیځ ترمنځ پر اړیکو د اغېز معنی لري، ډېر عمده نړیوال

تاثیر هم لرلای شي. د افغانستان موضوع به هم ترمنځ مطرح وي او تر هر څه ډېر به دا مذاکرات او خبرې د دوو سترو ځواکونو پر دریځونو لاډېره رڼا اچوي. خدای (ج) دې وکړي چې د افغانستان د مجاهدینو او ملي مبارزینو ټیم چې کومه موقع ترلاسه کړې ده، هلته په واشنګټن کې په خپل شتون سره وکولای شي چې د افغانستان د خلکو هیلې او غوښتنې، په بشپړ ډول روښانه او بیان کړي.

۱٦- په هر ډول مذاکرو او خبرو کې چې افغان مجاهدین او ملي مبارزین برخه اخلي د نورو ډېرو موضوعاتو ترڅنګ باید دا لاندې درې ځانګړي موضوعات هرومرو په پام کې ونیول شي:

لومړی: د یوځای ژوند کولو موضوع (Co-existence)

دویم: د خود ارادیت موضوع (Self-determination)

دریم: بې پرې والی (Non-alignment)

د یوځای ژوند کولو (Co-existence) کلیمه د لومړي ځل لپاره د اسیایي او افریقایي هېوادونو په کنفرانس کې په باندونګ (اندونیزیا) کې تر جدي بحث لاندې ونیول شوه او د چین په استازیتوب "چو این لای" د باندونګ په اعلامیې کې د هغې پر شاملولو ټینګار کاوه، چې د ځینو له خوا د کمونېستي اصطلاح تعبیر هم پرې کیده. روسیې په ځانکړې توګه کروسچوف د دې اصطلاح ډېره پر سینې ډبوله، د ملګرو ملتونو په منشور کې د یو اصل په توګه یاده اصطلاح د " یو له بل سره په سولې او سلامتۍ کې ګډ ژوند" په کلیمو لیکلې ده. موخه داده چې د روسیې د خبرو او عمل ترمنځ تناقض په ډاګه شي او پام ورته را وګرځول شي. په دې وروستیو کې ګورباچوف د پرس ترایکا (Perestrioka) په نوم کتاب لیکلی دی، چې د دې کتاب د مضمون شننه د مجاهدینو او ملي مبارزینو لپاره تر هر ډول مذاکرو مخکې اړینه ده. ګورباچوف په دې کتاب کې لیکلي دي: "روسیه نه غواړي چې کمونېزم د نړۍ پر مخ بنسټیز او قایم کړي" او برعکس روسیه د هر

ملت دا حق چې د خپل حکومت نظام په خپلواکه ډول ټاکي قبولوي او مني يې. ګورباچوف وايي چې ذروي جګړه ګټونکی نه لري او لږ تر لږه په دوه ځايونو کې دا مسله په ډاګه کوي او دا ردوي چې ان غير ذروي جګړه هم د فهم وړ وبلل شي. په خبرو اترو کې بايد له افغانستان سره د روسيې د نظامي، سياسي، ټولنيزې او کلتوري پاليسۍ او د دوی د دې خبرو تناقض د مذاکراتو په سر کې د يوې سريزې په توګه مطرح شي.

دويمه موضوع يعنې د برخليک ټاکلو د حق موضوع (Self-determination) د ملګرو ملتونو په منشور کې د يو سياسي اصل په توګه درج ده. په ملګرو ملتونو کې د بشر د حقونو پر کنوانسيون د بحث په وخت کې چې بالاخره پايله يې د دوو اړوندو کنوانسينونو په رامنځ ته کولو تمامه شوه، د افغانستان استازي د لومړي ځل لپاره دا غوښتنه وکړه چې د برخليک د ټاکلو حق دې د نړۍ د ټولو خلکو او ولسونو لپاره د يوه ثابت بشري حق په توګه وپېژندل شي. د لومړي ځل لپاره چې دا حق ان د پاريس د بشر د حقونو په اعلاميې کې لاهم په روښانه توګه نه و تثبيت شوی، د افغانستان د استازي له خوا ياد وړانديز ډېر په لنډيز سره ياد شوی و، چې ټول خلک او ولسونه د خپل برخليک د ټاکلو حق لري.

د افغانستان استازی په ټوليز ډول په دې دريځ کې يوازې و او په يوازې توګه تر ډېرو کوښښونو وروسته د سعودي عرب استازی حاضر شو چې د وړانديز په وړاندې کولو کې ګډون وکړي. دا استازی جميل برودي مرحوم و. خدای پاک (ج) دې په خپل رحمت سره جنت ورپه برخه کړي، روح دې يې خوښ او ارام وي. د دې موضوع داستان ډېر اوږد دی ولې ريکارډ يې د ملګرو ملتونو په ارشيف کې شتون لري. سياسي پوهان او څېړونکي زده کوونکي کولای شي چې مراجعه ورته وکړي. په پای کې د افغانستان دا وړانديز نه يوازې د بشر د حقونو په دواړو کنوانسيونو کې ثبت شو، بلکې د لومړۍ فقرې په توګه تثبيت شو، اړينه ده چې په خبرو اترو کې مجاهدين او د افغانستان ملي مبارزين دا موضوع بيان کړي چې

هماغه افغانستان نن خپله له دې حق څخه بې برخې دی، د خبرو په هر ډول او هر پړاو کې د دې  حق د خوندیتوب غوښتنه شرط ده.

دربمه موضوع د بې طرفۍ موضوع ده، زه لکه د تل په څېر په ټوله معنی د افغانستان له بې طرفۍ سره موافق او همږغی وم او یم، ځکه دا چاره مې د خپلو خلکو د غوښتنو او د افغانستان له ملي ګټو سره په سمون کې بللې او اوس یې هم بولم، خو په دې شرط چې د افغانستان د خلکو او ولس د ازادې ارادې ښکارندوی وي. نو د دې  لپاره ناچاره یم چې په دې اړوند د خپلو هېوادوالو د پاملرنې د را جلبولو په موخه ځینو اړینو ټکو ته اشاره وکړم.

د بې طرفۍ کلیمه مختلفې صبغې، بېلابېل اړخونه او زیات شمېر معناوې لري، چې هغه هم په تېر کې او هم اوس د تاریخ او سیاست استادانو او زده کوونکو ته څرګندې دي، د بېلګې په توګه د سویس د بې طرفۍ صبغه، د سکانډېناویا هېوادونو بې طرفي، اتریش او په ځانګړې توګه د سکانډېناویا هېودانو او نورو ادعا کوونکو هېوادونو د بې طرفیو ډولونه توپیر سره کوي.

د افغانستان د بې طرفۍ د سیاسي واک هر ډول خپله لرغونتیا لري، یو دودیز سیاست دی او تل د خلکو د هوډ او ارادې پر بنسټ ترسره شوی دی. دا چې بې طرفي د ملي حاکمیت نه بېلېدونکې برخه ده، له همدې کبله هیڅ سیاسي ځواک او حکومت دا جرأت نه دی کړی چې دا سیاست دې د خلکو د تایید او ملت له پرېکړې پرته پلی کړي.

زما موخه د بې طرفۍ په بحث کې د هر ډول عدم انسلاک څخه نه ده، په لنډه توګه د بې طرفۍ سیاست او عدم انسلاک پر دوه ډوله دی: یو هغه ډول دی چې حکومت یې د خلکو د غوځ هوډ او اکثریتي ازادې ارادې پر بنسټ پرته له کوم اغېز څخه ترسره کړي چې دا د هېواد په ملي حاکمیت پورې اړه لري او دا د هر هېواد د استقلال او د خلکو د ازادیو بنسټیزه برخه ده. دویم ډول یې دا دی چې بې طرفي

او عدم انسلاک د يو پردي نفوذ د فشار په وسيله او يا د استبدادي حکومت او بل هر سياسي جوړښت د جبر په اساس پر ولس وتپل شي، نو په دې اساس چې افغانستان خپل استقلال بېرته ترلاسه نه کړي، تاکنې تر سره نه شي او يو مشروع حکومت رامنځ ته نه شي، هيڅ وګړی يا ګوند د دې  واک نه لري چې د دې موضوع پر سر بحث ته په هر ډول مذاکراتو او سياسي جوړښت کې اجازه ورکړي او مخه يې ونه نيسي.

دې موضوع ته په اشارې تر دې نور زيات بحث نه کوم او په وروستيو کې غواړم چې زياته کړم چې د دې  خبرو منځپانګه زما خپل شخصي نظرونه دي او په هيڅ ګوند او ډلې پورې اړه نه لري.

**والسلام علی من اتبع الهدی**

**عبدالرحمان پژواک**

**۱۹۸۷ د نومبر ۲۵**

+

مأخذ: د مجاهد ولس جريده

**یاحق**

# بارها گفته ام و بار دیگر میگویم

**عبدالرحمان پژواک**

د ژنیو د راتلونکي پړاو تر خبرو او ځینو نورو بهیرونو مخکې د ځینو مطالبو بیا یادونه د ملي مبارزې او د افغانستان د خلکو د جهاد له ټینګو غوښتنو څخه ده، د هر حقیقي مسلمان افغان اسلامي فریضه ده چې ټول مهم حقیقتونه هم په خبرو او هم په عمل کې په روښانه توګه له خپلو هېوادوالو سره شریک کړي او بیا بیا یې ووایې.

اوس د تېر وخت او اوس مهال د بهیرونو وضعیت د افغانستان د لوېې غمیزې له پیل څخه بیا تراوسه روښانه دی. هغه څه چې ناروښانه دي، هغه د افغانستان راتلونکې ملي ګټې دي، یا په بل عبارت زمونږ راتلونکې تیاره کوي. د جګړې ډګر مو الحمد لله د خدای تعالی (ج) په فضل او مرسته او همداشان د افغانستان د خلکو په سربښندنه تراوسه نه دی بایللی، اما د سیاست په ډګر کې دښمن بریالی دی.

ولې او څنګه؟

د ”ولې“ پوښتنې ته ځواب څرګند دی او دلایل یې ټولو ته معلوم دی، اشاره نه ورته کوم اما د ”څنګه“ پوښتنې ځواب ته اشاره اړینه ده.

که چېرې د څو شېبو لپاره د جګړې د ډګر د بریالیتوب په اړه لنډې خبرې یوه لورې ته کړو او په سیاسي برخه کې د دښمن برې د تفکر او حقیقت خوښونې په موضوع کې تر غور لاندې ونیسو، نو دې پایلې ته به ورسېږو چې:

۱- روسانو د امنیت شورا هغه تصمیم نامه چې په هغې کې د ملګرو ملتونو پر غړي او ازاد هېواد باندې د دوی د نظامي یرغل په اړه غندنه وه هغه یې وېټو (Veto – Latin for "I forbid") کړه، ځکه چې روسیه د امنیت شورا له دایمي غړو څخه ده او د وېټو حق لري، ښایي سیاسي برې ونه ګڼل شي، خو د یوه زبرځواک د سیاسي غوښتنو لپاره د یوې بدې ګټې اخیستنې ښکارندویي کوي.

۲- کله چې موضوع د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلۍ ته وسپارل شوه، ولې د ملګرو ملتونو اکثریتو غړو په داسې حال کې چې د روسیې له نظامي یرغل څخه انکار هم نه شي کولای، د هغې تصمیم نامې سره یې هوکړه وکړه چې په هغې کې د (یرغلګرې روسیې) نوم نه وو یاد شوی او د روسیې پر ځای یې (پردي ځواکونه) یاد کړي وو. د دغو هېوادونو چې ځانو ته خپلواک هم وايي، دا تسلیمي د هر لامل په اغېز کې چې وي د تصمیم نامې د لیکوونکو او ازادۍ غوښتونکو هېوادونو په شمول چې د دوی ملاتړ یې هم کړی دی د روسیې پر وړاندې یې د سیاسي ډګر د بایللو څرګندويي کوي او په ځانګړي توګه نورو سترو زبرځواکو هېوادونو یې هم مخنیوی ونه شو کولای او یا په حقیقت کې یې ونه غوښتل چې د دې تېروتنې مخه ونیسي.

۳- وروسته تر هغه په تصمیم نامه کې بدلونونه راوستل شول، چې د روسي یرغلګرو ځواکونو د بې شرطه وتلو اصطلاح ورڅخه حذف کړه او څه چې پکې پاتې شو هغه د پردیو لښکرو د (سمدستي) وتلو اصطلاح وه.

٤- دا چې د ژنیو په خبرو کې یرغلګره روسیه د هر ډول مسؤولیت او ژمنې څخه خلاصه او ازاده شوه، همدارنګه بل اړخ ته د افغانستان مبارزین اصلاً په دې خبرو کې له ګډون څخه منع او بې برخې شول، دا داسې لویه او څرګنده تېروتنه ده چې بیان ته هیڅ اړتیا نه لري.

٥- روسان بیاهم بریالي شول چې د پاکستان له هغه ګوند سره چې نه یې پېژني خبرو ته کښېنوي او یا پاکستان ومنله چې له داسې ګوند سره چې نه یې پېژني خبرو

ته کښېني (په کابل کې کمونیست ګوند) او د افغانستان هغه ګوندونه چې پېژني يې هغه ټول د خبرو له بهیر څخه بهر پاتې شي. پاکستان په دې خندوونکي منطق راضي شو چې خبرې ”غیرمستقیمې“ دي، په دې کار پاکستان خپل ځان طرف کړ، هغه هم له داسې ګوند سره چې نه يې پېژني. خپل پرستيژ ته يې هم ونه کتل چې يو ازاد هېواد د يو ګوند سره خبرې کوي، له بله اړخه يې حقيقي طرف يعنې يرغلګرې روسيې ته اجازه ورکړه چې د خبرو د بهیر له ټول مسؤولیت څخه ظاهراً ځان فارغ کړي او بل لور ته يې بل حقيقي لوری يعنې د افغانستان د خلکو استازي له دې خبرو څخه لرې او بې برخې کړل، د ملګرو ملتونو سرمنشي هم خپل مسؤولیت د ملګرو ملتونو د منشور پر وړاندې هېر کړ. که چېرې غیر مستقیمو خبرو په يو ډول نه يو ډول معنی درلودای، نو باید د افغانستان د ملي مبارزینو او روسيې ترمنځ ترسره شوې وای، نه د کمونېستانو د کابل له ګوند سره چې خپله خپلواک وجود نه لري او د پاکستان ترمنځ چې نه د افغانانو وکیل دی او نه يې وکالت کولای شي. که پاکستان د خير نيت درلودای کولای يې شول چې د يو خير غوښتونکي منځګړي په توګه برخه واخلي، چې هغه هم له افغان ملي مبارزينو سره د ډېپلوماسۍ له لارې په يوې هوکړې سره شوني وو.

٦- کله چې خبرې اترې په داسې غير عادلانه توګه پيل شوې د ملګرو ملتونو د سرمنشي او مرستيال صلاحيت چې يوازې د تصميم نامې په کليمو او روحيه پورې تړلی و او بل صلاحيت يې نه درلود هغوی هم خپل مسؤوليت هېر کړ او د پاکستان شتون يې په دوو خبرو کې ومانه. د ملګرو ملتونو د عمومې مجمعې د تصميم نامې کليمات د افغانستان د خپلواکۍ او د افغانستان د خلکو تر پښو لاندې شويو حقونو بېرته اخېستنه او د يرغل او پايلو پای ته رسولو په منځپانګې پورې محدود وو، خو روسان وتوانېدل چې د خبرو اصلي منځپانګه څنډې ته کړي او لومړی پر فروعاتو خبرې ترسره کړي.

٧- په دې ډول روسانو وکولای شو چې په پاکستان دا ومني چې د اجنډا په پيل کې په خبرو کې لومړی پر فرعي مسايلو وغږيږي او پرېکړه ترسره کړي. اصلي موضوع چې د شوروي ځواکونو وتل دي هغه وځنډوي، ان د امريکا ضمانت يې

مخکې تر دې چې د اصولو په برخه کې ژمنه وکړي، ترلاسه کړ، لکه چې په پایلو کې هم روښانه شوه او وې ویل چې له افغانستان څخه د وتلو پر موضوع به د یوه مهالویش په چوکاټ کې بحث ترسره کړي.

۸- په دې " مهالویش" کې یې لومړی د ځواکونو د وتلو وخت دوه کاله یاد کړ او وروسته یې د خپلې سیاسي کمزورۍ پر بنسټ د څلور کاله وخت وړاندیز وکړ او هغه یې هم د کابل رژیم په غوښتنې پورې مشروط کړ.

۹- روسان نه یوازې دا چې وتوانېدل په تصمیم نامه کې د "سمدستي وتلو" کلیمه په بشپړه توګه هېره کړي، بلکې وې غوښتل چې څلور کاله "سمدستي" وبریښوي او له بله پلوه یې بل داسې شرط وړاندې کړ، چې لومړی باید د مجاهدینو او ملي مبارزینو پر مخ د وسله وال جهاد لار وتړل شي.

۱۰- د اجنډا په څېرکو او بابونو کې د افغانستان د خلکو د خود ارادیت د حق موضوع په بشپړه توګه له پامه وغورځول شوه او یوې فرعي او څنګزنې موضوع ته ځای ورکړل شو، اصلي موضوع یې قرباني شوه او پر ځای یې فرعي موضوع چې د افغان کډوالو بېرته ستنېدنه وه راوړل شوه. د کډوالو موضوع اصلاً بحث ته اړتیا نه لري، کله چې لامل یعنې د نظامي یرغل او تر لاس لاندې کولو موضوع حل شوه او د هغوی د سیاسي نظام، د حکومت د طرز، کلتور، ټولنیز نظام او د ټاکنو له لارې د خپل برخلیک غوره کولو او نور اړوند حقونه خوندي شي، طبعاً چې هېواد ته به راستنېږي.

۱۱- په کابل راډیو کې د نجیب الله له وروستۍ بیانیې څخه ښکاري چې ان د کډوالو بېرته راستنېدنه هم بې شرطه نه ده، چې سیاسي تېروتنه لانوره هم خندوونکې کوي. د رویټرز (Reuters News) د خبر پر بنسټ هغه د ژنیو د خبرو د هوکړې بریالیتوب په دې مشروط کړ چې د شوروي قواوو پر وتلو به ټینګار نه کېږي. د "باختر اژانس" د معلوماتو پر اساس نجیب الله وویل چې د کابل رژیم به کډوالو

ته ښښنه وکړي او هغوی به وساتي، خو زیاته یې کړه چې هوډمن دي چې د "انقلاب" مجرمان له منځه یوسي. همداشان یې وویل چې یوازې هغه کډوال چې تېروتلي او په غیرشعوري توګه کډوال شوي دي، هغوی د ښښنې او ساتلو وړ دي.

د کابل راډیو ټولو خندوونکو خبرو د محکمې (انقلابي محکمو) بهیر وړاندې کړ، چې په هغې کې یې پنځه تنه رهبران د دوی په غیاب کې په اعدام محکوم کړل. ما دغه خبر په نېغه توګه له راډیو څخه وانه ورېد او د "پاکستان ټایمز" <۱۵> د اونیزې چې د "پاکستان رسمي خپرونه ده او بهر ته استول کېږي" د هغې له مخې دا موضوع نقلوم. په اعدام د محکومو کسانو نومونه نه دي یاد شوي، ایا د کابل راډیو د محکمې بهیر وړاندې کړی او نومونه یې نه دي یاد کړي؟ ایا پاکستان ټایمز د نومونو له یادولو څخه ډډه کړې ده؟ په هر صورت کې یوه حیرانوونکې خبره او عجیبه طریقه ده، خو دغه ډول نادرې او حیرانوونکې خبرې د یوه فاشېستي او کمونېست رژیم ځانګړنه او خوی دی. ښایي چې د دې  مجاهدو محکومینو نومونه یې په دې خاطر نه وي یاد کړي چې دوی به لانور هم د افغانانو په منځ کې که داخل دي او که بهر کډوال دي، ګرانښت ترلاسه کړي، چې رژیم د دې محبوبیت مخه ونیسي. یا "پاکستان ټایمز" د دوی نومونه یاد نه کړل او یایې ونه غوښتل، چې د دې ښاغلو مقام پټ پاتې شي، ځکه دا خپرونه بهر ته ځي. زما دا ناخبري د راډیو اورېدلو د ځای څخه د بې برخې کېدو او همداشان په ځانګړې ډول له هغې سیمې څخه لرېوالی دی چې افغانستان ته نېږدې ده، (که چېرې "مجاهد ولس" په دې اړه اطلاع ولري هیله ده چې له خپله اړخه یې خپره کړي).

د اخبار په همدې ګڼه کې د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر صاحبزاده یعقوب خان له خوا شکایت راوړل شوی دی چې په یوه خبري کنفرانس کې د ژنیو ( Geneva Talks) په خبرو کې د نه ګډون له کبله د ځینو تنظیمونو د رهبرانو د مخالفت څخه یې خپله ډېره ناهیلي په اضطرابي بڼه بیان کړې ده. له دې شکایت څخه یوازې قوي تعبیر او اخیستنه دا کېدلای شي چې دا مجاهدین د هغه څه په اړه

چې د دوی د خلکو او هېواد په هکله دي، د مخالفت او موافقت د بیانولو حق نه لري، مګر هغه څه چې د پاکستان غوښتنه وي هغه ووايي. زه هیڅکله نه غواړم او نه مې غوښتل چې د صاحبزاده یعقوب خان سیاسي پوهې او پوخوالي ته سپکاوی وکړم، خو دلته د علامه اقبال دا خبره بیا یاد ته راوړم چې وايي:

**من آن علم و فراست را پرکاهي نمیگیرم**

**که از تیغ وسپربیگانه سازد مرد غازی را**

په دې خبري ناسته کې صاحبزاده یعقوب خان وویل چې د مجاهدینو او د افغانستان د ملي مبارزینو د نه ګډون دلیل دا و چې "روسانو" او "افغانانو" ته عملاً د قبول وړ نه وه. دا څرګنده ده چې د "افغانانو" څخه موخه د کابل رژیم دی، نه د هغو مجاهدینو اکثریت چې په داخل کې او نه هغه میلیونونه مجاهد افغان کډوال چې له هېواد څخه بهر دي او هغه څه دوی ته عموماً د منلو وړ دي چې د "کابل د رژیم" او "روسانو" ترمنځ هوکړه پرې شوې وای. دا چاره که په قصدي توګه نه وي ترسره شوې، ویلای شو چې یوه سیاسي تېروتنه ده.

ښاغلی صاحبزاده وايي د ژنیو خبرې باید د ملګرو ملتونو د تصمیم نامې پر بنسټ ترسره شوې وای او د کډوالو ګډون په کې ناشونی و، نو که دا خبره کوم اساس ولري ولې يې پر وړاندې مقاومت او غبرګون ونه شو؟ د تصمیم نامې بنسټ دا و چې د ملګرو ملتونو سرمنشي یوه سیاسي حل لاره ومومي. د تصمیم نامې په منځپانګې کې هیڅ داسې ټکی نشته چې پر دې دلالت وکړي چې د حل لاره دې د افغان مبارزینو او د مجاهدینو او یا د افغانستان د خلکو د حقیقي استازو د خبرو له بهیر څخه په دباندې پاتې کېدلو کې ولټول شي. همداشان که هغه تصمیم نامه د پلي کېدو وړ وای، نو ولې د روسانو د وتلو "پرته له شرطه" او "په بشپړه توګه" موضوع ورکه او یا غلا شوه؟ او وروسته د "سمدستي" پر ځای د روسانو د وتلو "تدریجي" بحث ته اجازه ورکړل شوه؟!

البته په دې پوهېږو چې د "سمدستي" کليمه د څو شېبو او څو ساعتونو په معنی نه ده، خو يو کال، دوه کاله، درې او څلور کاله د سمدستي معنی نه شي ورکولای (پاتې دې نه وي چې په دې وروستيو کې چې کومه مطبوعاتي اوازه چې د ګورباچوف د پروګرام په نوم يې شهرت موندلی خپره شوې ده، د روسي قواوو د وتلو وخت يې اتلس مياشتې او د پاکستان له اړخه څلور مياشتې ياد شوی دی د امريکا نظر د دې دوو مودو په منځني وخت کې ياد شوی دی). په هر صورت تر کومه ځايه چې د افغانستان په خلکو پورې اړه لري، دا يوازې د مرګ او تبې کيسه ده، بله هيڅ معنی نه لري، ولې خلک چې مرګ شهادت او نېکمرغۍ ګڼي او هيڅ ډار نه ترې لري، د مرګ په ګواښلو به انشاالله هيڅ وخت په تبه راضي نه شي.

په همدې مرکه کې ښاغلی صاحبزاده زياتوي چې د ژنيو خبرې له مجاهدينو او ملي مبارزينو سره د مشورو کولو خنډ نه دي، ولې دا مشورې يې هم په هغه حالت پورې محدودې کړې چې دوی هېواد ته ورستانه شي. دا روښانه ده چې مجاهدين، کډوال او ملي مبارزين يوازې او يوازې په هغه وخت کې د "مشورو" حقداره دي چې وطن ته بېرته ورګرځي، ايا دغه څه د مشورې وړ دي؟ که يو کډوال وغواړي چې وطن ته ستون شي هغه له مشورې پرته هم تلای شي، ايا يو کډوال او مجاهد له دغومره پوهې او شعور څخه هم بې برخې دی چې د خپلې کډوالۍ په لاملونو لا هم ونه پوهېږي او په بشړه توګه د هغو د لاملونو له منځه تلو څخه د مخه په داسې شرايطو کې وطن ته ستون شي چې دده د کډوالۍ سبب شوي وي؟ زه دغه ډول تفکر دښمن ته د تسليمۍ لپاره د صلاح په معنی بولم او دا ډول صلاح که د دښمن له لورې وي او که د دوست له لورې، کوم توپير نه کوي، پرته له دې چې د دښمن له خوا د تپ جوړول دي او د دوست له خوا پر تپ د مالګې تويولو معنی لري. مشهوره کيسه ده چې يو سړی يې دار ته خېژاوه او خلکو د ډېرو ګوزارونه پرې کول، خو ده پروا نه پرې کوله. کله چې يې کوم دوست د ګلانو ډالۍ ورته ورکړه له هغه څخه ډېر اغېزمن شو، د هغه لپاره

د دښمن ډېرې معنوي ویاړ و، خو د دوست د ګلو ډالۍ یې د ځان لپاره سپکاوی ګاڼه.

۱۲- سره له دې چې په دې هکله خبرې ډېرې دي خو اوس به منتظر شو چې د ژنیو د خبرو له اووم پړاو څخه څه پایله راووځي؟ زه د روسیې له کوښښ څخه پرته په دې اړه د نورو بې ګټې هڅو څخه هیڅ تمه نه لرم. خدای تعالی (ج) دې وکړي چې د هغو کسانو لپاره چې تمه ورته لري څه ترینه زده کړي. له پاکستان څخه دا تمه کېږي چې نور په دې برخه کې خپل رول ته د پای ټکی کښېږدي او پرځای یې د ملګرو ملتونو څخه تمه ده چې دا موضوع د یو ځانګړي نړیوال کنفرانس په ترڅ کې د افغانستان حقیقي استازو او د امنیت شورا ټولو غړو ته وسپاري.

۱۳- د دې خبرو په پیل کې مې ځینو نورو جریانونو ته اشاره وکړه چې دا جریانونه ځینې ښکاره دي او ځیني په پردو کې پټ، خو ښکاره او پټ یې په یو ډول که د اندېښنې وړ هم نه وي ولې نادیده او سرسري باید ونه ګڼل شي. مخکې تر دې چې مثال وړاندې کړم ښايي خپله پاملرنه خپلو ځانونو ته را واړوو. د افغانانو هر وګړی، ډله او ټولنه چې د نړۍ په هر ګوټ کې دي، په ښه نیت د خپلو خلکو او هېواد د ارزښتونو په تړاو په ډېره هیله مندۍ فکر کوي، اما دا لازمه ده چې زمونږ د ټولو له خوا د فکر پر بنسټ او بې له فکره د بې ځایه هوايي تمو او هیلو ترمنځ د توپیر کرښه را وکښل شي او د خوشبینۍ او بدبینۍ سمه معنی ومومو، هلته به د سیاسي حماقت او خوشبینۍ ترمنځ توپیر وکړو، بدبیني او حقیقت خوښونه یو له بله څخه جلا کړو، حقیقت خوښوونکي په بدبینۍ ونه نوموو او بدبین حقیقت خوښوونکی ونه ګڼو.

۱٤- له دې حقیقت څخه سترګې پټې نه کړو چې زمونږ هره خبره او کړنه چې د بې اتفاقۍ او اختلاف سبب کېږي یا په "قصدي توګه" د دښمن کار دی او یا دښمن ته خدمت دی، که څه هم په غیرشعوري ډول وي.

---

۱۵- د دوو حقیقتونو شتون باید لږ تر لږه په توپیري توګه وپېژنو:

الف: هغه هیلې او ارمانونه چې لرو یې، خو حالاتو او شرایطو ته په پام یې د ترلاسه کولو وسیلې (د ټولیزو او یا د فردي ډول ډول ستونزو پر بنسټ) نه لرو، یا په بل عبارت غواړو یو څه ترسره کړو، خو نه یې شو ترسره کولای، په دې اړه مسؤولیتونه او دندې څرګندې دي او د خدای تعالی (ج) د دې حکم پر بنسټ چې (لیس للانسان الا ما سعی) هم د خدای پاک (ج) او هم د خپل وجدان او خلکو په وړاندې عذر درلودلای شو.

ب: لږ تر لږه هغه څه چې باید ترسره یې نه کړو هغه باید ونه وکړو، ځکه د ذمې د ابرا لپاره هغه څه چې باید ونه کړو عذر نه شو موندلای، په ساده عبارت، که د خیر مصدر نه شو جوړېدلای نو د شر سبب هم باید ونه اوسو. یقین لرم چې د وروستیو جریانونو په بحث کې به هیڅوک د ببلګې راوړلو ته اړ نه وي، ولې ښایي د هغه مشهورې خبرې پر بنسټ چې وایي (ترڅو چې څه ونه وایې تا سره څوک کار نه لري ولې که دې څه وویل دلیل درنه غواړي)، دلته به د یو یا دوو ببلګو یادونه ګستاخي ونه ګڼل شي.

لومړۍ ببلګه: د ملګرو ملتونو د عمومي منشي په نوم "زما په نزد" د یو ناڅرګند هویت له ادرس څخه (په پاکستان کې مېشت د افغان وطن پرستانو ټولنې په نوم) د لیک لېږل، چې د ټایپ په ماشین لیکل شوی ولې نه یو معلوم هویت لري او نه د اشخاصو نومونه پکې یاد شوي دي، نه پکې کومه پته ذکرشوې ده، خو منځپانګه یې د ژنیو د خبرو ملاتړ کوي او د ملګرو ملتونو د عمومي منشي او استازي ستاینه په کې ده البته دا روښانه ده چې د مجاهدینو او ډېری افغان ملي مبارزینو په دریځ پوهېږو، له همدې کبله د دې لیک سرچینه د کابل رژیم او د هغوی ملاتړي دي، اما دا چې ځانونه افغان او هغه هم افغان وطن پرستان ګڼي، نو ځکه مو یادونه وکړه.

دویمه بېلګه: د څو تنو امرېکایانو (د امرېکا اتباعو) چې ځینې یې ځانونه افغانان ګڼي، په خپلې یوې کړنې په واشنګټن او د امرېکا په نورو ایالتونو کې نور پاک، سپېڅلي او هیله من افغانان تېر ایستل او په هغې ناستې کې یې د ګډون لپاره بلنه ورکړه چې په امرېکا کې د امرېکا له اجازې پرته د یو جلاوطنه حکومت د جوړېدو په اړه یې بحث کاوه. البته هغوی چې پوهېدل اصلاً یې دا بلنه ونه منله او هغوی چې وپوهېدل دویم ځل یې له دوی سره بیا ناسته ونه کړه. دې ناسمې کړنې په امرېکا کې د ډېری مېشته افغانانو ترمنځ اختلاف پیداکړ او پایله یې یو څو ښکنځل لیکونه وو او بس.

دا کار هغه وخت وشو چې په پېښور کې د جهادي تنظیمونو څو تنه مشران امرېکا او بیا واشنګټن ته رابلل شوي وو، چې په لوړه کچه د لیدنو کتنو چاره ترسره کړي او دا لیدنې د امرېکا د جمهور رییس، کانګرس او سنا له غړو سره ترتیب شوې وې، د امرېکا مېشتو افغانانو له خوا یې هم تود هرکلی وشو، په لومړۍ جلسه کې د دې خلکو شمېر پنځه ویشت کسه وو، چې په وروستیو کې یې شمېر پنځو یا شپږو تنو ته ورسېد.

د اختلاف د پیداکېدو ترځنګ یې د روس چاقو ته دا لاستي لاهم ورکړ او امرېکا یې په دې تورنه کړه چې په افغانستان کې لاس وهنه کوي، دا د "هغه څه کول و چې باید وې نه کړو" بېلګه ده.

کله چې د دې  خلکو څخه دا پوښتنه وشوه چې په کوم هېواد کې جلاوطنه حکومت جوړېدای شي ځواب یې نه درلود. هغه هم داسې حکومت چې مسؤولین او ملاتړي یې څو تنه وي او هغه هم داسې اشخاص وي چې یا د امرېکا تابعیت لري او یا یې د تابعیت اخېستلو لپاره غوښتنلیک ورکړی وي. البته د مجاهدینو او یو موقت قونسل له خوا د یوې واحدې شورا جوړول سمه خبره ده، چې لومړی ګام یې په نړیواله کچه د افغان ملي مبارزینو پېژندنه ده، چې "مجاهد ولس" یې کړنلاره په تفصیل سره خپره کړې ده.

په پای کې باید زیاته کړم چې پاکستان تر ډول ډول فشارونو لاندې دی، په ځانګړي ډول د روسيې له خوا. که چېرې د نړیوالو کنفرانسونو له موضوع سره د یوه مسلمان ورور هېواد په توګه هوکړه وکړي او د ژنیو په خبرو کې خپل ګډون پای ته ورسوي، نو دغو فشارونو ته قانع کوونکی دلیل نه پاتې کېږي. د دې خبرې حقیقي معنی داده چې د افغانستان اړوند مسایل باید افغان ملي مبارزینو ته وسپارل شي، هغوی ته پناه ورکول د دوی نړیواله او اسلامي دنده ده. زمونږ کډوال له نړیوالو څخه تر پناه ورکولو، ملاتړ او د سیاسي پېژندنې نه پورته بله تمه نه لري.

زه دا په جرأت سره وایم چې د افغان ملي مبارزینو او منتخب قونسل له خوا د منتخبې شورا جوړول په افغانستان کې دننه شونې ده او یوازنی مهم شرط یې د ساتنې او دفاع وسایل دي په ځانکړې توګه چې هوایي دفاع یې له مرکز څخه وشي او دا مسله د ازادې نړۍ او اسلامي هېوادونو عملي مرستې ته اړتیا لري. په هغه صورت کې که دا شونې چاره عملاً ترسره نه شي، نو بیا باید لومړی داسې هېواد وموندل شي، چې جلاوطنه حکومت هم وپېژني او په خپله خاوره کې اجازه هم ورکړي.

**ومن الله توفیق**

**عبدالرحمان پژواک**

**۱۹۸۶ م. د جولای ۱۵مه**

+

مأخذ: د مجاهد ولس جریده

# د استاد پژواک سجع، طنز او تفکر

## د نومورې له ليکنو او يادښتونو څخه غوره شوي دي

استاد پژواک خپلې ليکنې تل په "ياحق" پيلولې او په "خدا و خنده با تو باشد" يې پای ته رسولې.

خدا وخنده مرا ياد بود و خواهد بود

"خدا و خنده" از ان روست سجع و شعار.

***

يو ملي زعيم بايد په هيڅ وخت کې رښتينی حکمت او منلی حقيقت هېر نه کړي، هر هغه څوک چې په خپله ګټه له خپلو خلکو سره ناسمه لوبه ترسره کړي هغه د خپلو سيالانو او دښمنانو پر وړاندې ميدان بايلی.

***

د ملي مبارزې موخه يوازې د خپلواکۍ بېرته اخېستنه او د پرديو له يوغ او اغېز څخه ځان خلاصونه نه ده، ملي حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا يې نه بشپړوي، د (هر نر، ښځې او ماشوم) ازادي او اساسي حقونه بايد پرته له هر ډول توپير څخه د عدالت او برابرۍ پر بنسټ خوندي شي، کنه هېواد به خپلواک وي خو خلک به يې اسيران وي.

***

زما وطن هغه هېواد دی چې خپله خپلواک دی، خو خلک يې اسيران دي.

***

خدای تعالی (ج) خپله پوهېږي چې په ځلونو مې ورنه غوښتي دي چې زمونږ په هېواد کې نياو او عدالت رامنځ ته کړي، که چېرې زه لومړی شخص و اوسم چې

زما د خبرو او کړنو په هکله راځخه وپوښتي، نو که عدالت ما په دوزخ هم محکوم کړي، ماته جنت دی.

***

زه او خلک ډېر ښه دوستان یو، خو یو له بل سره لږ پېژنو. ایا دا د هغوی ګناه ده چې ما نه پېژني او که زما ګناه ده چې له هغوی سره مینه لرم؟

***

کله چې خلک ماته زما د بریالیتوب په خاطر افرین وایي یو غم چې په سترګو نه لیدل کېږي او په خاموشۍ سره زما زړه ته ننوځي، هغه غم "یوازیتوب" دی.

***

باید پرېنږدو چې تاریخ په بده بڼه بیا تکرار شي؛ یعنې د جګړې په میدان کې بریالي واوسو او د سیاست په ډګر کې یې وبایلو.

***

پاکستان او ایران د افغانستان دوه وروڼه هېوادونه دي، د افغانستان ملت به د خپل لوی غم په وخت کې د دوی مرسته هیڅکله هېره نه کړي، خو کله چې د یو ملت د ارزښتونو د ټاکلو موضوع منځ ته راځي، نه شو کولای چې د خپلو چارو واګې د نورو په واک کې ورکړو او خپل حق ونه غواړو.

***

زمونږ د خلکو حکومتونه د خلکو په زیان دي او خپل خلک په غلامۍ مني.

***

کله چې ډېر خپه شم نو غواړم چې څه ولیکم، په فکر کولو سره د خپګان چاره شونې ده، انسان که وکولای شي چې تل فکر وکړي نو تل به له پرېشانۍ او غمونو څخه لرې وي.

***

وايې فلاني خپل ځان تاته وباښه.

ووایاست چې زما له اړخه خپل منزل ته ورسېد.

***

مه وایاست چې فلانی يې بندي کړ.

ووایاست چې د مسؤولیت بار يې له اوږو څخه واخېست.

***

دا چې د تېرو یاد پر راتلونکو هیلو برى وموند، نو زلمیتوب پاى ته ورسېد او سپینږیرتوب مې پیل شو.

***

په هغه ټولنه کې چې زورور ستمګران وي او زورور خلک وکولاى شي چې بې درده او ارام واوسي، د نورو خلکو لپاره پرته له دې چې ځانونه حیوانات وګڼي بله کومه چاره نه پاتې کېږي.

***

یوازنى کس چې د خپلې ټولنې پر وړاندې پرته له مسؤولیت څخه ژوند کولاى شي او د ښښې وړ دى، هغه څوک دى چې د ټولنې د خدمت په لاره کې زندان ته اچول شوى وي.

***

زړه هغه هنداره ده چې زمونږ په دننه کې ځلېږي، کله د خداى تعالى (ج) خوښه او خندانه څېره په کې خاندي او کله د اهریمن چټله او ناپاکه څېره په کې ژاړي. مونږ یو ځل په رښتیا سره خپل ځانونه په کې وینو چې هغه د مرګ وخت دى،

کله چې فکر کوو چې بل ځل مو هم ځان په کې لیدلی دی، هغه د کټلو ښکلې تېرایستنه ده چې د "عشق" نوم یې ورکړی دی، دغه خبره تر هغه رښتیا ښکلې ده.

***

زما په همکارانو کې مې یو ډېر په عذابوي. هڅه کوي چې زه دده چلن غوره کړم، تللی دی خلکو ته زما په اړه هغه څه وایې چې زه یې باید دده په اړه ووایم. د دې پر ځای چې خپل ځان لوی کړي هیله لري چې نور واړه کړي. که چېرې مې په هغه کې یوه غوره نښه لیدلې وای نه ښايي چې له هغه سره به مې اړیکې ترینګلي وای. کله چې مې هغه هیڅکله په یاد کې نه وي، داسې ګڼي چې تل دده په اړه فکر کوم. پرته له دې چې هغه ناروغ وبولم بله چاره نه لرم. ناسمه ناروغي حیرانوونکې ده هغه څوک چې پرې اخته وي نه یې ډنګر وي، اما وړوکی کوي یې. دا خلک لکه مېږیان او موچان داسې وي، پر هغو هندارو کېښي چې اندامونه غټ ښکاره کوي، له همدې کبله دوی ته هم ځانونه غټ ښکاري. داسې ګڼي چې دوی بازان او ښاماران دي، په داسې حال کې چې نه پوهېږي چې باز او ښامار کېدل هم د غټوالي نښه نه ده.

***

د پلار دا خبره مې په یاد ده چې زما د ورور د مړینې په وخت کې یې وویل: کله چې اولاد مري او مور او پلار پاتې کیږي، د پیداکوونکي راز څرګندېږي.

***

کله چې توره د تپ جوړولو په پار چلېږي، نر موسکا کوي او ښځه ژاړي او کله چې انسان ویني چې په مینه کې ناپوهه دی نو ښځه موسېږي او نر ژاړي.

***

کله چې وینم ځینې خلک پر هغه څه رخه کوي چې له ما سره دي، زما پر فکر تیاره راشي؛ ځکه دا خلک نه پوهېږي هغه څه چې دوی یې نه لري او زه یې لرم ښايي دا زما رښتینې غوښتنه نه وي.

***

انسان د دوو رښتیاوو څخه پیدا دی. لومړی رښتیا د مینې او محبت په سیوري کې ژوند کول دي او دویم یې مرګ او جدایې ده. دا یو د هغه بل یوه پای دی. زمونږ په ژوند کې له یو پیل او پای څخه پرته بل څه نشته، چې د فکر په کولو او خفګان وارزي. ډېری خلک ژوند راپیل کړي او پای ته یې ورسوي، خو ټولو خلکو نه هغه پیل کړی او نه یې پای ته رسولی دی.

***

د انسان د کمزورۍ او وړوکوالي لویه نښه د هغه بد هوايي او ځان خوښونه ده.

***

هغه څه چې نر یې له ښځې غواړي هغه څه نه دي چې ښځه یې له نر تمه لري. دا چې ډېری خلک داسې فکر کوي چې د دې دواړو تمې یو ډول دي همدې فکر د ډېرو نارینه وو او ښځو ژوند تریخ کړی دی.

***

هغه لویه زده کړه چې یو سړی یې په خپل ژوند کې کوي، په مسافرۍ کې د خپل وطن پالنه او د دوستانو ارزښت دی.

***

کله کله فکر کوم چې د ظلم د له منځه وړلو لپاره باید انسان کوښښ وکړي چې د څه مودې لپاره خپله ظالم شي. خدای تعالی (ج) دې زما دا تېروتنه وبښي.

***

زما د خوښۍ او وياړ لوی لامل دا دی چې تر ما هيڅ لوړ شخص به په ياد ونه لري چې ما يې يا چاپلوسي کړې وي او يا مې دروغ ورته ويلي وي. که چېرې مې نه شول کولای چې رښتيا ووايم، نو چپ پاتې شوی يم. نه پوهېږم چې د دې  خاموشۍ په يادولو ولې نه شرمېږم، يوازې چپ پاتې کېدل مېړانه نه ده.

***

تراوسه مې په خپل ژوند کې د دې  خبرې سموالی نه دی موندلی چې وايي ”هغه چې له سترګو پټ شي له زړه څخه ووځي“.

***

په يوازيتوب کې سړی کولای شي چې خپل ډېری فکرونه څرګند کړي، ځکه کولای شو چې هر څه ښکاره کړو.

***

يو نارينه کولای شي چې يوازې په ازادۍ، چپتيا او يوازيتوب کې وپوهېږي چې رښتينې هيله يې څه ده، په بل هر وخت کې زمونږ فکر ګمراه کوونکی دی.

**پای**

**د اتیایمې میلادي لسیزې په منځنیو کې د افغانستان د کشالې د حل لپاره افغانانو او خپلواکې نړۍ ته د "خپلواکو ټاکنو" تر سرلیک لاندې د استاد پژواک وړاندیز**

**یا حق**

# خپلواکې ټاکنې

اوس د دې وخت رارسېدلی دی چې د هېواد د کړکېچ د له منځه وړلو، ستونزو هوارولو او نورې وینې تویېدنې د مخنیوي لپاره د تېرو او اوسنیو حقیقتونو په رڼا کې کومه حل لاره او حل چاره ولټوو.

په داسې حال کې چې د پردي یرغلګر او پر مونږ د جګړې تپونکي پر وړاندې د خپلو معنوي، مادي او ملي نوامیسو د ساتنې په پار د تورې ایښودل اصلاً د تصور او زغم وړ نه دي او ناچاره یو چې مبارزې ته باید دوام ورکړو. له جګړې سره موازي او همهاله باید د قضیې د سیاسي حل لپاره نورې لارې هم ولټوو، تر هغه وخته چې روسان په عملي او نظري لحاظ خپلو لاسوهنو ته دوام ورکوي، په هیڅ وجه نه شو ویلای چې له افغانستان څخه وتلي دي.

ددې مقالې بنسټیزه موضوع د هغو لارو چارو پلټنه ده چې د داخلي جګړو د رامنځ ته کېدو څخه د نورې وینې تویېدنې مخنیوی وکړي، هغه چې ګواښ یې ورځ تر بلې رانېږدې کېږي، د پایلو او عواقبو یادولو ته یې اړتیا نشته.

په دې وروستیو کې د مجاهدینو یو روښان فکره سرلارې چې په پاکستان کې د هغو اوو ګوندونو د رامنځ ته شوي عبوري حکومت په اډانه کې د ټاکنو اړوند مسؤولیت او واک لري. ښاغلي سید احمد ګېلاني د ټاکنو وړاندیز وکړ او پر اړتیا یې ډېر ټینګارو کړ، ټولو ته دا خبر رسېدلی دی. زه په خپل وار سره د خپلې وجداني،

ايماني، اسلامي او ملي دندې پر بنسټ د دې نظرېې هرکلی کوم او هغه تاییدوم. هیله من یم چې د نړۍ په هر ګوټ کې چې افغانان دي، د دې نظرېې تایید او هرکلی وکړي او ټولو ته یې سپارښتنه وکړي.

د برخلیک ټاکلو د حق پلي کېدل او د خلکو له خوا په ازاده توګه سِلف ډېټرمینیشن او خپلواکې ټاکنې ترسره کول، د افغانستان د قضیې د حل یوازینۍ لاره ده. د ملي مبارزینو موخه یوازې د سیاسي خپلواکۍ لاسته راوړل او د پردیو له یوغ او اغېز څخه خلاصون نه دی او دا د خاورې ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا نه پوره کوي. نو په دې اساس باید د هر وګړي "نر، ښځې او ماشوم" ټول بنسټیز حقونه او ازادۍ د عدالت او برابرۍ پر بنسټ خوندي شي، که نه هېواد به ازاد وي ولې خلک به یې اسیران پاتې وي. په مسافرت کې مې څه زیات ځلوبښت کلونه مخکې د هېواد د خپلواکۍ په اړه یو شعرلیکلی و چې وروسته د "ګلهای اندیشه" په شعري ټولګه کې په کابل کې خپور شو، یو بیت یې داسې وو:

**"ازآن دیار مرا یاد میدهد امروز          که مردمانش اسیرند ومملکت آزاد"**

یوازې ازادې ټاکنې کولای شي چې له سیاسي، اقتصادي، کلتوري او ټولنیز پلوه د هېواد بشپړه خپلواکي خوندي کړي. ټاکنو ته د څرګندې اړتیا د نظرېې له تایید سره جوخت غواړم هغه وړاندیز چې ما د ژنیو د بې ګټې خبرو په بدل کې وړاندې کړی و او په ملګرو ملتونو کې یې د ناسمو سیاسي جوړښتونو بدې او منفي پایلې څرګندې کړې وې. یوځل بیا خپلو هېواد والو ته په یاد کړم، دې وړاندیز کوم بدلون نه دی کړی هغه ډېر لږ جزيي بدلونونه چې په کې راغلي دي هغه هم د وخت د تېرېدو او حالتونو د بدلون د اړتیا په خاطر په کې راوړل شوي دي، چې د هېواد د ملي ګټو د خوندیتوب او تضمین په موخه زما د شخصي نظریو استازیتوب کوي. هیله ده چې مجاهدین، ملي مبارزین او د نظر خاوندان ورته پاملرنه وکړي او په بشپړتیا کې یې ونډه واخلي. له یاد وړاندیز څخه مراد د ملګرو ملتونو تر نظارت لاندې د یوه ځانګړي نړیوال کنفرانس جوړول دي.

**وندہ اخیستونکي:**

الف: د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ټول دایمي غړي.

ب: د افغانستان په دننه او بهر کې ټول افغان ګوندونه د خلق او پرچم د ګوند په شمول چې د ګوند په حیث وي نه د حکومت په توګه.

ج: د څارونکي په توګه د اسلامي کنفرانس استازي.

د: د افغانستان د ګاونډیانو په توګه ایران او پاکستان.

**اجنډا:**

د کنفرانس اجنډا باید په بشپړه توګه په یوې موضوع "ایتم" (Item) پورې محدوده وي او هغه ایتم د خپلواکو ټاکنو له لارې د افغانستان د ملت د برخلیک ټاکلو د هغه حق خوندي کول او پلي کول دي چې انکار ترې نه شي کېدلی.

**د ملګرو ملتونو رول:**

د ملګرو ملتونو سازمان په دې برخه کې موظف شي چې پرته له ځنډ څخه د لاندې ګروپونو د لېږلو لپاره ترتیبات ونیسي:

الف: د امنیت ساتلو او ټکرونو د مخنیوي په موخه د سولې یوه قوه ولېږي.

ب: د خپلواکو ټاکنو د څار لپاره یو پلاوی واستوي. د ملګرو ملتونو د سولې د قوې او د ازادو ټاکنو په پلاوو کې باید هیڅ ګاونډی هېواد برخه ونه لري. د ټاکنو پایلې باید د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د ټولو دایمي غړو له خوا تضمین شي، نه د ځینو غړو له اړخه. همدا شان د اسلامي کنفرانس سازمان هم په کې شامل وي.

**د یاد کنفرانس د ترسره کولو ځای:**

ددې کنفرانس د ترسره کولو د ځای لپاره دې په سویس کې د ملګرو ملتونو اروپایي دفتر او یا د امریکا په نیویارک کې د ملګرو ملتونو د سازمان مرکز غوره کړل شي.

هغه شورا چې د دې  کنفرانس په پایله کې رامنځ ته کیږي، هغه باید فوراً د یو عبوري حکومت او اساسي قانون د مسودې په جوړولو لاس پورې کړي او د اساسي قانون د تصویب لپاره دې د لویې جرګې جوړولو ته زمینه برابره کړي.

پرته له "استثنا" باید پر ټولو چارو او مسایلو د لویې جرګې له خوا پریکړه وشي، په پای کې غواړم دا په ډاګه ووایم چې د افغانستان کشاله د نړۍ په کچه له پېچلو کشالو څخه ده او د حل لاره یې په هیڅ وجه ساده او اسانه نه ده، خو که د پردیو او دوستانو غرضونه یوې خواته کېښودل شي، دا قضیه نه حلېدونکې نه ده.

# د پښتونستان ورځ

**لیکوال: ډاکټر سید خلیل الله هاشمیان**

د ارواښاد استاد عبدالرحمان پژواک د هغه یادښت تر لوستلو وروسته چې اغلې پروین پژواک په "فېسبوک" او "افغان جرمن" په ویب‌پاڼه کې خپور کړی و او ښاغلو ډاکټر محمد اکبریوسفي او په ځانګړي توګه حمید عبیدي تبصرې ورباندې کړې وې. د یو شپېته کالو مخکې خاطرې مې رایادې شوې، اړینه مې وګڼله چې د استاد پژواک مرحوم د شخصیت د لاپېژندلو او د (پښتونستان) د اوازې خپروونکې رسالې د کیسې په موخه یوازې د دې رسالې "د پښتونستان ورځ" په اړه چې ښاغلي عبیدي د استاد پژواک د اثارو په ډله کې یاده کړې ده خپله یوه خاطره له خپلو ګرانو هېوادوالو سره شریکه کړم.

زه د بهرنیو چارو د وزارت په مختلفو څانګو کې تر اته کاله ماموریت ترسره کولو وروسته، په۱۹۵۱م کال کې د دویم سکرتر په حیث په لندن کې د افغانستان په لوی سفارت کې په دنده وګومارل شوم, فرانسوي ژبه مې په استقلال ښوونځي کې زده کړې وه په داسې حال کې چې د انګلېسي ژبي په یوه تکي هم نه پوهېدم. په دې وخت کې لوی سفیر مرحوم مارشال شاه ولي خان و، مستشار یې مرحوم میر محمد صدیق خان، لومړی سکرتر یې مرحوم سید مسعود پوهنیار او مطبوعاتي اتشه یې ارواښاد عبدالرحمان پژواک و. د سفارت د قونسلګرۍ چارې لکه "د وېزو او پاسپورټ ورکول او داسې نور..." د دویم سکرتر په غاړه وې. داچې خپلې ورځنۍ اداري چارې پرې په خپلواکه توګه ترسره کړای شم د انګلېسي ژبي د زده کړې لپاره چې مې د یو کال په اوږدو کې کومې هلې ځلې او ستړیاوې ترسره کړي. په هغو کې د استاد پژواک لارښوونې، مرسته او مینه ځانګړې ده، زه به یې تل پوروړی یم او له تفصیل ورکولو څخه یې تېرېږم. نوموړي به ماته "وطندار" ویل، ځکه په

”شمشه پور“ کې مونږ، کاکا خېلو او د کاکا زامنو یو څه له پلرونو په میراث راپاتې ځمکه درلوده چې د پژواک عزتمندې کورنۍ د پلرني کلي ”باغبانی“ سره په څنګ کې وه.

ارواښاد پژواک یو کال مخکې په لندن کې ګومارل شوی و او د وخت د مطبوعاتو د مستقل ریاست رییس ارواښاد سید قاسم رښتیا استاد پژواک ته هدایت ورکړی و چې په لندن کې په انګلیسي ژبه داسې یوه رساله چاپ کړي، چې په هغې کې د پښتونستان د داعیې حقوقي او تاریخي اړخونه څېړل شوي او بیان شوي وي. د پښتونستان داعیه چې د سپه سالار شاه محمود خان د صدرات په دوره کې د حکومت د رسمي پالیسۍ په اډانه کې تبلیغېدله، تر دې وخته له افغانستان څخه په بهر کې په هیڅ بهرنۍ ژبه په دې اړوند کوم تبلیغ ترتیب او خپورشوی نه و. مخکې تر دې چې زه له کابله حرکت وکړم، مرحوم رښتیا خپل دفتر ته وروبللم او راته وې ویل: ”زما سلامونه استاد پژواک ته ورسوه او ډاډ ورکړه چې د رسالې د چاپ د لګښت لپاره پنځه زره پونډه منظور شوي دي او تر یوې میاشتې پورې به لندن ته ولېږل شي، تاسو د رسالې د تالیف په برخه کې کارونه چټک کړئ...“ یو سرېټی لیک یې هم د استاد پژواک په نوم راکړ. البته زه په هغه وخت کې د ”رسالې“ په اړه په هیڅ نه پوهېدلم او کله چې لندن ته ورسېدلم د مرحوم رښتیا پېغام او لیک مې استاد پژواک ته وسپارل. تصادفاً د سفارت بل هیڅ غړی د دري په ټایپولو بلد نه و، د کابل په نوم چې کوم لیکونه له سفارت څخه لېږل کېدل ټول به ما ټایپول. البته د سفارت مطبوعاتي دفتر ځان ته مستقل و او باید چې له کابل څخه یې سکرتر ورته ګومارلی وای، خو د مطبوعاتو ریاست بودیجه نه درلوده او استاد پژواک یوازې کار کاوه - د نوموړي د دفتر اداري کارونه هم ما د وطنداری په خاطر ترسره کول.

شاوخوا درې میاشتې لندن ته زما تر رسېدو وروسته، مرحوم استاد پژواک د خپلو لیکنو دولس پاڼې ماته راکړې او هیله یې وکړه چې ورو، ورو د دوو درېو ورځو په لړ

کې د دې پاڼو دوې کاپي ټایپ کړم. دې پاڼو سرلیک نه درلود، خو د انګلېسانو، شاه شجاع او رنجیت سنګ ترمنځ په لاهور کې د تړون په هکله یوه سریزه وه، چې په ۱۸۳۸م کال کې یې پر افغانستان د انګلیسانو د لښکرکښیو او د شاه شجاع د وژلو د مسلې په اړه هم موضوعات په کې لیکلي وو. نورې برخې یې چې په هرې اونۍ کې له شپږو څخه تر اتو پاڼو ټایپېدلې، د ګندمګ تړون او د ډیورنډ د تړون په هکله وې چې د امیر عبدالرحمان خان له خوا ترسره شوی و، د دریو میاشتو په موده کې شاوخوا اویا پاڼې ټایپ شوې، چې ټولو د ډیورنډ د داعیې موضوعات په ځان کې رانغاړل. مرحوم پژواک هر ځل په خپل لاس د لیکلو پاڼو دوه ټایپ شوې کاپیانې زما څخه اخېستې، زه په دې نه پوهېدلم چې په هغو یې څه کول. په سفارت کې به کله په میاشت کې یو ځل او کله دوې میاشتې وروسته د یوې ورځې لپاره اداري غونډه ترسره کېدله، که چېرې به مهم موضوعات وو والاحضرت مارشال به هم ګډون پکې کاوه. که به مهمه موضوع نه وه، نو د مستشار تر مشرۍ لاندې به ناسته ترسره کېدله. یوه ورځ د سفارت مستشار مرحوم محمد صدیق اداري غونډه بلې ورځې ته وځنډوله او ویې ویل چې په هغه مجلس کې مهم مسایل دي چې بحث به پرې وشي، عادي چارې مطرح نه کړئ، د هغې ورځې په مجلس استاد پژواک مرحوم د ډیورنډ د تپلې کرښې او پښتونستان د داعیې موضوع وړاندې کړه او داسې یې وویل: ”دا رساله باید په انګلېسي ژبه په پنځوسو پاڼو کې تالیف شي او د لس زرو کاپیو په شمېر باید چاپ او ووېشل شي، ځکه بودیجه د ۵۰۰۰ پونډه په مبلغ د دولت له خوا منظور شوې او رارسېدلې ده. همدا راز پژواک مرحوم زیاته کړه چې ومې پتیېله چې ابتدایې مسوده یې په دري ژبه چمتو کړم او هره اونۍ مې د مختلفو برخو یوه یوه کاپي والاحضرت ته د مطالعې او غور لپاره وړاندې کړې ده، نن یې پر وروستي متن خبرې کوو، چې د نني مجلس تر تایید وروسته یې عیناً همدا دري متن په انګلېسي اړول کېږي. ارواښاد پژواک زیاته کړه چې د پښتونستان د داعیې په اړه تر نن ورځې د افغانستان د دولت او سفارت خونو له خوا په بهرنۍ ژبې داسې کومه رساله نه ده خپره شوې چې په هغې کې په

دې اړوند د افغانستان د دولت پالېسي بيان شوې وي او دا لومړۍ خپرونه ده چې د افغانستان د سفارت له لوري په لندن کې خپرېږي هغه هم په داسې يو ښار کې چې د انګليس باچا، د سنټ جيمز او بوکنګهم ماڼۍ دربار همدلته شتون لري او زمونږ دعوه هم له دغه مقام سره ده. دا د انګليس د دولت پر وړاندې د افغانستان د دولت دريځ څرګندوي او دې ته مو بايد پام وي چې د انګليس دولت او پوه خلک يې مونږ او زمونږ تاريخ تر مونږ بهتره پېژني. د دې خپرونې موخه داده چې د تاريخي حقيقتونو په رڼا کې مونږ د پښتونستان پر حق داعيه عامو انګليسانو او د نورې نړۍ خلکو ته په اثبات ورسوو. که چېرې تاريخي حقيقتونه په پردې کې پټ وپېچو، انګليسان دا رساله پرته له لوستلو په اشغال دانۍ کې اچوي. وروسته پژواک له والاحضرت لوی سفير څخه هيله وکړه چې د مسودې د منځپانګې په اړه خپل نظرونه وړاندې کړي. والاحضرت د پژواک تر ستاينې او د مسودې د چمتو کولو او هڅولو په پار له نوموړي څخه تر مننې کولو وروسته داسې وويل: "ښاغلي پژواک وويل چې بودجه کافي نه ده، دا رساله بايد په انګلېسي ژبه شاوخوا پنځوس پاڼې خپره شي، ولې فارسي مسوده يې څو اويا پاڼې شوې ده، له همدې کبله بايد ځينې برخې يې ترې حذف شي او ما ځينې برخې د مسودې په کاپي کې يادښت کړې دي، ښاغلي پژواک ته يې سپارم چې غور ورباندې وکړي. مرحوم سيد مسعود پوهنيار وويل که چېرې والاحضرت اجازه ورکړي هغه برخې چې نښه شوي دي په مجلس کې ولوستل شي، چې مونږ ټول ترې خبر شو. پژواک هم دا نظر تاييد کړ او له پوهنيار څخه يې هيله وکړه چې هغه برخې په لوړ اواز ولولي، چې ټول يې واوري. والاحضرت د مسودې په سريزه کې هغه برخه چې سردارانو په ځانګړي ډول طلايي سردارانو د افغانستان د خاورې يوه برخه د افغانستان د ملت له اجازې او منظورۍ پرته پر رنجيت سنګ خرڅه کړې وه او په بل ځای کې يې بيا د انګليسانو سره د امير امان الله خان د سلطنت په دوره کې له ځينو پلاوو سره د مذاکرو په اړه کوم بحث شوی و او داسې نور ځايونه يې پې مورده په نښه کړي وو. په دې مجلس کې پر ځينو حذف شوو برخو هوکړه وشوه،

خو ځينې تاريخي حقيقتونه د پژواک د ډېر ټينګار په خاطر پاتې او حذف نه شو. ښه مې په ياد دي چې د ځينو حذف شو برخو په خبرو کې د ځينو تاريخي حقيقتونو پر پاتې کېدو پژواک دومره جدي شو، چې وېې ويل که دغه برخه حذف شي دا رساله نه خپروم او د خپلې استعفى په وړاندې کولو سره کابل ته ستنېږم. والاحضرت وخندل او حالت يې بېرته ورغاوه وېې ويل: سمه ده تاسو انګليسي متن چمتو کړئ او تر خپرولو مخکې يې يوه انګليسي کاپي ماته راکړئ.

د لندن په سفارت کې، اداري تشريفات او وضعيت داسې و چې د سفارت هر غړي ان مستشار به چې يو پنځه شپېته کلن سپين‌ږيرى او ډېر محافظه کاره شخص و، هر ځل به يې د سفير دفتر ته په ورتګ د هغه لاس ښکلاوه. اما پرته له مرحوم پژواک څخه، دا چې د سفارت حسابي چارې زما په غاړه وې، نو زه به د سفير دفتر ته ډېر ورتلم او والاحضرت سفير هم تر نورو ټولو مسايلو و حسابي چارو ته ډېر لېوال و. لکه څنګه چې د سفارت بوديجه په هرو درېو مياشتو کې رارسېدله، يوازې معاشونه ترې جلاکېدل او نوره پاتې بوديجه د والاحضرت شخصي حساب ته لېږل کېدله. د سفارت په بوديجې کې د بيا جوړولو او ځينو مېلمستياوو او بلنو لپاره ځانګړې مبلغ ځانګړى کېده، اما د درېو کالو په موده کې چې زه په لندن کې وم، سره له دې چې د لندن له ښاروالۍ څخه دوه يادښتونه راولېږل شول چې د سفارت د بهرنۍ خوا د دېوالونو د نوو رنګولو په اړه غوښتنه پکې وه، ځکه د لندن د ښار د ډېر ګرد او دوړو په خاطر دېوالونه تورېږي. بيا هم دا لګښت ونه شو او د بلنو د تخصيص په برخه کې يوازې په کال کې يو ځل د خپلواکۍ د جشن لمانځلو لپاره يو څه لګښت کېده او نيمې نورې پيسې به د والاحضرت حساب ته لېږل کېدې. کله به اړتيا پېښېدله چې درې ځلې به هم د والاحضرت دفتر ته ورتلم او په هرځل تګ به والاحضرت خپل لاسونه د مچولو لپاره را وړاندې کول او ما به مچول، خو د سفارت يوازنى غړى چې د هيچا لاس يې مچ نه کړ، هغه مرحوم پژواک و او کله کله به يې په رسمي او اداري موضوعاتو کې له سفير سره په تنده او

له غوسې په ډکه روحیه چلن کاوه، هغه به په خندا تېرول. که چېرې د والاحضرت دوې ښېګڼې بیان نه کړم غاړه مې بندېږي؛ یوه دا چې ډېر زیات زغم یې درلود او د ښه چلن خاوند و، تر لاس لاندې خلکو سره مې هیڅ وخت دده غوسه او تریو تندی ونه لید. او بله دا چې هر لیک که فارسي به و که انګلیسي، ترپایه به یې لوسته او بیا به یې لاسلیک کاوه، خو د دري په لیکلو او انشا کې یې ورتیا نه درلوده. درې کاله او څه زیاته موده چې ما د کاتب په حیث کار ورسره کاوه، یو لیک یې هم په خپل قلم ونه لیکه، سیاسي راپورونه به پژواک او د اداري او قونسلي چارو لیکونه به ما او سرکاتب لیکل. د سفارت مستشار چې د هندوستان مېشتو افغانانو څخه و، د سفیر په څېر یې د فارسي په لیکلو کې ورتیا نه درلوده، خو په انګلیسي ښه پوهېده. په داسې حال کې چې د والاحضرت انګلیسي ډېره کمزورې وه، برعکس په اردو یې روان لیکل کول او هغه لیکونه چې له اروپا څخه په اردو ورته راتلل په خپل قلم به یې ځواب ورکاوه.

ورګرځم د "پښتونستان د ورځې" د رسالې موضوع ته. د انګلیسي متن یې بشپړ شو او د والاحضرت تر لاسلیک وروسته د وروستي اداري مجلس په ناسته کې یې پر عنوان باندې لانجه وشوه. والاحضرت غوښتل چې عنوان یې "د ډیورنډ کرښه نه منو" شي، خو پژواک استدلال وړاندې کړ چې په دې اساس یې عنوان د "پښتونستان ورځ" (Pakhtunistan Day) نوموو چې د دې ورځې لمانځل د ډیورند کرښه تر پوښتنې او شک لاندې راولي او له بله پلوه د انګلیس ملت د لومړي ځل لپاره دا نوم لولي، په داسې حال کې چې د "ډیورنډ کرښه (Durand Line)" یې د تاریخ یو برخه ده. مجلس هم د پژواک له نظرڅخه پلوي وکړه او رساله په همدې نامه چاپ شوه. دوه زره ټوکه یې د هوايي پوست له لارې کابل ته ولېږدول شول چې د بهرنیو چارو د وزارت له خوا په کابل کې د بهرنیو هېوادونو سفارتونو ته وویشل شول او همداشان د قومونواو قبایلو چارو د ریاست له لورې په پښتونستان کې توزیع شول. زر ټوکه یې په

واشنګټن کې د افغانستان سفارت ته ورکړل او پنځه سوه ټوکه یې په ډهلي کې د افغانستان سفارت ته ولېږدول. په لومړي پړاو کې د سفارت کارکوونکو او افغان زده کړیالانو له خوا درې زره ټوکه د انګلستان په مطبوعاتو، کتابتونونو او پوهنتونو کې وویشل شول او په لندن کې هم د انګلیس د ولس لپاره دا چاره د سفارت مامورینو او محصیلینو ترسره کړه.

په۱۹۵۲م کال کې لومړي وزیر والاحضرت شاه محمود خان امریکا ته په یوه غیررسمي سفر د درملنې لپاره په لاره کې لومړی لندن ته تشریف راوړ، خو په دې وخت کې د شاهي کورنۍ د غړو ترمنځ جدي ستونزې را ولاړې شوې وې. یو کال مخکې په پاریس کې د مارشال شاه ولي خان زوی عبدالولي د ظاهرشاه له لور شاهزادګۍ بلقیس سره واده کړی و، په داسې حال کې چې شاهزادګۍ بلقیس د ماشومتوب له دوران څخه د شاه محمود خان د زوی عبدالعظیم په نوم نومول شوې وه. عبدالولي او عبدالعظیم په خپلو منځو کې د کاکا او د خاله زامن کېدل. یاد واده د دوو ورونو والاحضرت شاه ولي خان او شاه محمودخان ترمنځ شدید درز رامنځ ته کړی و. کله چې د لومړي وزیر شاه محمودخان د رارسېدلو خبر لندن ته مخابره شو، نو والاحضرت مارشال له خپلې مېرمنې سره د مدیترانې څنډې ته خپلې ژمنۍ مانۍ د "نیس" (Nice) ښکلي ښار ته ولاړ او سفارت یې مستشار میر محمدصدیق خان ته د شارژدافیر په توګه پرېښود. د انګلیس حکومت د لندن د ویکټوریا په سټېشن کې د صدراعظم شاه محمود خان څخه په ډېره سړه وضعه هرکلی وکړ. د مسټر فلیپس په نوم یو نفر چې مخکې په کابل کې د برتانیې په سفارت کې سکرټر و او اوس د بهرنیو چارو د وزارت له خوا په لندن کې د افغانستان د څانګې مدیر و. نوموړي د افغانستان لومړي وزیر ته ښه راغلاست ووایه، پرته له مرحوم پژواک څخه ټولو افغانانو د صدراعظم لاس مچ کړ. د هغو څو ورځو په موده کې چې صدراعظم په لندن کې تم شو د ټولو سره یې ولیدل، خو له پژواک سره یې ونه لیدل. پژواک د سفارت د غړو په حضور کې مستشار ته ورانديز وکړ

چې د انګلستان د بهرنیو چارو وزارت ته همداشان د انګلیس د دربار وزارت ته باید اعتراض وکړو، چې د بهرنیو چارو وزارت د صدراعظم څخه د تشریفاتو د تعامل سره سم هرکلی نه دی کړی. سره له دې چې د لومړي وزیر سفر غیر رسمي و، خو لږ تر لږه باید د وزارت د مرستیال په کچه په سټېشن کې د نوموړي هرکلی شوی وای. همدارنګه د انګلیس د شاهي دربار د وزارت هیڅ غړي د شاهي کورنۍ د دې غړي او د افغانستان د باچا د کاکا هرکلی ونه کړ، ځکه چې انګلستان یو شاهي دولت دی او د دربار یو وزارت لري چې د هندوستان د راجاګانو او د افریقایي مستعمرو هېوادونو د شاهانو او شهزاده ګانو هرکلی ان د دربار د وزیر په کچه کوي، ولې یې د افغانستان د سلطنتي کورنۍ د یوه نامتو غړي هرکلی یې د دربار د وزارت په کچه ترسره نه کړ؟ مستشار ورته وویل تاسو سمه خبره کوئ کله چې سفیر دلې و او له کابل څخه د صدراعظم د رارسېدو د شفر تلګراف راورسېد، ما له والاحضرت څخه وپوښتل چې د بهرنیو چارو او د دربار وزارتونو ته رسمي یادښتونه ولېږم؟ والاحضرت وویل چې په کابل کې د انګلیس سفارت مخکې خپل دولت ته اطلاع ورکړې ده او هغوی خبر دي. مستشار زیاته کړه که چېرې اوس د سفیر په غیاب کې اعتراضیه لیکونه په لندن کې د بهرنیو چارو وزارت ته ولېږو، کله چې سفیر راستون شي ښایي ووایي چې تاسو به زما څخه په دې اړه پوښتلي وای. اوس په لندن کې د صدراعظم د شتون په وخت کې اعتراض کول ښه نه دي، ښه به دا وي چې لندن ته د سفیر تر راستنېدو منتظر شو؛ ځکه زمونږ د اعتراض حق خوندي دی، وروسته هم اعتراض کولای شو.

صدراعظم په لندن کې د افغانستان په سفارت کې تر څلورو ورځو تم کېدو وروسته د واشنګټن په لور وخوځېد او مارشال هم لندن ته راستون شو او راپور مو ورته وړاندې کړ، خو کوم اقدام ترسره نه شو. اصولاً نیمګړتیا دلته وه چې د یوه هېواد صدراعظم کله کوم بهرني هېواد ته راځي هلته یې د خپل هېواد سفیر حاضر وي او ډېر فعاله رول لوبوي، اما په دې بهیر کې زمونږ سفیر سفارت پرېښود

او د خپلو کورنیو د غړو ترمنځ د شخصي اختلافاتو په وجه يې د افغان ولس حیثیت او ابرو ته زیان ورساوه. کله چې لومړی وزیر شاه محمودخان واشنګټن ته ورسېد، وراره يې سردار محمد نعیم خان هلته سفیر و، دا چې له خپل کاکا سره يې ښې اړیکې نه لرلې، نوموړي هم خپل مستشار مرحوم محمدهاشم میوندوال ته سفارت پرېښی و او کابل ته تللی و.

د واشنګټن له سفر څخه دوې میاشتې وروسته خبر راورسېد چې والاحضرت صدراعظم د دې اونی په وروستیو کې لندن ته راځي، د لندن سفارت باید په اروپایي هېوادونو کې د افغانستان سفیران د صدراعظم په امر راوغواړي چې په لندن کې حاضر و اوسي. مخکې تر دې چې صدراعظم لندن ته راورسېږي، مرحومین هر یو په مسکو کې سفیر سلطان احمدخان، په پاریس کې سفیر جنرال محمد عمرخان، په روم کې د افغانستان سفیر محمدعثمان خان عمر، په جرمني کې د افغانستان سفیر چې اوس يې نوم زما له یاده وتلی او په برلین کې د افغانستان پخوانی سفیر او د صدراعظم شخصي ملګری الله نوازخان لندن ته را ورسېدل. مارشال شاه ولي خان بېرته په لندن کې سفارت پرېښود او د "نیس" ښار ته ولاړ. صدراعظم د لندن په هوایي ډګر کې د سفارت د مستشار او یادو سفیرانو په ملتیا تر سفارته بدرګه شو. زه په میدان کې نه وم او خبر نه شوم چې د انګلیس له خوا څوک راغلي وو. زه او سرکاتب پوهنیار د مېلمنو د هرکلي لپاره موظف شوي وو چې له سهار نه به د شپې تر ناوخته پورې همهلته وو. کله چې صدراعظم له سفیرانو سره سفارت ته ورسېد او د سفارت په تشریفاتي سالون کې تر یوې لنډې ماښامنۍ ډوډۍ خوړلو وروسته خدای په اماني پیل شوه. سفیران رخصت شول او پژواک يې هم له ځانه سره یوړ. صدراعظم چې ستړی معلومېده د خوب کوټې ته ولاړ. په سبا يې سهار تر یوولسو بجو وروسته یو یو سفیر سفارت ته راستانه شو او د سفارت د دویم پوړ په خصوصي سالون کې د مازدیګر تر درېو بجو له صدراعظم سره همهلته وو. زمونږ له لورې په هغه مجلس کې یوازې مستشار

ګډون درلود، زه د هغې ورځې د خبرو له بهیره خبر نه شوم، یوازې د سفارت پیشخدمتانو راته وویل چې پر مېزونو د چاینکو او پیالو تر ایښېدو وروسته مونږ ته د مستشار له خوا وویل شول چې نور سالون ته داخل نه شو او دروازه یې له دننه خوا قلف کړه.

مستشار صاحب د هغې ورځې د تشریفاتو تر پای ته رسېدو وروسته ماته وویل چې د سبا غرمې د مېلمستیا لپاره د پنځوسو شپېتو نفرو لپاره ډول ډول خوراکونه او مېوې چمتو کړه او په لندن کې مېشت افغان محصلینو ته هم بلنه ورکړئ، چې د صدراعظم صاحب لیدو ته راشي. زه او پوهنیار د هغې ورځې د خبرو اترو له بهیر څخه خبرنه شو، خو د صدراعظم له تګ وروسته د پژواک له خولې خبر شو چې نوموړي ته کوم سفیر هغه جریان ویلی و: "صدراعظم د واشنګټن د ناکامو مذاکراتو جریان له سفیرانو سره شریک کړی و، چې امریکا افغانستان ته د وسلو په ورکولو یا خرڅولو معذرت غوښتی و او سپارښتنه یې کړې وه چې افغانستان باید له پاکستان سره د خپل اختلاف څخه لاس واخلي." هله به امریکا د افغانستان سره پر خپلو اړیکو له سره غور وکړي.

ما او مرحوم پوهنیار په سفارت کې خپل لوی دفتر د شپې له خوا خالي کړ چې هلته د شپېتو نفرو لپاره د ډوډۍ خوړلو مېزونه ځای پرځای شي. دوه نفره ډېر لایق اشپزان مو درلودل چې مخکې سردار فیض محمد خان ذکریا له کابل څخه ځان سره راوستي وو. د خورا زیاتي ډوډۍ، خوږو او میوه جاتو لپاره فرمایش ورکړل شو، سبا سفیران پر یوولسو بجو او نور مېلمانه وروسته راورسېدل. صدراعظم خپله په سالون کې د مېلمنو هرکلی کاوه او هغوی ته یې د روغبړ لپاره لاس ورکاوه. کله چې په سالون کې مېلمانه زیات شول، نو ځینې مېلمانه مو له سالون څخه بهر په ځانګړي ډول محصلین د ډوډۍ خوړلو په دهلیزونو او نورو کوټو کې کښېنول. سفیران له مستشار، استاد پژواک او صدراعظم سره یوځای تر اخره دننه په سالون کې ناست وو. شاوخوا دوې بجې وې چې ډوډۍ یې پر مېزونو

کېښودل شوه، ښاغلی پوهنيار سالون ته دننه ورغی، صدراعظم او نور مېلمانه يې د غرمنۍ لپاره د ډوډۍ خوړلو کوټې ته راوبلل. صدراعظم دمخه او سفيران ورپسې راغلل. د ډوډۍ خوړلو د کوټې تشريفات زما پر غاړه وو، د لومړي ځل لپاره مې صدراعظم ولید، روغبړ مې ورسره وکړ او لاس مې يې ورمچ کړ او هغه مې لومړي مېز او اولې چوکۍ ته بدرګه کړ. د سفيرانو لپاره د هر سفير ځای غوره شوی و چې څلور نفر يو لوري او درې نفر زمونږ له مستشار سره د صدراعظم بل لوري ته کښېناستل. استاد پژواک د سفير محمد عثمان خان عمر شاته ناست و، په لندن کې د ملي بانګ مدير د پژواک څنګ ته او په مخامخ لين کې يې زه او پوهنيار څنګ په څنګ ناست وو. د يو هندو توکمه هېوادوال په شمول څو تنه افغان تجاران او د بانک دوه غړي نور ټول محصلين د سفارت تر غړو وروسته پر چوکيو ناست وو. صدراعظم شاه محمودخان ولاړ شو او د پنځو دقيقو لپاره يې امرېکا ته د خپل سفرپه اړه خبرې وکړې چې اصلاً ياد سفر يې غير رسمي او د درملنې په موخه و. په ضمن کې يې د هغو مذاکراتو يادونه هم وکړه چې (په امرېکا کې د افغانستان د دوستانو) سره ترسره شوې وې. په پای کې يې افغان محصلين مخاطب کړل او ويې ويل: ستاسو هېواد يو فقير هېواد دی او راتلونکی يې ستاسو په لاس کې دی، بايد ښه درس ولولئ او د خدمت د ترسره کولو لپاره وطن ته ستانه شئ، بيا يې خپل قاب راپورته کړ او په لوړ اواز يې حاضرينو ته د ډوډۍ ږغ وکړ. کله چې په قابونو کې د ډوډۍ د ويشلو پړاو پای ته ورسېد او ګډونوالو يې په خوړلو پيل وکړ، د صدراعظم ږغ واورېدل شو چې پژواک يې مخاطب کړ او پوښتنه يې ورڅخه وکړه: ښاغلی پژواک ستا رساله (پښتونستان ډی Pakhtunistan Day) مې په امرېکا کې ولوسته ايا تاسو د دې رسالې په اړه له خپل سفير سره مشوره کړې وه؟ پژواک ورته وويل: بلی، لومړی مې دا رساله په فارسي وليکله او يوه نسخه مې سفيرصاحب ته وسپارله چې کافي وخت ولري چې په غور يې مطالعه کړي او وروسته په مجلس کې د سفير او د سفارت د غړو سره چې اوس هم دلته حاضر دي د فارسي متن تر بحث او مشورې لاندې او خلاصه شو. ورپسې يې وروستی

متن په انګلیسي واړول شو او تر چاپ مخکې یې انګلیسي متن بیا هم د والاحضرت سفیر صاحب حضور ته وړاندې شو.

صدراعظم: تاسو په دې رساله کې لیکلي دي چې د افغانستان خپلواکي امان الله اخېستې ده، په کوم اساس مو دا مطلب لیکلی دی؟

پژواک: والاحضرت، تاسو ښه پوهېږئ چې زمونږ خپلواکي له انګلیس څخه ترلاسه شوې ده او انګلیس هم زمونږ په تاریخ ډېر ښه پوهېږي، یاده رساله د لومړي ځل لپاره ستاسو د حکومت بهرنی سیاست په انګلیسي ژبه بیانوي په لندن کې ستاسو د سفارت له خوا چمتو او ووېشل شوه. که چېرې تاریخي واقعیتونه نه وای پکې بیان شوي د انګلیس خلکو هغه نه لوستله او زمونږ هڅې او لګښتونه هم عبث کېدل، خو اوس د انګلیس نوی نسل زمونږ د حق بجانبې ملي داعیې په حقیقت پوه شوی دی او د دې  رسالې د مثبتو انعکاسونو راپور مې د مطبوعاتو ریاست ته لیکلی دی.

صدراعظم: پژواکه ته څه خبر یې ته د مور په ګېډه کې وې چې مونږ استقلال واخېست...

پژواک: والاحضرت، د مور په ګېډه کې موضوع یوه طبیعي چاره ده. زه، تاسو او هرانسان د مور په ګېډې کې وئ، اما په سیاست کې نه شو کولای چې تاریخي واقعیت پټ کړو...

ما ولیدل چې د پژواک د دې  خبرو له اورېدو څخه د والاحضرت صدراعظم د څېرې او مخ رنګ دم په دم سور شو او کله چې یې لاس وجیب ته کړ فکر مې وکړ چې تفنګچه را باسي او ټک کوي، خو خپل د پزې دسمال یې را وکښه او مخ یې پرې پټ کړ. په دې وخت سفیرمحمد عثمان عمر او سفیر محمد عمرخان پژواک تر بغلو ونیو او د ډوډۍ خوړلو له کوټې څخه یې بهر کړ. صدراعظم دوه درې دقیقې پر خپل ځای پاتې شو او وروسته دفعتاً ولاړ شو او د ډوډۍ خوړلو له کوټې

څخه پرته له ډوډۍ خوړلو د شا له دروازې څخه خپلې د خوب کوټې ته ولاړ. کومه ښکلې او عالي مېلمستیا چې جوړه شوې وه په اصطلاح د ټولو لپاره"زهر" شوه. سفیرانو هم د ډوډۍ خوړلو کوټه ورپسې پرېښوده، خو ما د زده کړیالانو او نورو مېلمنو څخه هیله وکړه چې په ارامۍ سره خپله ډوډۍ وخوري او هر څومره خوړې او مېوه جات چې یې زړه غواړي له ځانونو سره یوسي، همداسې یې وکړل.

دا و د "پښتونستان د ورځې" د رسالې داستان. د صدراعظم د غوسې او خپګان په علت وروسته پوه شوم چې د رسالې هغه برخې چې د استقلال او امان الله خان په هکله وې په واشنګټن کې مرحوم میوندال سرې کړښې ترې راتاوکړې وې او د والاحضرت صدر اعظم پاملرنه یې ورته را اړولې وه، چې پرته له دې صدراعظم لوستې نه وه او د دې رسالې له شتون څخه نه خبرېده. د پژواک او میوندوال په منځ کې د حبیبي لېسې او بیا وروسته چې په مطبوعاتو کې په دنده و، یو یې د "اصلاح" او بل د "انیس" مدیر و څه ناڅه ستونزې او نزاکتونه پیداشوي وو. صدراعظم کابل ته ولاړ او دوې میاشتې وروسته یې استعفی وکړه او سردار محمد داود خان د صدارت پر چوکۍ کښېناست.

په اصطلاح د (معترضه جملې) په توګه یعنې په حاشیه کې د لاندې درېوو موضوعګانو یادونه کوم:

۱_ د "پښتونستان د ورځې" رساله د انګلستان په برېټش میوزیم او کتابتونو کې شتون لري، په انګلستان کې د مېشتو خپلو ګرانو هېوادوالو څخه هیله کوم چې یوه کاپي ځانونو ته واخلي او یوه کاپي یې ماته راولېږي. د چاپ کال یې ۱۹۵۲ م دی، یاده رساله د ډیورند کرښې او "پښتونستان" د داعیې په اړه مهم سند دی.

۲_ د ښاغلي حمید عبیدي له مقالې څخه خبر شوم چې ښاغلی فرهاد پژواک د خپل بابو د خاطرو ټولګه چاپوي. ډېر مهم او مبارک کار دی، ما سره د ارواښاد پژواک یو څه شخصي لیکونه موجود دي، که چېرې یې وغواړي ورلېږم یې، ښاغلی

فرهاد پژواک زما او د مرحوم پژواک په اړیکو خبر دی. هغه مهال چې نوموړی مرحوم په واشنګټن کې و، هره میاشت او یا دوې میاشتې وروسته به له کلیفورنیا څخه د نوموړي دیدن ته ورتلم.

**د افغانستان خدمتګار**

**ډاکټرسید خلیل الله هاشمیان**

**۲۰۱۲م کال د نومبر ۲۹**

# د استاد عبدالرحمان پژواک ژوندلیک

قاضي عبدالله خان چې يو جيد عالم او مشهور فقيه و، د خپلو حکومتي دندو په لړ کې په غزني کې د محکمې د قاضي په توګه په دنده وګومارل شو او د خپلې دندې د ترسره کولو لپاره له خپلې کورنۍ سره یوځای هغه ولایت ته کډه شو. د غزني په دې ویاړلي او تاریخي ښار کې د اوسېدو په وخت خدای تعالی (ج) هغه ته په (۱۶ حوت ۱۲۹۸ هجری شمسی = ۷ مارچ ۱۹۱۹ میلادی) کال کې یو زوی ورکړ چې نوم یې ورته عبدالرحمان کېښود. (ارواښاد استاد پژواک په ختّه معروف خېل، د پلار له لورې د معروف خېلو په ټبر او د مور له خوا د سپین‌غر په خوګیاڼو کې د بارکزیو په قبیلې پورې تړاو لري؛ اصلا د ننګرهار ولایت د سره رود ولسوالۍ د باغوانیو اوسېدونکی).

د نبوغ او ذکاوت نښې د همغه ماشومتوب له دورانه د عبدالرحمان په څېره کې له ورایه ښکارېدې، په غزني کې د قاضي عبدالله د دندې موده پای ته ورسېده او بېرته له خپلې کورنۍ سره د ننګرهار ولایت سرخرود ولسوالۍ کې خپل ښکلي پلرني کلي باغباني ته راستون او دلته استوګن شو. د خپلو اولادونو او نورو لرې او نېږدې طالب العلمانو د زده کړې او تربیې په هڅه کې شو، له همدې کبله عبدالرحمان د خپل پلار او مشر ورور قاضي حفیظ الله د درسونو په حلقو کې ګډون کاوه او مخکې تر دې چې د خپل کلي باغباني سره نېږدې ابتدایه ښوونځي ”مطلع دانش“ کې شامل شي، د لومړني لوست او سواد له نعمت څخه برخمن شوی و. عبدالرحمان په دې ښوونځي کې تر دوو درېو کالو درس ویلو وروسته مجبور شو چې له خپل پلار او کورنۍ سره د خوګیاڼیو کرېږ ته کډه وکړي، ځکه ښاغلی پلار یې هلته د محکمې په دنده وګومارل شو.

بالاخره قاضي عبدالله د کابل ښار د مرافعې محکمې ته تبدیل شو، د کابل د ده افغانانو په نواباد کې یې یو لوی کور وپېره او د خپلې کورنۍ له غړو سره په کې استوګن شو. عبدالرحمان د حبیبیې په لېسه کې شامل شو او د خپلو استادانو په

خبره، درسونه یې په خورا شوق او بریالیتوب مخته وړل. همداشان د خپلې وړتیا او ذوق په اساس یې د شعراو ادب په برخه کې هم لاس او لېوالتیا درلوده او د حبیبیې په لېسې کې به یې د غونډو او کنفرانسونو په لړ کې خپل مقالې او شعرونه هم وړاندې کول. د ښوونځي د فوټبال په ټیم کې د ځلېدونکي ستوري په توګه پېژندل کېده، نوموړي په بریالیتوب سره د لېسې دوره پای ته ورسوله او په هغه وخت چې یوازې همدا د طب یوازنۍ رشته وه د دوو کالو په موده کې یې طب ولوست. په دې وخت کې یې پلار د تمیز د رییس په حیث دنده ترسره کوله او د زړه د سکتې له کبله ومړ. د پلار ناڅاپه مړینه د دوی د کورنۍ د ژوند پر چلن ډېر بد اغېز وکړ او ناارامي یې رامنځ ته کړه، لکه څنګه چې مشر ورور یې قاضي حفیظ الله په شمالی کې د قضا د دندې پر مهال په شهادت رسېدلی و، ځوان عبدالرحمان د پلار تر وفات وروسته د کورنۍ مسؤولیت په غاړه واخېست او د خپلو کشرانو ورونو د تربیې، زده کړې او معیشیت د لاښه کېدو په خاطر یې په کابل کې مجبوراً د خپل تحصیل لړۍ پای ته ورسوله، خپل پلرنی کور یې خرڅ کړ او د کورنۍ غړي ښځې او ماشومان یې بېرته خپل پلرني کلي باغباني ته ولېږل.

عبدالرحمان د خپلې وړتیا له مخې لومړی د کابل ادبي انجمن په تاریخ څانګه کې د انګلیسي ژبې ترجمان وټاکل شو. بیا چې د مطبوعاتو مستقل ریاست تشکیل شو، د نشراتو د عمومي مدیریت د دویمې څانګې مدیر شو او څو ورځې پس د اصلاح ورځپاڼې لوی چلوونکی تعین شو. څو میاشتې وروسته پر دې سربېره د باختر اژانس لوی مدیریت هم وروسپارل شو. بیا د پښتو ټولنې مشر( لوی مدیر) شو او بیا د مطبوعاتو ریاست د نشراتو لوی مدیر وټاکل شو.

نوموړی په دې کلونو کې د خپلې شعري او ادبي وړتیا له مخې په خپلو مطبوعاتي دندو کې داسې وځلېد چې د دولتي لوړ پوړو چارواکو، ادیبانو او نورو عامو خلکو پاملرنه یې ځان ته راواړوله. په لومړیو کې یې په خپلو اثارو کې "وفا" تخلص کاوه، وروسته یې "مړاو" او بیا یې "ارمانجن" تخلص غوره کړ او بالاخره د "پژواک"

تخلص په غوره کولو د افغاني ټولنې او ټولې بشري کتلې د لوړو انساني ارمانونو د برغ د انعکاس رښتینی پژواک شو.

د عبدالرحمان پژواک د شعرونو او اثارو پښتو او دري ببلګې د هېواد د هغه وخت د رسنیو د ورځنیو خپرونو ښکلا او خوږلني شوه او وروسته یې د شاعرانو او ادیبانو په حلقو کې مینوال خورا زیات شول او په دې برخه کې یې لوړ مقام ترلاسه کړ. استاد عبدالرحمان پژواک په ۱۹٤٦ م کال په لندن کې د افغانستان په لوی سفارت کې د کلتوري او مطبوعاتي اتشې په توګه په دنده وګومارل شو او د لومړي ځل لپاره یې له هېواد نه بهر په سفر او مطالعې پیل وکړ. په ډیپلوماتیکه برخه کې یې مشق او تمرین وکړ. هلته یې په انګلیسي ژبه د افغانستان د معرفي کولو او د "پښتونستان" د داعیې لپاره د اثارو په لیکلو او خپرولو لاس پورې کړ. نوموړي په دې دوره کې خپلې لوړې زده کړې په ژورنالېزم او نړیوالو اړیکو په برخه کې د سکاټلنډ په ادنبره پوهنتون کې مخته یوړې. استاد پژواک د سفارت له چارواکو سره د نظر مخالفت پیدا کړ او له دندې یې استعفی وکړه. په کاناډا کې یې د کار او کارګر په نړیوال سازمان کې په ۱۹٤٧م کال کې د اطلاعاتو په څانګه کې په کار پیل وکړ، یو کال وروسته په واشنګټن کې د افغانستان په سفارت کې د مطبوعاتي اتشې په توګه و ګومارل شو، (۱۹٤٨-۱۹٥۰م). له هغه ځایه بېرته د مطبوعاتي او کلتوري اتشې په توګه په لندن کې افغان سفارت ته تبدیل شو، (۱۹٥۰-۱۹٥۳م). هغه له دې وظیفې څخه تر یو څه مودې وروسته بېرته استعفی وکړه، هېواد ته ستون شو او د څه وخت لپاره، یې رسمې دنده نه درلوده.

چارواکو وغوښتل چې د استاد پژواک له سیاسي وړتیا او ډیپلوماتیکو مهارتونو څخه ګټه واخلي، نو هغه ته یې د بهرنیو چارو په وزارت کې د دریمې سیاسي څانګې د مدیر په توګه دنده ورکړه، (۱۹٥۳). استاد پژواک د اړوند وزارت په مختلفو څانګو کې د خپل لیاقت او وړتیا په ښودلو سره وتوانېد چې د عمومي سیاسي مدیریت مقام ته ځان ورسوي، (۱۹٥٥-۱۹٥٨م). استاد پژواک د دې مهم

لوړرتبه ماموریت په خپلولو سره وکولای شول چې په ټولو سیمه ییزو کنفرانسونو، د غیرمنسلکو هېوادونو او نړیوالو غونډو په ناستو کې د افغانستان د یو نامتو استازي په توګه ونډه واخلي، چې د هغو له ډلې یوازې د لاندې کنفرانس یادونه کوم:

استاد پژواک د غیرمنسلکو هېوادونو د مشرانو په لومړني کنفرانس کې د افغان پلاوي د غړي په توګه ګډون وکړ چې یاد کنفرانس د اندونیزیا په باندونګ کې ترسره شو چې د غیرمنسلک نهضت اساس په کې کښېښودل شو او افغانستان هم د دې سازمان د بنسټګرهېواد په توګه وپېژندل شو، (۱۹۵۵م).

استاد عبدالرحمان پژواک په کال (۱۹۵۸م) کې د نیویارک په ښار کې د ملګرو ملتونو په سازمان کې لومړی د وزیر مختار او وروسته د افغانستان د لوی سفیر او دایمي استازي په توګه وګومارل شو. نوموړي شاوخوا څوارلس کاله یاده دنده په ډېرو ښو فعالیتونو سره ترسره کړه، هغه چې په نړیوالو مسایلو کې کوم بېساری اهلیت او وړتیا وښودله، د ملګرو ملتونو د سازمان د یو ځلانده او باور وړ څېرې په توګه وپېژندل شو. په همدې خاطر د افغانستان د لوی سفیر د دندې ترڅنګ د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا د امنیت د شورا په تایید د نورو مهمو نړیوالو چارو د ترسره کولو مسؤولیتونه هم وخت په وخت ورسپارل کېدل، چې په دې لنډه لیکنه کې د ټولو یادونه ناشوني ده. دلته یوازې په لاندې مواردو بسنه کوم:

۱- د جنوبي ویتنام د معضلې د حل په اړه د ځانګړې کمېټې رییس.

۲- د ملګرو ملتونو د سازمان پر منشور د بیا کتنې د کمېټې رییس.

۳- د ملګرو ملتونو د سازمان د بشر د حقونو د کمیسیون رییس.

٤- د نامیبیا د چارو په اړه د عمومي اسمبلۍ د ځانګړې غونډې رییس.

پر دې سربېره استاد پژواک د غیرمنسلکو هېوداونو د مشرانو په دوو کنفرانسونو کې چې یو په (۱۹٦۱م) کال کې په بلګراد او بل یې په (۱۹٦٤م) کال کې په قاهره کې ترسره شو هم ګډون درلود. مرحوم استاد پژواک د خپلې سیاسي وړتیا پر بنسټ

او هغه باور چې یې د ملګرو ملتونو له سرمنشي او غړو هېوادونو له استازو څخه ترلاسه کړی و، په (۱۹٦٧_۱۹٦٦م) کال کې د یاد سازمان د یوویشتمې عمومي ناستې د رییس په توګه غوره شو، چې د دې لوړ مقام ترلاسه کول یې په نړیواله ټولنه کې هم د ځان او هم د خپل ګران هېواد د سرلوړۍ لامل شو.

د عمومي اسمبلۍ د ریاست په دوره کې استاد پژواک د ځینو هغو اضطراري غونډو ریاست هم کړی دی چې د عربي هېوادونو او اسرایلو د جګړې د ګرمېدو په اړوند وې او نړیواله اوضاع یې تر بل هر وخت ډېره کړکېچنه کړې وه. په نړیوالو چارو کې د استاد پژواک نبوغ، ځیرکتیا او پوهې دومره پوخ ملاتړ او باور ورته جوړ کړی و چې داسې ویل کېدل که چېرې "اوتانت" د ځینو ستونزو له کبله د ملګرو ملتونو د سرمنشي په توګه خپله دنده تر سره نه شي کړای، د امنیت د شورا ټولو غړو او د مخ پر ودې هېوادونو استازو استاد پژواک د راتلونکي سرمنشي په توګه د غوره نوماند په توګه یاد کړی و. د دې موضوع ثبوت د امریکا او نورې نړۍ د همهغه وخت په معتبرو ورځپاڼو کې شتون لري. مرحوم استاد عبدالرحمان پژواک په (۱۹٧۲م) کال په بن کې د افغانستان د لوی سفیر په توګه دنده ترسره کړه او د (۱۹٧٦-۱۹٧۳م) کلونو تر منځ یې لومړی په نوي ډهلي او وروسته په لندن کې د افغانستان د لوی سفیرپه توګه دندې ترسره کړي دي. د ډهلي د ماموریت په وخت کې یې لاندې دندې ترسره کړي دي:

۱- په الجزایر کې د غیرمنسلکو هېواونو د مشرانو په ناسته کې د جمهور رییس ځانګړی استازی او د افغان پلاوي مشري (۱۹٧۲م).

۲- په پاکستان کې د اسلامي هېوادونو د مشرانو په غونډه کې د جمهور رییس ځانګړی استازی او د افغان پلاوي مشري (۱۹٧۳م).

۳ - په کولمبو کې د غیرمنسلکو هېوادونو د مشرانو په غونډه کې د افغاني پلاوي غړیتوب (۱۹٧٧م).

مرحوم استاد پژواک په هېواد کې د ثور د اوومې ۷ خونړۍ او شرمووونکې کودتا او د یرغلګرو روسانو له خواد وطن له اشغال سره سم په لندن کې د افغانستان له سفارت څخه استعفی وکړه او وطن ته راستون شو (۱۹۸۷م).

کابل ته له رارسېدو سره جوخت د نورمحمد تره کي د رژیم له خوا په خپل کور کې تر څار او توقیف لاندې ونیول شو. مرحوم استاد پژواک په هغه لیدنه کې چې په کابل کې یې د وخت د لاسپوڅي حکومت د رییس ببرک کارمل په ټینګار له نوموړي سره ترسره کړې وه، د "پدر وطن" په ټولنه کې یې له مرستې کولو څخه په ډاګه ډډه کړې وه

او خپل نظر یې په اړونده موضوع کې هم په شفاهي اوهم په لیکلې بڼه نوموړي ته وړاندې کړی و. له نېکه مرغه د هغه لیک د متن کاپي د اتیایمې لسیزې په وروستیو کې په نیویارک کې د نجیب د استازولۍ له خوا د استاد پژواک او نجیب له ټیلیفوني اړیکي وروسته د فرهاد پژواک لاسه ته ورسېدله او د لاخبرونې په موخه د استاد پژواک حضور ته وړاندې شوه.

د هغو ټیلیفوني خبرو تفصیل او د هغې تاریخي او ارزښتمن لیک متن په دې کتاب کې راوړل شوی دی. په همدې وخت کې د استاد پژواک ناروغي سخته او بطني وینه بهېدنه ورته پیدا شوه. نوموړی د معالجو ډاکټرانو د ټینګاراو مشورو پر بنسټ د درملنې په موخه ډهلي او لندن ته ولاړ، (۱۹۸۰م). استاد له عملیاتو وروسته بېرته کابل ته راستون شو او د وطن د خپلواکۍ او خپلو خلکو د برخلیک ټاکلو د حق او نورو عمومي حقونو د ترلاسه کولو په موخه یې په ښکاره او پټې مبارزې لاس پورې کړ. له هغې ډلې یې د پوهنتون د استادانو، ځوانانو او نورو دوستانو په مرسته په پټه توګه د "بشر د حقونو ټولنه" رامنځته کړه. د شپې پاڼو په خپرولو یې پیل وکړ، له بده مرغه د استاد پژواک روغتیا بېرته مخ په خرابېدو شوه او په (۱۹۸۲م) کال د درملنې او کمونستي نظام پر وړاندې د مبارزې په موخه ډهلي ته ولاړ.

په ډهلي کې يې د کمونستي رژيم او د روسانو له خوا د هېواد د اشغال پر ضد د يو مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې خپل مخالفت اعلان کړ او د ملګرو ملتونو د سازمان څخه يې د سياسي پناه ورکولو غوښتنه وکړه. استاد پژواک مرحوم تر يو څه درملنې وروسته د افغان جهاد د برحقو هڅو او ازادۍ غوښتونکو مبارزينو لپاره د ملاتړ ترلاسه کولو او د افغان سياسي شخصيتونو او نورو ادرسونو سره د ليدنو او مذاکرو په موخه المان ته ستون شو. په لوېديځ المان کې د پاکستان سفارت د خپل حکومت په هدايت له استاد پژواک څخه هيله وکړه چې د افغانستان د قضيې د حل په موخه د مذاکرو او خبرو اترو لپاره د يوه ځانګړي او اغېزمن مېلمه په توګه پاکستان ته سفر وکړي. په پاکستان کې تر درېو مياشتو تم کېدو او مذاکراتو وروسته د افغانانو او ملګرو ملتونو له سازمان سره د مفاهمې په خاطر اروپا او امرېکا ته وخوځېد او ورپسې بېرته پاکستان ته را وګرځېد (۱۹۸۳م).

دلته د خپلو سياسي فعاليتونو په ترڅ کې يې له جهادي رهبرانو، قومندانانو، د قومونو او قبايلو مشرانو، پوهانو او ژورنالستانو سره پر ليدنو کتنو بوخت شو او په "وفا"، " افغان مجاهد"او په ځانګړي ډول د "مجاهد ولس" په مجلو او په نورو ټولنيزو ارتباطي وسايلو کې يې د خپلو مرکو او مقالو له لارې په ټولو سياسي او نظامي جبهو کې د بې اتفاقۍ له بدو او خطرناکو پايلو څخه خبرول. د پاکستان حکومت د استاد دا غوښتنې او کړنې د خپلو ګټو او طرحه کړو پلانونو پر وړاندې په زيان او تضاد کې ګڼلې. ورځ تر بلې يې پر استاد فشار راوړ او له خپلو هېوادوالو سره يې د نومورې پر ليدنو او اړيکو بنديزونه ولګول او ستونزې يې ورته جوړولې، خو استاد يې هيڅ پروانه کوله او په خپلواکه توګه يې په خپل مسير کې خپلو هڅو ته د يوه رښتني مجاهد لارښود په توګه په ډېرې زړورتيا سره دوام ورکړ. تر دې چې د پاکستان حکومت د پېښور په حساسه سيمه کې تر دې زيات د استاد پژواک استوګنه نه شوه زغملای او هغه يې د "نامطلوب شخص" په توګه اعلان کړ چې

ژر تر ژره له پاکستان څخه ووځي او د وتلو تر وخته یې استاد پژواک په خپل کور کې تر ټینګ څار لاندې ونیوه. بالاخره نوموړی د ملګرو ملتونو د سازمان د پناه ورکونکو د دفتر په منځګړیتوب امریکا ته ستون شو.

مرحوم استاد پژواک په نیویارک کې د مجاهدینو له ګډون څخه پرته د ژنیو خبرې په معقولو دلیلونو رد کړې او ورسره جوخت یې د ملګرو ملتونو د سولې د پنځه فقره ییزه پلان پر وړاندې د افغانستان د خلکو د لوړو ګټو د ساتلو په موخه یو ټولیز او د عدالت پر بنسټ کره پلان جوړ او د ملګرو ملتونو سازمان ته یې وسپاره (د یاد پلان د اهمیت په خاطر یې کاپي د دې کتاب په ضمیمو کې راوړل شوې ده). مرحوم استاد پژواک تر یو شمېر فعالیتونو او درملنې وروسته د (۱۹۹۱م) کال په لومړیو کې د مسافرت د وېزې په ترلاسه کولو سره د افغانستان اړوند په پلان شوي سیمېنارکې د ګډون لپاره پاکستان ته سفر وکړ. مخکې تر دې چې په پېښور کې د استاد پژواک د وروستیو کلونو د استوګنې په ترڅ کې د نوموړي پر ملي او جهادي خدمتونو لنډه رڼا واچوو دلته د دوو ټکو یادونه غوره ګڼم.

لومړی: له بده مرغه کومه دوامداره ناروغي چې د کډوالۍ په اوږدو کلونو کې د استاد پژواک سره مله وه، نوموړی یې تل ځوراوه. دویم دا چې: امریکا او نورې نړۍ استاد پژواک مرحوم د ژوند د ټولو اسانتیاوو او مادي امکاناتو په شتون کې د مېلمه او کډوال په توګه مانه او هر ډول مادي امتیاز او پناه یې ورکوله، خو استاد دا ټول امکانات له پامه غورځول او له خپلو هېوادوالو سره یې نېږدې استوګنه غوره کوله. د اتیایمې مېلادي لسیزې په منځنیو وختونو کې د استاد ځینو هېوادوالو او لمسي فرهاد پژواک په واشنګټن کې په یوه خپلواکه کوټه کې د اوسېدنې پر وخت د استاد د چوپړ ویاړ درلود او په امریکا کې د نوموړي د استوګنې په وروستیو دوو کلونو کې د پاکستان له سفر مخکې یې فرهاد سره د هغه په کور کې په ویرجنیا ایالت کې د یوځای اوسېدو ویاړ ورپه برخه کړ.

ارواښاد استاد پژواک د افغانستان د خلکو د ملي او پر حق جهاد له پیل څخه په دې باور و چې رهبران او ملي مبارز افغان شخصیتونه باید د امکاناتو د ترلاسه کولو په صورت کې په افغانستان کې دننه د خپلو جهادي او سیاسي فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره یو واحد سیاسي مرکز رامنځ ته کړي. له دې هڅو او ټینګار څخه موخه داوه چې مجاهدین وکولای شي چې د لاسپوڅي نظام د نسکورېدو څخه وروسته، واحد سیاسي او اداري تشکیلات را منځته کړي چې وروسته سیاسي تشه او د مختلفو تنظیمونو ترمنځ ټکر رامنځ ته نه شي، چې پایلې به یې د وطن د خلکو لپاره ډېرې بدې او خطرناکې وي. استاد پژواک ددغه مفکورې او خپلو نورو ارمانونو د ترسره کېدو لپاره اروپا، امریکا او پاکستان ته تر ځلونو سفرونو وروسته، همداشان د افغانستان د مېړني، غیرتمن او ازادۍ غوښتونکي ولس د جهاد د مرحلو د ګرمې او سړې مطالعې څخه وروسته بالاخره د (۱۹۹۱م) کال په لومړیو کې بېرته پاکستان ته ستون او په پېښور کې چې هیڅکله یې دا سیمه پردۍ نه ګڼله مېشت شو.

د استاد پژواک د استوګنې ځای یو ځل بېرته د مجاهدینو، پوهانو، کورنیو او بهرنیو ژورنالستانو او د هېواد د وګړو د یوځای کېدو مرکز شو، د ګاونډیو او نورو بهرنیو هېوادونو لاسوهنو، د افغانستان د ورونو ولسونو ترمنځ د بې اتفاقۍ رامنځ ته کېدل او د نویمې مېلادي لسیزې په پیل کې د دریو کالو په لړ کې کورنیو جګړو چې له امله یې په زرګونو بې ګناه هېوادوال ووژل شول او د کابل تاریخي ښار او د هېواد نورې سیمې  په کنډوالو بدلې شوې، دې حالتونو استاد پژواک روحاً او جسماً رنځاوه، چې دغه درد او رنځ یې په خپلو مرکو، مقالو، اثارو او شعرونو کې د خپل ویاړلي ژوند په وروستیو شپو او ورځو کې بیان کړی دی. یو له هغو مواردو څخه چې استاد پژواک د اوږدو کلونو راهیسې پر هغې باور درلود او د هغې لپاره یې مبارزه کوله، هغه د افغانستان خلکو ته د هغوی د حقونو، سیاسي او فردي

ازادیو ورکول دي چې یادې مبارزې ډېر ځله سرخوږی هم ورته جوړ کړی دی، ان د نومورې د استعفی او له هېواد څخه د لرې ساتلو سبب هم شوی دی.

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه ارواښاد استاد عبدالرحمان پژواک په حبیبیې لېسه کې د زده کړې له دورې څخه د خپلې ذاتي او ذوقي وړتیا له مخې د ادبیاتو مینه وال و، چې خپله یې هم شعر او هم نثر لیکه او په دې برخه کې دومره وغوړېده چې د خپل وخت شاعرانو او ادیبانو په تصدیق سره هم د پښتو او هم د دري ادب په برخه کې د لویو شاعرانو له ډلې څخه وشمېره. هغه دوستان چې استاد پژواک مرحوم له نږدې پېژني پر دې خبره به له ما سره همږغي وي چې استاد پژواک د خپل ځانګړي خصلت په اساس د مقام او منصب په لټه کې نه وو، ان کله چې به یې کوم شعر یا اثر د سفر یا حضر په وخت کې ولیکه، نو هغه به یې خپل کوم دوست او یا د کورنۍ کوم غړي ته ور وسپاره، نو ځکه تراوسه چې د استاد پژواک کوم منظوم او منثور اثار یا په انفرادي او یا په ټولیز ډول چاپ شوي دي، ډېری د نومورې د دوستانو او کورنۍ د غړو په هڅو چاپ شوي دي.

له بده مرغه هغه د خپل ژوند تر وروستیو پورې د خپلو اثارو په راټولولو لاس پورې نه کړ. د استاد پژواک اثار په مراتبو له دې څخه چې تراوسه چاپ شوي دي زیات دي. تر کومه ځایه چې ماته څرګنده ده یو شمېر اثار یې په انګلیسي، فرانسوي، عربي او روسي ژبو ژباړل شوي او خپاره شوي دي. نور اثار یې چې له نېکه مرغه ځینې یې د استاد پژواک په خپل قلم لیکل شوي دي، ما سره موجود او چاپولو ته چمتو دي. دا اثار یې کابو د شلو کالو په اوږدو کې لیکلي دي او د هغه د باثمره ژوند په هغه دوره پورې اړه لري چې استاد د خپل کمال د پوخوالي لوړو پوړیو ته رسېدلی و. د فکري لوړتیا او فلسفي افکارو د ثبات او ټینګښت په موده کې یې لیکلي دي، ښایي چې یاد اثار د پښتو او دري ادب په برخه کې د ډېرو مهمو او ارزښتمنو اثارو په ډله کې وشمېرل شي.

---

ارواښاد استاد عبدالرحمان پژواک ډېر لوړ او د قدر وړ شخصیت درلود. پر ژمنه يې وفا کوله، په ملګرتوب کې يې ټينګښت و، د ربښتيا او حقيقت په ويلو کې يې ګړنی صراحت او بېساری جرأت درلود، څېره يې په زړه پورې وه او خبرې يې د طنز او ټوکو له خوږلنيو ډکې وې، په لوړې طبعې او وقار کې لکه غر داسې ټينګ او هسک ولاړ و. د ژوند په چلن کې له هر ډول تنګ نظرۍ او تکلف څخه پاک و، خپل هېواد او هېوادوال ډېر ورته ګران وو او د هغوی درناوی يې کاوه. د هېواد لوړې ګټې يې تر هر څه لوړې ګڼلې، هيڅکله يې مادياتو ته لېوالتيا نه درلوده، ان د ځان لپاره يې سرپناه جوړه نه کړه او نه يې بل چاته اجازه ورکړه چې ورته جوړه يې کړي. استاد پژواک د خپلو هېوادوالو د لالهاندۍ د درد تر څنګ خپل اوږدې ناروغۍ هم ځوراو، او په وروستيو کې يې هغه ډېر ناتوانه کړی و. افسوس او سل افسوسه دی، چې استاد عبدالرحمان پژواک مخکې تر دې چې د خپل زړه پاکو ارمانونو ته چې خپلواکې، د هېواد د ملي حاکميت استقرار او په خپل ګران وطن کې د عدل او امن ټينګښت و، ونه رسېد او له دې فاني نړۍ څخه يې د تل لپاره سترګې پټې کړې. هغه ازاد او نامتو شخصيت د "١٣٧٤"هـ . ش کال د جوزا په اتلسمه د پنجشنبې پر ورځ سهار چې د "١٩٩٥"م. کال د جون له اتمې او د "١٤١٦"هجري قمري د محرم الحرام د لسمې نېټې سره برابره وه، د شپږ اويا کالو په عمر د پېښور ښار په حيات اباد سيمه کې وفات شو، انا لله وانا اليه راجعون.

د مرحوم جنازه د جوزا پر نوولسمه نېټه د جمعې په ورځ د ننګرهار ولايت په سرخرود ولسوالۍ کې د دوی د پلرني کلي باغبانی په هديره کې خاورو ته وسپارل شوه. د جنازې په مراسمو کې يې ډېرو زياتو خلکو لکه جهادي مشرانو، قومندانانو، د ختيځو ولايتونو د شوراګانو استازو، علماوو، افغان شاعرانو او نورو منسوبينو او مينوالو ګډون وکړ. د استاد د مړينې خبر په ډېر لږ وخت کې د ټولې نړۍ تر وګړو ورسېد او پر ټولو مينوالو او افغان منسوبينو او غيرافغانانو يې ډېرزيات اغېز وکړ. د ملګرو ملتونو د سرمنشي په ګډون په سلګونو د خواخوږۍ او غمشريکۍ پېغامونه

راورسېدل. په نیویارک کې د ملګرو ملتونو په ودانۍ کې په هغه ناسته کې چې د سرمنشي او نورو غړو هېوادونو استازو ګډون کړی وو، ټولو د مرحوم استاد پژواک پر مړینه خپل ژور خفګان څرګند کړ او د هغه د لوړ شخصیت او په ملګرو ملتونو کې د نوموړي د ښو خدمتونو د ترسره کولو یادونه یې په قدردانۍ سره وکړه. د څو بیانیو تر وړاندې کولو وروسته ټول ګډونوال پر خپلو ځایونو ودرېدل او د یوې دقیقې لپاره یې چوپتیا غوره کړه. همدارنګه په سلګونو د فاتحې مراسم او نور د یادونې او قدردانۍ غونډې د قدردانو هېوادوالو له لورې ترسره شوې، چې د دوی د دې پېرزوینو له کبله د استاد پژواک د کورنۍ غړي له ټولو څخه د زړه له کومې مننه کوي او کورودانی ورته وایي.

**فرهاد پژواک**

**ورجینیا، امریکا**

**سپټمبر۱۹۹۵**

# د استاد عبدالرحمان پژواک اثار

**ليکوال: مرحوم دکتور نعمت الله پژواک**

استاد عبدالرحمان پژواک د خپل څه زيات شپېته کلن باثمره ژوند په اوږدو کې د پوهې، ادب، فلسفې، او سياست نړۍ ته ډول ډول اثار او اشعار په دواړو ملي ژبو پښتو او دري او همدارنګه انګليسي ژبې وړاندې کړي دي، چې په چارو پوه کورنيو او بهرنيو شخصيتونو، په خورا لوړه کچه ښه ارزولي دي. د نوموړي دا ګلورين اثار، رنګين شعرونه او بېلابېلې ژباړې د دوو دليلونو پر بنسټ تر اوسه په بشپړه توګه نه دي راټول شوي.

لومړی دليل يې دا دی چې استاد پژواک خپله په ذاتي توګه د خپلو اثارو راټولولو په برخه کې لېوالتيا نه درلوده، هر وخت چې يې هر ځای کوم شعر يا مقاله ليکله هغه به يې د خپل عادت له مخې د خپلې کورنۍ کوم غړي، همکار او يا کوم دوست ته چې همهلته به ورته نېږدې و ورسپارل. دويم دليل يې زمونږ پر ګران هېواد د پخواني شوروي اتحاد د بې رحمه يرغل له کبله ملي غميزه ده، چې په ترځ کې يې کمونستي پليد نظام حاکم کړ او د افغان مېړني ولس ټوله مادي او معنوي شتمني لکه رسمي او شخصي کتابتونونه، موزيمونه، ملي ارشيف، پخواني عتيقه او اوسني بې سارې اثار ټول يا له منځه يوړل او يا يې ولوټل. د ټولو ډول ډول يادو شوو دليلونه سره سره، د "پژواک بنسټ" وياړ لري چې د مرحوم استاد پژواک د کورنۍ د غړو او ځينو نورو پوهانو دوستانو د کوښښونو او هڅونو په پايله کې توانېدلې ده چې د استاد اثار، شعرونه، چاپ او ناچاپه ژباړې راټولې او ترتيب کړي، چې د وخت په تېرېدو او د شرايطو په مساعد کېدو سره به يې د چاپولو او خپرولو چارې ترسره او يا به يې د فرهنګي او خپروونکو ادارو په غوښتنه د چاپولو اجازه ورکړي.

له دې ډلې د استاد پژواک د نوې ځوانۍ دورې یو شمېر اثار شتون لري چې د ۱۳۱۲ هـ . ش کال او تر هغې راوروسته نېټې لري. په دغو اثارو کې یې د "مړاو" "وفا" او" ارمانجن" تخلصونه کارولي دي. له دغه فرصت څخه په ګټې اخېستو زه یو ځل بیا د مرحوم استاد پژواک د کورنۍ په استازیتوب له ټولو دوستانو او پوهانو وطنوالو څخه په ډېر درنښت دا هیله کوم چې که د استاد پژواک کوم اثر او یا ټایپ شوي څه مواد ورسره موجود وي، نو د ګران هېواد د لوټ شوې علمي او ادبي خزانې د بېرته بډایه کولو په موخه دې نقل او یو فوټوکاپي د "پژواک بنسټ" ته راولېږي او خپله دا پېرزوینه دې پر مونږ باندې ولوروي.

د استاد پژواک د هغو اثارو لېست چې تر دې دمه مونږ سره موجود دی، د کورنیو او بهرنیو مینوالو د مطالعې په موخه په دوو کټګوریو چاپ او ناچاپ ډول ګرانو هېوادالو ته وړاندې کېږي.

**الف: په پښتو او دري ژبو چاپ شوي اثار:**

۱- شاوخو تر اویا زیات شمېر غزلونه د استاد د مکتب او نوي زلمیتوب د دوران دي چې د ۱۳۱۳ هـ . ش کال په موده کې یې د مړاو، وفا او ارمانجن په تخلصونو په خپل قلم لیکلي او د هېواد د وخت په مطبوعاتو کې په متفرق ډول خپاره شوي دي.

۲- یو څو مقالې یې په بېلابېلو سرلیکونو د وخت په مجلو کې چاپ شوي دي، لکه د "جواني" په نوم مقاله د "اینه عرفان" په لومړۍ ګڼه کې، د "اشک" په نوم مقاله یې د همدې مجلې په دویمه ګڼه کې په ۱۳۱۸ هـ . ش کال او د "خوابست یا واقعیت" تر سرلیک لاندې مقاله یې د "اینه عرفان" په نهمې ګڼې کې په ۱۳۱۸ هـ . ش کال کې خپرې شوې دي.

۳- د تعاملات حقوقیه و جزایه ملي رساله یې د ۱۳۱۸ هـ . ش کال په سالنامه کې خپره شوې او وروسته په ۱۳٤۲ هـ . ش کال په حوت کې د ښاغلي عبدالله

بختاني په زيار او هڅو په "٤٢" پاڼو کې د خپلواکې رسالې په توګه د ننګرهار ولايت د مطبوعاتو د مديريت له خوا "د مشرق په مطبعه" کې چاپ شوه. ښاغلو شاه‌پور احمدزي او محمد قدير تره کي تقريظونه هم پرې ليکلي دي چې په يادې رسالې کې درج دي.

٤- کليمه داره روپۍ چې د ١٣٣٧ هـ . ش کال په حمل کې د پښتو ټولنې له خوا په "دولتي مطبعه" کې د "١٠٠٠" ټوکو په شمېر چاپ شوې ده او ښاغلي ګل پاچا الفت پرې تقريظ ليکلی دی.

٥- "آواره" اثر هم لکه د استاد پژواک د نورو اثارو او شعرونو په څېر لومړی د کابل راډيو څخه خپور شوی دی، چې وروسته د مينوالو او اورېدونکو د غوښتنو په اساس د "پښتون ږغ" او "ژوندون" مجلو په پاڼو کې په جلا توګه چاپ شوی دی او بالاخره د عبدالله بختاني په هڅو په ١٣٣٤ هـ . ش کال کې د "مشرقي مطبعې" له لورې په اتلسو پاڼو کې چاپ او خپور شوی دی.

٦- "انګور تاک" يو لنډ داستان دی چې په "ننداري" مجله کې خپور شوی دی.

٧- د "آريانا: افغانستان باستان" رساله چې په انګليسي ژبه په (١٩٤٦_١٩٤٧م) کلونو کې په لندن کې چاپ او خپره شوې ده.

٨- د "روز پښتونستان" رساله په انګليسي ژبه په (١٩٤٦_١٩٤٧م) کلونو کې په لندن کې چاپ او خپره شوې ده.

٩- د "پښتونستان د مسلې" په نوم رساله په انګليسي ژبه په (١٩٤٦_١٩٤٧م) کلونو کې په لندن کې چاپ او خپره شوې ده.

١٠- د "پښتونستان د مسلې" اړوند رساله چې په انګليسي ژبه د (١٩٤٦_١٩٤٧م) کلونو په موده کې په لندن کې چاپ او خپره شوه.

١١- د " پښتونستان" رساله په "١٩٤٦_١٩٤٧م" کلونو کې په لندن کې په انګليسې ژبه چاپ او خپره شوه.

۱۲- ”عروج بارکزاییها“ د استاد پژواک او ښاغلي محمد عثمان صدیقی یو تاریخي اثر دی.

۱۳- ”گلهای کوهی“ چې په ”۱۳۳۸“ هـ . ش کال کې د کابل مجلې او کابل راډیو له خوا چاپ شوی دی.

۱٤- ”پچیر“ لنډ داستان.

۱۵- ”لمحات بنګال“ او یا د رابندرناټ ټاګور مراسلات، له انګلیسي څخه ژباړه.

۱٦- ”کوهستان چېر“.

۱۷- ” افسانه های مردم“ یا د خلکو افسانې، په لاندې نومونو اووه داستانونه دي، لکه: وظیفه، ضمیر، اواره، دختر کوچی، شهزاده بست، سه عاشق او رودابه او زال، چې د دولتي مطبعې له خوا د ”۱۳۳٦“ هـ . ش کال په عقرب کې چاپ او خپرې شوې دي.

[د« افسانه های مردم» کتاب د « سنایي انکشافي موسسې» په مرسته په ۱۳۹۶ لمریز کال په دوهم ځل د «پژواک بنسټ» له لورې چاپ شو.]

۱۸- داستاد پژواک ځانګړی اثر”افسانه های مردم“ په ۱۹۹۸“ م. کال د ښاغلي عمر شېردل او اغلې (Jacqueline Verdeaux) له خوا د Contes’ d Afghanistan په نوم فرانسوي ژبې ته وژباړل شو او د Stack + plus: Arabies/Islamic موسسې له خوا په ”۱۷۸“ مخونو کې په فرانسې کې چاپ او خپور شو چې یوه نسخه یې ما سره ده.

۱۹- ”پهلوان بېنوا“.

۲۰- ”عروس بیکس“ د یو انګلیسي شاعر او لیکوال لانګفلو د اثر ژباړه.

۲۱- ”پیشوا“ د جبران خلیل جبران اثر دی چې له انګلیسي څخه یې دري ته ژباړلی دی او د ۱۳٤٤ هـ . ش کال د ثور په میاشت کې د دولتي مطبعې له خوا چاپ شو.

۲۲- "گلهای اندیشه" د استاد پژواک د یو شمېر شعرونو او اثارو ټولګه ده چې د ښاغلي غلام حضرت کوشان په هڅو د ۱۳٤٤ هجري شمسي کال د جوزا پر۲۵ نېټه د کابل مطبعې له خوا په "۱۵۹" پاڼو کې چاپ او خپره شوه.

۲۳- "باغبان" د رابندرناټ ټاګور اثر دی چې استاد پژواک له انګلیسي څخه دري ته ژباړلی دی.

۲٤- "دخترنابینا" له انګلیسي څخه دري ژباړه.

۲۵- د "چند شعر از پژواک" رساله چې د "ملي دفاع مطبعې" له لورې د ۱۳٤۲ هـ . ش کال د حمل په لومړیو کې د "هدیه پښتون ږغ" په نوم په "۳۹" پاڼو کې چاپ او خپره شوه.

۲٦- "حدیث خون" په "۷۸" پاڼو کې د "امان کتاب خپرولو موسسې" له خوا په پېښور کې په ۱۳٦٤ هـ . ش کال چې له ۱۹۸۵ م. کال سره سمون خوري، د زر ټوکو په شمېر چاپ شو.

۲۷- "میهن من" په پیښور کې د مېشتې "د امان کتاب خپرولو موسسې" له خوا په "٦٤" پاڼو کې په ۱۳٦۸ هـ . ش کال کې چې له ۱۹۹۸ م کال سره سمون خوري، چاپ او خپور شو.

۲۸- " مذاکرات ژنیو" د استاد پژواک د جهادي او سیاسي مقالو ټولګه ده چې د ښاغلي حسن ولسمل په زیار او هڅو په یو ټوک کې چاپ او خپره شوې ده.

۲۹- " ناهید نامه" چې لومړی د سپېدې مجلې په پرله پسې درې ګڼو کې په پېښور کې چاپ او خپره شوه، وروسته په کاناډا کې د مېشتو افغان لیکوالو په هڅو او بیا راوروسته د ښاغلي ډاکټر اسدالله شعور په زیار په ۱۹۹۵ م. کال د کتاب په بڼه په کاناډا کې چاپ او خپره شوه.

[«ناهید نامه» په ۱۳۹۸ لمریز کال د «دفتر ارتباط» په مرسته د «پژواک بنسټ» له لورې په دوهم ځل د کتاب په بڼه چاپ شو.]

۳۰- ” الماس ناشکن“ د امریکایي شاعر (Wiliam Pitt Root) د اثر ژباړه او ځواب دی. یاد اثر په ۱۹۹٦ م. کال د امریکا په ورجینیا ایالت کې د ”پیوند“ خېرندویه موسسې له خوا د ” افغان اکاډمۍ“ په هڅو چاپ او خپور شو. دا اثر په ”۲۰۰۳“ م. کال په پېښورکې د استاد پژواک د وربرې ګوهرشاد پژواک په زیار د ” پژواک خېرندویه بنسټ“ له لورې یو ځل بیا له سره چاپ شو.

۳۱- ”گزیده اشعار عبدالرحمان پژواک“ په ۱۳٦۹ هـ . ش کال د ”انجمن نویسنده گان افغانستان“ له خوا د رسالې په توګه چاپ او خپره شوه. دا اثر نه یوازې د چاپ له اړخه، بلکې د کلیماتو او اصطلاحاتو په لحاظ هم دومره تېروتنې او غلطۍ لري چې وار د مخه خلک په شک کې لوېږي چې ښایي د کمونستانو ”نام نهاد انجمن“ له لورې دا کړنه په قصدي توګه تر سره شوې وي،چې هغه مقام چې استاد پژواک د خپلو خلکو په نزد درلود او لري یې، هغه ته زیان ورسوي.

۳۲ - ”بانوی بلخ“ د استاد پژواک د شاوخوا ۹۰ شعرونو منتخبه ټولګه ده چې د استاد پژواک د ورور ارواښاد عتیق الله پژواک په زیار او لمسي فرهاد پژواک په مرسته په ۱۳۷۹ هـ . ش کال کې چې له ۲۰۰۱ م. کال سره سمون خوري، د ”پژواک خېرندوی بنسټ“ له خوا په پېښور کې چاپ شوې ده.

۳۳- ”یک زن“ په ۲۰۰٦ مېلادي کال په کابل کې د ”پژواک خېرندویه بنسټ“ له خوا چاپ شو، دا کتاب د استاد دوه، درې داستانونه دي چې د فرهاد پژواک له خوا په انګلیسي هم ژباړل شوي او چاپ شوي دي.

۳۴- ” د ارواښاد استاد عبدالرحمان پژواک خاطرو او یاداښتنو لنډیز د خپل لمسی فرهاد پژواک لپاره“ د "خلاصۀ فصلی از سرگذشت یک افغان مهاجر" ترعنوان لاندې، ۱۳۹۳ هـ .، د ”کلید گروپ“ له خوا چاپ او خپره شوه. په دې لیکنو کې د استاد پژواک د ژوند شخصي خاطرې دده په خپل قلم لیکل شوي دي.

---

**ب: په پښتو او دري ژبو ناچاپ اثار**

۱- د استاد پژواک د ځوانۍ کلونو شاوخوا پنځوس غزلونه دي چې هغه وخت يې د وفا په تخلص ځينې په خپل قلم ليکلي او نېټه يې ۱۳۱۳ هـ . ش کال ورسره ليکلې ده.

۲- له عنوانه پرته يې په "۷" پاڼو کې يو داستان ليکلی دی.

۳- د "وای که نيست کس خريدار چنيني" په مختلفو سرليکونو يې د عبدالرحمن مړاو په تخلص د ۱۳۱٤ هـ . ش کال د ميزان په "۲۲" نېټه يوه رساله ليکلې ده.

٤- " فيلمرغ های شاه" په دوو پردو کې ډرامه" ۱۳۲٤ هـ . ش" کال د عقرب "۷".

۵- "يک شب شاعر" ډرامه په يوې پردې کې.

٦- "کودک بيگناه" په "٤۰" پاڼو کې يو داستان دی چې خپلې لمسۍ نيلاب پژواک ته يې ډالۍ کړی دی.

۷- " سلامان وابسال" په "۳۸" پاڼو کې داستان.

۸- د " نارسيس" منظومه چې شاوخوا "۱۰۰" بيتونه لري.

۹- د "پاسخ يعقوب ليث صفاری" منظومه چې کابو" ۱۰۰" بيتونه لري.

۱۰- د " قهر خدا" مثنوي.

۱۱- "احساسات و عواطف" چې په "٤۵" پاڼو کې بېلابېل فلسفي موضوعات لري.

۱۲- "زن و محمد (ص)" په اسلام کې د ښځې د درناوي او مقام په اړه د څلوېښتو حديثونو ژباړه.

۱۳- "زبور داود" د څلوېښتو زبورونو بشپړه ژباړه په "۷۰" پاڼو کې. استاد پژواک ليکلي دي چې د دې اثر ژباړه له "عبراني" ژبې څخه په هندوستانۍ فارسي شوې، "ژباړن يې هم نه دی معلوم" او وروسته په روانه دري وليکل شو.

۱۴- په سلګونو پښتو او دري شعرونه.

د څينو بهرنيو خپرونو او د "کتنګ" اخبار د څينو برخو څخه چې مونږ سره دي، داسې څرګندېږي چې د استاد پژواک څينې علمي، ادبي او سياسي اثار په انګليسي، فرانسوي، عربي، روسي، هندي او اردو ژبو هم ژباړل شوي دي.

# پژواک په خپل غږ کې

## پام کوه چې رقیبان دې ریبار نه شي

په خندا ورته که خوله د پرهار نه شي
مضحکه به ښه د توري ګزار نه شي

چې خزان راشي چمن به شي ټول مړاوی
څوک به نه وايي چې بیا به بهار نه شي

ډېرې شپې دي په هر چا باندې راغلي
چا ویلي دي چې بیا به سهار نه شي

چې له خپل وطن نه څوک ژوندی وتلی
له پردي وطن نه تګ ورته عار نه شي

د جهان خوارۍ که ټولې باندې راشي

د ایمان خاوند به هیڅکله خوار نه شي

بې مغزان به ارسطو او افلاطون شي

خو د مینې لیونی به هوښیار نه شي

که د زړه اشنا دیدار ته دې وي سترګې

پام کوه چې رقیبان دې ږیبار نه شي

بیا به نه شم مهاجر په دې وطن کې

که په خپله دوی محتاج د انصار نه شي

په "رحمان" او په "خوشحال" مې سلام وایه

بیا ګذر به زما د دوی په مزار نه شي

د "مومند" او د "خټک" د ږغ پژواک یم

خو افغان مې جګ د دوی له کوهسار نه شي.

دغه شعر استاد پژواک هغه وخت لیکلی دی چې د ضیاءالحق په امر له پاکستان څخه واپستل شو.

***

**”چې غوټۍ پسې وهې په لاس به درشي**

**چا ویل چې په دریاب کې ګوهر نشته“**

”رحمان بابا“

# دا چې چُپ یم دلته غر او کمر نشته

هم هغسې چې خندا کې هنر نشته

په ژړا کې هم له سره اثر نشته

که دې غاړه لکه غر ونیسې هسکه

په نیلي تبغ د افق کې جوهر نشته

تل يې خلک په خاورین ستورو غولېږي

د اسمان په شین دریاب کې ګوهر نشته

د ژوندون نه به کوم خوب پرېشانه نه وي

د دنیا نه ناراحته بستر نشته

دا چې خاورې شوم د مینې لار کې ښه وي

خو د چا زما په خاورې ګذر نشته

زه پژواک یم په پېچومو کې لوی شوی

دا چې چُپ یم دلته غر او کمر نشته

***

# د حمام لنګ

په ظاهر کې ډېر خيالي دي دا وګړي
په باطن کې زښت خالي دي دا وګړي

په عمل کې يې برى موندلى نه دى
په وينا کې برىالي دي دا وګړي

نه يې نوم شته نه يې نښه خپل وطن کې
امرېکا کې نوميالي دي دا وګړي

د پردي په غلامۍ کې رقابت کړي
ټينګ ولاړ په خپل سيالي دي دا وګړي

تبعه د امرېکې شو دا بې ننګه
ګوره هسې ننګيالي دي دا وګړي

په دنيا کې خو شتمن او مستان ګرځي

خو محشر کې دېوالي دي دا وګړي

واړه واک يې د پردي خو په وطن کې
مدعي د واکمني دي دا وګړي

لکه لنګ دي د حمام واړه پژواکه
د هر تن د ځان کالي دي دا وګړي

***

# زوی د افغانستان

**د استاد عبدالرحمان پژواک د دې شعر دغه بیت د نوموړي د مزار پر ډبره لیکل شوی دی:**

**"مور مې لور وه د سپین غر پلار مې زوی و د تور غر**

**زه یم زوی د افغانستان د مور او پلار نه یمه زه"**

نور له ځان او له جهانه خبردار نه یمه زه

دومره پوه یم چې مجنون یم او هوښیار نه یمه زه

د وطن لیلا بهر کړم د وصال له کجاوې نه

خوب د مرګ وینم هر کله چې بیدار نه یمه زه

مور مې لور وه د سپین غر پلارمې زوی و د تورغر

زه یم زوی د افغانستان د مور او پلار نه یمه زه

د ښښتن فضلونه ډېر دي خو دا لوی فضل د خدای دی

چې د خلکو خدمتګاریم او بادار نه یمه زه

وطندار د هر افغان يم چې د روس سره جنګيږي
د پردي د غلامانو وطندار نه يمه زه

نه شم عرش ته زه ختلای د راکي* د غرو له څوکو
که ويشتلی په پېچومو د اسمار نه يمه زه

که کشمير او په مري* کې ځان ته جوړې بنګلې کړم
نو سپېڅلی اتل زوی د ننګرهار نه يمه زه

اوس چې زوړ يې ته پژواکه د ګناه طاقت دې نشته
لاپې مه کوه چټي چې ګناهګار نه يمه زه.

واشنګټن، حوت ۱۳۶۳ هجری شمسی

*په امريکا کې د غرونو يوه لړۍ

*په پاکستان کې يو ښکلی ځای

***

# پژواک نه یم د پردیو د ندا

چې څه شوي دي غم نه ګڼمه دا
څه به وشي؟ ده زما سره سودا

که راضي یا ناراضي یم له پرونه
تل وېرېږمه له پېښو د فردا

په نفلونو مې محراب سوری کړ
فرض سنت مې نه کړل هیڅکله ادا

ځان ګڼمه افلاطون د زمانې زه
لویه نښه د جنون مې ده همدا

مساوات به لټوم په ګورستان کې
چې په کې شي برابر شاه او ګدا

د لغړ فقیر شړۍ د اخلاص راکړه
د واعظ ده د ریا جامه ردا

د وطن باغ مې سمسور کړ لویه خدایه

چې یې بیا شي بلبلان په کړېدا

د خپل قام د فریادونو انعکاس یم

پژواک نه یم د پردیو د ندا

د روژې ۲۲، ۱۴۱۱ هجري قمري

د پېشلمي وخت، پېښور

***

# د پژواک زړه د وطن په غرو ولاړ دی

خلک وايي چې راغلی بیا اختر دی
دا چې چا باندی اختر دی خدای خبر دی

مبارک دې شي که چا باندې اختر وي
په افغان باندې اختر نه‌دی، محشر دی

چې په سمه سترګه څوک ورته نظر کړي
پورته ښکته ټول عالم زير و زبر دی

د پردي آسمان کې بل شانته ځليږي
که هلال دی, که سپوږمۍ ده او که لمردی

دا هلال چې زه يې وينم په افق کې
نه‌پوهيږم تش کچکول که مات ساغر دی

تور و سپين حوادث واړه ګذران دي
ګذران دی که ماښام دی که سحر دی

په دستور د زمانې باندې ځان پوه کړه
پایښت بوله استثنی, قانون گذر دی

دا منمه چې که خدای ور سره مل وي
که وګړی یو تنها دی, لوی لښکر دی

خو دا نور خبرې واړه د عقبی دي
دا د زور دنیا ده، زور د زورور دی

انتقام به د هغه ساده هیریږي
چې د ده په داورۍ باندې باور دی

چې مغول نه‌دی او هسې تمغل کړی
د مغولو نه سل ځله دا بتر دی

چې اشنا ګیله‌من کیږي ګیله‌من شم
که پردی مدام غېږیږي بې اثر دی

د "پژواک" زړه د وطن په غرو ولاړ دی

که څه هم ولاړ په ځوړند چاود کمر دی

خیالي ګرځي په خمتا کې بې خیاله

"رحمان کوږ دستار تړلی قلندر دی"*

*رحمان بابا علیه الرحمه

***

# نو بهار

اوازه ده چې راغلی نو بهار دی
هرې خواته د پیالو بیا شرنګهار دی

چې ګل وینم د زړه زخم را په زړه شي
هره بڼه یې په سترګو کې یو خار دی

د وطن خاوره خو لویه ګنجینه ده
که نه ولې ناست په سرېې لوی ښامار دی

د غیبي یوغږ په هیله زه ویده وم
ناره وشوه چې راجګ شه اوس سهار دی

چې راپاڅېدمه توره تر ورمې وه
هرې خواته د ویشتلو جګ کوکار دی

که نور څان فخر افغان بولي پژواکه
زه مریی یم، هر افغان زما بادار دی

# چاوې؟

چاوې چې د مينې ګل رژيږي نه؟

داسې ګل هډو زما ياديږي نه!

سل ځله که راشی پسرلی په ما

زړه هغه غوټۍ ده چې غوړيږي نه

لاړه مروره شوه ځواني زما

بيا په ننواتو پخلا کيږي نه

تل مې شوه کړه د زلميتوب ونه

وچه ده دا لښته بيا سميږي نه

ستا د زلفو ټال کې به ويښ زانګمه

خوب نه مار چيچلی بيا ويښيږي نه

اور چې د حسرت شي په ګوګل کې بل

تشو او سيلو سره سړيږي نه

نه‌مري دې رڼا د زړه، که ومري نو

دا ډیوه له سره بیا بیلیږي نه

تل به په پړواک باندې خندا کوي

د ستورو سپینی سترګی چې شرمیږي نه.

***

# نوی مضمون

د لیلا نه په یو ټکي ډېر ممنون یم
چې په ډاګه راته وایي چې مجنون یم

د وصال خوبونه نه وینم تل ویښ یم
که د چا یم منتباره د بیلتون یم

خواشین نه یم چې د غم نه مې زړه شین دی
څو د اوښکو باران اوري زه زرغون یم

ایینه مې ده پخپله جوړه کړې
چې خاوند د خپل ګریوان او خپل زنګون یم

ښایسته مې د شُتِ لاس پرده ساتلې
د همت د زرزري قبا لستوڼ یم

دغه ساه چې ما کې وینې زما نه ده
ژوندی بل دی زه یې سیوری د ژوندون یم

مرګ منزل دی د سپيڅلي ژوندون لاره
لا لهاند ځکه په لاره د ژوندون يم

زما شعر کې به نوی مضمون نه وي
خو پخپله ابدي نوی مضمون يم

هوښياران مې ليونی بولي پژواکه
د مستانو خمخانه کې افلاطون يم

***

# خوګناه مې ازادي ده

چې په زړه مې د ژوندون نوی بهار شي
لکه ګل تر او تازه د زړه پرهار شي

په یو دم د خاطراتو له نسیمه
ځان مې سوړ او بیا مې سور لکه انګار شي

کله کله داسې وخت پر سړي راشي
چې جام مات کړي او بیسده د خمار شي

هغه زړه چې بې نیازه مستي غواړي
خدای دې نه کا چې ساقي ته امیدوار شي

د امید ډیوه چې مړه شي هیله مه کړه
چې بَل بیا په سترګو اور د انتظار شي

داسې توره تروږمۍ ده په دې بڼ کې
چې د شپې مرغه په ورځ کې په کوکار شي

دا وطن د کومې پیغلې تور اوربل دی

چې باد نه وي لا وهلی تارومار شي

ګنهکار یم خو ګناه مې ازادي ده

څوک به دې خوږې ګناه نه توبه ګار شي

***

# اسیر

چې د فکر خپلواکۍ کې یې واک نه وي
داسې خلک به تر ابده ټول اسیر وي

ها ورمیګې چې په فخر لوړې نه وي
چمتلي به یې پر غاړه یو ځنځیر وي

پښتون هاغه چې خوشحال دده وي توره
سالک هغه چې رحمان بابا یې پیر وي

تر هغې چې مونږ پخپلو کې جوړ نه یوو
پښتونخوا به یوه برخه د کشمیر وي

ځوک چې ووژني زلمیان زورور نه دي
که رستم وي د سهراب په مرګ زهیر وي

بې فنون جنون مې بد ایسي پژواکه
زړه باچا وي که ماغزه د وزیر وي

***

# لویه خدایه

و بهار دی ساقی واخله دا پیاله
ماله راکړه می قدح کی د لاله

چاپیر شوی د سپوږمی نه پسرلي کې
دا نقاب دی ستا پر مخ او که هاله

ښایسته قرص مهتاب شي را ځلانده
زهره خپله که يې وکړي زواله

بی خبره ستا د سحر له تائیده
مشهور شوې په جادو ده بنګاله

ور به نه کړم د وطن یو ټوکی خاوره
که څوک راکړی ټول عالم په قباله

لویه خدایه، لویه خدایه، لویه خدایه!!
واوره زما د زړه زاري اه و ناله

زه پژواک یم سوالګر ستا په ورکې
په بل چا باندې مې نه کړې حواله

"لکه ونه مستقيم پخپل مکان يم

که خزان راباندی راشی که بهار"

رحمان بابا

**"توپير مه کوئ د بلخ او کندهار"**

چې اوچت شي بيا ستوری د سهار
صبوحی د پاره ځان کړه ته تيار

په مستي کې د ژوندون نه ويره مه کړه
مستي نه وژني تا وژني دې خمار

د دنيا واړه ګټل همه بايلل دي
چې ځان وبايلې تا وړی دی قمار

ستا د ناوې پوزه پرې ده اې ساروانه
د سالار نتکۍ که ستا شي يو مهار

کوکار مه کوه جابر نه چې مختار دی
چې دې ومنل د جبر اختيار

تر هغه چې مې د خلکو نظارې کړې
له دې خوبه چې تل يم په کې بيدار

وخت د دې چې سپاره شي زلیمان
اس کبود دی یا سرخون یا دی کهار

په هرات کې زیږیدلی احمدشاه
بابا نه وو د یوازې کندهار

احمدشاه په ځنکندن کې دا ویل
توپیر مه کوی د بلخ او کندهار

د امو نه تر اټکه افغانان دی
که بدخش وي، هزاره، بلوڅ، تتار

د هغه نه مخکې دور د غلجیان وو
د میرویس د هوتکیو سر تبار

زه پژواک یم په سکوت کې پروت آرام
تر هغه چې د تندر شي شر نګهار

****

# پای لیکونه

١-Senator Daniel Patrick Moynihan, U.S. Ambassador to India.

٢- International Labor organization.

٣- Sindh House.

٤- Jeane Kirkpatrick U.S. Ambassador to the United Nations.

٥- Diego Cordovez, United Nations Special Envoy for Afghanistan.

٦- Salim Brothers.

٧- Social, Humanitarian and Cultural Third Committee General Assembly, United Nations.

٨- ٣٨٦٥ Wilcoxson, Drive Fairfax, Virginia USA (Residence Of Ustad Pazhwak before returning to Peshawar).

٩- Writers Union of Free Afghanistan.

١٠- Zhou Enlai, ١٨٩٨-١٩٧٦, Chinese Communist leader.

١١- Nikita Khrushchev, ١٨٩٤-١٩٧١ Soviet Leader.

١٢- Mikhail Gorbachev, Leader of the Soviet Union ١٩٩٠-١٩٩١, "Policy of Reconstruction".

١٣- Veto – Latin for"I forbid" – is absolute, as for instance in the United Nations Security Council, whose permanent

members (The United States, Russia, China, France, United Kingdom can block any resolution.

١٤- Reuters News.

١٥- The Pakistan Times Overseas Weekly June ٢٩, ١٩٨٦.

١٦- Geneva Talks.

# زوی د افغانستان

د اروابښاد عبدالرحمان پژواک

د خاطرو او یادښتونو ټولګه



مور مي لور وه د سپین غر پلار مي ځوی و د تور غر

زه یم ځوی د افغانستان د مور او پلار نه یمه زه

Pazhwak Foundation Inc.
بنیاد پژواک
9 781445 752747